# د تجارت اصولنامه

**(له تعدیلونو سره)**

# قانون تجارت

**(با تعدیلات)**

Download from: aghalibrary.com

د خپریدو نیټه: د ۱۳۳۶ هـ. ش کال د تلې میاشت

# فهرست مندرجات قانون تجارت

عنوان | صفحه

## باب اول - احکام عمومی


فصل اول مقدمه ........ ۱
فصل دوم تجارت و اهلیت تجارتی ........ ۲
فصل سوم معاملات تجارتی ........ ۵
فصل چهارم ثبت تجارت ........ ۹
فصل پنجم عنوان تجارتی ........ ۱۷
فصل ششم رقابت غیر قانونی ........ ۲۴
فصل هفتم دفاتر تجارتی ........ ۲۷
فصل هشتم نمایندگان تجار ........ ۳۵
فصل نهم نمایندگان سیار تجارتی ........ ۳۹
فصل دهم مامورین فروش ........ ۴۰
فصل یازدهم دلالی ........ ۴۱


## باب دوم - شرکت های تجارتی


فصل اول احکام عمومی ........ ۴۷
فصل دوم شرکت های تضامنی ........ ۵۴
حصهٔ اول احکام عمومیه ........ ۵۴
حصهٔ دوم مناسبات بین شرکاء ........ ۵۸
حصهٔ سوم مناسبات شرکاء با اشخاص ثالث ........ ۶۵
حصهٔ چهارم راجع به انحلال، تجزیه، اخراج شرکاء و الحاق ........ ۶۹
حصهٔ پنجم تصفیه شرکت های تضامنی ........ ۸۲
فصل سوم شرکت تضامنی مختلط ........ ۹۵

| عنوان | | صفحه |
|---|---|---|


| | | |
|---|---|---|
| حصهٔ اول | ماهیت و طرز تشکیل شرکت تضامنی مختلط ............ | ۹۵ |
| حصهٔ دوم | مناسبات شرکاء با یك دیگر ........................... | ۹۷ |
| حصهٔ سوم | مناسبات شرکاء با اشخاص ثالث ......................... | ۱۰۰ |
| فصل چهارم | شرکت سهامی (انونیم) ................................. | ۱۰۳ |
| حصهٔ اول | ماهیت و صورت تشکیل شرکت های سهامی (انونیم)...... | ۱۰۳ |
| حصهٔ دوم | هیئت مدیره ............................................. | ۱۱۸ |
| حصهٔ سوم | هیئت نظار ............................................... | ۱۳۲ |
| حصهٔ چهارم | مجمع عمومی ............................................ | ۱۳۸ |
| حصهٔ پنجم | اسناد سهم .............................................. | ۱۵۴ |
| حصهٔ ششم | اسناد قرض.............................................. | ۱۶۰ |
| حصهٔ هفتم | ضیاع اسناد سهم و اسناد قرض......................... | ۱۶۵ |
| حصهٔ هشتم | انحلال و تصفیه شرکت های سهامی (انونیم) ............ | ۱۶۸ |
| حصهٔ نهم | حساب نفع و ضرر....................................... | ۱۷۵ |
| فصل پنجم | شرکت های تضامنی مختلط سهامی ...................... | ۱۷۷ |
| فصل ششم | شرکت های محدودالمسؤلیت.............................. | ۱۸۱ |


## باب سوم - اسناد تجارتی


| | | |
|---|---|---|
| فصل اول | برات ........................................................ | ۱۸۵ |
| حصهٔ اول | تحریر و شکل برات...................................... | ۱۸۵ |
| حصهٔ دوم | ظهر نویسی ............................................... | ۱۸۹ |
| حصهٔ سوم | قبولی ...................................................... | ۱۹۳ |
| حصهٔ چهارم | ضمانت.................................................... | ۱۹۷ |
| حصهٔ پنجم | موعد ....................................................... | ۱۹۹ |
| حصهٔ ششم | تادیه ........................................................ | ۲۰۱ |
| حصهٔ هفتم | حق رجوع در حال عدم قبول و عدم تادیه .................. | ۲۰۴ |

| عنوان | | صفحه |
|---|---|---|


| | | |
|---|---|---|
| حصهٔ هشتم | توسط ........................ | ۲۱۴ |
| حصهٔ نهم | تعداد نسخه های برات........................ | ۲۱۸ |
| حصهٔ دهم | جعل کاری- تحریفات........................ | ۲۲۰ |
| حصهٔ یازدهم | مرور زمان ........................ | ۲۲۱ |
| حصهٔ دوازدهم | احکام عمومیه........................ | ۲۲۲ |
| فصل دوم | حجت ........................ | ۲۲۳ |
| فصل سوم | ........................ | ۲۲۷ |
| حصهٔ اول | چك ........................ | ۲۲۷ |
| حصهٔ دوم | ظهر نویسی ........................ | ۲۳۰ |
| حصهٔ سوم | ضمانت........................ | ۲۳۱ |
| حصهٔ چهارم | ارائه و تادیه ........................ | ۲۳۲ |
| حصهٔ پنجم | چك های مخطط (کراس) و چك های ........................ | ۲۳۴ |
| حصهٔ ششم | مراجعه بنابر عدم تادیه ........................ | ۲۳۶ |
| حصهٔ هفتم | تعدد نسخه های چك ........................ | ۲۴۰ |
| حصهٔ هشتم | ساخته کاری و تحریفات........................ | ۲۴۰ |
| حصهٔ نهم | مرور زمان ........................ | ۲۴۱ |
| فصل چهارم | ضیاع اسناد تجارتی........................ | ۲۴۱ |
| | **باب چهارم- تعهدات تجارتی** | |
| فصل اول | احکام عمومی ........................ | ۲۴۴ |
| فصل دوم | عقود تجارتی ........................ | ۲۵۳ |
| حصهٔ اول | صورت انعقاد........................ | ۲۵۳ |
| حصهٔ دوم | تفسیر عقود تجارتی........................ | ۲۵۸ |
| حصهٔ سوم | وسایل ثبوت عقود تجارتی........................ | ۲۵۹ |
| فصل سوم | بیع تجارتی ........................ | ۲۶۱ |
| حصهٔ اول | احکام عمومی ........................ | ۲۶۱ |

| عنوان | | صفحه |
|---|---|---|
| حصهٔ دوم | بعضی از انواع خصوصی بیع تجارتی فروش سیف.......... | ۲۷۸ |
| فصل چهارم | قرض تجارتی ........................................ | ۲۹۰ |
| فصل پنجم | رهن تجارتی ........................................ | ۲۹۲ |
| فصل ششم | حوالهٔ طلبات ........................................ | ۲۹۸ |
| فصل هفتم | حساب جاری ........................................ | ۳۰۲ |
| فصل هشتم | تودیعات به گدام های عمومی ........................ | ۳۰۷ |
| فصل نهم | وکالت تجارتی ........................................ | ۳۱۴ |
| فصل دهم | کمیشن کاری ........................................ | ۳۲۳ |
| فصل یازدهم | کمیشن کاری نقلیات ................................ | ۳۳۴ |
| فصل دوازدهم | نقلیات ........................................ | ۳۳۷ |
| حصهٔ اول | احکام عمومی ........................................ | ۳۳۷ |
| حصهٔ دوم | نقل اموال ........................................ | ۳۳۸ |
| حصهٔ سوم | ترانسپورت اشخاص........................................ | ۳۵۶ |
| فصل سیزدهم | بیمه........................................ | ۳۶۲ |
| حصهٔ اول | احکام عمومی بیمه ........................................ | ۳۶۲ |
| حصهٔ دوم | بیمهٔ اموال........................................ | ۳۶۲ |
| حصهٔ سوم | بیمهٔ حریق ........................................ | ۳۸۰ |
| حصهٔ چهارم | بیمهٔ ترانسپورت........................................ | ۳۸۴ |
| حصهٔ پنجم | بیمهٔ حیات ........................................ | ۳۸۶ |
| حصهٔ ششم | بیمهٔ حوادث........................................ | ۳۹۱ |
| حصهٔ هفتم | بیمهٔ زراعتی ........................................ | ۳۹۴ |
| حصهٔ هشتم | بیمهٔ سرقت ........................................ | ۳۹۵ |
| حصهٔ نهم | مرور زمان ........................................ | ۳۹۵ |
| تعدیلات | ........................................ | ۳۹۷ |

بسم الله الرحمن الرحيم

## د تجارت اصولنامه

## لومړی باب
## عمومي احکام

## لومړی فصل

**مقدمه:**

**۱ ماده:**
د تجارتي اصولنامو احکام د ټولو تجاري معاملاتو په خصوص کښې جاري دی.

**۲ ماده:**
تجارتي مسئلي د اصولي معتبرو مقاوله نامو په ذريعه، او په دې صورت چه داسي مقاوله موجوده نه وي، نو د تجارتي اصولنامه د صراحت او يا دلالت په موجب حل او فصل کيږي. او که په دې ترتيب سره ئي حل او فصل ونشي کيدلي، نو د تجارتي عرف او عاداتو له مخې کيږي. محلي او خصوصي عرف او عاداتو ته په عمومي عرف او عاداتو باندې ترجيح ورکول کيږي. د عرف او عاداتو د نشتوالي په صورت کښې د نورو هغو اصولنامو احکام چه په هغو

## قانون تجارت

## باب اول
## احکام عمومی

## فصل اول

**مقدمه:**

**مادۀ ۱:**
احکام قوانين تجارتی دربارۀ تمام معاملات تجاريه جاريست.

**مادۀ ۲:**
مسايل تجارتی ذريعه مقاوله نامه های معتبره قانونی، و در صورتيکه چنين مقاوله موجود نباشد ، به موجب صراحت و يا دلالت قوانين تجارتی حل و فصل ميگردد اگر به اين ترتيب حل و فصل شده نتواند ، عرف و عادات تجارتی تطبيق ميگردد .عرف و عادات محلی و خصوصی بر عرف و عادات عمومی ترجيح داده ميشود در صورت نبودن عرف و عادات، احکام قوانين ديگری که به آن

استناد کیږي تطبیقیږي.

تبصره:
پـه عمـومي عـرف او عـاداتو بانـدې خصوصي او محلي عـرف او عـاداتو تـه تـرجیح ورکول عبارت له دې څخه دي چه د هر محـل تجارتي عرف او عادات د خپلـې محلـي حـوزي د تعـاملاتـو تـابع وي نه د بلي منطقي د تعـاملاتو. کـه هغـه عـرف او عـادات چـه د تجـارتي معـاملاتو پـه حـل او فصـل کښـې مؤثر واقـع کیـدای شـي پـه یـوه محلي حوزه کښې موجود نـه وي، نـو د یـوه نـږدې محـل پـه عـرف او عـاداتو باندې استناد کیدای شي.

۳ ماده:
کــه پـه دې اصـولنـامـه کښـې بـل صـراحـت مـوجـود نـه وي نـو د (۲) مـادې د منـدرجـاتـو د ترتیـب رعایت مجبوري ده.

## دوهم فصل
## تجارت او تجارتي اهلیت

۴ ماده:
هر یو تن چه اتلس کلن او د شخصیت او تجارت د ډول له حیثه دده د حقوقي تصرفاتو دپاره کوم موانع موجود نه وي نو کولای شي چه تجارت وکړي.

استناد میشود تطبیق میگردد.

تبصره:
تـرجیـــح عــرف و عـادات خصوصـی و محلـی بـر عـرف و عــادات عمـومی عبــــارت اسـت ازیـنکـه عـرف و عـــادات تجــارتی هــر محــل تــابع تعــاملات حــوزۀ محلــی خـــودش میبـاشد، نـه تـابع تعـاملات منـاطق دیگر هـرگاه عـرف و عـاداتیـکـه در حـل و فـصل معـاملات تجـارتی مؤثر واقـع شـــده بتـوانــد در یــک حــوزۀ مـحـلی مـوجـود نبـاشـد بـه عــرف و عـــادات نـزدیـــک تریـــن محـــل اسـتـنـاد شده میتواند.

مادۀ ۳:
اگـــر در ایـــــن قـــــانون صــراحت دیــگــری مــوجـــود نبـــاشـــد، رعـایـت ترتیـب منـدرجات مـادۀ (۲) مجبوریست.

## فصل دوم
## تجارت و اهلیت تجارتی

مادۀ ۴:
هر فرد که سن هجده را تکمیل و بـرای تصـــرفات حقـــوقی اش از حیـــث شخصیت و نوع تجارت موانع قـانونی موجود نباشد میتواند تجارت نماید.

**۵ ماده:**

که تجارت خانه يوه صغير ته پاتي شي پدې صورت چه تجارتي مربوطه محکمه دده د وصي يا ولي لخواه تجارت ته په ادامه ورکولو کښې ګټه ويني نوکولای شي چه ولي يا وصي ته دهغه په اوږدولو اجازه ورکړي. که ولي يا وصي د تجارت د اجراء د پاره قانوني اهليت ونلري او يا د تجارت له اجراء څخه منع شوي وي، هغه ته اجازه نه ورکوله کيږي تر څو چه د تجارت دپاره يو بل صالح ولي يا وصی وټاکل شي.

**مادهٔ ۵:**

اگر تجارت خانه به یک صغیر انتقال یابد ، در صورتیکه محکمه مربوطه تجارتی در ادامه تجارت از طرف ولی و یا وصی او فایده تصور کند ، میتواند ولی و یا وصی را به ادامهٔ آن اجازه بدهد . اگر ولی و یا وصی دارای اهلیت قانونی برای اجرای تجارت نباشد و یا از اجرای تجارت منع شده باشد ، به او اجازه داده نمشود تا اینکه وصی یا ولی دیگری که برای تجارت صالح باشد تعیین شود .

**۶ ماده:**

د (**۵**) مادې حکم د نورو هغو خلکو په باره کښې چه حقوقي اهليت نه لری هم د اجراء وړ دی.

**مادهٔ ۶:**

حکم مادهٔ (**۵**) دربارهٔ دیگر فاقدین اهلیت حقوقی هم مرعی است.

**۷ ماده:**

ټول هغه کسان چه د مامورينو د ترفيع او تقاعد د اصولنامي له مخې د دولت وظيفه لرونکي مامور بلل کيږي، له مستقيم تجارت څخه منع دی.

**مادهٔ ۷:**

تمام اشخاصیکه بموجب اصولنامه ترفیع وتقاعد مامورین، مامور مؤظف دولت شمرده میشوند از تجارت مستقیم ممنوع میباشند .

**۸ ماده:**

هر څوک که افراد وی که شرکتونه چه تجارتی اهليت ولری، په خپل نامه په يوه يا څو تجارتي معاملو بخت شي او دا کسب

**مادهٔ ۸:**

هر شخص اعم از افراد و شرکت ها که حایز اهلیت تجارتی بوده بنام خود به یک و یا چند معامله تجارتی اشتغال ورزیده و این شغل را پیشه معتاد

ځانته غوره کړی، تاجر بلل کیږي.

**۹ ماده:**
هغه څوک چه په تجارتی معاملو باندې د بختیدو دپاره یو ټاکلی ځای پرانیزی او د متحد المال او اخبار او نورو په ذریعه خلکو ته خبر ورکړی، نو که تجارت خپل ځانته عادی کسب هم ونه گرځوی، تاجر بلل کیږی.

**۱۰ ماده:**
که کوم شخص تصادفاً یوه تجارتي معامله اجراء کړی، د تاجر صفت نشي موندلای لیکن هغه معامله چه اجراء شوی ده د تجارتي قانون د احکامو تابع ده.

**۱۱ ماده:**
دولت او ښاروالی کولای شي چه تجارت وکړي مگر د تاجر صفت نشي موندلای خو د دوي تجارتي معاملي ددی اصولنامی د احکامو تابع دی.

**۱۲ ماده:**
هغه کسان چه د دوی تجارت نظر نقدي پانگې ته د دوی په بدني کوښښونو ډیر مستند دي او یا د دوی د کار او کسب حاصل دومره لږ وي چه یواځې د دوی د ژوندانه وسایل برابر کړی، نو که سیار یا په یوه دکان او یا

قرار بدهد، تاجر شمرده میشود.

**مادۀ ۹:**
شخصیکه برای اشتغال به معاملات تجارتی محلی را انتخاب و اقناع نموده ذریعۀ متحد المال و جراید و امثال آن به اهالی اعلان نماید، اگر تجارت را برای خود پیشه معتاد هم اتخاذ نکند، تاجر شمرده میشود.

**مادۀ ۱۰:**
شخصیکه تصادفاً یک معامله تجارتی را اجراء نماید، دارای صفت تاجر شده نمیتواند. لیکن معامله ایکه اجراء شده تابع احکام قانون تجارت است.

**مادۀ ۱۱:**
دولت و بلدیه ها میتوانند تجارت کنند. لیکن دارای صفت تاجر شده نمیتوانند مگر معاملات تجارتی ایشان تابع احکام این قانون است.

**مادۀ ۱۲:**
اشخاصیکه تجارت ایشان از سرمایه نقدی زیادتر مستند به مساعی بدنیه بوده و یا حاصل کار و کسب شان آنقدر جزئی باشد که تنها مکفی معیشت گردد، چه سیار و چه در یک دکان و یا در یک محل

د بازار په يوه ټاکلي ځای کښې ناست وی، کوچني تاجر بلل کيږي.

معيين بازار ثابت باشند، تاجر کوچک شمرده می شوند.

**۱۳ ماده:**
هغه کوچني تاجران چه د عنوان په اخيستلو او د تجارتي دفترونو په لرلو او په هغو موضوعاتو چه نظر د تجارت قانون ته د هغو ثبت لازم دي مجبور ندي او همدا ډول د افلاس تر اصولو لاندې هم نه راځي.

**مادۀ ۱۳:**
تاجر های کوچک به اتخاذ عنوان و داشتن دفاتر تجارتی و موضوعاتیکه نظر به قانون تجارت ثبت آن لازم است مجبور نبوده و همچنان تحت قاعده افلاس نمی آیند.

**تبصره:**
کوچني تجار هغه کسان بلل کيږي چه په اصنافي طبقو کښې شامل وي او صنفي جوازنامه ولری.

**تبصره:**
تجار کوچک کسانی شناخته میشوند که در طبقات اصنافی شامل بوده و جوازنامۀ صنفی را داشته باشند.

## درېيم فصل
## تجارتي معاملي

## فصل سوم
## معاملات تجارتی

**۱۴ ماده:**
تاجر يا غير تاجر کسان چه منقول مالونه د پلورلو يا بل چاته د په اجاره ورکولو په غرض پيري او هغه منقول مالونه په اصلي حالت يا په بل شکل واړوی او وئی پلوري او يائي په اجاره ورکړی، دا پلورل او په اجاره ورکول له تجارتي معاملو څخه ګڼل کيږي.

**مادۀ ۱۴:**
اشخاص تاجر يا غير تاجر که اموال منقول را بمقصد فروش و يا اجاره دادن به ديگری خريداری مينمايند و آن اموال منقول را بحالت اصلی آن و يا بشکل ديگری تبديل نموده بفروشند و يا اجاره بدهند، اين فروش و اجاره از معاملات تجارت محسوب ميشود.

**۱۵ ماده:**
تاجر يا غير تاجر کسان چه منقول

**مادۀ ۱۵:**
اشخاص تاجر و غير تاجر که

مالونه یا د په اجاره ورکولو په نیت له چانه په اجاره واخلي، ددې ډول منقول مالو په اجاره ورکول له تجارتي معاملو څخه ګڼل کیږي.

۱۶ ماده:
تاجر یا غیر تاجر کسان چه بل ته د اجاري ورکولو دپاره مستخدم نیسي، د مستخدمي دغه عمل او کار په اجاره ورکول چه پدې نیت نیولي شوي وي له تجارتي معاملو څخه ګڼل کیږي.

۱۷ ماده:
که د مځکې خاوند یا بزګر د خپلې مځکې محصولات او یا مالدار د خپلو حیواناتو محصولات وپلوري، دا له عادي معاملاتو څخه دي او همدا ډول که یو بزګر د خپلې بزګرۍ له صنعت سره سم دخپلو مځکنیو محصولاتو شکل دیوي دستګاه پوسیله تبدیل کړي او یا دکار یو صنعت دي پخپله یا د مزدورانو د استخدام یا د ماشین د استعمال په ذریعه خپل صنعتي آثار وباسي او وئې پلوري او یا یو مؤلف خپل تالیف شوي اثر خپور کړي او وئې پلوري، دا ټول له عادي کارو څخه بلل کیږي. مګر که څوک د خپلو زراعتي او حیواني محصولاتو دپلورلو یائې د شکل د تبدیلولو په نیت یوه داسي

اموال منقوله را به نیت اجاره دادن از کسی اجاره بگیرند، اجاره دادن چنین اموال منقوله از معاملات تجارتی محسوب میشود.

مادهٔ ۱۶:
اشخاص تاجر و یا غیر تاجریکه برای اجاره دادن به شخص دیگری مستخدم میگیرند، اجاره دادن عمل و کار مستخدمیکه به این نیت گرفته شده باشد، از معاملات تجارتی محسوب میشود.

مادهٔ ۱۷:
اگر صاحب زمین و یا دهقان محصولات ارضیهٔ خود را و یا مالدار محصولات حیوانیه خود را بفروشد، از معاملات عادیه است و همچنین اگر یک دهقان بر طبق صنعت زراعیه خود شکل محصولات ارضیه خود را بوسیلهٔ یک دستگاه تبدیل کند و با یک صنعتکار خودش و یا توسط استخدام عمله و یا استعمال ماشین آثار صنعتی خود را تولید نموده و بفروشد و یا یک مؤلف اثر تالیف شدهٔ خود را نشر نماید و بفروشد، همهٔ اینها از امور عادیه محسوب میشوند. لیکن اگر کسی بمقصد فروش و یا تبدیل شکل محصولات زراعیه و حیوانیهٔ

مؤسسه په دايم ډول سره پرانيزي چه د يوي تجارتي صناعتي مؤسسي صفتونه ولري، نو ددې مؤسسي معاملي له تجارتي معاملو څخه ګڼلي کيږي.

**۱۸ ماده:**

دا لاندني معاملي تجارتي دي:

۱- د هر ډول منقولو مالو د تهيه کولو تعهد او د هر ډول اعمالاتو او انشاآتو په ذمه اخيستل او قبلول.

۲- د فابريکي تأسيس، د مطبعي د دستګاه دائرول، عکاسي، نشرات او د کتابو پلورل.

۳- د تياتر، سينما، د نندارتونونو افتتاح او د عموميه مقاماتو پرانستل لکه هوټل، سرايونه، د خوړو خوني او ددې په شان نور او د کارکونکو د تهيه کولو دپاره دفترونه او د ليلام ځايونه.

۴- په وچه، سيندونو او هوا کښې د مسافرينو حيواناتو او شيانو وړل.

۵- د اوبو، ګيس او بريښنا ويشل او د تيلفوني مخابراتو تأسيس.

خود مؤسسه ای را بطور دایم باز کند که دارای اوصاف یک مؤسسه صناعتی تجارتی باشد، معاملات این مؤسسه از معاملات تجارتی محسوب می شود.

**مادۀ ۱۸:**

معاملات ذیل از معاملات تجارتی است:

۱- تعهد تهیۀ هر نوع اموال منقوله و به ذمه گرفتن و قبول هر نوع اعمالات و انشاءآت.

۲- تأسیس فابریکه، تدویر دستگاه مطبعه، عکاسی، نشریات و فروش کتب.

۳- افتتاح تیاتر، سینما، تماشاگاه ها و کشودن مقامات عمومیه مانند هوتل و سرای ها و طعام خانه ها و امثال آنها و دفاتر تهیه کارگران و لیلام خانه ها.

۴- نقلیات مسافرین و حیوانات و اشیاء در خشکه، انهار و هوا.

۵- توزیع آب، گیس، برق و تأسیس مخابرات تیلفونی.

۱۹ماده:
دا لاندني معاملي بې د دواړو طرفو د نيت له رعايته ځخه تجارتي معاملي ګڼلی کيږي:

۱- په کميشن کار کول.

۲- دلالي.

۳- د برات او حجت معاملي (چه په نوم محرر او محرر په حامل) او چک.

۴- د صرافي معاملي.

۵- د خصوصي او د عمومي بانکونو معاملي.

۶- د جاري حساب معاملي او په هغو پورې مربوطې مقاولې.

۷- د ګروی سندونو او رسيدونو په باره کښې چه د موضوعه مالو په مقابل د تجارتي په عمومي ګدامو کښې موجود شوي وي.

۸- د تجارتي شرکتونو تشکيل او د سهمونو پيرودل او پلورل.

۹- د مخاطراتو په مقابل کښې د هر ډول بيمي تړنه، که په اجرت سره وتړل شي او که په متقابله شرطونو سره.

مادهٔ ۱۹:
معاملات ذيل بدون رعايت نيت طرفين، معامله تجارتی محسوب می شود:

۱- کميشن کاری.

۲- دلالی.

۳- معاملات برات و حجت (اعم از محرر بنام و محرر بحامل) و چک.

۴- معاملات صرافی.

۵- معاملات بانکهای خصوصی و عمومی.

۶- معاملات حساب جاری و مقاولات مربوط به آن.

۷- معاملات راجع به سندات گروی و رسيدات که در مقابل امواع موضوعه در گدامهای عموميه تجارتی موجود شده باشد.

۸- تشکيل شرکت های تجارتی و خريد و فروش اسهام.

۹- عقد هر نوع بيمه در مقابل، مخاطرات خواه به اجرت عقد شود و خواه با شرايط متقابله.

**۲۰ ماده:**
ديوه تاجر ټولي معاملي تجارتي ګڼلي کيږي مګر دا چه ثابت شي چه دا معامله عادي ده.

**۲۱ ماده:**
که يو عقد يواځې له يوي خوا تجارتي وي او په تجارتي قانون دهغه په خلاف کوم صراحت موجود نه وي نو د هغو تکاليفو په باره کښې چه له دې عقد څخه ټولو عاقدينو ته پيښ شوی وي، د تجارت د اصولنامي احکام تطبيقيږي.

**۲۲ ماده:**
د تاجرو او غير تاجرو کسانو تکاليف چه له نورو معاملاتو څخه پيدا کيږي او يا ددې فصل ذکر شوی معاملات ماهيتاً د قياس وړ وی، د تجارت د اصولنامي د احکامو تابع دی.

**۲۳ ماده:**
ټول هغه معاملات چه ددی فصل په ذکر شويو معاملاتو پورې اړه لري، له تجارتي معاملاتو څخه ګڼل کيږي.

## څلورم فصل
## د تجارت ثبت

**۲۴ ماده:**
يوه دائره د تجارت د ثبت په نامه دهغو

**مادهٔ ۲۰:**
تمام معاملات يک تاجر تجارتی محسوب ميشود مگر اينکه ثابت شود که معامله عادی است.

**مادهٔ ۲۱:**
اگر عقدی تنها برای يکی از طرفين تجارتی باشد و در قانون تجارتی بر خلاف آن صراحتی موجود نباشد، در بارهٔ تکاليفی که از عقد مذکور برای تمام عاقدين توليد شده باشد احکام قانون تجارت تطبيق ميگردد.

**مادهٔ ۲۲:**
تکاليف اشخاص تاجر و غير تاجريکه از معاملات ديگر متولد و يا معاملات متذکره اين فصل ماهيتاً قابل قياس باشد، تابع احکام قانون تجارت است.

**مادهٔ ۲۳:**
تمام معاملاتيکه مرتبط به معاملات مذکورهٔ اين فصل باشد، از معاملات تجارتی محسوب است.

## فصل چهارم
## ثبت تجارت

**مادهٔ ۲۴:**
يک دايرهٔ بنام ثبت تجارت تحت

محکمو تر نظارت لاندې چه د تجارتي دعوو په حل او فصل باندې مکلفي وي، موجوده ده.

**۲۵ ماده:**
د تجارتي ثبت دائره د مربوطه محکمې د رئیس تر کتنې لاندې یوه مسئول او مکلف مامور ته سپارله کیږي.

**۲۶ ماده:**
که په یوه ځای کښې تجارتي محکمې زیاتې وي نو د تجارتي ثبت دائره دواک لرونکي مقام په امر له نومړو محکمو څخه په یوه محکمه پورې تړل کیږي.

**۲۷ ماده:**
هغه موضوعات او معاملات چه د تجارت د اصولنامې او د نورو اصولنامو له مخې باید هرومرو په ثبت ورسیږي نو راساً یا د مربوطه مقاماتو د ابلاغ په اثر یا د نورو علاقه لرونکو په غوښتنه او مراجعت ثبت او قیدیږي. هر ډول تغییرات چه په دې مسایلو کښې پیښ شي، د اصول له مخې ثبتیږي.

**۲۸ ماده:**
هغه مطالب چه تجار او تجارتي شرکتونو د هغو ثبت باندې مکلف

نظارت محاکمی که مکلف بر حل و فصل دعاوی تجارتی میباشند، موجود است.

**مادۀ ۲۵:**
دایرۀ ثبت تجارتی تحت نظارت رئیس محکمۀ مربوطه به یک مامور مسئول و مکلف محول میشود.

**مادۀ ۲۶:**
در صورت تعدد محاکم تجارتی در یک موضوع، دایرۀ ثبت تجارتی به امر مقام ذیصلاحیت به یکی از محاکم مذکور مربوط میگردد.

**مادۀ ۲۷:**
موضوعات و معاملاتیکه نظر به قانون تجارت و سایر قوانین لازم است به ثبت برسد، راساً یا به اثر ابلاغ مقامات مربوطه و یا خواهش و مراجعت علاقمندان دیگر ثبت و قید میگردد. هرگونه تغییراتیکه در مسایل مذکور واقع شود، مطابق اصول، ثبت و قید میشود.

**مادۀ ۲۸:**
مطالبی که تجار و شرکت های تجارتی به ثبت آن مکلف اند،

دي، په لاندې ډول دي:

الف- د (شخص یا د شرکت) نوم.

ب- د پلارنوم.

ج- د هغه د زیږیدني ځای او نېټه.

د- د شخص یا شرکت تابعیت.

هـ- د تجارت عنوان.

و- د تجارت موضوع.

ز- د شرکت ډول او د هغه د تأسیس نېټه او همدا ډول د شرکت اصلي مرکز.

ح- د شرکت پانګه (انفرادي تجار له دې فقرې څخه مستثني دی).

ط- هغه کسان چه د تجارت خانې یا شرکت په چارو کښې دلاس لیک واک لري.

ی- نور هغه خصوصیات چه د هغو ثبت (اصولاً) اجباري کړی شوی وی.

**۲۹ ماده:**
لکه څنګه چه علاقه لرونکی کسان د قید او ثبت غوښتنه کوي، نو د دوی د ورثي او قانوني قایم مقام په غوښتنه هم ثبت کیږي.

قرار ذیل است:

الف- اسم (شخص یا شرکت).

ب- ولدیت.

ج- محل تولد و تاریخ آن.

د- تابعیت شخص یا شرکت.

هـ- عنوان تجارت.

و- موضوع تجارت.

ز- نوع شرکت و تاریخ تأسیس آن و همچنین مرکز اصلی شرکت.

ح- سرمایه شرکت (تجار انفرادی ازین فقره مستثنی است).

ط- اشخاصیکه در امور تجارت خانه یا شرکت دارای صلاحیت امضاء اند.

ی- سایر خصوصیاتیکه ثبت آن (اصولاً) اجباری قرار داده شده باشد.

**مادهٔ ۲۹:**
طوریکه اشخاص علاقمند خواهش ثبت و قید را میکنند، به خواهش ورثه یا قایم مقام قانونی ایشان نیز ثبت بعمل میآید.

په دې صورت کښې چه د قيد او ثبت غوښتنه په متعددو کسانو پورې اړه ولري نو که له دوي څخه ديوه له غوښتنې سره سم د قيد او ثبت معامله اجراء شي، نو داسي ګڼل کيږي لکه چه د ټولو له خوا غوښتنه شويده.

**۳۰ ماده:**

لکه چه پخپله د علاقه لرونکو او يا د دوی د قانوني وکيلانو د مراجعې په اثر د قيد او ثبت معاملي اجراء کيږي، په همدی ډول د هغو پاڼو او د سهم د اسنادو د ليږلو په اثر چه رسماً ترتيب شوي او د ثبت غوښتنه پکښې شوی وي هم اجرأ کيږي.

**۳۱ ماده:**

د قيد او ثبت غوښتنه بايد په هغه موده کښې وی چه قانون مقرره کړی ده. که په قانون کښې د هغې د پاره يوه موده تصريح شوی نه وی نو وروسته د وثيقو د تکميل څخه په يوه مياشتې کښې دننه د هغو اجراء لازمه ده. د هغو کسانو په خصوص کښې چه په ثبت مکلف دی او د ثبت له ځای څخه دباندې اوسيږی، نظر د لارې اوږدوالې ته د هرو ۱۲ ميلو د پاره يو ورځ زياتيږی.

در صورتيکه صلاحيت خواهش قيد و ثبت به اشخاص متعدد تعلق داشته باشد ، اگر مطابق خواهش يکی از آنها معاملۀ ثبت و قيد اجراء شود ، چنان محسوب ميشود که از طرف همه خواهش شده است.

**مادۀ ۳۰:**

طوريکه معاملات قيد و ثبت به اثر مراجعه شخصی علاقمندان و يا به اثر مراجعه وکيل قانونی شان اجراء ميشود ، به همان صورت به اثر ارسال اوراق و اسناد رسميه که رسماً ترتيب شده و حاوی مطالبه ثبت باشد هم اجرأ ميگردد.

**مادۀ ۳۱:**

خواهش قيد و ثبت بايد در مدتيکه قانون مقرر نموده است، بعمل آيد. اگر در قانون يک مدت برای آن تصريح نشده باشد ، در ظرف يکماه بعد از تکميل وثايق، اجرای آن لازم است. نسبت کسانيکه مکلف به ثبت بوده و خارج از محل ثبت اقامت دارند نظر به بعد مسافه برای هر ۱۲ ميل يک روز علاوه ميشود.

**۳۲ ماده:**

هغه ثبت چه د اعلان وړ وی نو تر هغه وخته پورې چه د قانوني اعلاناتو دپاره کومه مخصوصه جريده تأسيس شي، په رسمي يا خصوصي جريدو کښې چه په هغه محل کښې موجودي وی نشريږی او که په هغه محل کښې رسمي يا غير رسمي جريده موجوده نه وي، نو په هغې جريدي کښې چه دغه ځای ته نژدې خپريږی اعلانيږی. پرته له هغو خصوصياتو چه اصولاً د هغو اعلانول په لنډ ډول سره مجازوي، د ثبت مراتب کلمه په کلمه درج او نشريږی.

که د اعلاناتو ټول مندرجات په يوه ورځ پوره نشي، نو د نشر وروستي نيټه د اعلان د پوره کيدو نيټه بلله کيږي.

په ټولو غوښتنپاڼو او بيان نامو باندې چه د ثبت وثيقه جوړوی او هغو جريدو باندې چه اعلان پکښې نشر يږی، د ثبت د دفتر لمبر او نيټه ليکله کيږي او ساتلي کيږي.

**۳۳ ماده:**

هغه موضوعات چه حل ئې په يوه محکمه پورې اړه ولری او يا د ثبت مامورين د هغو د قطعی ثبت په

**مادۀ ۳۲:**

ثبتيکه قابل اعلان ميباشد تا زمانيکه کدام جريدۀ مخصوصه براى اعلانات قانونيه تأسيس گردد، در جرايد رسمى يا خصوصى که در آن محل موجود باشد نشر ميگردد و اگر در آن محل جريدۀ رسمى يا غير رسمى موجود نباشد، در جريدۀ که در نزديک ترين محل نشر ميشود اعلان ميگردد. به استثناى خصوصياتيکه اعلان آنها قانوناً بطور مختصر مجاز است، مراتب ثبت کلمه به کلمه درج و نشر ميشود.

اگر تمام مندرجات اعلانات در يک روز اکمال نگردد، آخرين تاريخ نشر تاريخ تکميل اعلان شمرده ميشود.

بر تمام درخواست ها و بيان نامه ها که وثيقه ثبت را تشکيل ميدهند و جرايديکه اعلان در آنها نشر گرديده، نمره و تاريخ دفتر ثبت تحرير و حفظ ميشود.

**مادۀ ۳۳:**

موضوعاتيکه حل آن به حکم يک محکمه مربوط باشد يا مامورين ثبت راجع به ثبت

خصوص کښې متردد وي، نو د علاقه لرونکو د د غوښتنې له مخې په مؤقتي ډول د ثبت په دفتر کښې قید یږی دا ډول موضوعات چه په مؤقتي ډول ثبتیږي نوکه په شپږو میاشتو کښې د علاقه لرونکو د مراجعي په اثر د هغو قطعیت په اثبات ونه شي رستیدلاي نو د مؤقتي قید له دفتر ځخه ایسته کیږی او که قطعیت ئي اثبات شي نود ثبت د اصول له قراره په قطعی صورت قید یږی.

قطعی آن متردد باشند، قرار خواهش علاقمندان، بصورت مؤقتی به دفتر ثبت قید میگردد. چنین موضوعات که بصورت مؤقتی ثبت میشود، اگر در ظرف شش ماه قطعیت آن به اثر مراجعه علاقمندان به اثبات رسیده نتواند، قید مؤقتی از دفتر حذف میشود. اگر قطعیت آن اثبات شود، قرار اصل اصول ثبت بصورت قطعی قید میشود.

**۳۴ ماده:**

که هغه موضوعات چه د ثبت په دفتر کښې قید شوی وي ټول یا یوه برخه ئی له منځه لاړ او ورک شي، نو قید شوی مطالب د علاقه لرونکو د تحریري مراجعي په اثر چه په لازمو وثیقو مستند وي نظر د ایجاب ته ټول یا یوه برخه ئی له دفتر ځخه ایسته کیږي. هغه مطالب چه ثبت او قید ئی د اعلان وړ وي، ایسته کیږي او باطلول ئی هم اعلانیږی.

**مادۀ ۳۴:**

اگر موضوعاتیکه در دفتر ثبت قید شده باشد، تماماً یا قسمتاً از بین برود و رفع شود، مطالب قید شده در اثر مراجعه تحریری علاقمندان آن که مستند به وثایق لازمه باشد نظر به ایجاب تماماً و یا قسمتاً از دفتر حذف میگردد. مطالبی که ثبت و قید آن قابل اعلان است حذف و ابطال آن نیز اعلان میشود.

**۳۵ ماده:**

د علاقه لرونکو له خوا د ثبت او قید او تعدیل او یا د ثبت د ایسته کیدو په خصوص کښې د ثبت د دائري په مربوطه محکمه پر هغو اجراآتو چه د ثبت مامورین ئی کوي، اعتراض

**مادۀ ۳۵:**

راجع به اجرای ثبت و قید و تعدیل یا حذف ثبت از طرف علاقه مندان به محکمه مربوطه دایرۀ ثبت بر علیه اجراآتی که مامورین ثبت

کيدای شي دا اعتراض د محکمي له خوا تر غور لاندې نيول کيږي او د هغو په باره کښې فيصله ورکوله کيږي. او که د ثبت د مامورينو اجراآت د دريم سړي پر حقوقو موثر وي، نو محکمه هغه اعتراض د اعتراض کوونکي او دريم سړي په حضور د يوي اصولي دعوي په څير تر ژوري کتنې لاندې نيسي او په هغه باره کښې حکم صادروي.

**۳۶ ماده:**

هر سړی کولای شي چه د تجارت د ثبت مندرجات او ټول هغه محفوظ اوراق چه په ثبت او قيد پورې اړه لري ولولي او ژوره کتنه پکښې وکړې او د هغو مصدق صورت وغواړی او وائی خلی.

**تبصره:**

په دې ډول مواردو کښې د تصديق حق په لاندې صورت اخيستل کيږي:

الف- د هر ځلې کتنی د پاره (يوه ) افغاني.

ب- د غير مصدق سواد اخيستل (پنځه) افغانی.

ج- د تصديق لرونکي سواد اخيستل (شل) افغانی.

مينمايند، اعتراض شده ميتواند. اين اعتراض از طرف محکمه مورد غور واقع و فيصلهٔ دربارهٔ آن داده ميشود. و اگر اجراآت مامور ثبت بر حقوق شخص ثالث مؤثر باشد، محکمه اعتراض را بحضور معترض و شخص ثالث بشکل يک دعوى اصولى تدقيق و در آن باره حکم صادر ميکند.

**مادهٔ ۳۶:**

هر شخص ميتواند مندرجات ثبت تجارت و تمام اوراق محفوظ متعلق به ثبت و قيد را مطالعه و تدقيق و صورت مصدق آنها را طلب و اخذ کند.

**تبصره:**

حق التصديق در همچو موارد قرار ذيل اخذ ميگردد:

الف- براى هر دفعه مطالعه (يک افغانى).

ب- براى گرفتن سواد غير مصدق (پنج) افغانى.

ج- براى گرفتن سواد با تصديق (بيست) افغانى.

۳۷ ماده:
هغه کسان چه د یوي موضوع په ثبت باندې مکلف دي او په خپله ټاکلي موده کښې خپل مکلفیت اجراء نکړی نو د هغې خساري او ضرر ضامن دې چه له دې لاري څخه بل شخص ته اووښتی وی. برسیره پردې، د ثبت د مامور د پیشنهاد او د هغې محکمي د حکم په اثر چه د ثبت دائره په هغې پورې اړه لري هم په نقدي جزا مجازات کیږي. دا ډول کسان کولای شي چه د محکمي له فیصلي څخه مرافعي او تمیز ته مراجعه وکړي او د مرافعي او تمیز د غوښتنې د قبلیدو دپاره دا شرط دي چه محکوم به مبلغ یا د محکمي صندوق ته وسپاري او یا په دې خصوص کښې ضمانت ورکړی.

مادۀ ۳۷:
کسانیکه مکلف به ثبت یک موضوع باشند و مکلفیت خود را در ظرف مدت معیینه آن ایفاء نکنند، ضامن جبران خساره و ضرری میباشند که ازین رهگذر به شخص دیگری وارد شود. علاوتاً به اثر پیشنهاد مامور ثبت و حکم محکمۀ که دایرۀ ثبت به آن ربط دارد، به جزای نقدی نیز مجازات میشوند. چنین اشخاص میتوانند از فیصله محکمه به مرافعه و تمیز مراجعه نمایند و برای قبول مرافعه و تمیز خواهی شرط است که مبلغ محکوم به را یا در صندوق محکمه تودیع کند و یا در آن باره ضمانت بدهد.

۳۸ ماده:
هغه موضوعات چه د تجارت د ثبت په دائره کښې ثبت او قید شوی دي، د دریمو کسانو په مقابل کښې مؤثر دي. مګر هغه موضوعات چه ثبت ئی د اصولو له مخې ضروري دی نوکه ثبت شوي نه وي، که څه هم په خصوصي صورت اعلان شوي وي، د دریمو کسانو په مقابل کښې مؤثر ندي. مګر دومره ده چه د هغو موضوعاتو په خصوص کښې چه ثبت شوي نه وي، مکلف کولاي شي د نورو کسانو په

مادۀ ۳۸:
موضوعاتیکه در دایرۀ ثبت تجارت ثبت و قید گردیده باشد، در مقابل اشخاص ثالث مؤثر است. لیکن موضوعاتیکه ثبت آن قانوناً مقتضی است، اگر ثبت نشده باشد ولو بصورت خصوصی اعلان هم گردیده باشد، در مقابل اشخاص ثالث مؤثر نمیباشد. مگر اینقدر است که راجع به موضوعاتیکه ثبت نگردیده باشد، مکلف میتواند در

مقابــل کښــې د ثبــت وړ موضــوعاتو کښې د هغوي خبرتيا وغواړي او ثبوت ته ئي ورسوي.

**۳۹ ماده:**
هغه کسان چه موضوعات د بد نيت له مخې د حقيقت په خلاف ثبتوي، په نقــدي جــزأ يـــا د حــبس پــه جــزاء محکوميږی او يا دواړه جزاوي يوځای ورباندې تطبيقيږی، او تر يوي مودې پورې د صناعتي او تجارتي اطاقونو په غړيتوب د ټاکلوله حق او په بورسو کښې له معاملاتو څخه محروميږی او د هغو کسانو د خساري او زيان جبران چه ددې جرم په نسبت ورته پيښ شوی دي محفوظ دي او د ضرر ليدونکو د مراجعي په موقع کښې محکمه رسيده گی کولای شي

## پنځم فصل
## تجارتي عنوان

**۴۰ ماده:**
هر تاجر مجبور دي چه تر څو د خپل تجارت مربوطی پاڼې او معاملي تر يو ټاکلي نوم لاندي چه د تجارت عنوان بلل کيږي، اجراء او لاس ليک کړی.

**۴۱ ماده:**
هر تاجر که يواځې او که له خصوصي

مقابل اشخاص دیگر در موضوع های قابل ثبت مطلع بودن آنها را ادعا و به ثبوت برساند.

**مادهٔ ۳۹:**
اشخاصیکه موضوعات را با سوء نیت خلاف حقیقت ثبت بنمایند، به جزای نقدی و یا جزای حبس محکوم میگردند و یا هر دو جزا دربارهٔ ایشان یکجا تطبیق میشود و برای مدتی از حق انتخاب بعضویت اطاقهای تجارتی و صناعتی و معاملات در بورسه ها محروم میگردند. حق طلب جبران خساره و ضرر اشخاصیکه به نسبت جرم مذکور متضرر گردیده اند محفوظ می باشد و عندالمراجعهٔ متضرر محکمه میتواند رسیدگی بنماید.

## فصل پنجم
## عنوان تجارتی

**مادهٔ ۴۰:**
هر تاجر مجبور است تا اوراق و معاملات متعلقه تجارت خود را تحت یک اسم معیین که عنوان تجارت تعبیر میشود، اجراء و امضاء نماید.

**مادهٔ ۴۱:**
هر تاجر چه منفرداً و چه با شریک

شریک سره وي چه تجارت کوي او همدا ډول، ټول تجارتي شرکتونه مجبور دي چه د خپل تجارت عنوان په هغه محل کښې چه تجارت په کښې کوي او یا د هغو مرکز هلته وي د تجارت د ثبت په دائره کښې ثبت او اعلان کړي.

خصوصی که اجرای تجارت مینماید و همچنان تمام شرکتهای تجارتی مجبورند که عنوان تجارت خود را در محلی که اجرای تجارت مینمایند و یا مرکز آنها واقع است، به دایرهٔ ثبت تجارت، ثبت و اعلان نماید.

**۴۲ ماده:**

د تجارت عنوان باید پخپله د تاجر او دده د کورنۍ نوم ولري او شرط دي چه له هغو عنوانونو څخه چه پخوا ثبت شویدي په واضح ډول متمایز وي. یو تاجر کولای شي چه د خپل تجارت په عنوان کښې داسې تزئیدات وکړي چه وئی غواړی مګر هومره تزئیدات نشي کولای چه پخپله دده د هویت یا ددغه تاجر د مالي وضعیت او د اهمیت او پراختیا په خصوص کښې او یا د یوه شریک د موجودیت په باره کښې د نورو کسانو په زړونو کښې یو غلط او له حقیقت څخه چپ فکر پیدا کړي.

**مادهٔ ۴۲:**

عنوان تجارت بایست از اسم شخص تاجر و اسم فامیلی او مرکب بوده و شرط است از عناوینی که قبلاً ثبت گردیده است، واضحاً متمایز باشد. یک تاجر میتواند بعنوان تجارت خود تزئیداتی را که خواسته باشد بنماید، ولی نمیتواند چنان تزئیداتی بکند که راجع به هویت شخص او یا در مورد وسعت، اهمیت و یا وضعیت مالی تجارت تاجر مذکور و یا دربارهٔ موجودیت یک شریک نزد اشخاص ثالث یک فکر غلط و مغایر حقیقت را تولید نماید.

**۴۳ ماده:**

(تضامني) شرکت عنوان عبارت دي د ټولو شریکانو له نومونو یا لږ ترلږه د یوه شریک نوم څخه د تضامني کلمي لري. د کوماندیت (ګډو تضامني شرکتو) عنوان که عادي وي او که پانګه ئی په برخو

**مادهٔ ۴۳:**

عنوان شرکت (تضامنی) عبارت است از اسمای تمام شرکاء و یا اقلاً از اسم یکی از شرکاء با کلمه تضامنی. عنوان شرکت های تضامنی مختلف (کوماندیت) خواه عادی و خواه سرمایه آن منقسم با

ويشلي شوي وي په هغه ترتيب چه په (۴۲) ماده کښې ذکر شويدي لړ ترلږه د يوه داسي شريک له نامه څخه چه ډير مسئوليت لري د تضامني له کلمي سره ګډه جوړيږي.

د سهامي شرکتونو عنوان عبارت د شرکت له موضوع د سهامي کلمي له زياتوالي سره دي. په سهامي شرکتونو کښې د شريکانو يا نورو کسانو نومونه د شرکت په عنوان نشي داخليداي.

**۴۴ ماده:**

که يوه تاجر د خپل تجارت عنوان د اصولو له مخې په يوه محل کښې ثبت کړي وي او بل تاجر که څه هم داسي نوم ولري چه همدغه عنوان جوړ کړی، تر هغه وخته پورې چه د هغه پخواني ثبت شوي عنوان له نامه څخه د تغيير په نيت زياتوالي ونکړي، په هغه محل کښې نشي کولای چه په همدې نامه د تجارت عنوان جوړ کړي او يائي ديوه تجارتي مقصد د اجراء لپاره استعمال کړي. همدا ډول که يو تاجر يا تجارتي شرکت وغواړي چه پرته له هغه محل څخه چه خپل تجارتي عنوان ئي پکښې ثبت کړيدي په بل کوم محل کښې يوه څانګه پرانيزي نو که په هغه محل کښې تر هغه عنوان لاندي کوم تاجر يا

سهام باشد، به ترتيبى كه در مادۀ (۴۲) ذكر گرديده، اقلاً از اسم يكى از شركائى كه مسئوليت او غير محدود باشد با كلمۀ تضامنى مختلط تشكيل مييابد.

عنوان شركت هاى سهامى عبارت است از موضوع شركت به اضافه كلمه سهامى. در شركت هاى سهامى اسماى شركاء و يا اشخاص ديگر بعنوان شركت داخل شده نميتواند.

**مادۀ ۴۴:**

در صورتيكه يک تاجر عنوان تجارت خود را اصولاً در يک محل ثبت كرده باشد، تاجر ديگر ولو داراى اسمى باشد كه همين عنوان را تشكيل ميدهد، تا وقتيكه تزئيداتى به منظور تغير اين اسم از عنوان ثبت شده ما قبل نكند، در همان محل نميتواند كه همان اسم را بحيث عنوان تجارت اتخاذ و يا جهت اجراى يک مقصد تجارتى استعمال نمايد. همچنان اگر يک تاجر و يا شركت تجارتى بخواهد غير از محليكه عنوان تجارت خود را در آن ثبت كرده در كدام محل ديگر يک شعبه افتتاح نمايد، در صورتيكه كدام تاجر و يا شركت تجارتى تحت

تجارتي شرکت ثبت شوي وي، د نوي ځانګې مؤسس مجبور دي چه د خپلې ځانګې د تجارت په عنوان کښې داسي زياتوالي وکړې چه د هغه محل له پخواني ثبت شوي عنوان څخه په واضح ډول توپير وکړې.

**۴۵ ماده:**
لکه چه د تجارتي عنوان تمليک د هغه تفکيک له تجارت خاني څخه جائز نه وي، په همدې ډول ديوي تجارت خانې په تمليک کښې د تجارت عنوان په ښکاره ډول يا ضمناً داخل نشي د تجارت عنوان نه تمليک کيږي.

**۴۶ ماده:**
هغه څوک چه عنوان له تجارت خانې سره يوځای تمليک کړی، لکه څرنګه چه پخپله تمليک کوونکي له تعهداتو څخه چه تر هغه عنوان لاندي ئې اجراء کړي مسئول دي.

په همدې ډول پر ټولو هغه حقوقو چه د هغه له تجارت څخه پيښيږی مالک کيږي. هغه مقاولی چه ددې اساسنامي په خلاف وي پدی شرط چه د تجارت د ثبت په دائره کښې ثبت شي او يا راساً علاقه لرونکو ته اطلاع ورکړه شي، د اعتبار وړ دي.

همان عنوان در همان محل ثبت شده باشد ، مؤسس شعبه جديد مجبور است در عنوان تجارت شعبه خود چنان تزئيد بنمايد که از عنوان ثبت شده ماقبل همان محل واضحاً تفريق شود .

**مادۀ ۴۵:**
طوريکه تمليک عنوان تجارت با تفکيک آن از تجارت خانه جايز نيست، همچنان در تمليک يک تجارت خانه اگر عنوان تجارت صراحتاً و يا ضمناً داخل نشود ، عنوان تجارت تمليک نميگردد .

**مادۀ ۴۶:**
شخصيکه عنوان را با يک تجارت خانه يکجا تمليک ميکند ، طوريکه از تعهدات شخص تمليک دهنده که در تحت همان عنوان اجراء کرده مسئول است.

همچنان بر تمام حقوقيکه از تجارت آن وارد ميشود مالک ميگردد . مقاولاتی که خلاف اين اساس ميباشد بشرط اينکه به دايرۀ ثبت تجارت ثبت گردد و يا رسماً به علاقه مندان اطلاع داده شود ، معتبر است.

په دي ماده کښې ذکر شوي مسئولیت وروسته له پنځو کالو څخه د تملیک د نیټي له سره ساقطیږی.

**۴۷ ماده:**

هغه څوک چه یوه تجارتخانه پرته د تجارت له عنوان څخه تملیک کوي نو که د تملیک په وخت کې ئې د مقاولې د عقد په اساس د تملیک کوونکي د تعهداتو مسئولیت په غاړه نه وي اخیستي او هغه یي نه وي ثبت کړي، د تملیک کوونکي د تعهداتو څخه مسئول نه دي.

**۴۸ ماده:**

هغه څوک چه د تجارت یو عنوان له (۴۶) مادې سره سم تملیک کوي، مجبور دي چه له هغه عنوان سره داسي عبارت چه د خلفیت معني ورکړي یوځای کړی او که ددې حکم په خلاف رفتار وشي نو تملیک ورکوونکي شخص چه د تملک کوونکي شخص له خوا د تجارت د عنوان په استعمال یي موافقت کړی وي له هغو تعهداتو څخه چه تملیک کوونکي یې تر هغه عنوان لاندي اجراء کوي مسئول دي، پدې شرط چه د تملک کوونکي شخص د تعهداتو په نسبت د پوروړو د مراجعي په اساس د (محکمي د اجرائیي) دائري له خوا طلبات نه وي تحصیل شوی.

مسئولیت متذکره این مادهٔ بعد از پنج سال سر از تاریخ تملیک ساقط میشود.

**مادهٔ ۴۷:**

شخصیکه یک تجارت خانه را بدون عنوان تجارت تملیک میکند اگر در حین تملیک به اساس عقد مقاوله مسئولیت تعهدات تملیک کننده را به ذمه نگرفته و آنرا به ثبت نرسانیده باشد، از تعهدات شخص تملیک دهنده مسئول نیست.

**مادهٔ ۴۸:**

شخصیکه یک عنوان تجارت را بر طبق مادهٔ (۴۶) تملک میکند، مجبور است به آن عنوان عبارهٔ را که مشعر بر صفت خلفیت باشد ضم کند. اگر بر خلاف این حکم رفتار شود، شخص تملیک دهنده که به استعمال عنوان تجارت از طرف شخص تملک کننده موافقت نموده باشد، از تعهداتی که تملک کننده در تحت همان عنوان اجراء میکند مسئول است، مشروط به اینکه به اساس مراجعه دائنین به نسبت تعهدات شخص تملک کننده از طرف دایرهٔ (اجرائیه محکمه) تحصیل طلبات بعمل نیامده باشد.

**۴۹ ماده:**

د یوه شریک د مړیني په صورت چه نوم ئی د شرکت په عنوان کښې داخل وي که وارثان یا د دوی قایم مقام شرکت ته ادامه ورکول قبول کړي نو د عنوان تغییر لاژم نه دي.

او که په شرکت کښې ورثه شامل نه وي خو د دوی تحریري موافقه حاصله شي، هم د شرکت عنوان په خپل حال پاتي کیږي. او همدا ډول که یو شریک له شرکت څخه ووزي، که له هغه څخه تحریري موافقه وانه خیستله شي نو د شرکت په عنوان کښې د هغه د نوم پاتي کیدل جائز نه دي.

**۵۰ ماده:**

په دي صورت چه د تجارت عنوان تبدیل شي، د (۴۱) مادې احکام تطبیقیږي.

**۵۱ ماده:**

هغه کسان چه پر تجارتي مالونو، شیانو، دوسیو، پاکټو، لیکونو، رسالو او تجاري پاڼو تجارتي سیتو او بارونو باندې غیر حق بل تجارتي عنوان کښیږدي یا هغه مال چه په هغه باندې دبل چا د تجارت عنوان ایښې شوي وي پوهیږي او پلوري ئي او یا د پلورني دپاره یې وړاندي کوي په دي

**مادۂ ۴۹:**

در صورت وفات یک شریک که اسم او در عنوان شرکت داخل باشد اگر وارثین قایم مقام ادامه شرکت را قبول کنند، تغییر عنوان شرکت لازم نمیشود.

درصورت عدم شمول ورثه در شرکت نیز بشرط اینکه موافقه تحریری ایشان حاصل شود، عین عنوان شرکت حفظ میگردد. و همچنان در صورت خروج یک شریک از شرکت اگر تحریراً از او موافقه گرفته نشود، ابقای اسم او در عنوان شرکت جائز نیست.

**مادۂ ۵۰:**

در صورتیکه عنوان تجارت تبدیل شود، احکام مادۂ (۴۱) تطبیق میشود.

**مادۂ ۵۱:**

کسانیکه قصداً بر امتعه، اشیاء، دوسیه ها، پاکت ها، مکاتیب، رسایل اوراق تجاریه، بسته های تجارتی و بار های تجارتی بغیر حق عنوان تجارتی دیگری را وضع و یا امتعه را که عنوان تجارت غیر بر آن وضع شده باشد، دانسته میفروشند و یا برای فروش عرضه میکنند

شرط چه د (**۵۴**) مادې په حکم کښې **خلل** پيښ نشي نو په نقدي جزا يا په حبس او يا په دواړو مجازات مومی.

ددې مادې د ذکر شويو جرايمو تعقيب د شخص په دعوي پورې اړه لري. وروسته د دعوي له دائريدونه، مدعي کولای شي چه له دعوي څخه ابراء وکړي. د شخص له دعوي څخه ابراء د عمومي حقوقو دعوی هم ساقطوي.

**۵۲ ماده:**
د (۴۰-۴۱ او ۴۲ مادو او د (۴۳) مادې د وروستي فقري او د (**۴۵**) مادې د احکامو له متخلفينو څخه نقدي جزاء اخيستل کيږي.

**۵۳ ماده:**
تولي محکمي، د تجارت د اطاقو او صنايعو مامورين او د ثبت او نورو علاقه لرونکي مقاماتو مامورين که د وظيفي په منځ کښې وپوهيږي چه د تجارت يو عنوان نه دي ثبت شوي او استعمال ئي له (۴۰-۴۱-۴۲- او ۴۳) مادې څخه مخالف واقع شوی دي، مجبور دي چه مربوطه مقاماتو ته خبر ورکړي.

**۵۴ ماده:**
په هر صورت چه يو د تجارت عنوان

بشرطيکه در حکم مادهٔ (**۵۴**) خللی وارد نشود، به جزای نقدی يا به حبس و يا به هردو مجازات ميگردند.

تعقيب جرايم متذکره اين ماده به دعوای شخصی مربوط ميباشد. بعد از اقامه دعوا، مدعی ميتواند از دعوا ابراء نمايد. ابراء از دعوی شخصی، دعوای حقوق عمومی را هم ساقط ميکند.

**مادهٔ ۵۲:**
از متخلفين مواد (۴۰- ۴۱- ۴۲- و فقرهٔ اخير مادهٔ ۴۳) و احکام مادهٔ (**۴۵**) جزای نقدی گرفته ميشود.

**مادهٔ ۵۳:**
تمام محاکم، مامورين اطاقهای تجارت و صنايع و مامورين دائره ثبت و مقامات ذيعلاقه ديگر اگر در اثنای وظيفه آگاه شوند که يک عنوان تجارت ثبت نه شده و استعمال آن مخالف مواد (۴۰- ۴۱- ۴۲ و ۴۳) واقع شده است، مجبورند کيفيت را به مقامات مربوطه اخبار نمايند.

**مادهٔ ۵۴:**
به هر صورتيکه يک عنوان تجارت

ددې فصل د داخلو احکامو څخه چپ استعمال شوی وي نو علاقه لرونکي کولای شي چه استعمال یي منع کړي او که ثبت شوي وي نو د ابطال تقاضایي وکړي. برسیره پردي، له دي استعمال څخه، که په قصد سره وي او که په سهو سره، ضرر لیدونکي کسان کولای شي چه د خپلې خساري تاوان وغواړي او محکمه کولای شي چي په لازمه موقع کښي وروسته له هغه چه له پوهانو څخه مشوره وغواړي د پیښي احوال او کیفیت تر ژوري کتني لاندې ونیسي او د خساري د وجود او اندازي په خصوص کښې له خپل قناعت سره سم حکم صادر کړي. برسیره پردي، که ضرر لیدونکي شخص وغواړي او لګښت یي هم په غاړه واخلي نو حکم هم نشرولاي شي.

## شپږم فصل
## غیر قانوني رقابت

**۵۵ ماده:**
که په هغه نومونو او علاقو کښې چه یو تجار ئي استعمال کړي له داسي نومونو او علامو سره چه بل تاجر ئی په استحقاقي ډول استعمالوي اشتباه پیښه شي، نو ددې ډول نوم او علامو استعمالول هغه تاجر ته چه لمړی ذکر شو منع دي، هغه څوک چه له دي حکم

برخلاف احکام مندرجهٔ این فصل استعمال شده باشد، علاقه مندان میتوانند منع استعمال و در صورتیکه ثبت شده باشد، ابطال آنرا تقاضا کنند. علاوه بر این از استعمال مذکور، خواه عمدی و خواه در اثر سهو باشد، اشخاص متضرر میتوانند جبران خساره خود را دعوی کنند. محکمه میتواند عند الاقتضاء بعد از استشاره از اهل خبره احوال و کیفیات حادثه را تدقیق نموده دربارهٔ وجود و مقدار خساره نظر به قناعت خود حکمی صادر کند علاوه بر این، در صورتیکه شخص متضرر خواهش کند و متحمل مصارف آن نیز شود، به نشر حکم نیز قرار داده میتواند.

## فصل ششم
## رقابت غیر قانونی

**مادهٔ ۵۵:**
اگر در علایم و اسمائیکه یک تاجر استعمال کند با علائم و اسمائیکه تاجر دیگر بطور مستحق استعمال مینماید اشتباه واقع شود، استعمال چنین اسم و علامت برای تاجر اول الذکر ممنوع است. شخصیکه مخالف این حکم

څخه مخالف کار کوي که څه هم په هيڅ ډول قصور ونلري، خو بياهم محکمه کولای شي چه د علاقي لرونکي له غوښتنې سره سم د التباس د رفع کيدو امر صادر کړی.

**۵۶ ماده:**
په تجارتي چارو کښې هر ډول حيله او دسيسه منع دي.

**۵۷ ماده:**
يو تاجر د رقابت له مخې نشي کولای چه په داسي له حقيقت لري خپرونو لاس پورې کړی چه دبل ګټې يا تجارت ته زيان پيښ کړی.

**۵۸ ماده:**
يو تاجر د مال د منشأ او صفتونو په خصوص کښې او د بل تاجر د پيرودونکو د جلبولو په غرض چه يو جنس مال ورسره پلوري د خپل تجارت د اهميت په باره کښې له حقيقته چپي خپروني نشي کولای او همدا ډول په همدغه مقصد د حيلو او دسيسو جوړولو او د هغي تصديق نامي او مکافاتو له اعلانولو څخه چه اخيستي يي نه وي، منع دي.

**۵۹ ماده:**
هيڅ يو تاجر نشي کولای چه د بل تاجر

عمل میکند، ولو هیچگونه قصور نداشته باشد، بازهم محکمه میتواند بر حسب درخواست شخص علاقمند امر رفع التباس را صادر کند.

**مادۀ ۵۶:**
هرگونه حیله و دسیسه در امور تجارتی ممنوع میباشد.

**مادۀ ۵۷:**
یک تاجر به قصد اجرای رقابت نمیتواند به چنان نشریات مخالف حقیقت بپردازد که به منفعت یا تجارت دیگری ضرر وارد کند.

**مادۀ ۵۸:**
یک تاجر از اشاعات مغایر حقیقت راجع به منشأ و یا اوصاف امتعه و یا اهمیت تجارت خود به مقصود جلب مشتریان تاجر دیگری که امتعه هم جنس را می فروشد و همچنان از اعلان تصدیق نامه و مکافاتی که حایز آن نبوده باشد و از استعمال حیل و دسایس به مقصد مذکور ممنوع است.

**مادۀ ۵۹:**
هیچ تاجری نمیتواند مامورین و

یا فابریکي مامورینو یا مستخدمینو ته خپل ځان ته د خبرولو او جلبولو په مقصد طمع ورکړي.

۶۰ ماده:
تاجر نشي کولای چه د بل تاجر د اغفال په غرض یو شخص ته، په هر صورت چه وي، له حقیقت نه خلاف شهادتنامه یا دښه خدمت تصدیق ورکړي.

۶۱ ماده:
هغه تاجر چه د پورتنی موادو له احکامو څخه چپ تگ وکړي نو د خساري مونډونکو کسانو تاوان به ضامن ورکوی.

۶۲ ماده:
یو تجارتي اطلاعاتي نماینده که قصداً یا د دراندہ غفلت له مخې د یوه تاجر د اخلاقو او یا مالي اقتدار په خصوص کښې له حقیقته څخه چپ معلومات ورکړي، نو د مادي او معنوي خساري هغه تاوان به ورکوي چه له دي لاري هغه تاجر ته ورسیږي. د هغو معلوماتو په تصحیح کښې د هغه نماینده اظهارات د هغه د برائت موجب نشي کیدای. محکمه کولای شي چه په عین زمان کښې له هغې فیصلي سره چه د خساري د جبران په خصوص کښې یي کوي امر ورکړي چه دا مسئله پخپله د

مستخدمین تاجر و یا فابریکه دیگری را به مقصد اطلاع از مشتریان و جلب آنها بخود تطمیع نماید.

مادۀ ۶۰:
تاجر نمیتواند به هیچ شخصی خلاف حقیقت شهادتنامه یا تصدیق حسن خدمت بمنظور اغفال تاجر دیگر بدهد.

مادۀ ۶۱:
تاجریکه مخالف احکام مواد فوق رفتار کند، به جبران خساره اشخاص متضرر مجبور است.

مادۀ ۶۲:
یک نماینده اطلاعاتی تجارتی که قصداً و یا در نتیجه یک غفلت سنگینی دربارۀ اخلاق یا اقتدار مالی یک تاجر معلومات خلاف حقیقت بدهد، مسئول جبران خساره مادی و معنوی یی است که ازین رهگذر به تاجر مذکور عاید شود. اظهار نماینده مذکور در تصحیح آن معلومات مستلزم برائت او شده نمیتواند. محکمه میتواند در عین زمان با فیصلۀ که دربارۀ جبران خساره مینماید امر کند که مسئله مذکور به مصارف خود

نماینده په لګښت په یوه جریده یا څو جریدو کښې نشرهم شي.

نماینده در یک جریده یا جراید متعدد نشر هم شـــود.

**۶۳ ماده:**

هغه تاجر چه ددې فصل د ذکر شویو افعالو مرتکب کیږي که له بدنیتی څخه یي کړی وي، برسیره پردې چه د خساري د تـاوان پـه ورکولـو بانـدې محکومیږی، په نقدي جزأ او حبس هم مجازات کیږي.

**مادۀ ۶۳:**

تــاجـریـکه مرتکـب افـعال مندرجـۀ ایـن فصـل میشود، اگر با سوء نیت حـرکت کـرده بـاشد، عـلاوه براینکه بـه جبران خساره محکوم میگردد، بـــه جـــزای نقـــدی و حـــبس نیـــز مجازات میشود.

**۶۴ ماده:**

هـغـه څـوک چـه پـه جـزاء یا د خساري پـه تـاوان مـحکومـیـږی نوکـه هغـه فعـل یـي چـه د جـزاء یـا د خسـاري او تـاوان موجـب شـویدي بیـا لـه لاسـه وخوت، نو جزائي یو په دوه کیږي. د جـزاء دعـوي یـواځې د هغـه ځـای د تجارت د اطاق او یا د علاقه لرونکي شـخص د شـکایت پـه وسـیله اقامـه کیږی. دعوی څخه د شخصي مدعي ابراء د عمومي حقوق ساقطوی.

**مادۀ ۶۴:**

شخصیکـــه بـــه جـــزاء یـــا جبـــران خســـاره مـحکـــوم مـیشـــود، اگـــر فعلـی را کـه موجب جزاء یـا جبران خساره شسده است مـــکرراً مرتکب شـــود، جـــزای او دو چنـــــد شـــده میتواند. دعـوای جزاء تنهـا بـــوسیله شـکایت شخـص ذیعلاقـه بـا اطـاق تجـارت محـل اقامـه میشـود. ابـراء مـدعی شخصـی از دعـوی، حقـوق عمومیه را ساقط میسازد.

## اووم فصل
## تجارتي دفترونه

## فصل هفتم
## دفاتر تجارتی

**۶۵ ماده:**

هر تـاجر مجبـور دي چـه درې دفترونـه یعني د شتو دفتر، کل دفتر او ورځني دفتـر ولـري. برسیره پردي، مجبـور دي

**مادۀ ۶۵:**

هـــر تـــاجر مجبـور است سـه دفتـر یعنـی دفتـر دارائـی، دفتـر کـل و دفتـر یومیـه داشـــته باشـد. عـلاوه بـرین

چه د ټولو صادر شويو ليکونو او تلگرامونو مينوټونه او د راغليو تلگرامونو او ليکونو ټول اصلونه د ورکړو له پاڼو سره يوځای په منظم ډول وساتي.

**۶۶ ماده:**

هر تاجر د خپلو تجاري معاملاتو د احتياج او لزوم له مخې کولای شي چه برسېره پردي دفترونو، نور دفترونه هم ترتيب کړي. مگر دا دفترونه د هغو شرايطو په راتلونکو موادو کښې ذکر شويدي، تابع نه دي.

**۶۷ ماده:**

تاجر مکلف نه دي چه خپل تجارتي دفترونه په خپله ترتيب کړي، هغه کولای شي چه ددې کار دپاره نور اشخاص استخدام کړي. مگر د هغو مطالبو قيدونه چه په دي دفترونو کښې د مستخدم له خوا درج او ليکل کيږي، د هغو قيودو او مطالبو په حکم کښې دي چه پخپله تاجر شخصاً هغه درج او ليکلي وي.

**۶۸ ماده:**

هغه دفترونه چه ترتيب ئی له (**۶۵**) مادې سره سم لازم وي نو بنائي چه پخوا له استعمال څخه په مجلد ډول پخپله د مالک له خوا يا د چا په واسطه

مجبور است مینوت تمام مکاتیب و تلگرامات صادره و اصل تمام تلگرامات و مکاتیب وارده را با اوراق تادیات بصورت منظم حفظ نماید.

**مادهٔ ۶۶:**

هر تاجر بر حسب لزوم و احتیاج معاملات تجاریهٔ خود میتواند علاوه بر دفاتر متذکرهٔ فوق، دفاتر دیگری هم ترتیب کند. لیکن این دفاتر تابع شرایطی که در مواد آتیهٔ مذکور است، نمی باشد.

**مادهٔ ۶۷:**

تاجر مکلف نیست خودش دفاتر تجاریهٔ خود را ترتیب کند، او میتواند برای اینکار اشخاص دیگری را استخدام نماید. لیکن قیود مطالبی که از طرف مستخدم مذکور درین دفاتر درج و تحریر میشود، در حکم قیود و مطالبی است که خود تاجر شخصاً آنرا درج و تحریر نموده باشد.

**مادهٔ ۶۸:**

دفاتریکه بر طبق مادهٔ (**۶۵**) ترتیب آن لازمی است، باید قبل از استعمال بصورت مجلد از طرف مالکین آن شخصاً و یا بالواسطه

د ثبت هغي دائري ته چه د هغي تجارت خاني په محل کښې واقع ده د مهر او نشان دپاره وړاندي شي. د ثبت دائره د دفترونو په هر مخ په تازه رنگ پرله پسي لمبر وهي او په رسمي مهر يي مهروي او د کتاب په اول او آخر کښې د پاڼو شمير قيدوي او وروسته دښتې له ليکلو د لمړۍ او وروستۍ پاڼې د مهرونو په خوا کښې تصديقاً لاس ليکونه هم کوي.

**۶۹ ماده:**

د شتو په دفتر کښې دا لاندې چاري داخليږي:

۱- هغه نقد مال چه تاجر يې د شروع په ورځ د هر ډول منقولو او غير منقولو مالونو له اټکلي قيمتو سره خپل تجارت دپاره تخصيص کړی او د پور د اسنادو او د سهمونو قيمتونه چه دي يې نشروي د هغو د جاريه قيمت په اعتبار په هغي نېټې کښې پيرودل او پلورل کيږي او ټول هغه طلبات چه د تحصيل وړ بلل کيږي که د اسنادو له مخې وي او که پرته له هغو څخه.

۲- ټول هغه پورونه چه له تعهداتو او نورو ذريعو څخه په لاس راځي.

۳- وروسته د خالصو شتوله ټاکلو چه

به دايرهٔ ثبت كه در محل همان تجارت خانه واقع است براى مهر و نشان تقديم گردد. دايرهٔ ثبت در هر صفحه دفاتر به رنگ ثابت نمره مسلسل را وضع و به مهر رسمى ممهور و در اول و آخر كتاب تعداد اوراق را قيد نموده، بعد از نوشتن تاريخ در پهلوى مهر هاى صفحه اول و آخر تصديقاً امضاء نيز ميكند.

**مادهٔ ۶۹:**

در دفتر دارائى امور ذيل درج ميشود:

۱- نقوديكه تاجر در روز آغاز با قيمت هاى تخيمنى هر نوع اموال منقول و غير منقول كه به تجارت خود تخصيص ميدهد و قيمت هاى اسهام و اسناد قرضه كه نشر ميدارد به اعتبار قيمت جاريهٔ آنها كه در تاريخ مذكور خريد و فروش ميشود و تمام طلباتيكه قابل تحصيل شمرده ميشود، خواه از روى اسناد باشد و يا غير آن.

۲- تمام ديونيكه از تعهدات و ذرايع ديگر بدست مى آيد.

۳- پس از تعيين دارائى خالص

وروسته دپورونو له وضع کېدو څخه ديوي اندازي شتو څخه عبارت دي، تاجر مجبور دی چه د هر حسابي کال په پای يو داسي بيلانس چه دده د تجارت يوه اندازه مخصوص شته او پورونه پکښې وي ترتيب او پدې دفتر کښې يې داخل کړی. بيلانس بايد لږ ترلږه په کال کښې يو ځل ترتيب شي.

۷۰ ماده:

د تجارت په شروع کښې وروسته له هغه چه د تاجر اصله پانګه چه د (۶۹) مادې له مخې ټاکلي کيږي په ورځني دفتر کښې قيد شوه، د ورکړی راکړی ټول کلي او جزئی معاملات که په تجاريه چارو پورې اړه لري او که په عادي کارو پورې، جلا جلا، ورځ په ورځ د معاملي د نېټې په ترتيب او همدارنګه د هغو شخصيه مصارف قيد او داخليږي.

۷۱ ماده:

ټولي تجارتي صادري شوي مراسلي به اصل او مينوټ لري او ټول صادر شوي او وارد شوي ليکونه او تلګرامونه به د انديکاتر په اصولو په اجمالي ډول ثبت او قيد شي.

۷۲ ماده:

د شرکتونو تصويبونه د هغه تصويبونو

که عبارت از مقدار دارائی بعد از وضع ديون ميباشد، تاجر مجبور است در آخر هر سال حسابی يک بيلانس را که حاوی مقدار ديون و دارائی مخصوص تجارت او باشد ترتيب و درين دفتر درج نمايد. بيلانس اقلاً در سال يکبار بايد ترتيب شود.

مادهٔ ۷۰:

در آغاز تجارت بعد ازينکه سرمايه اصليه تاجر که بموجب مادهٔ (۶۹) تعيين ميبابد، در دفتر يوميه قيد گرديد، تمام معاملات کلی و جزئی داير به داد و ستد، چه متعلق به معاملات تجاريه باشد و چه به معاملات عاديه، جدا جدا روزمره به ترتيب تاريخ معامله و همچنان مصارف شخصيه او قيد و درج ميشود.

مادهٔ ۷۱:

تمام مراسلات صادره تجاريه دارای اصل و مينوت خواهد بود و همه مکاتيب و تلگرامهای صادره و وارده به اصول انديکاتر اجمالاً قيد و ثبت خواهد شد.

مادهٔ ۷۲:

تصويبات شرکتها در کتاب

په کتاب کښې چه د عمومي مجمع او د مدیره هیئت له خوا د خبرو اترو په اثر کیږي سره د هغو د اعضاوو له نومونو چه په خبرو اترو کښې حاضر وو او د تهولني د نېټې او نورو معلوماتو چه د خبرواترو د جریان او د آراوو د اخیستلو د پوره اطلاع موجب وګرزیداي شي، قید او درجېږي او ددې تصویبونو په پای کښې هغه کسان چه د شرکت په نامه د لاس لیک اجازه ورته شوي وي، لاس لیک کوي.

تصویباتیکه از طرف مجمع عمومی و هیئت مدیره در اثر مذاکره اتخاذ میشود، با اسمای اعضائیکه در مذاکره حاضر بوده اند و تاریخ اجتماع و معلومات دیگریکه موجب اطلاع کامل از جریان مذاکره و اخذ آراء شده بتواند قید و درج گردیده و در ذیل این تصویبات اشخاصیکه بنام شرکت مأذون به امضاء میباشند، امضاء میکند.

**۷۳ ماده:**

تجار یا د دوی اخلاف چه د دوی تجاري چارو ته ادامه ورکوي مجبور دي چه هغه دفترونه چه د هغو په لرلو مکلف ګرځولی شویدي (د وروستي قید د نېټې له سره چه پدې دفترونو کښې کیږي) او تلګرامونه او لیکونه د هغو له خپلو نېټو څخه تر پنځلسو کالو پورې وساتي.

**مادهٔ ۷۳:**

تجار یا اخلاف ایشان که معاملات تجاریه ایشان را ادامه میدهند مجبور اند دفاتری را که به داشتن آن مکلف قرار داده شده اند (سر از تاریخ آخرین قید که در دفاتر مذکور میشود) و تلگرامات و مکاتیب را از تاریخ خود آنها تا مدت پانزده سال محافظه نمایند.

**۷۴ ماده:**

د وراثت – شرکت او یا د افلاس په مسئلو پورې مربوط تجارتي دفترونه او لیکونه د تسلیم په حال کښې څه د محکمي له خوا او څه د علاقه لرونکو له خوا د هغوي ګرد طرفونه او ډولونه تدقیق کیداې شي.

**مادهٔ ۷۴:**

دفاتر و مکاتیب تجاریه در مسایل مربوطه به وراثت– شرکت یا افلاس در حال تسلیم چه از جانب محکمه و چه از جانب علاقه مندان تمام جهات و اقسام آن تدقیق شده میتواند.

**۷۵ ماده:**
پـه جگـړه نـاکو مـواردو کښـې ددعـو د جریان په منځ کښې محکمه کولای شي چـه دخپـل تشـخیص یـا د یـو طـرف د غوښـتنې لـه قـراره د تجـاري پـاڼو او دفترونو په ښکاره کولو امر وکړي.

**۷۶ ماده:**
که د هغـو تجاریـه لیکونـو او دفترونـو نقل او ښکاره کول چه د ښکاره کولـو حکم یې ورکړی شوی وي په دی علت پـه هغـه پـاڼې او دفترونـه پرتـه لـه دي محکمـي چه دعـوي پکښـې دائـره ده د بلـي حـوزی پـه محکمـه کښـې وی کـم مشکلات ولري، نو محکمه کولای شي چه دلازمو برخو مصدقه سواد رسماً لـه مربوطی محکمی څخه راوغواړي.

**۷۷ ماده:**
هغه مسئولیتونه چه د تجارتي ضروري دفترونو له نه لرلو او د هغو د قانون لـه مخې لـه نـه ترتیبولـو څخـه پیښـیږی پـه خپله د تجارتخاني په خاوند پوري اړه لری او تاجر نشي کولي چه خپل قصـور د بـل پـه غـاړه واچوي او خپـل ځـان لـه مسئولیته و باسي.

**۷۸ ماده:**
کـه تجـارتي ضـروري دفترونـه دداسـي پیښـو پـه اثـر لکـه اور لگیـدل او نـور

**مادهٔ ۷۵:**
در اثنـای جریـان دعـاوی در مـوارد متنـازع فیهـا، محکمـه میتوانـد بـر حسـب تشـخیص خـود یـا برحسـب خواهش یکی از طرفین به ارائـه دفـاتر و اوراق تجاریه امر بدهد.

**مادهٔ ۷۶:**
اگـر در نـقـل و ارائـه دفاتـر و مکاتیـب تجـاریه کـه حکم ارائـه آن داده شـده بـاشـد بـعلـت بـودن آن در حوزهٔ قضـاء محکـمهٔ دیـگر غـیـر از محکمـهٔ کـه دعـوی در آن دائـر اسـت مـشـکلاتی باشـد، محکمـه اول الـذکـر رسـماً سـواد مصدقه قسمت های لازم را از محکمـه مربوطه خواسته میتواند.

**مادهٔ ۷۷:**
مسـئولیتی کـه از عـدم دارائـی دفـاتر ضـروریه تجاریـه و عـدم تـرتیـب قـانـونـی آن تولیـد میشـود، راسـاً بـه خـود صـاحب تجارت خـانـه عـائد اسـت و تـاجر نمیتوانـد ایـن قصور را بـدوش دیگری افگنده، خـود را از مسئولیت بری سازد.

**مادهٔ ۷۸:**
اگـر دفـاتر ضـروریه تجاریـه در اثـر واقـعـاتی مـانند حریـق و آفـات

آفتونه په هغي مودې کښې چه د هغو ساتنه ضروري ده ضايع شي، نو لازمه ده چه د ضايع کيدو د کيفيت جزئي د يوي مياشتي په موده کښې د تاجر يا دده د وکيل له خوا مربوطې محکمې ته خبر ورکړشي. که وروسته له تحقيق څخه د هغو په ضياع باندې يقين راغي، نو مراجعت کوونکي شخص ته به لازم تصديق ورکوي.

دیگری در ظرف مدتیکه محافظت آن مجبوری است ضایع شود، لازم است کیفیت ضیاع در ظرف یکماه از طرف تاجر و یا وکیل او به محکمه مربوطه اخبار گردد. اگر محکمه دربارۀ صحت ضیاع بعد از تحقیق قناعت حاصل کند، به شخص مراجعت کننده تصدیق لازمه را اعطاء خواهد نمود.

۷۹ ماده:

په هغو اختلافاتو کښې چه د تجارتي معاملو په خصوص کښې د تجارو په منځ کښې پيدا کيږي، کولای شي چه تجارتي قانوني دفترونه د هغو شرايطو په دائره کښې چه په (۸۰- ۸۴) مادو کښې ټاکل شويدي، د ثبوتو د وسايلو په حيث قبول کړي.

مادۀ ۷۹:

در اختلافاتیکه بین تجار راجع به معامله تجارتی پیدا میشود، دفاتر قانونی تجارتی را میتوان در دایرۀ شرایطیکه در مواد (۸۰ و ۸۴) تعیین شده است، بحیث وسایل ثبوت قبول نمود.

۸۰ ماده:

د تجارتي قانوني دفترونو مندرجات که د قانون له احکامو سره مطابق وي او که نه وي د هغه په خاوند يا يې په خلف يا يې په وروستني خلف دليل کيدای شي. هغه مندرجات چه د تاجر په ګټه وي، پدې صورت چه تجارتي دفترونه له قانون سره سم ترتيب شوي وي، معتبر دي.

مادۀ ۸۰:

مندرجات دفاتر قانونی تجارتی، خواه به احکام قانون مطابق باشد خواه نباشد، علیه صاحب آن و یا خلف آن و یا خلف اخیر الذکر دلیل شده میتواند. مندرجاتیکه به له تاجر باشد، در صورتیکه دفاتر تجاریه مطابق قانون ترتیب شده باشد، معتبر میباشد.

**۸۱ ماده:**

که دیو تاجر دفتر مندرجات له اصول سره سم وي او د بل تاجر د دفتر د مندرجاتو او سندونو څخه مخالف وي او د هغو د هر یوه حقیقي توب په معتبرو وثیقو او دلایلو په اثبات ورسیږي نو د دفتر اثباتیه قوه او اسناد ساقطیږي.

**مادهٔ ۸۱:**

اگر مندرجات دفتر تاجری مطابق اصول بوده مخالف مندرجات دفتر یا اسناد تاجر دیگری باشد و غیر حقیقی بودن هریکی از آن به وثایق و دلایل معتبره به اثبات برسد، قوه اثباتیه دفتر و اسناد ساقط میگردد.

**۸۲ ماده:**

که د یوه طرف دفتر د قانون له مخې منظم وي او د مقابل طرف دفتر په اصول برابر نه وي او یا هیڅ دفتر ونلري او یا ونه غواړي چه خپل دفتر ښکاره کړي، نو د لومړني تاجر د دفتر مندرجات په مقابل جانب باندې دلیل کیدای شي. مګر که مقابل طرف د هغو مندرجاتو ضد چه پر ده باندې ئې استناد شوي وي په معتبرو وثیقوا ثبات کړای شي نو مستند شوي مندرجات خپله اثباتیه قوه له لاسه ورکوي.

**مادهٔ ۸۲:**

اگر دفتر یکی از طرفین قانوناً منظم بوده و دفتر طرف مقابل به اصول موافق نباشد و یا هیچ دفتر نداشته باشد و یا نخواهد دفتر خود را ارائه دهد، مندرجات دفتر تاجر اول الذکر علیه طرف مقابل دلیل شده میتواند. لیکن اگر طرف مقابل ضد مندرجاتی را که بر علیه او استناد شده با وثایق معتبره اثبات نموده بتواند، مندرجات مستندهٔ قوهٔ اثباتیهٔ خود را می بازد.

**۸۳ ماده:**

که له طرفینو څخه یو تن د محکمې د وړاندې د خپل مدعي د تجارتي دفتر مندرجات ومني، نو په دې صورت کښې چه دده مقابل د خپل تجارتي دفتر دښکاره کولو څخه انکار وکړي، محکمه کولي شي چه دهغه چا په خوا

**مادهٔ ۸۳:**

اگر یکی از طرفین مندرجات دفاتر تجاریه خصم را در حضور محکمه قبول کند در صورتیکه خصم از ارائه دفتر تجاریه خود امتناع ورزد، محکمه میتواند در حق

چه ددفتر دښکاره کولو غوښتنه کوي د خپل قناعت سره سمه فيصله وکړي.

**۸۴ ماده:**
که يو طرف د مدعي د تجارتي دفترونو مندرجات له اصول سره سم ووينې د هغه د خاوند په طرف دليل ونيسي، کولای شي چه د هغو مندرجاتو د صحت په خصوص کښې د وجداني قناعت د اکمال او د مدعي عليه پر ذمه باندې د مدعي د حق د اثبات دپاره يوڅه زيات ضمني تحقيقات اجرا کړی او وروسته د قناعت له حصول څخه لازمه فيصله ورکړی. د محکمې ضمني تحقيقات بايد له (**۱۵**) ورځو څخه زيات نه شي.

## اتم فصل
## د تجارو نمايندګان

**۸۵ ماده:**
هغه څوک چه د يو تاجر د تجارت کولو په ځای کښې او يا په بل ځای کښې د هغه تجار له خوا د هغه د تجارت په مربوطو چارو بوخت وي، د تاجر نماينده بلل کيږي.

**۸۶ ماده:**
تاجر يوائې د خپلې اجازی په حدودو کښې چه خپل نماينده ته يې کړی ده د

طـرفيـکه طـالب ارائه است به قناعت خود فيصله بدهد.

**مادهٔ ۸۴:**
زمـانيکه محکمه مندرجات دفتر تجـاريه را موافق اصول ديده بر له صاحب آن دليل بگيرد، ميتواند به جهت اکمال قناعت وجدانی راجع به صحت مندرجات مذکوره و واجب الاداء بودن حق مدعی بر ذمه مدعی عليه يک تحقيقات ضمنی مزيد را اجراء و بعد از حصول قناعت فيصله لازمه را بدهد. تحقيقات ضمنی محکمه به هيچ وجه نبايد بيش از **۱۵** روز طول بکشد.

## فصل هشتم
## نمايندگان تجار

**مادهٔ ۸۵:**
کسيکه در محل اجرای تجارت يک تاجر و يا در يک محل ديگر مربوط به امور تجاری او از طرف تاجر به کار تجارت مکلف باشد، نمايندهٔ تاجر گفته ميشود.

**مادهٔ ۸۶:**
تاجر تنها در حدود دايرهٔ اجازهٔ که به نمايندهٔ خود داده باشد، از معاملات

خپلې نماينده له معاملاتو او د مقاولو مسئول دي. او که نومورې نماينده څو تنو تجارو استخدام کړې وي نو هر يو ځانته په خپل وار مسئول دي او کـه کوم نماينده د تجارتي شرکت لـه خوا په کار اچولې شوي وي نو د شريکانو مسئوليت نظر د شرکت نوعيت تـه ټاکل کيږي.

**۸۷ ماده:**

د نمايندګي حق چه يوه نماينده تـه ورکول کيږي يـا صريح وي او يـا ضمني. هغـه پاڼه چه صريح نمايندګي پکښې وي د هغه ځای د ثبت په دائره کښې چه په هغه ځای کښې نماينده تجارت کوي ثبت او اعلانيږی او د دې مراسمو دنه اجرا په صورت کښې د (۸۸) مادې احکام تطبيقيږی.

**۸۸ ماده:**

د نمايندګي حق چه يوه نماينده تـه ضمناً ورکړې شوي وي د دريم کسانو په مقابل کښې غير محدود بلل کيږي او د هر ډول تجارت پـه نسبت چـه ورکړې شوي وي په ټولو هغو معاملاتو چه د هغه تجارت په ضمن کښې اجراء کيږي مشتمل وي. که نماينده لـه نورو کسانوسره معاملې اجراء کړې وي او تاجر ثابته نشي کړای چه دريم کسان دده د نمايندګی د حق لـه محدوديت

و عقد مقاولات نمايندهٔ خويش مسئول ميباشد و اگر نماينده مذکور را تجار متعدد استخدام نموده باشند ، هر يک به نوبهٔ خود مسئول ميباشند و اگر نماينده از جانب شرکت تجاريه گماشته شده باشد ، مسئوليت شرکاء نظر به نوعيت شرکت تعيين ميشود .

**مادهٔ ۸۷:**

حق نمايندگی ايکه به يک نماينده داده ميشود يا صريح ميباشد و يا ضمنی. ورقهٔ که متضمن نمايندگی صريح باشد ، در دايرهٔ ثبت محلی که در آنجا نماينده اجرای تجارت مينمايد ، ثبت و اعلان ميشود و در صورت عدم اجرای اين مراسم، احکام مادهٔ (۸۸) تطبيق ميگردد .

**مادهٔ ۸۸:**

حق نمايندگی که به يک نماينده ضمناً داده شده باشد در مقابل اشخاص ثالث غير محدود دانسته ميشود و به نسبت هر نوع تجارتيکه داده شده باشد ، تمام معاملاتی را که در ضمن آن تجارت اجرا ميشود دربر ميگيرد . اگر نماينده با اشخاص ثالث اجرای معاملات نموده باشد و تاجر اثبات نموده نتواند که اشخاص ثالث از

ثخه د معاملي د اجراء په وخت کښې خبروو، د تاجر ادعا د دريم کسانو په مقابل کښې د هغه نماينده د نمايندګي د محدوديت په باب کي د اعتبار وړ نده.

۸۹ ماده:

که نماينده تل د خپل آمر يعني د تجارتخاني د خاوند په نامه معامله اجراء کوي، بايد دلاس ليک کولو په وخت کښې د خپل نوم او شهرت په څنګ کې د تاجر نوم او شهرت او يا د شرکت عنوان وليکي او د (وکالتاً) کلمه يا د هغې معادله بله کلمه ورسره زياته کړی. په داسې حال کښې چه ددې فقرې احکام په ځای نکړی، نماينده د هغو معاملاتو چه اجراء کړی ئی دي، پخپله مسئول کيږي. مګر که نور کسان د هغه په خصوص کښې چه ده ته ورسپارلي شويدي معامله وکړي نو کولای شي چه په موقع کښې په آمر باندې هم دعوي وکړی.

۹۰ ماده:

هغه څوک چه بې د نمايندګۍ د حق له لرلو نه د يو تاجر د نماينده په نامه يوه معامله اجرأ کړی او تاجر د هغه معامله تصديق نه کړی، د هغه تاوان په ورکولو باندې مجبوردي چه له دي لاري ثخه دريم

محدوديت حق نمايندگی او در زمان اجرای معامله اطلاع داشتند، ادعای تاجر در باب محدوديت نمايندگی نمايندۀ مذکور به مقابل اشخاص ثالث معتبر نيست.

مادۀ ۸۹:

اگر نماينده دايماً بنام آمر خود يعنی صاحب تجارتخانه اجرای معامله ميکند بايد در اثنای امضاء نمودن در پهلوی اسم و شهرت خود اسم تاجر و شهرت او يا عنوان شرکت را بنويسد و کلمه (وکالتاً) و يا معادل آن، کلمۀ ديگری را علاوه کند. در حاليکه احکام اين فقره را ايفاء نکند، نماينده از معاملاتيکه اجراء نموده شخصاً مسئول ميشود وليکن اگر اشخاص ديگر راجع به تجارتی که به او سپرده شده است معامله بکنند، ميتوانند عند الموقع بر عليه آمر نيز دعوی نمايند.

مادۀ ۹۰:

شخصيکه بدون داشتن حق نمايندگی بصفت نمايندۀ يک تاجر اجرای معامله کند و تاجر معامله او را تصديق ننمايد، مجبور به جبران خسارۀ ميباشد که ازين رهگذر به شخص ثالث

بي غرضه سړي ته ورسيږي.

**۹۱ ماده:**
نماینده بي خپل آمر له صریح موافقي څخه نشي کولای چه په خپل یا د بل په حساب شخصاً یا په اشتراک کومه تجاري معامله اجراء کړي. هغه نماینده چه له دي حکم څخه چپ تگ کوي که دده له معاملي څخه ضرر پیدا شي، دي به تاوان ورکولو ته مجبور وي او د گټي په صورت تاجر کولای شي چه دده د معاملاتو گټي خپل کړي.

**۹۲ ماده:**
د صریح نمایندگۍ د حق سلب او یا تحدید د ثبت او اعلان تابع دي.

**۹۳ ماده:**
نماینده د هغو تجارتي معاملاتو په خصوص کي چه ده ته سپارلي شویدي، لکه پورونه او نور، کولای شي چه د خپل آمر په نامه په محکمه کښي دعوي دایرکړي او په همدي شان په نماینده باندي د دعوي دائرول هم جائز دي.

**۹۴ ماده:**
ددي فصل احکام د باندنیو شرکتونو او تجارتخانو پر هغو نمایندگانو باندي چه په افغانستان کښي د هغو

صاحب حسن نیت وارد شود.

**مادۀ ۹۱:**
نماینده بدون موافقه صریح آمر خود نمیتواند به حساب خود یا دیگر شخصاً و یا بالاشتراک هیچ یک معامله تجاریه را اجراء کند. نمایندۀ که مخالف این حکم رفتار میکند اگر ضرری از معاملات او تولید شود، مجبور به جبران خساره میباشد و در صورت منفعت تاجر میتواند منافع معاملات او را تملک کند.

**مادۀ ۹۲:**
سلب و یا تجدید حق نمایندگی صریح تابع ثبت و اعلان است.

**مادۀ ۹۳:**
نماینده راجع به معاملات تجاریۀ که به او مفوض میباشد، مانند قروض و غیره، میتواند بنام آمر خود در محکمه اقامه دعوی کند و همچنان اقامه دعوی بر علیه نماینده نیز جائز است.

**مادۀ ۹۴:**
احکام این فصل بر نمایندگان تجارتخانه ها و شرکتهای خارجی که در داخل مملکت افغانستان بنام و

په نامه او حساب معامله اجراء کړی هم د تطبیق وړ دی.

## نهم فصل
## (تجارتي گرځند نمایندگان)

**۹۵ ماده:**
هغه مستخدم ته چه یوه تاجر د تجارتي معاملاتو د اجراء د پاره د لیک یا اعلان یا متحد المال یا ددې په شان د نورو وثیقو په ذریعه اجازه ورکړی شي او بل ځای ته لیږل کیږي، گرځند نمایندگان بلل کیږي او د دوی آمرین د هغو نتایجو چه د دوی د مأذونیت په دائره کښې له تجارتي معاملاتو څخه پیدا کیږي، مسئول دي.

**۹۶ ماده:**
د (۸۹) مادې احکام پر تجارتي گرځنده نمایندگانو هم تطبیقیږی مگر څه وخت چه دا نمایندگان هغه معاملات چه اجراء کړی یې دي وغواړی لاس لیک کړی، دا نشي کولای چه (وکالتاً) یا د هغي په شان بله کلمه استعمال کړی بلکه مجبور دي چه فقط د خپلو آمرینو نومونه درج کړی.

**۹۷ ماده:**
تجارتي گرځند نمایندگان لکه څرنگه

حساب آنها اجرای معامله کنند نیز قابل تطبیق است.

## فصل نهم
## نمایندگان سیار تجارتی

**مادۀ ۹۵:**
مستخدمی که برای اجرای معاملات تجارتی یک تاجربه توسط مکتوب یا اعلان یا متحدالمال یا وثایق دیگری مثل آن از طرف تاجر مجاز گردیده به محل دیگر اعزام میگردند، نمایندگان سیار تجارتی گفته میشوند و آمرین شان از نتایجی که در دایرۀ مأذونیت ایشان از معاملات تجاریه متولد میشود، مسئول میباشند.

**مادۀ ۹۶:**
احکام مادۀ (۸۹) بر نمایندگان سیار تجارتی نیز تطبیق میشود، لیکن زمانیکه این نمایندگان معاملاتی را که اجرا کرده اند بخواهند امضاء کنند، نمی توانند کلمه وکالتاً یا معادل آنرا استعمال نمایند بلکه مجبور اند فقط اسمای آمرین خود را درج کنند.

**مادۀ ۹۷:**
نمایندگان سیار تجارتی طوریکه

چه اجازه نه لري چه د هغو مالونو چه پخپله یې نه دي تسلیم کړی بدل واخلي، نو په همدې شان نشي کولای چه قیمت ځنډ او یا د هغو مبلغ ته تنزیل ورکړی. مګر د اکولای شي هغه پیشنهادات چه د دوی د آمرینو په نامه شوي وي، د هغو په نامه قبول کړی او داسې تدبیرونه چه د دوی د آمرینو د ګټې دساتني دپاره وي ونیسي.

## لسم فصل

## (پلورلو مامورین)

**۹۸ ماده:**

هغه کسان چه د عمده او پرچون مالونو دپلورولو اجازه ورته ورکړ شوي وي دپلورلو ما مورین بلل کیږي. دپلورلو مامورین حق لري چه د هغو مالونو قیمت چه د ننه په څانګه کښې ئې پلوري وغواړي اووائي خلي او په دې صورت چه (کیسي) ته د قیمت اخیستلو واک نه وي ورکړی شوي د پلورولو مامورین ترڅو چه رسمي تصدیقنامه د آمرینو او د تجارتخاني د خاوندانو په لاس لیک ونه لري، نشي کولای چه له تجارتخانې څخه دباندې د مالونو قیمت واخلي او یا یې و غواړي.

اجازه ندارند بدل اموالی را که شخصاً تسلیم نه نموده اند قبض کنند، همچنان نمی توانند قیمت را تأجیل و یا مبلغ آنرا تنزیل بدهند ولی میتواند پیشنهاداتی را که بنام آمرین شان واقع شده باشد، بنام ایشان قبول و تدابیری را که برای حفظ منافع آمرین شان باشد اتخاذ کنند.

## فصل دهم

## مامورین فروش

**مادهٔ ۹۸:**

اشخاصیکه در تجارتخانه ها مجاز به فروش اموال عمده و پرچون باشند، مامورین فروش نامیده میشوند. مامورین فروش حق دارند قیمت اموالی را که در داخل شعبه فروش میفروشند مطالبه و اخذ نمایند در صورتیکه صلاحیت اخذ قیمت به (کسه) داده نشده باشد مامورین فروش تا تصدیقنامه و اجازهٔ رسمی به امضای آمرین و صاحبان تجارتخانه نداشته باشند نمیتوانند در خارج تجارتخانه مطالبه و یا اخذ قیمت اموال را بنمایند.

## یوولسم فصل
## دلالي

**۹۹ ماده:**
هغه کسان چه د مقاولی له مخې د هیڅ یوه له طرفینو څخه خاص اجیر نه وي خو د تجارتي مقاولاتو په غوټه کولو کښې یواځې د اجرت په مقابل کښې د عاقدینو په منځ کښې منځګړیتوب کوي او پدې صورت د تجارتي معاملاتو په عقد کښې آسانتیا راوستل ځانته کسب وګرځوي، دلال بلل کیږی او دلالان په دي فصل کی د لیکل شویو حقوقو خاوندان او په تکلیفاتو یې مکلف دي.

**۱۰۰ ماده:**
بي له دي صورته چه له ستي سندنه ترتیبولو څخه عاقدین تیرشي او یا نظر د مال جنس ته د محلي عرف له مخې د هغي ترتیب ته څه ضرورت و نه لیدل شي دلال مجبور دي چه د معاملي له اجراء څخه وروسته بي له تامل ورکولو داسي ستي (سندونه) چه عاقدینو نومونه او کامل شهرت د مقاولی موضوع او شرطونه د قید ډول او اندازه د مال د تسلیم نېټه او د مقاولی موضوع پکښې وي په خپل لاس لیک طرفینوته ورکړی.

## فصل یازدهم
## دلالی

**مادهٔ ۹۹:**
اشخاصیکه بالمقاوله اجیر خاص هیچ یک از طرفین نبوده و در عقد مقاولات مروجه تجارتی فقط بالمقابل اجرت بین عاقدین وساطت و به این صورت، تسهیل عقد معاملات تجاریه را برای خود پیشه اتخاذ نمایند، دلال نامیده میشود. دلالها دارای حقوق مندرجهٔ این فصل و تکالیف آن میباشند.

**مادهٔ ۱۰۰:**
بجز در صورتیکه عاقدین از ترتیب سته صرف نظر کنند و یا نظر به جنس امتعه بنابر عرف محلی لزوم ترتیب آن محسوس نشود، دلال مجبور است که بعد از اجرای معامله بدون معطلی سته های سند را که حاوی اسامی و شهرت کامله عاقدین، موضوع و شرایط مقاوله، نوع و مقدار قیمت و زمان تسلیم امتعه موضوع مقاوله باشد را به امضاء خود به طرفین اعطا کند.

**۱۰۱ ماده:**
د هغو معاملاتو په خصوص کښې چه اجراء يې سمدستي ضرورت نلري، بايد سند د طرفينو عاقدينو په لاس ليک ورسيږی او له طرفينو څخه ديوي خوا لاس ليک شوي سند بل جانب ته ورکړه شي او که يو له طرفينو څخه د (ستي) سند له قبلولو يا لاس ليک څخه منع راوړي نو دلال په سمدستي ډيبښه مقابل طرف ته ابلاغ کړی.

**مادهٔ ۱۰۱:**
دربارهٔ معاملاتيکه اجرای آن فوراً مشروط نباشد، بايد سته به امضاء طرفين عاقدين رسانيده شده و سته امضاء شده يکی از طرفين به طرف مقابل اعطاء شود. در حاليکه يکی از طرفين از قبول و يا امضای سته استنکاف ورزد، دلال فوراً به طرف مقابل واقعه را ابلاغ خواهد نمود.

**۱۰۲ ماده:**
دلال د طرفينو د لاس ليکونو د صحت په خصوص کښې چه دده په ذريعه د معاملي په پاڼو شويدي او همدا ډول د وروستنـي ظهر نويس د لاس ليک له صحت څخه چه په هر ډول سندونو کښې دليکونکي په امر وي، مسئول دي.

**مادهٔ ۱۰۲:**
دلال در بارهٔ صحت امضای طرفين که در اوراق معامله که توسط او واقع شده و همچنان از صحت امضای ظهر نويس اخير که در هرنوع سندات محرر به امر باشد، مسئول است.

**۱۰۳ماده:**
هغه دلال چه معامله دده په ذريعه اجراء کيږي که سند دا ډول ترتيب کړی چه د يو طرف معرفي مقابل طرف ته په راتلونکي وخت پوري موقوفه پاتي شوي وي او پدې صورت که مقابل طرف سند قبول کړی وي نو په واقعي عقد پابند کيږي. هغه موده چه د نامعلوم طرف د

**مادهٔ ۱۰۳:**
دلالی که معامله بواسطه او اجراء ميشود اگر سته را طوری ترتيب کند که معرفی يکطرف به طرف مقابل به آتيه موقوف گذاشته شده باشد، درين صورت اگر طرف مقابل سته را قبول کند و بعداً طرف معلوم گرديد و اعتراضات جديد هم واقع نشده،باشد طرفی که سته را قبول نموده است به عقد واقعی پابند ميگردد. مدتيکه

معـــــلوميدو دپـــاره لازمــــه ده، د محلـي عـرف لـــه مـخـې او کـــه دا ډول عـــرف وجـــود ونـــه لـــري نـــو لـــه حـال سـره سـم ټـاکل کيږي.

که نامعلوم طرف په ټاکلي موده کښې معلوم نشي يا معلوم شي خو په هغه باندې اعتراضات وشي نو هغه طرف چه سند يې قبول کړيدي حق لري چه معامله له شخص دلال څخه وغواړي او په هغه باندې دعوي وکړي. سره له دي که د دلال د مراجعي په اثر د معاملي په اجراء کښې سمدستي له دي حق څخه ګټه وانخلي نو وروسته له هغه دده دعوي نه اوريدل کيږي. او که دلال هغه معامله په خپله بالذات په ځای کړي وي نوهغه حقوق چه د معاملي د عقد له لاري بلي خوا ته ورپه برخه شويدي، په خپله هغه ته ور منتقل کيږي.

۱۰۴ ماده:
دلال مـجبـور دی چه د هر هغه مال نمونه چه د نموني له مخې دده په ذريعه پلورل کيږي تر هغه وخته پوري له ځان سره وساتي چه ترڅو معامله پای ته ورسيږي.

که دواړه طرفه د نموني له ساتني څخه صراحتاً صرف نظر وکړی او يا نظر د

برای معلوم شدن طرف مجهول لازم است از روی عرف محلی، و اگر چنين عرف وجود نداشته باشد، مطابق ايجاب حال تعيين ميگردد.

اگر طرف مجهول در مدت معيينه معلوم نشود و يا معلوم شود بر عليه او اعتراضات جديد بعمل آيد طرفی که سته را قبول نموده است حق دارد اجرای معامله را از شخص دلال طلب و بر عليه او دعوی کند. معهذا اگر در اثر مراجعه دلال فوراً از حق مذکور در اجرای معامله استفاده نميکنند، بعد از آن دعوی او مسموع نيست. درصورتيکه دلال آن معامله را بالذات خودش ايفاء نموده باشد، حقوقيکه از رهگذر عقد معامله عايد بطرف ديگر است، بخودش منتقل ميشود.

مادۀ ۱۰۴:
دلال مجبور است نمونۀ هر يک از امتعۀ را که مطابق نمونه ذريعه او فروخته ميشود تا وقتی نزد خود محافظه نمايد که معامله ختم گردد.

اگر طرفين از محافظت نمونه صراحتاً صرف نظر کنند و يا

مـال جنس تـه د محلي عـرف لـه مخې لـزوم ونلـري نـو دلال كـولای شـي چـه دسپارلي شوي نموني لـه ساتني څخه صرف نظر وكړي.

نـظـر بـه جنس امتـعه بنابر عـرف محلی لزوم حس نشـود ، دلال ميتواند از محـافـظۀ نمونـه مودوعـه صرف نظر كند .

دلال لپاره ددې چه په پای كښې دليـل ونيوي شي بايد هغه نمونه چه معامله ورباندې شوي وي، نخښنه كړي.

دلال بـرای اينكه بالاخره اتمام حجت نمـوده بتوانـد ، بايـد نمونـه مـورد معامله را نشانی نمايد .

**۱۰۵ ماده:**
دلال د جـنس يـا د قيمـت د قبلولـو د پاره چه په مقاوله كښې ذكر شوي دي، صلاحيت نه لري.

**مادۀ ۱۰۵:**
دلال بـرای قبول قيمت و يا جنسيكه در مـقاوله تصـريح شـده اسـت صلاحيت ندارد .

**۱۰۶ ماده:**
دلال مكلـف دي لكـه تـاجر غونـدي د تـدبير خاونـد وي او پـه صـداقت كـار وكړي نو ځكه د هغو زيـانونو پـه نسبت چه د ده لـه غفلت څخه پيدا شي، هر يوه له طرفينوته مسئول دي.

**مادۀ ۱۰۶:**
دلال مكلـف است مـانـنـد يـک تـاجـر مـدبـر و راستـكار حركـت نمـايـد نسبت بـه خسـاراتيـكه از غـفـلـت او نشـأت كـند ، نـزد هـر يكـی از طـرفين مسئول ميباشد .

**۱۰۷ ماده:**
كـه دلال د يـوي خـوا داسـي طرفـداري وكړي چه د بيطرفۍ مخله شي او يا د بد نيت له مخې نظر يوه جانب تـه ګټه تمـام شـي نـو د دلالـۍ اجـرت او د مصارفو حق يې ساقطيږي.

**مادۀ ۱۰۷:**
طـرفـداری دلال از يـک جـانـب بـه انـدازۀ كـه مخـل بيطرفـی شـود و يـا انـتـفـاع از جـانـب ديگر بـا سـوء نيت حـق مطالبـه اجرت و مصارف دلالـی را ساقط ميسازد .

**۱۰۸ماده:**
دلال د معاملي له انعقاد څخه وروسته او يا كه عقد په كوم شرط پورې مقيده

**مادۀ ۱۰۸:**
دلال مـتعاقب انعقـاد معاملـه و يـا اگر عقد مقيـد بـر كدام شرط بـوده و

وي او د شرط د تحقق نه وروسته يې سند اخيستي وي نو د خپل اجرت د د غوښتنې حق لري او دده دا حق د معاملې د عقد له ورځې څخه تر يوکال پورې اعتبار لري. او که معامله منعقده نشي او يا معلقه شرط په ځای نه کړی، دلال نشي کولای چه له هغو تشبثاتو په مقابل کښې چه په دې باره کې يې کړيدي اجرت وغواړي.

**۱۰۹ ماده:**

د دلالۍ د اجرت اندازه د مقرراتو او مقاولې له مخې او که هغه نه وي نو نظر محلي عرف ته ټاکل کيږي.

**۱۱۰ ماده:**

که د معقولو مصارفو ورکړه د دلالۍ له خوا د معاملې په نتيجه پورې مشروط نه وي دلال د هغو د غوښتنې حق لري.

**۱۱۱ ماده:**

که د اجرت په خصوص کښې دواړو خواوو څه خبري نه وي کړی او د مقرراتو له مخې هم ټاکلي شوي نه وي چه اجرت کوم يو په غاړه واخلي نو د محلي عرف له مخې فيصله کيږي او که دا ډول عرف نه وو نو لازمه ده چه نيمي يوه خوا او نيمي يې بله خوا اداء کړي.

متعاقب تحقق شرط سته آن معامله را تسليم نموده باشد، حق طلب اجرت خود را دارد. اين حق او از روز عقد معامله تا يکسال اعتبار دارد. اگر معامله منعقد نشود و يا شرط معلقه تحقق ننمايد، دلال نميتوانند از تشبثاتيکه در آن باره نموده است اجرت طلب کند.

**مادهٔ ۱۰۹:**

اندازهٔ اجرت دلالی از روی مقاولات و مقررات و در صورت عدم آن نظر به عرف محلی تعيين ميگردد.

**مادهٔ ۱۱۰:**

اگر تاديهٔ مصارف معقول از طرف دلال مشروط به نتيجه معامله نباشد دلال حق مطالبه آنرا دارد.

**مادهٔ ۱۱۱:**

اگر طرفين راجع به اجرت مقاوله ننموده باشند و بر طرفين مقررات هم معيين نباشد که اجرت را کدام يک متحمل شود، از روی عرف محلی فيصله ميشود. در صورت فقدان چنين عرف لازم است طرفين بطور مناصفه بپردازند.

**۱۱۲ ماده:**
دلال مجبور دي چه هغه معاملي چه دده په منځګړيتوب اجراء کيږي هره ورځ د نېټې په ترتيب او د (۱۰) مادې په ښوونه په روزنامچه کښې داخلې کړي. هره معامله چه داخليږي، هره ورځ د دلال له خوا لاس ليک کيږي.

د هغو موادو احکام چه په تجاري روزنامچي کښې دداخلولو او د هغې دساتلو په خصوص کښې دي، د دلال د روزنامچي په باره کښې هم جاري دي.

د هغي معاملي په خصوص کښې چه دلال په هغي کښې منځګړيتوب کړي وي، مجبور دي هر وخت چه طرفين تقاضا وکړي د خپلې روزنامچي نقل چه دا معامله پکښې وي، پخپل لاس ليک سره هغو ته ورکړي.

**۱۱۳ ماده:**
محکمه ددعوي د خصوصياتو د اثبات د پاره کولای شي چه د ستي او نورو مثبتو پاڼو او د دلال د روزنامچي اصل يا نقل راوغواړي.

**۱۱۴ ماده:**
هغه دلال چه د درج او د خپلې روزنامچي د ساتني په خصوص کښې

**مادهٔ ۱۱۲:**
دلال مجبور است معاملاتی را که بوساطت او اجراء میشود هر روزه به ترتیب تاریخ و هدایت مادهٔ (۱۰۰) درج روزنامچه کند. هر معاملهٔ که درج میگردد، هر روزه از طرف دلال امضاء می شود.

احکام موادیکه راجع به طرز درج کردن و محافظه روزنامچه تجاریه است، دربارهٔ روزنامچه دلال نیز جاری است.

راجع به معاملهٔ که دلال در آن وساطت نموده باشد، مجبور است هر وقت که طرفین تقاضا کنند، نقل روزنامچه خود را که حاوی معامله مذکوره باشد به امضای خود به ایشان بدهد.

**مادهٔ ۱۱۳:**
محکمه برای اثبات خصوصیات دعوی میتواند نقل یا اصل سته و اوراق مثبته دیگر و روزنامچه دلال را مطالبه کند.

**مادهٔ ۱۱۴:**
دلالیکه راجع به طرز درج و محافظه روزنامچه خود مخالف

د قانون له احكامو څخه مخالف تګ وکړی، په نقدي جزأ محکومیږی.

**۱۱۵ ماده:**
د هغو کسانو په باره کښې چه د کوچنيو تجارو په منځ کښې دلالي کوي د سند روزنامچي په خصوص کښې چه په دي فصل کښې ذکر دي، نه تطبيقيږی.

## دوه يم باب – تجارتي شرکتونه

### لومړی فصل
### عمومي احكام

**۱۱۶ ماده:**
تجارتي شرکتونه عبارت د څو کسانو له اشتراک څخه دي چه په يوه يا متعددو موضوع کښې د تجارتي معاملاتو د اجراء په مقصد پيدا کيږي.

**۱۱۷ ماده:**
تجارتي شرکتونه په لاندې ډول دي:

الف– تضامني (کولکتيف) شرکت.

ب– مختلف تضامني (کوماندیت) شرکت.

ج– محدود المسئوليت (ليمتد) شرکت.

احکام قانون حرکت کند، به جزای نقدی محکوم میشود.

**مادهٔ ۱۱۵:**
دربارهٔ اشخاصیکه بین تجار کوچک دلالی میکنند احکام عاید بسته و روزنامچه که درین فصل مذکور است تطبیق نمیشود.

## باب دوم – شرکتهای تجارتی

### فصل اول
### احکام عمومی

**مادهٔ ۱۱۶:**
شرکت های تجارتی عبارت از اشتراک اشخاص است که به مقصد اجرای معاملات تجاریه در موضوع واحد یا متعدد به وجود می آید.

**مادهٔ ۱۱۷:**
شرکت های تجارتی به انواع ذیل است:

الف– شرکت تضامنی (کولکتیف).

ب– شرکت تضامنی مختلط (کوماندیت).

ج– شرکت محدود المسئولیت (لمیتد).

د- سهامي (انونيم) شرکت.

هـ- تعاوني (کوپراتيف) شرکت.

**۱۱۸ ماده:**
تجارتي شرکتونه حقوقيه شخصيت لري نوځکه کولای شي چه تر خپلو عنوانو لاندې مقاولی عقد او معاملې اجرا کړی، او د دائن او مديون صفت ومومي او په دې صفت دا هم کولای شي چه په محاکمو کښې خپل وجود ثابت کړی او منقول او غير منقول مالونه تصرف کړی.

**۱۱۹ ماده:**
هغه مواد چه په تجارتي شرکتو کښې پانګه بلل کيږي، په لاندې ډول دي:

الف- مادې منقول مالونه، لکه نقدي، شيان او حيوانات.

ب- غير مادې منقول مالونه، لکه امتياز، د اختراع حق (تجارتي- صنعتي)، دمارکو اجازه نامې.

ج- هر ډول غير منقول مالونه.

د- د منقول او غير منقول مالونو ګټې او د استعمال حق.

هـ- سعي او عمل.

د- شرکت سهامی (انونيم).

هـ- شرکت تعاونی (کوپراتيف).

**مادۀ ۱۱۸:**
شرکتهای تجارتی دارای شخصيت حقوقيه ميباشند. بنابرين ميتوانند در تحت عناوين خود به عقد مقاولات و اجرای معاملات پرداخته صفت داين و مديون را اکتساب نمايند و نيز ميتوانند به اين صفت در محاکم اثبات وجود کنند و اموال منقول و غير منقول را تصرف نمايند.

**مادۀ ۱۱۹:**
موادیکه در شرکتهای تجارتی سرمايه شناخته ميشود، قرار ذيل است:

الف- اموال منقول مادی مانند نقود، اشياء و حيوانات.

ب- اموال منقول غير مادی از قبيل امتياز، حق اختراع، اجازه نامه های مارک (تجارتی- صنعتی).

ج- هرگونه اموال غير منقول.

د- منافع و حق استعمال اموال غير منقول و منقول.

هـ- سعی و عمل.

د- تجارتي اعتبار.

ز- تجارت خانه.

**۱۲۰ ماده:**
د بـــاړی د حــق تأسیســات، نــوم او عنــوان، د اختــراع حــق، تـجـارتــي مــارک او نــور لــکــه رســم او هغــه موډلونه چه د تجارتي صنعت د اجراء د پاره خدمت کوي، د تـجـارتـخـانــي لـه عـناصرو څخه ګڼل کیږي.

**۱۲۱ ماده:**
هـر شـريک د هغـه تعهـد لـه مخـې چـه شـرکت سره يـې د پـانګې ورکولـو پـه خصـوص کښـې کړیـدي، د شـرکت پـه مقابل کښې مديون او مسئول دي.

ځـکـه هـر هغـه شريـک چـه خپلـه پـه غـاړه اخیسـتي پانګـه پـه ټـاکلي مـوده کښې شرکت ته ورنکړی نو د هغه زيـان او تاوان د جبران مسئول دي چي لـدې لاري شرکت ته اوړی.

**۱۲۲ ماده:**
هغه پانګه چه په ورکولو کښې يې ځنډ پیښې شـوي وي کـه د نقـدي پـانګې لـه ډوله وي نو برسیره د هغې پیښې شـوي خسـاري لـه جبران څخه چه پـه (۱۲۱) مــاده کښــې ذکـر شـويدي، د هغــه د ورکړی د لـزوم لـه ورځې څخـه تـاجر پـه

و- اعتبار تجارتی.

ز- تجارتخانه.

**مادۀ ۱۲۰:**
تـأســیسات حــــق کرایــه، اســـم و عنـــــوان حـــق اخـــــتراع، مـــارک تجــــارتی وغیــره از قبـــیل رسـم و مـودل هائیکـه بـرای اجـرای صـنعت تجـارتی خـدمت مـی کنـد، از عناصـر تجارت خانه محسوب است.

**مادۀ ۱۲۱:**
هـــر شـــریـــک بموجـب تعهـدیکـه راجــــع بـــه تـادیـۀ سـرمـایـه بـه شرکـت نـمـوده در مقـابـل شـرکـت مـدیـون و مســــئول است.

لذا شریکی که سرمایه متعهدۀ خـود را بـــه شـــرکت در موعـــد معیینـــه نپردازد، مسئول جبران ضرر و جبران خسـاره ایسـت کـه ازیـن رهگـذر بـه شرکت عاید میگردد.

**مادۀ ۱۲۲:**
ســرمـــایـــۀ کــه در ادای آن تـأخیر واقــــع شده اگر از قبیـل سـرمـایـۀ نــقـدی بـــاشـــد بر عـــلاوه جبران خســـارۀ عـــایـــدۀ کـــه در مـــادۀ (۱۲۱) ذکـــــر شـــــده، از روز لازم الـــتـــادیۀ بـــــودن آن تـــاجـــر بـه

قانوني ټکټ پولۍ ورکولو باندې هم مجبور دي.

۱۲۳ ماده:
که کوم شریک د هغې پانګې په عوض چه شرکت ته یې په غاړه اخیستې ده داسې پورونه چه په خلکو یې لري، شرکت ته ورحواله کړي، تر څو چه دپورونو تحصیل شرکت لخوا ونشي، هغه بري الذمه نه کیږي، که دا پورونه په وعده وي، په داسې حال کښې چه د هغو په خلاف مقاوله موجوده نه وي نو وروسته د وعدې له پوره کیدو او که سمدستې وي د شرکت د تأسیس له نیټې څخه تر یوې میاشتې پورې باید تحصیل شي او که په یوه میاشت کښې نه تحصیلیږي، هر څومره ورځې چه زیاتې ورڅخه تیریږي، د ټکټ پولۍ په ورکړه مجبور دي.

او که یوه برخه پورونه تحصیل شوي وي، د پاتې برخې په خصوص کښې همدغه حکم د اعتبار وړ دی.

۱۲۴ ماده:
د هغو شیانو قیمت چه دپانګې په صورت راوړل کیږي، باید په مقاوله کښې وټاکلي شي. او که ټاکلي شوي نه وي نو هغه قیمت به چه د شیانو د ورکړې په ورځ په بازار یا (بورس)

تادیه تکت پولی قانونی مجبور است.

مادهٔ ۱۲۳:
اگر شریکی عوض سرمایهٔ که به شرکت تعهد کرده است طلباتی را که بالای اشخاص دارد به شرکت حواله نماید، تا تحصیل طلبات از طرف شرکت بری الذمه شده نمیتواند. اگر طلبات مذکور مؤجل باشد، در حالیکه بر خلاف آن مقاولهٔ موجود نباشد پس از بسر رسیدن موعد و اگر معجل باشد، از تاریخ تأسیس شرکت الی مدت یکماه باید تحصیل شود. اگر در ظرف یکماه تحصیل نمیگردد، هرقدر روزیکه اضافه از آن بگذرد، مجبور به تادیهٔ تکت پولی است.

اگر یک قسمت طلبات تحصیل شده باشد، راجع به قسمت متباقی همین حکم مدار اعتبار است.

مادهٔ ۱۲۴:
قیمت اشیائیکه به صورت سرمایه آورده میشود، در مقاوله باید تعین شود. اگر تعیین نشده باشد، قیمتیکه در روز دادن اشیاء در بازار یا بورس جاریست، معتبر خواهد

کښې جاري وي، د اعتبار وړ وی. او که شیان په بورس یا بازار کښې جاري قیمت ونلري نو هغه قیمت چه د پوهو کسانو له خوا ټاکل کیږي، د دواړو خواوو په نزد د اعتبار وړ ګڼل کیږي.

**۱۲۵ ماده:**
د هغو ما لونو ملکیت چه د پانګې په صورت راوړل کیږي که د هغو په خلاف په مقاوله کښې کوم حکم موجود نه وي، په شرکت پورې اړه لري.

**۱۲۶ ماده:**
د تکټ پولۍ د ضرر او زیان د جبران په خصوص کښې چه په (۱۲۱-۱۲۲-۱۲۳) مادو کې بیان شویدي مقابل جانب ته وړاندي خبر ورکول ضرور نه دي. دا مدعیات د شریکانو د فسخ د هغه حق چه په (۱۷۵) ماده کښې مقرر شویدي، نشي مانع کیدلي.

**۱۲۷ ماده:**
هر شریک مؤظف دي چه د شرکت د چارو د اجراء کولو په ترخ کښې داسي په ښه نیت او اخلاص او بیداري سره رفتار وکړی لکه چه د خپلو شخصي چارو په اجراء کښې یې کوي.

**۱۲۸ ماده:**
هیڅ یو شریک د خپل کار په نسبت له

بـود و در صورتیکه اشیاء در بورس و بازار قیمت جاریه نداشته باشد، قیمتیکه از طرف اهل خبره تعیین میگردد، نزد جانبین معتبر شمرده میشود.

**مادهٔ ۱۲۵:**
ملکیت اموالیکه به صورت سرمایه آورده میشود اگر خلاف آن در مقاولهٔ حکمی موجود نباشد، عاید به شرکت است.

**مادهٔ ۱۲۶:**
راجع به ادعای جبران ضرر و خساره تکت پولی که در مواد (۱۲۱- ۱۲۲-۱۲۳) بیان شده اطلاع قبلی بجانب مقابل ضروری نیست. این مدعیات مانع حق فسخ شرکاء که در مادهٔ (۱۷۵) مقرر شده نمی باشد.

**مادهٔ ۱۲۷:**
هر شریک مؤظف است که در اثنای رسیدگی به امور شرکت مثل امور شخصی خود با نهایت حسن نیت و دقت و بصیرت رفتار نماید.

**مادهٔ ۱۲۸:**
هیچ یکی از شرکاء به نسبت کار خود

شرکت څخه د اجرت غوښتلو حق نلري. مګر که په مقاوله کښې د اجرت اخيستل مقرر شوي وي نو مانع به ونه لري چه اجرت و اخلي.

**۱۲۹ ماده:**

هر شريک د هغه زيان مسئول او ضامن دي چه په حيله، چل، له اختياراتو څخه د تجاوز او يا په وظيفه کښې د بي پروائي له ليارو څخه يي شرکت ته پيښ کړي وي او نشي کولای چه دا زيان په هغو ګټو کښې چه دي شريک په نورو چارو کښې شرکت ته اړولی وي مجرا کړی.

**۱۳۰ ماده:**

هغه اجرت چه د شرکت مامورينو او مستخدمينو ته د دوی د خدمت په مقابل کښې ورکاوه کيږي که ددغه اجرت يوه برخه يا ټول په ګټه کښې د اشتراک په صورت مقرر شوي وي نودا وضعيت دوي ته د شريک صفت نه ورکوي.

**۱۳۱ ماده:**

که د شرکت په مقاوله کښې د ګټې او زيان صورت نه وي څرګنده شوي نو د هر شريک ګټه او زيان د پانګې د برخي په تناسب سره ويشل کيږي.

از شرکت حق طلب اجرت را ندارد. ولی اگر در مقاوله اخذ اجرت مقرر شده باشد مانعی نخواهد داشت که اجرت بگیرد.

**مادۀ ۱۲۹:**

هر شريک مسئول و ضامن ضرريست که به حيله، خدعه و تجاوز از صلاحيت و يا اهمال وظيفۀ خويش به شرکت وارد نموده باشد و اين ضرر را نميتوان با منافعيکه شريک مذکور در امور ديگر به شرکت تأمين نموده باشد مجرا نمود.

**مادۀ ۱۳۰:**

اجرتيکه به مامورين و مستخدمين شرکت در مقابل خدمت ايشان پرداخته ميشود اگر تاديۀ آن قسماً و يا تماماً بصورت اشتراک در نفع مقرر شده باشد، اين وضعيت به ايشان صفت شريک را نمی بخشد.

**مادۀ ۱۳۱:**

اگر صورت تقسيم نفع و ضرر در مقاوله شرکت تصريح نگرديده باشد، نفع و ضرر هر شريک به تناسب حصۀ سرمايه تقسيم ميشود.

**۱۳۲ ماده:**

که په مقاوله کښې يواځې د ګټې دويشلو صورت ټاکلي شوي وي او د زيان د ويشلو په ډول کوم بحث نه وي شوي نو زيان هم لکه ګټه غوندي ويشل کيږي.

او که د ضرر په ويشلو باندې څيړنه شوي وي او د ګټې ويشلو صورت تر څيړنې لاندې نه وي راغلي، په دي صورت ګټه هم لکه زيان غوندي ويشله کيږي.

**مادهٔ ۱۳۲:**

اگر در مقاوله تنها صورت تقسيم نفع تعيين و از طرز تقسيم ضرر بحث نشده باشد، ضرر هم مانند نفع تقسيم ميشود.

اگر از تقسيم ضرر بحث شده، صورت تقسيم نفع مسکوت عنه گذاشته شده باشد، نفع هم مانند ضرر تقسيم ميشود.

**۱۳۳ ماده:**

که د شرکت په مقاوله کښې د شرکت ګټه په يوه يا څو شريکانو پورې حصره وي او يا د شرکت په ضرر کښې د يوه يا څو تنو شريکانو نه شريکيدل درج وي، دا شرط اعتبار نه لري. په دي حال کښې ويشنه مجهوله بلله کيږي ګټه او زيان د (۱۳۱) مادې په حکم د شريکانو په منځ کښې ويشله کيږي.

يواځې د هغه شريک په خصوص کښې چه خپل زيار او مساعي يې د پانګې په حيث شرکت ته راوړې وي او د شرکت په ضرر کښې د ده نه ګډول په مقاوله کښې مشروط وي نو دا شرط معتبر دي.

**مادهٔ ۱۳۳:**

اگر در مقاوله شركت نفع شركت تنها به يكی و يا چندی از شركاء حصر و يا عدم اشتراک يكی و يا بعضی از شركاء در ضرر شركت درج باشد، شرط مذكور كان لم يكن است. درين حال، صورت تقسيم مجهول شمرده شده نفع و ضرر بموجب مادهٔ (۱۳۱) در بين شركاء تقسيم ميگردد.

تنها راجع به شريكی كه مساعی خود را بحيث سرمايه به شركت آورده و عدم اشتراک آن بضرر شركت در مقاوله شركت مشروط باشد، اين شرط معتبر است.

**۱۳۴ ماده:**
که کوم شرکت د خپلې ټاکلي مودې له پای ته رسيدلو څخه زيات دوام وکړی، داسې اعتبار ورکاوه کيږي چه د هغه دوام تر يوي ټاکلي مودې پورې اوږد شوي وی.

**مادۀ ۱۳۴:**
اگر يک شرکت از اختتام موعد معيينه خود زيادتر دوام کند، چنان اعتبار داده ميشود که دوام آن برای يک مدت غير معيين تمديد شده است.

## دوهم فصل
## تضامني شرکتونه

### لومړۍ برخه- عمومي احکام

## فصل دوم
## شرکت های تضامنی

### حصۀ اول- احکام عموميه

**۱۳۵ ماده:**
تضامني شرکت هغه شرکت دي چه تر ټاکلي عنوان لاندې د تجارو د پاره د دوو يا څو تنو په منځ کښې په تضامني مسئوليت سره جوړيږي. که د شرکت ټول شته د ټولو پورونو د پاره کافي نه وي نو د شرکت د ټولو پورونو ورکولو مسئول هر يو شريک دي.

**مادۀ ۱۳۵:**
شرکت تضامنی شرکتی است که در تحت عنوان معيين برای امور تجارتی بين دو يا چند نفر با مسئوليت تضامنی تشکيل ميشود. اگر دارائی شرکت برای تاديۀ تمام قروض کافی نباشد، هر يک از شرکاء مسئول پرداخت تمام قروض شرکت است.

**۱۳۶ ماده:**
تضامني شرکتونه بايد تحريري قرارداد ولري.

**مادۀ ۱۳۶:**
شرکت های تضامنی بايد دارای قرارداد تحريری باشند.

**۱۳۷ ماده:**
د تضامني شرکتونو په قرارداد کښې دا لاندې فقرې درج کيږي:

۱- د قرارداد نېټه.

**مادۀ ۱۳۷:**
در قرارداد شرکت های تضامنی فقرات ذيل درج می شود:

۱- تاريخ قرارداد.

۲- د شـــريكانو نـــوم، شــــهرت، د اســـتوګنې ځـــاى او د پيژنـــد ګلوى صفتونه او كه پدې شركت كښې بل شركت داخل شوى وي نو د هغه شركت پخواني عنوان.

۳- د شركت د تجارت مركز.

۴- د شركت تضامني والي.

۵- د شركت عنوان.

۶- د هغـو شـريكانو نومونـه چـه د شركت په نامه د لاسليک واک لري، په دي ډول چـه دا خبـره پكښـې ښـكاره شوي وي چه دوي پـه منفرد او يا پـه مشترک ډول دلاس ليک صلاحيت لرى.

۷- د شركت موضوع.

۸- د پانګې برخه چه هر شريک په غاړه اخيستي ده او د غيـر نقـدى پـانګې اټكلى قيمت د هغې د قيمت د ټاكلو د صورت سره.

۹- د هر شريک د اشتراک برخه په ګټه او زيان كښې.

۱۰- د شركت د تأسيس او ختم نېټه برسيره پدې شريكان كولاى شي چه نوري داسي فقري چه ګټوري يې وبولي هم په قرارداد كښې درج كړى.

۲- اســـم، شـــهـرت، اقـامتـگاه و ديـگر اوصـــاف مميـزه شركاء و اگـــر شـــركت ديگـــرى بـــه شـركـــت داخـــل شـــده بـــاشد، عنوان شركت مذكور.

۳- مركز تجارت شركت.

۴- تضامنى بودن شركت.

۵- عنوان شركت.

۶- اســامـــى شـــركائيكه بنـام شركـت حـايـز صلاحيــت امـــضاء مـى باشـند بـا تـصريـح ايـن كـه منـــفرداً و يا مشـــتركـاً صلاحيت امضاء را دارند.

۷- موضوع شركت.

۸- حصـهٔ سـرمايهٔ را كـه هـر شـريک تعهـد كـرده و قيمـت هـاى تخمينـى قسمت سرمايه غير نقدى با صورت تعيين قيمت آن.

۹- حـصـهٔ اشتـراک هـر شريـک در نفـع و ضرر.

۱۰- تـاريخ تأسيس و ختم شـركت، عـلاوه ازيـن شـركاء ميتوانند فقـرات ديگـرى را كـه مفيـد بدانـنـد هـم در قرارداد درج كنند.

**۱۳۸ ماده:**

هغه کسان چه تضامني شرکت جوړوی مجبوردي چه د شرکت د قرارداد یو نقل د شرکت د تشکیل له ورځې څخه تریوي میاشتي پوري په داسي ځای کښي چه د شرکت مرکز گرزیدلي دي د تجارت د ثبت په دائره کښي ثبت او اعلان کړی.

**مادۀ ۱۳۸:**

اشخاصیکه شرکت تضامنی را تشکیل میدهند مجبور اند که یک نقل قرارداد شرکت را از روز تشکیل شرکت تا یکماه در محلیکه مرکز شرکت واقع است به دایرۀ ثبت تجارت، ثبت و اعلان کنند.

**۱۳۹ ماده:**

که تضامني شرکت د خپل تجارت د ثبت د محکمي له حوزي څخه دباندې کومه څانگه تأسیس کړی نو بایې چه د خپل قرارداد خصوصیات ددغې څانگې د تأسیس د ځای د ثبت په دائره کښې هم په ثبت ورسوي.

**مادۀ ۱۳۹:**

شرکت تضامنی اگر خارج از حوزۀ محکمه ثبت تجارت خود شعبه تأسیس کند، باید خصوصیات قرارداد خود را در دایرۀ ثبت محل تأسیس شعبه نیز به ثبت برساند.

**۱۴۰ ماده:**

که په یوه تضامني شرکت کښې وروسته له ثبت او اعلان څخه په عنوان او د استوگنې په ځای کښې او یا په موضوع کښې کوم تبدلات پیښ شي او یا هغه شریکان چه د لاس لیک واک لري بدل شي یا له شرکت څخه ووزی یا ځینې نور شریکان داخل شي یا د شرکت پانگه زیاته یا لږه شي او یا پخوا د ټاکلي مودې له تیریدو څخه د شرکت قرارداد منحل شي او یا د مودې له تیریدو څخه وروسته اوږد شي یا په بل شرکت پوري وتړلي شي،

**مادۀ ۱۴۰:**

اگر در یک شرکت تضامنی بعد از ثبت و اعلان، تبدلاتی در عنوان و اقامتگاه و یا موضوع تولید شود و یا شرکائیکه صلاحیت امضاء دارند تغییر نمایند و یا بعضی از شرکاء از شرکت خارج یا بعض شرکای دیگری داخل شوند و یا سرمایه شرکت تزئید و یا تنقیص شود و یا قبل از انقضای مدت معینه، قرارداد شرکت منحل و یا بعد از انقضای مدت، تمدید گردد و یا با

ددې خصوصیاتو په باره کښې د شرکت له خوا یوه بیان نامه چه د ټولو شریکانو په لاس لیک رسیدلي وي ترتیبږي او له هغو اسنادو سره چه ددې تعدیلاتو اثبات کوي وروسته د مربوطې محکمې له تصدیق څخه ثبت او اعلانولي شي.

۱۴۱ ماده:

هغه خصوصیات چه د (۱۳۸- ۱۳۹- ۱۴۰) مادې په حکم د هغو ثبت او اعلانول غوارې نوکه د شریکانو له خوا ثبت او اعلان شوي نه وي، نو ددې دا خصوصیات په ثالثو کسانو نشي استعمالولي او که له ثبت او اعلان څخه پخوا د شرکت په نامه په معاملاتو باندې پیل کړی شوي وي نو شرکت د ثالثو کسانو په مقابل کښې مسئول دي او که د شرکت د ثبت او اعلان مراتب د شریکانو له خوانه وي اجراء شوي او شریکان د شرکت له وجود څخه انکار وکړي نو ثالث کسان کولای شي چه په هر ډول شاهدانو او نښو باندې د شرکت وجود اثبات کړي.

۱۴۲ ماده:

که د یوه تضامني شرکت ثبت او اعلان په هغي مودې کښې چه په ۱۳۸ ماده کښې ذکر شویدي اجراء شوي نه وي او پس له هغه هم نه وي ثبت شوي نو هر

شرکت دیگری ملحق شود، راجع به این خصوصیات از طرف شرکت یک بیان نامه که به امضای تمام شرکاء رسیده باشد ترتیب و با اسنادیکه مثبت این تعدیلات است بعد از تصدیق محکمه مربوطه، ثبت و اعلان میشود.

مادهٔ ۱۴۱:

خصوصیاتیکه به موجب مواد (۱۳۸، ۱۳۹ و ۱۴۰) ثبت و اعلان آنها مقتضی است اگر از طرف شرکاء ثبت و اعلان نشده باشد، این خصوصیات را نمیتوان بر علیه اشخاص ثالث استعمال نمود. قبل از ثبت و اعلان اگر بنام شرکت به معاملات مبادرت ورزیده شده باشد، شرکت بمقابل اشخاص ثالث مسئول است. در صورتیکه مراتب ثبت و اعلان شرکت از طرف شرکاء اجراء نگردیده باشد و شرکاء از وجود شرکت انکار ورزند، اشخاص ثالث میتوانند که با هر نوع بینه و قرائن وجود شرکت را اثبات کنند.

مادهٔ ۱۴۲:

اگر ثبت و اعلان یک شرکت تضامنی در ظرف مدتیکه در مادهٔ ۱۳۸ ذکر شده اجراء نگردیده و بعداً هم ثبت نشده

یو شریک حق لري چه له مربوطی محکمي څخه د شرکت انحلال وغواړی. انحلال غوښتونکي شریک باید لومړی د ثبت د څانګې په ذریعه کیفیت شریکانو ته اخبار کړی. په دي حال کښي چه محکمه د شرکت په انحلال باندي فیصله وکړی، د انحلال حکم د انحلال و غوښتونکي شریک په باره کښي د اعلان له نیټې څخه جریان مومي.

که شرکت په دي سبب منحل کیږي، د انحلال د ثبت او اعلان تر پای ته رسیدو پوري هغه معاملي چه د شرکت په نامه اجراء کیږي، د ثالثو کسانو حقوقو ته خلل نه پیښوی.

## دوهمه برخه
## د شریکانو ترمنځ مناسبات

**۱۴۳ ماده:**
د تضامني شرکت د شریکانو ترمنځ مناسباتو کښي د مقاولي مقررات معتبر دي.

او په هغو خصوصیاتو کښي چه صراحتاً یا ضمناً په قرارداد کي مندرج نه وي، ددی فصل احکام تطبیق کیږي.

**۱۴۴ ماده:**
د شرکت اداره کیدای شي چه د

باشد، هر یکی از شرکاء حق دارند انحلال شرکت را از محکمه مربوطه مطالبه کنند. شریک طالب انحلال بایست اولاً توسط شعبه ثبت، کیفیت را به شرکاء اخبار نماید. در حالیکه محکمه به انحلال شرکت قرار دهد، حکم انحلال دربارهٔ شریک طالب انحلال از تاریخ اعلان جریان می یابد.

اگر شرکت بدین سبب منحل میگردد، تا ختم ثبت و اعلان انحلال معاملاتیکه بنام شرکت اجراء میگردد، به حقوق اشخاص ثالث خلل وارد نمی سازد

## حصهٔ دوم
## مناسبات بین شرکاء

**مادهٔ ۱۴۳:**
در مناسبات بین شرکاء شرکت تضامنی مقررات مقاوله معتبر است.

و در خصوصیاتیکه صراحتاً و یا ضمناً در قرارداد مندرج نباشد، احکام این فصل تطبیق میگردد.

**مادهٔ ۱۴۴:**
ادارهٔ شرکت را به موجب قرارداد

قرارداد په موجب او که په قرارداد کښې کوم صراحت موجود نه وي نو د شريکانو د آراوو په زياتوالي يوه تن يا څو تنو ته او يا ټولو شريکانو ته اويا له شرکت څخه دباندې يوه تن يا څو کسانو ته وسپارلي شي.

و اگر در قرارداد صراحتی موجود نباشد بموجب اکثريت آرای شرکاء ميتوان به يکی و يا چندين و يا تمام شرکاء و يا خارج شرکت به شخصی و يا اشخاص متعدد تفويض نمود.

که له پاس مقرراتو سره سم د اداري حق چاته نه وي ورکړی شوي نو د شرکت د اداري دپاره هر يو شريک د صلاحيت خاوند ګڼلي شي.

اگر حق اداره مطابق مقررات فوق به کسی داده نشده باشد، برای اداره شرکت، هر يکی از شرکاء صلاحيت دار شمرده ميشود.

**۱۴۵ ماده:**

هر وخت چه د مدير د اداري واک د شرکت د قرارداد په موجب وټاکلي شي نو شريکان نشي کولای چه هغه محدود او يا مدير موقوف کړی.

**مادۀ ۱۴۵:**

وقتيکه صلاحيت اداره مدير به موجب قرارداد شرکت تعيين شود، شرکاء نميتوانند آنرا محدود و يا مدير را عزل کنند.

که محققه اسباب موجود شي نو د يوه تن شريک په غوښتنې سره د محکمې په فيصله د اداري واک تحديد او يا مدير موقوفيدلاي شي. مقصد له محققه اسباب څخه په وظيفه کښې د مدير بي پروائي او لوي غفلت او يا د اداري په چارو کښې بي اقتداري ده.

اگر اسباب محققه موجود شود، در اثر خواهش يکی از شرکاء با قرار محکمه صلاحيت اداره تحديد و يا مدير عزل شده ميتواند. مقصد از اسباب محققه اهمال و غفلت بزرگ مدير در ايفای وظيفه و يا عدم اقتدار در امور اداره است.

**۱۴۶ ماده:**

هغه مدير چه وروسته د قرارداد له ليکلو څخه د تصويب په حکم ټاکلي شويدي، د شريکانو د آراوو په اکثريت

**مادۀ ۱۴۶:**

مديريکه بموجب تصويب بعد از تحرير قرارداد تعيين شده باشد، با اکثريت آراء شرکاء عزل شده

سره موقوفېدلای شي، او که د هغه د موقوفۍ دپاره د شریکانو د آراوو اکثریت حاصل نشي، هر شریک حق لري چه محکمي ته ورشي او په محققه اسبابو د هغه موقوفي وغواړي.

**۱۴۷ ماده:**

که د شرکت د چارو اداره ټولو یا څو تنو شریکانو ته سپارلي شوي وي، دوي هر یوه ته بیل بیل د شرکت د چارو اداره جواز لري.

که ځیني هغه شریکان چه د شرکت په اداره باندې مکلف دي د کومي معاملي د اجراء په خصوص کښي مخالفت وکړي، نور هغه شریکان چه د شرکت د اداري حق لري کولای شي چه د آراوو په اکثریت هغه معامله اجراء کړي.

که د شرکت په مقاوله کښې څرګنده وي چه د هغو شریکانو قرار چه د شرکت په اداره باندې مکلف دي باید بالاتفاق وي، نو پرته له هغو احوالو چه په پاي کښې یې خطر ملحوظ وي، نو په هره چارو کښې یې اتفاق لازم دي. په دي حال کښې چه د مدیرانو په منځ کښې د آراوو اتفاق را نشي نو کیفیت به د شریکانو عمومي هیئت ته وړاندي کیږي او هغه تصویب چه عمومي

میتوند و اگر برای عزل آن اکثریت آراء شرکاء حاصل نشود، هر شریک حق دارد به محکمه مراجعه و با اسباب محققه عزل آنرا مطالبه کند.

**مادهٔ ۱۴۷:**

اگر اداره امور شرکت به تمام و یا چندی از شرکاء تفویض شده باشد، هر یکی از ایشان منفرداً به اداره امور شرکت مجاز است.

اگر بعضی از شرکائیکه مکلف به اداره شرکت میباشند راجع به اجرای کدام معامله مخالفت کنند، شرکاء دیگریکه حق اداره شرکت را حایز میباشند، میتوانند با اکثریت آراء معاملهٔ مذکور را اجراء کنند.

اگر در مقاولهٔ شرکت مصرح باشد که قرار شرکائیکه به اداره شرکت مکلف هستند باید بالاتفاق باشد، به استثنای احوالیکه در تأخیر آن خطر ملحوظ است، در هر امر اتفاق آراء لازم است. در حالیکه بین مدیران اتفاق آراء حاصل نشود، کیفیت به هیئت عمومی شرکاء تقدیم و تصویبیکه هیئت عمومی

هيئت يې كوي د اعتبار وړ دی.

**۱۴۸ ماده:**
هغه چاري چه د شركت په اداره پوري اړه لری عبارت له هغو عادي چارو او معاملاتو څخه دي چه د شركت مقصد او موضوع د هغو د اجرا مقتضي وي. مدير ته پدې صورت كښې چه د شركت د پاره ګټه وليدله شی، د مصالحي او حكميت اجازه هم شته.

مگر مهم معاملات لكه اعانه، بيع، د غير منقولو مالونو انتقال او ضمانت چه له عادي معاملاتو څخه دباندې دي، د شريكانو په اتفاق اجراء كيږي.

**۱۴۹ ماده:**
كه يوه شريك له شركت څخه پور اخيستي وي او يايې يو مبلغ د شركت په نامه تحصيل كړی وي ( په دي صورت چه د هغه په خلاف قرارداد موجود نه وی) او په مناسب وخت كښې يې اداء او تسليم نكړی، برسيره په اصلو پيسو وركولو د معطلۍ د ورځو د تكټ پولۍ په وركولو هم مجبور دی.

**۱۵۰ ماده:**
هيڅ شريک نشي كولای چه بې د نورو شريكانو له موافقې څخه د خپل حصې يوه برخه يا ټوله، له شركت څخه

میدهد، معتبر میباشد.

**مادهٔ ۱۴۸:**
اموریکه به اداره شرکت مربوط است عبارت از امور و معاملات عادی میباشد که اجرای آن برای مقصد و موضوع شرکت مقتضی است. مدیر در صورتیکه برای شرکت فایده ملاحظه کند، در مصالحه و حکمیت هم مجاز میباشد.

مگر معاملات مهم امثال اعانه، بیع و انتقال اموال غیر منقول و ضمانت که خارج از معاملات عادی است، به اتفاق شرکاء اجراء میگردد.

**مادهٔ ۱۴۹:**
اگر یک شریک از شرکت استقراض نموده و یا مبلغی را بنام شرکت تحصیل کرده باشد (در صورتیکه بر خلاف آن قرارداد موجود نباشد) و در زمان مناسب تادیه و تسلیم ننماید، علاوه از تادیهٔ اصل پول، مجبور به اعطای تکت پولی ایام معطلی نیز میباشد.

**مادهٔ ۱۵۰:**
هیچ یکی از شرکاء نمیتواند بدون موافقه شرکاء دیگر حصهٔ خود را به شخص خارج

دباندې بل شخص ته منتقله کړي. د انتقال په صورت کښې د شريکانو او ثالثو کسانو په مقابل کښې کوم تاثير نلري او هغه مسئوليت چه له دي لاري ځخه پيدا کيږي يواځې نقل کوونکی ته راجع دی.

**۱۵۱ ماده:**

هغه شريک چه د شرکت په اداره کښې مامور وي، بې د نورو شريکانو له رضا او موافقې نشي کولای چه بل شخص په شرکت کښې د شريک په صفت داخل کړي او يا خپل عوض په اداره کښې ودروی.

**۱۵۲ ماده:**

که د شرکت د تشکيل په قرارداد کښې د ورکړې شوي پانګې دپاره د ټکټ پولی د ورکړې شرط موجود وي، دا شرط معتبر دی.

**۱۵۳ ماده:**

د شرکت موده د شريکانو تر ژوندانه پورې معتبره ده مګر داچه په قرارداد کښې بل ډول ټاکلی شوي وي. سره له دي، هغه شرکت چه موده يې ټاکلي شوی نه وي نظر د هغه کار ماهيت ته چه د مصروفيت موضوع يې تشکيلوي د هغه د دوام موده د تحديد وړ وی نو دا شرکت د هغه کار تر پايه پورې د

شـرکـت قسماً و يا کلاً منتقل سازد. در صورت انتقال، در مقابل شرکاء و اشخاص ثالث تاثيری ندارد و مسئوليت ناشيه از اين عمل تنها به نقل دهنده راجع است.

**مادۀ ۱۵۱:**

شريکی که در ادارۀ شرکت مامور باشد، بدون رضا و موافقت شرکای ديگر نميتواند شخص ديگری را به صفت شريک در شرکت داخل و يا عوض خود در اداره منصوب نمايد.

**مادۀ ۱۵۲:**

اگر در قرارداد تشکيل شرکت برای سرمايه تاديه شده شرط تاديه تکت پولی موجود باشد، اين شرط معتبر است.

**مادۀ ۱۵۳:**

مدت شرکت تا حيات شرکاء معتبر شمرده ميشود، مگر اينکه در قرارداد طور ديگری تعيين گرديده باشد. معهذا، شرکتی که مدت آن غير معيين است، اگر نظر به ماهيت کاريکه موضوع اشتغال آنرا تشکيل ميدهد مدت دوام آن قابل تحديد باشد، شرکت مذکور تا انجام آن کار

اعتبار وړ بلل کیږي.

**۱۵۴ ماده:**

یو شریک که مدیر هم نه وي حق لري چه د شرکت د چارو له جریان او د هغه له مالي وضعیت څخه معلومات لاس ته راولي او داسي قرارداد چه دا حق ساقط کړي، معتبر نه دی.

**۱۵۵ ماده:**

د قرارداد د تبدیل او تعدیل په باره کښې تصویبونه د شریکانو د آراوو په اتفاق او د نورو چارو په تصویب کښې د شریکانو د آراوو زیاتوالي معتبر دي، مګر داچه په قرارداد کښې بل ډول مقرر شوی وی.

**۱۵۶ ماده:**

مدیر د شرکت د حسابي کال په پای کښې د بیلانس په اساس د ګټې او ضرر حسابونه ترتیبوي او له هغه سره سم د هر شریک برخه ټاکي.

**۱۵۷ ماده:**

یو شریک بی دشریکانو له اتفاق څخه د هغي برخي په پوره کولو چه د پانګې له تناقص څخه پدې پورې اړه لري نشي مجبورولي. مګر که په قرارداد کښې بل ډول مقرر شوی نه وي نو د شریکانو د پانګې د تناقص اندازه د راتلونکو

معتبر شمرده میشود.

**مادۀ ۱۵۴:**

یک شریک اگر مدیر هم نباشد، حق دارد که از جریان امور شرکت و وضعیت مالی آن معلومات بگیرد. قراردادیکه این حق را ساقط نماید، معتبر نیست.

**مادۀ ۱۵۵:**

تصویبات راجع به تبدیل و تعدیل قرارداد به اتفاق آراء شرکاء و در تصویب باقی امور اکثریت آراء شرکاء معتبر است، مگر اینکه در قرارداد طور دیگر مقرر شده باشد.

**مادۀ ۱۵۶:**

مدیر در انتهای سنه حسابیه شرکت به اساس بیلانس، حسابات نفع و ضرر را ترتیب و مطابق آن حصۀ هر شریک را تعیین مینماید.

**مادۀ ۱۵۷:**

یک شریک را نمی توان بدون اتفاق شرکاء به اکمال حصۀ که از تناقص سرمایه به او تعلق میگیرد مجبور نمود. ولی اگر در قرارداد طور دیگری مقرر نشده باشد، مقدار تناقص سرمایه شرکاء از مفاد سال های آتیه

کالو له ګټې څخه پوره کیدای شي.

**۱۵۸ ماده:**
شریک نشي کولای چه د هغه شرکت له تجارتي معاملو څخه کومه ځانګړې معامله چه دي يې غړی دي ( بې د شريکانو له موافقي څخه) په خپل يا د بل په حساب اجرا کړي.

په همدې صورت، په يوه بل داسي شرکت کښې چه کټ مټ په هم هغه تجارتي معامله بانديږ بوخت وي د مسئول غړي په صفت هم نشي داخليدای.

که د يوه نوي تأسيس شوي شرکت شريکان خبر شي چه يوشريک په شرکت کښې د مسئول غړي په حيث د داخليدو په وخت کښې په يو بل شرکت کښې شامل دي، په دي حال کښې که شريکان صراحتاً له بل شرکت څخه دده د غړيتوب د رابطي د قطع کيدو په خصوص کښې کوم تصويب ونکړي، داسي بلل کيږي چه په بل شرکت کښې دده اشتراک قبول شوي دی.

**۱۵۹ ماده:**
که يو شريک د (۱۵۸) مادې له حکم څخه چپ حرکت وکړي، شرکت کولای شي چه له دغه شريک څخه خساره

تکمیل شده میتواند.

**مادهٔ ۱۵۸:**
شریک نمیتواند معامله جداگانهٔ را از نوع معامله تجاریه شرکتی که عضو آنست (بدون موافقه شرکاء) به حساب خود و یا دیگری اجراء کند.

بهمین صورت، در شرکت دیگریکه به عین همان معامله تجارتی مشغول باشد، به صفت عضو مسئول نیز داخل شده نمیتواند.

اگر شرکای یک شرکت جدید التأسیس مطلع شوند که یکی از شرکاء در حین داخل شدن به شرکت بحیث عضو مسئول در یک شرکت دیگر شامل است، درین حال، اگر شرکاء صراحتاً راجع به قطع رابطه عضویت او از شرکت دیگر تصویبی نکنند، چنان محسوب میشود که اشتراک او در شرکت دیگر مورد قبول واقع شده است.

**مادهٔ ۱۵۹:**
اگر یک شریک مخالف حکم مادهٔ (۱۵۸) حرکت کند، شرکت میتواند که از شریک مذکور طلب خسارت کند

وغواړی او یا دخسارو په عوض هغه معاملي چه ددي شریک په خپل نامه یا د ثالثو کسانو په نامه اجرا کړی دي د شرکت په نامه حساب کړی. له دي دوو مطلبو څخه د یوه ترجیح د شریکانو په فیصله پورې اړه لري.

که شریکان په بل شرکت کښې د شریک له شراکت څخه له خبرېدو نه او یا دده د معاملاتو له انجامولونه شپږ میاشتي وروسته اعتراض ونکړی، د دوی د اعتراض حق ساقطیږی.

له پاس حق څخه استفاده د شرکت د انحلال په نسبت د مطالبې د حق نه مانع کیږي.

## درېیمه برخه
## له ثالثو کسانو سره د شریکانو مناسبات

۱۶۰ ماده:
تضامني شرکت د دریمو کسانو په مقابل کښې د ثبت او اعلان له نېټې څخه موجود بلل کیږي.

۱۶۱ ماده:
د شریکانو او د دریمو کسانو په مقابل کښې د شرکت د تمثیل حق په هغو کسانو پورې اړه لري چه د اداري واک لري، مګر دا چه په هغه قرارداد

و یا در عوض خسارات، معاملاتی را که شریک مذکور بنام خود و یا اشخاص ثالث اجراء کرده است، بنام شرکت حساب کند. ترجیح یکی ازین دو مطالب موقوف بر فیصله شرکاء است.

اگر شرکاء بعد از حصول اطلاع از شرکت شریک به شرکت دیگری و یا انجام معاملات او بعد از مرور ششماه اعتراض ننمایند، حق اعتراض شان ساقط میشود.

استفاده از حق فوق مانع حق مطالبه نسبت به انحلال شرکت نمیشود.

## حصهٔ سوم
## مناسبات شرکاء با اشخاص ثالث

مادهٔ ۱۶۰:
شرکت تضامنی در مقابل اشخاص ثالث از تاریخ ثبت و اعلان، موجود شمرده میشود.

مادهٔ ۱۶۱:
حق تمثیل شرکت به مقابل شرکاء و اشخاص ثالث متعلق به اشخاصی است که واجد صلاحیت اداره میباشند، مگر اینکه

چه ثبت او اعلان شویدي د دې قرار داد په خلاف دی.

## ۱۶۲ ماده:

هغه څوک چه د شرکت د تمثیل واک ولري کولای شي چه د شرکت په نامه هر ډول حقوقي معاملي اجراء کړي او د شرکت په نامه لاس لیک وکړي. هر شرط چه دا حق تحدید کړي، د دريمو کسانو (دښه نیت خاوندانو) په باره کښې معتبر نه دي. مګر که د شرکت په قرارداد کښې چه ثبت او اعلان شویدي د شرکت په نامه د متعددو شریکانو دلاس لیک اعتبار شرط ایښی شوي وي، دا شرط معتبر دي.

## ۱۶۳ ماده:

په هغو معاملاتو کښې چه د مدیرانو له خوا د شرکت په نامه شوي وي شرکت د پور وړي او پوروال صفت مومي. دا معاملي د شرکت په نامه که صراحتاً واقع شوي وي او که ضمناً کوم تو پیر نلري.

## ۱۶۴ ماده:

شریکان د شرکت د پورونو او تعهداتو په ګډه او له خپلو ټولو شتو سره مسئول دي. هغه شرط چه له دې اساس څخه مخالف وي، (د دريمو کسانو په مقابل کښې) معتبر نه دي.

در قراردادیکه ثبت و اعلان گردیده بر خلاف آن ذکر شده باشد.

## مادهٔ ۱۶۲:

شخصیکه صلاحیت تمثیل شرکت را داشته باشد، میتواند بنام شرکت هرگونه معاملات حقوقیه را اجراء و بنام شرکت امضاء نماید. هر شرطیکه این حق را تحدید نماید، دربارهٔ اشخاص ثالث (صاحب حسن نیت) معتبر نیست. لیکن اگر در قرارداد شرکت که ثبت و اعلان گردیده است اعتبار امضای شرکای متعدد بنام شرکت شرط گذاشته شده باشد، این شرط معتبر است.

## مادهٔ ۱۶۳:

در معاملاتیکه از طرف مدیران بنام شرکت به عمل آمده باشد، شرکت صفت دائن و مدیون را اکتساب مینماید. این معاملات بنام شرکت، چه صراحتاً واقع شده باشد و چه ضمناً، فرق ندارد.

## مادهٔ ۱۶۴:

شرکاء از دیون و تعهدات شرکت جمعاً و با تمام دارائی خود مسئول اند. و هر شرطیکه مخالف این اساس باشد، (به مقابل اشخاص ثالث) معتبر نیست.

**۱۶۵ ماده:**

د شرکت د پورونو او تعهداتو په نسبت دعوي اقامه کول لومړی په خپله په شرکت باندې کیږي او که شرکت منحل شوي وي او یا له قانونیه تعقیباتو څخه چه په شرکت باندې اجراء شوي وي کومه گټه وانه خیستله شي نو په شریکانو باندې هم دعوي کیږي. په عین حال کښې پوروال کولای شي چه د محکمې په ذریعه د شریکانو د شخصي مالونو د تر مراقبت لاندې نیولو ادعا وکړی.

**مادهٔ ۱۶۵:**

به نسبت دین و تعهدات شرکت اقامه دعوی اولاً بر علیه خود شرکت میشود، اگر شرکت منحل گردیده و یا از تعقیبات قانونی ایکه بر علیه شرکت اجراء شده باشد کدام ثمره حاصل نشود، بر علیه شرکاء هم اقامه دعوی میشود. در عین حال دائن میتواند ذریعه محکمه ادعای تحت مراقبت گرفتن اموال شخص شرکاء را بنماید.

**۱۶۶ ماده:**

کومه فیصله چه له خاصي محکمي څخه پر شرکت باندې صادره شي، د شریکانو په باره کښې به تطبیق نشي.

**مادهٔ ۱۶۶:**

فیصلهٔ که از محکمه خاص بر علیه شرکت صادر شود، دربارهٔ شرکاء تطبیق نخواهد شد.

**۱۶۷ ماده:**

د تضامني شرکت د تصفیي یا افلاس په صورت د شرکت پوروالاد خپلو حقوقو په اخیستلو کښې د شریکانو له شخصي پوروالاوو څخه وړاندې دي.

**مادهٔ ۱۶۷:**

در صورت تصفیه و یا افلاس شرکت تضامنی دائنین شرکت در اخذ حقوق خود از دائنین شخصی شرکاء مقدم میباشند.

**۱۶۸ ماده:**

د شرکت افلاس د شریکانو د افلاس موجب نه کیږي مگر په هغه صورت چه د مفلس شرکت شته د شرکت د پوروالاوو طلبات پوره نکړی، پور والا کولای شي چه خپل پاتي طلبات له

**مادهٔ ۱۶۸:**

افلاس شرکت موجب افلاس شرکاء محسوب نمیشود لیکن در صورتیکه دارائی شرکت مفلس طلبات دائنین شرکت را کفایت نکند، دائنین میتوانند باقی طلبات خود را از

شــريكانو څخــه و غــواړي، او كــه د شريكانو شته هم د پوروالاوو طلبات پوره نکړي، محكمه كولاى شي چه د شريكانو په افلاس حکم صادر کړي.

د شخصي پوروالاوو په منځ کښې هغه كسان چه قانوناً د ترجيح حق لري، د شريكانو له شتو څخه په ګټه اخيستلو کښې هم وړاندې دي.

**۱۶۹ ماده:**
شريكان د خپلې پانګې له بابته نشي كولاى چه د مفلس شركت له شتو څخه ګټه واخلي مګر كولاى شي چه خپل نور طلبات لکه د شرکت د پوروالا دغه ټول له شرکت څخه وغواړي.

**۱۷۰ ماده:**
د شــركـــت پــور وړى شــخص نشــي كـولاى چــه خپــل پــور پـــه هغــه پور کښې چــه پـــه يـــوه شريــک بانـــدې يـــې لــري مجـرا كـړي. همـدا ډول يـو شريک داهـم نـشـي كـولاى چه هغـه پور چه په شركت يې لري، د شركت پـه پور وړى مجرا کړي.

مګـر د شـركت پــوروالا كــه د (۱۶۵- ۱۶۸) مـــادو په حکم له شركت څخه پور وانه خيستلاي شـــي او شريكانو ته مراجعت وکړي نو هغه شريک چه دده

شــركاء مطالبــه كننــد ، و اگــر دارائــى شــركاء نيــز طلبــات دائنــين را كفايــت نكنــد ، محكمــه ميتوانــد حكــم بــر افلاس شركاء صادر نمايد.

در بـــين دائنـــــين شـــــخصى كـــسانيكه قانونــاً حـــق ترجيحــى دارنـد ، در استفاده از دارائـى شـركاء هم مقدم ميباشند.

**مادهٔ ۱۶۹:**
شـــركاء از بابـــت ســـرمايه خـــود نميتواننـد از دارائـى شـركت مفلـس اســتفاده كنـــند ، ولـــى ميتواننــد طلبــات ديگـر خـود را مثـل دائنـين شركت مطالبه نمايند.

**مادهٔ ۱۷۰:**
شـخص مديـون شركـت نميـتوانـد ديـن خـود را بـا طلبـى كـه بـالاى يكــى از شـركاء دارد ، مجـرا كنـد . همچنين، يـكى از شركاء هم نميتواند كـه ديـن خـود را كـه در نـزد شـركت دارد با طلبى كه در نزد مديون شركت داراست، مجرا نمايد.

لـيكن دائـن شركت اگـر بموجب مـواد (۱۶۵- ۱۶۸) از شركت به استحصال طلب موفق نگردد و به شركاء مراجعت كند ، شريكى كـه طـرف مطالبـه دائـن

پور په هغه باندې اوړی نو که په همدغه پور والایې پور درلود، نو ممکن دي چه دده پور د شرکت په مقابل کښې په شریک مجرا کړي شي.

## څلورمه برخه

## د انحلال، تجزيي، د شريکا نو ايستلو او په بل شرکت پورې تړلو په باره کښې

**۱۷۱ ماده:**

تضامني شرکت په لاندې صورت منحل کیږي:

۱- د شرکت د مودې له پای ته رسيدلو سره.

۲- د شریکانو په اتفاق (پدې صورت چه په قرارداد کښې د آراوو په زياتوالي تصريح نه وي شوي).

۳- د محکمي له خوا د افلاس د اعلان په صورت او يا په افلاس کښې د پوروالاوو او شريکانو په توافق.

۴- د هغو محققو او مهمو اسبابو له مخې چه د یوه یا څو تنو له خوايي ادعا شوي وي د محکمي د حکم په موجب.

۵- د شرکت د موضوع پای ته

واقع میشود اگر از دائن مذکور طلبی داشته باشد، ممکن است دین او در مقابل شرکت به مدیونینش در برابر شریک محسوب و مجرا شود.

## حصهٔ چهارم

## راجع به انحلال، تجزیه، اخراج شرکاء و الحاق به شرکت دیگر

**مادهٔ ۱۷۱:**

شرکت تضامنی بصورت های ذیل منحل میشود:

۱- با ختم مدت شرکت.

۲- باتفاق شرکاء (در صورتیکه در قرارداد به اکثریت آراء تصریح نشده باشد).

۳- در صورت اعلان افلاس از طرف محکمه و یا توافق دائنین و شرکاء در افلاس.

۴- بموجب قرار محمکه مبنی بر اسباب محققه و مهمه که از طرف یک و یا چند نفر شرکاء ادعاء شده باشد.

۵- با انجام یافتن

په رسیدلو.

۶- د یوه شریک له خوا د شرکت د انحلال په اعلام چه هغه تاکلي واک ولري او په مقاوله کښې داخل وي.

۷- په هغو شرکتو کښې چه موده یې نه وي ټاکلي شوي دیوه شریک له خوا د شرکت د انحلال په اعلام.

۸- د شرکت د پانګې د دوو ثلثو د ضیاع په صورت (په دي حال کښې چه شریکان د پانګې په پوره کولو او یا په هغه پاتي پانګه باندي جوړښت سره ونکړي).

۹- په بل شرکت ورګډول.

**۱۷۲ ماده:**
وروسته د شرکت له انحلال څخه مدیران نشي کولای چه د منحل شوي شرکت په نامه معامله او حساب اجراء کړي او که یې اجراء کړي، کوم مسئولیت چه ورڅخه پیدا کیږي، په غیر محدود ډول د شرکت مدیرانو ته راجع کیږي.

ترهغه وخته پورې چه د انحلال کیفیت اصولاً ثبت او اعلان نشي، د ټولو شریکانو مسئولیت د دریمو کسانو په

موضوع شرکت.

۶- با اعلام انحلال شرکت از طرف یکی از شرکاء مستند بصلاحیت معیین که در مقاوله شرکت مندرج باشد.

۷- در شرکتهایی که مدت آن غیر معیین است با اعلام انحلال شرکت از طرف یکی از شرکاء.

۸- در صورت ضیاع دو ثلث سرمایه شرکت (در حالیکه از طرف شرکاء به اکمال سرمایه و یا اکتفاء به سرمایه متباقیه تصمیم اتخاذ نشود).

۹- الحاق به شرکت دیگر.

**مادهٔ ۱۷۲:**
بعد از انحلال شرکت مدیران نمیتوانند بنام و حساب شرکت منحل شده اجرای معامله کنند اگر اجرا کنند، مسئولیت متولده از آن بطور غیر محدود به مدیران شرکت راجع میشود.

تا زمانیکه کیفیت انحلال اصولاً ثبت و اعلان نشود، مسئولیت کافهٔ شرکاء در مقابل اشخاص

مقابل کښې پاتې دي.

**۱۷۳ ماده:**
که د شرکت په قرارداد کې داسې شرط وي چه يو يا څو د انحلال موجبه علتونه بې اثره وبولي، معتبر دي مګر که بې له تعين څخه يې په مطلق ډول د انحلال علتونه او اسباب بې اثره بللي وي، اعتبار نلري.

**۱۷۴ ماده:**
په هغو شرکتو کښې چه د غير ټاکلې مودې لـه مخې تأسيس شوي وي هر شريک کولای شي چه د معاملې د کال له پای ته رسيدلو څخه لږ ترلږه (۶) مياشتې پخوا شريکانو ته د اطلاع په ذريعه چه د ثبت د څانګې په لار صادريږی خبر ورکړی او شرکت منحل کړی.

**۱۷۵ ماده:**
په هغو شرکتو کښې چه موده يې ټاکلې يا غير ټاکلې وي محکمه کولای شي چه ديوه شريک په غوښتنه د محققه اسباب په واسطه سره د شرکت په انحلال باندې حکم و کړی.

محققه اسباب چه د شرکت د انحلال موجب کيږي په لاندې ډول دی:

۱- د ځينو علتو د پيښيدو په واسطه

ثالث باقی است.

**مادهٔ ۱۷۳:**
اگر در قرارداد شرکت شرطی باشد که يک يا چند علل موجب انحلال را بی اثر بداند، معتبر است ولی اگر بدون تعيين بطور مطلق علل و اسباب انحلال را بی اثر دانسته باشد، اعتبار ندارد.

**مادهٔ ۱۷۴:**
در شرکت هاييکه برای مدت غير معيينه تأسيس شده باشند، هر شريک ميتواند که اقلاً ششماه قبل از ختم سال معامله، شرکاء را به ذريعه اطلاعيهٔ که توسط شعبه ثبت صادر ميشود اطلاع داده و شرکت را منحل کند.

**مادهٔ ۱۷۵:**
در شرکتهائيکه مدت آنها معيين يا غير معيين باشد، مطابق خواهش يک شريک بواسطه اسباب محققه، محکمه ميتواند به انحلال شرکت قرار دهد.

اسباب محققهٔ که موجب انحلال شرکت ميگردد، قرار ذيل است:

۱- عدم امکان وصول به مقصد

د شرکت د مقصد نه حاصلېدل.

شرکت بنابر پیش آمدن بعضی علل.

۲- د یوه شرکت خیانت که په اداري چارو کښې وي او که د حسابونو په تنظیم کښې.

۲- خیانت یک شریک چه در امور اداره و چه در تنظیم حسابات.

۳- د هغو اصلي وظیفو عدم اجراء چه یوه شرکت ته سپارلي شوي وي.

۳- عدم ایفای وظایف اصلی که به یک شریک تفویض شده است.

۴- د شخصي ګټې دپاره د یوه شریک له خوا د شرکت د عنوان یا مالونو بد استعمالول.

۴- سؤ استعمال عنوان و یا اموال شرکت از طرف یک شریک برای منافع شخصی.

۵- په هغه صورت چه د ناروغۍ یا بل علت په اثر یو شریک د شرکت د چارو په اجراء کښې قابلیت او اهلیت ونه لري.

۵- عدم قابلیت و اهلیت یک شریک در اثر مرض دائمی و یا علل دیگری در اجرای امور شرکت.

**۱۷۶ ماده:**

لپاره ددې چه د پانګې ورکولو د تعهد د نه په ځای کېدو په نسبت د انحلال تقاضا واوریدله شي، لازمه ده هغه شریک ته چه دا وظیفه یې نه ده په ځای کړې پخوا اخطار ورلیږلي شوي وي.

**مادهٔ ۱۷۶:**

برای اینکه تقاضای انحلال به نسبت عدم ایفای تعهد تادیه سرمایه مسموع شده بتواند، لازم است به شریکی که این وظیفه را ایفا نکرده قبلاً اخطار فرستاده شده باشد.

**۱۷۷ ماده:**

هغه شرکت چه موده یې ټاکلي او یا د یوه شریک تر ژوند پورې محدود وي، وروسته د شریک له مرګه یا د ټاکلي مودې له تیریدونه، پدې صورت چه معاملې ادامه ولري، د یوې غیر ټاکلي

**مادهٔ ۱۷۷:**

شرکتی که مدت آن معیین و یا با حیات یک شریک محدود باشد، بعد از فوت شریک و یا انقضاء مدت معیین، در صورتیکه معاملات ادامه یافته باشد، برای مدت غیر معیینی

مودې د پاره متشکل ګڼل کیږي.

**۱۷۸ ماده:**
که په مقاوله کښې دا شرط داخل وي چه د یوه شریک د مرګ یا افلاس او یا محجوریت په صورت شرکت منحل ګڼل کیږي، د مړی وارث یا قانوني قایم مقام دي د مفلس شته او د محجور قانوني وکیل دي بې له ځنډه واقعه شریکانو ته تبلیغ کړی.

که دکارو په ځنډولو کښې خطر موجود وي نو د شرکت د چارو قانوني واک لرونکي دي ترهغه وخته پورې چه شریکان په اتفاق سره تصویب وکوي د شرکت د چارو اداري ته ادامه ورکړی.

په همدې صورت هر شریک مجبور دي هغه چاري چه دوي ته سپارلي شویدي موقتاً اجراء کړی. پدې صورت تر هغې مودې پورې چه مؤقتي اداره دوام وکړی، شرکت موجود بلل کیږي.

**۱۷۹ ماده:**
که د یوه شریک د مړینې په صورت کښې د شرکت د دوام په خصوص کښې د مړه له ورثي سره په قرارداد کښې صراحت نه وي نو شریکان کولای شي چه د مړه د ورثي په اتفاق د شرکت د کار ادامه تصویب کړی. که ورثه د

متشکل محسوب میشود.

**مادهٔ ۱۷۸:**
اگر در مقاوله مندرج باشد که در صورت وفات یا افلاس و یا محجوریت یکی از شرکاء شرکت منحل شمرده میشود، وارث متوفی و یا قایم مقام قانونی دارائی مفلس و یا وکیل قانونی محجور بلا تأخیر باید واقعه را به شرکاء تبلیغ کند.

اگر در تأخیر کار ها خطری موجود باشد، متصدیان قانونی امور شرکت تا وقتیکه شرکاء متفقاً تصویب اتخاذ می نمایند با ادارهٔ امور شرکت ادامه دهند.

به همین صورت، هر یک از شرکاء مجبور اند اموری را که به آنها سپرده شده موقتاً اجراء نمایند. درین صورت تا مدتیکه ادارهٔ مؤقتی دوام کند، شرکت موجود شمرده میشود.

**مادهٔ ۱۷۹:**
در صورت وفات یک شریک اگر راجع به دوام شرکت با ورثه متوفی در قرارداد صراحت نباشد، شرکاء میتوانند به اتفاق ورثه متوفی ادامه کار شرکت را تصویب کنند. اگر ورثه از اشتراک آن صرف

هغه له اشتراک څخه تیر شي، نور شریکان کولای شي چه د هغو پانگه او حقوق اداء او شرکت ته ادامه ورکړي.

**۱۸۰ ماده:**
که د یوه شریک د مړینې په صورت کښې د مړه د وارثانو او نورو شریکانو په منځ کښې په قرارداد کښې د شرکت دوام تصریح شوی وي نو ورثه په شرکت کښې د تضامني شریک په صفت په خپل دوام او نه دوام کښې مختار دي او که خپل اشتراک په شرکت کښې قبول کړي، نور شریکان د هغه په قبلولو مجبوردي.

مگر که د مړه ورثه په شرکت کښې د تضامني شریک په صفت په خپلو داخلیدو موافقت ونکړي، دا غوښتنه کولي شی چه د خپل مورث د پانگې او حقوقو په اندازه د محدود المسئولیت شریک په صفت قبول شي. ددې د غوښتنې په منلو او نه منلو کښې نور شریکان آزاد دي.

**۱۸۱ ماده:**
دمړه ورثه مجبور دي چه د وفات له نېټې څخه تر یوې میاشتې پورې په شرکت کښې د تضامني شریک په صفت خپل شمول او نه شمول څرگند کړي. پدې موده کښې ورثه په شرکت

نظر نمایند، دیگر شرکاء میتوانند سرمایه و حقوق آنها را پرداخته به ادامه شرکت بپردازند.

**مادهٔ ۱۸۰:**
در صورت وفات یک شریک اگر دوام شرکت بین وارثین متوفی و سایر شرکاء در قرارداد تصریح شده باشد، ورثه به دوام و عدم دوام خود به صفت شریک تضامنی در شرکت مختار اند و اگر اشتراک خود را به شرکت قبول کنند، شرکاء دیگر به قبول آن مجبورند.

لیکن اگر ورثه متوفی بودن خود را بصفت شریک تضامنی در شرکت موافقه ننمایند، میتوانند خواهش نمایند تا به اندازه سرمایه و حقوق مورث خود بصفت شریک محدود المسئولیت قبول شوند. در قبول و رد این خواهش شرکاء دیگر آزاد هستند.

**مادهٔ ۱۸۱:**
ورثه متوفی مجبورند در ظرف یکماه از تاریخ وفات شمول و عدم شمول خود را به صفت شریک تضامنی در شرکت اظهار نمایند. در ظرف مدت مذکور ورثه به صفت

کنبې د محدودالمسئولیت شریک په صفت پیژندل کیږي.

که ددې مودې له پای ته رسیدو نه وروسته ورثه د محدودالمسئولیت شریک په صفت شامل شوي نه وي نو د تضامني شریک په صفت پیژندل کیږي.

د مړه د صغیرانو په نسبت، که په قرارداد کښې مقرر شوي وي که نه، د تضامني شریک په صفت نه پیژندل کیږي مګر د صغیر د ولي یا وصي په غوښتنه که نور شریکان یې قبوله کړي، د محدود المسئولیت شریک په صفت شاملیږي.

۱۸۲ ماده:

د یوه شریک د محجوریت په حال کښې هم له (۱۷۹ تر ۱۸۱) مادو پورې احکام تطبیقیږي.

۱۸۳ ماده:

د یوه شریک د افلاس په حال کښې (پدې صورت چه د شرکت په قرارداد کښې په بل صورت نه وي مقرر شوي) مفلس شریک له شرکت څخه ایستل کیږي او په دې ډول د مفلس یا دده د قانوني وکیل د حقوقو په خصوص کښې فیصله کیږي.

شریک محدود المسئولیت در شرکت شناخته میشود.

اگر بعد از ختم این مدت ورثه بصفت شریک محدود المسئولیت شامل نشده باشند، به صفت شریک شناخته میشوند.

نسبت به ورثه صغار متوفی چه در قرارداد مقرر شده باشد یا نباشد، بصفت شریک تضامنی شناخته نمیشود. اما در صورت مطالبه ولی و یا وصی صغیر، اگر شرکاء دیگر قبول کنند، بصفت شریک محدود المسئولیت شامل میشوند.

مادۀ ۱۸۲:

در حال محجوریت یکی از شرکاء هم احکام مواد (۱۷۹ الی ۱۸۱) تطبیق میشود.

مادۀ ۱۸۳:

در حال افلاس یکی از شرکاء (در صورتیکه در قرارداد شرکت طور دیگری مقرر نشده باشد) شریک مفلس از شرکت اخراج میگردد و درین صورت راجع به حقوق مفلس یا وکیل قانونی او تسویه میشود.

**۱۸۴ ماده:**

که د هغو علتو په نسبت چه په یوه ځانګړي شریک پورې اړه لري د شرکت د انحلال تقاضا شوي وي، د نورو شریکانو د غوښتنې په اثر محکمه کولای شي چه وروسته له تدقیق نه ددې شریک په ایستلو او د شرکت په دوام حکم صادر کړي.

**مادهٔ ۱۸۴:**

اگر به نسبت عللی که متعلق به شخص یک شریک باشد انحلال شرکت تقاضا شده باشد، در اثر خواهش شرکاء دیگر محکمه میتواند پس از تدقیق به اخراج شریک مذکور و دوام شرکت قرار خود را صادر نماید.

**۱۸۵ ماده:**

که یو شریک دداسي شرکت چه موده یې ټاکلي شوي نه وي د انحلال تقاضا وکړي، نور شریکان کولای شي چه انحلال قبول نکړي او هغه شریک وباسي او شرکت ته په خپل منځ کښې دوام ورکړي.

**مادهٔ ۱۸۵:**

اگر یکی از شرکاء انحلال شرکتی را که مدت آن غیر معیین است تقاضا نماید شرکای دیگر میتوانند انحلال را قبول نکرده، آن شریک را اخراج و شرکت را بین خود ادامه بدهند.

**۱۸۶ ماده:**

په هغو شرکتو کښې چه موده یې ټاکلي وي که شریک د هغو حقوقو په استناد چه د (۱۷۵) مادې په حکم یې لري د شرکت انحلال د ثبت د دائري په ذریعه شریکانو ته اعلان کړي، د (۱۷۹) مادې احکام هم په دي خصوص کښې تطبیق کیږي.

**مادهٔ ۱۸۶:**

در شرکت هائیکه مدت آن معیین است اگر یک شریک باستناد حقوقیکه بموجب مادهٔ (۱۷۵) دارد، انحلال شرکت را توسط دایرهٔ ثبت به شرکاء اعلام کند، احکام مادهٔ (۱۷۹) درین مورد نیز تطبیق میشود.

**۱۸۷ ماده:**

که شرکت له دوو تنوڅخه جوړوی او یوتن وایستل شي محکمه کولای شي چه د پاتي شریک په غوښتنه د موجبه

**مادهٔ ۱۸۷:**

اگر شرکت متشکل از دو نفر باشد و یکنفر اخراج گردد، محکمه میتواند بموجب خواهش شریک باقیمانده

اسبابو له مخ ئي د انحلال له حکم او يا د ټولي دارائي او پورونو له تصفيي شرکت پاتي شريک ته تخصيص کړی په دي صورت د هغه شريک په باره کښي چه ايستل شوي دي د (۱۹۰) مادې احکام تطبيقيږي.

**۱۸۸ ماده:**

که په يوه شرکت کښي چه له دوو تنو څخه جوړ وي ديوه شريک شخصي پوروال دداسي انحلال حق چه د (۱۹۵) مادې له مخې يې لري استعمال کړی او يا يو شريک افلاس وکړي، بل شريک کولای شي چه د (۱۸۷) مادې د اجازي په حدود کښي د شرکت چارو او معاملاتو ته په خپل حساب دوام ورکړی.

**۱۸۹ ماده:**

که د شرکت د انحلال سبب پرته له افلاس څخه په بل سبب وي نو ټول شريکان مکلف دي چه د (۱۷۴) مادې په حکم د شرکت د انحلال ټول کيفيت ثبت او اعلان کړی. دا حکم له شرکت څخه ديوه شريک دو تلو په صورت کښي هم د اعتبار وړ دي.

که د شرکت انحلال يا د شريک وتل له وفات څخه پيښ شوي وي نو دا مراسم د ټولو شريکانو له خوا د مړه د ورثي

مستند به اسباب موجبه بدون حکم انحلال و يا تصفيه تمام دارائی و ديون، شرکت را به شريک باقيمانده تخصيص بدهد. درين صورت دربارهٔ شريکی که خارج شده احکام مادهٔ (۱۹۰) تطبيق ميگردد.

**مادهٔ ۱۸۸:**

اگر در يک شرکتی که مرکب از دو نفر باشد دائن شخصی يکی از شرکاء حق انحلال را که بموجب مادهٔ (۱۹۵) حايز است استعمال کند و يا يکی از شرکاء افلاس نمايد شريک ديگر ميتواند در حدود اجازهٔ مادهٔ (۱۸۷) امور و معاملات شرکت را به حساب خود ادامه بدهد.

**مادهٔ ۱۸۹:**

اگر انحلال شرکت بنا بر سببی غير از افلاس باشد، تمام شرکاء مکلف اند که بموجب مادهٔ (۱۷۴) کيفيت انحلال شرکت را ثبت و اعلان کنند. اين حکم در صورت خارج شدن يک شريک از شرکت هم معتبر است.

اگر انحلال شرکت و يا خروج شريک ناشی از وفات باشد، مراسم مذکور از طرف تمام شرکاء با اشتراک ورثه

په ګډون اجراء کیږي.

**۱۹۰ ماده:**
د هغه شریک برخه چه له شرکت څخه ایستل کیږي یا دي په خپله وزي، که په خلاف د هغه په مقاوله کښې کوم صراحت موجود نه وي نو له هغي نېټې څخه چه دایستلو تقاضا وشي، د شرکت له شتو څخه ټاکله کیږي.

**۱۹۱ ماده:**
په هغه صورت چه د (۱۹۰) مادې په حکم دیوه شریک برخه وټاکله شي نو وجه نقده ورکوله کیږي.

**۱۹۲ ماده:**
د هغه شریک برخه چه ایستل کیږي او یا پخپله د وتلو غوښتنه کوي که په قرارداد کښې برابر والي ټاکلي وي، په همغه وخت کښې او که ټاکلي نه وي نو د هغه لمړی بیلانس د ترتیب په وخت کښې چه د شریک له وتلو څخه وروسته جوړیږي، تصفیه کیږي.

**۱۹۳ ماده:**
هغه شریک چه ایستل کیږي او یا په خپله وزي، په هغو حقوقو او تکالیفو کښې چه دده له وتلو څخه پخوا معاملاتو نه منځ ته راوزي ګډون کوي مګر نشي کولای د هغو

متوفی اجراء میشود.

**مادهٔ ۱۹۰:**
حصهٔ شریکی که از شرکت اخراج میگردد و یا خود خارج میشود، اگر بر خلاف آن در مقاوله صراحتی موجود نباشد، از تاریخیکه تقاضای اخراج بعمل می آید، از دارائی شرکت تعیین میشود.

**مادهٔ ۱۹۱:**
در صورتیکه بموجب مادهٔ (۱۹۰) حصهٔ شریکی معیین شود، وجه نقد تادیه میگردد.

**مادهٔ ۱۹۲:**
حصهٔ شریکی که اخراج میگردد و یا خود طلب خروج میکنند اگر وقت تسویه در قرارداد معیین باشد، در همان وقت و اگر معیین نباشد در وقت ترتیب اولین بیلانس که بعد از خروج شریک بعمل می آید، تصفیه میگردد.

**مادهٔ ۱۹۳:**
شریکی که اخراج میگردد و یا خود خارج میشود، به حقوق و تکالیفی که از معاملات قبل از خروج بوجود می آید اشتراک میکنند ولی نمیتواند اجرای

معـاملاتو چـه پخـوا تثبیـت شـوي او شـریکانو د هغـو پـه اکمـال تصـویب کړیدي، د اجراء مانع شي.

کـه تصـفیه ژر تـر ژره ممکنـه نـه وي، د حسابي کال په پای کښې کولای شي د هغو چارو حسابونه چه د کـال پـه منځ کښـې پـای تـه رسیدلي دي، وغـواړي. همدارنګـه کـولای شـي چـه د جـاري معـاملاتو د وضـعیت پـه بـاره کښـې د حسابي کال پـه پـای کښـې لـه شریکانو څخه معلومات واخلي.

**۱۹۴ ماده:**
له شرکت څخـه د یـوه شریک ایسـتل او یا وتل د دریمو کسانو پـه مقابـل کښـې د ثبت او اعلان له نېټې څخه د اعتبـار وړ دي او د ثبت او اعلان له نېټې څخه پخوا د هغو مسئولیت د دریمو کسـانو په مقابل کښې پاتي دي.

**۱۹۵ ماده:**
د یـوه شـریک شخصـي پـوروال پـه دي صورت چه دده له شخصي مـالونو څخه خپل پور پوره نشي کړاي، کولای شي چـه د تصـفیي پـه وخـت کښـې د خپـل پـوروړي شـریک برخـه د محکمـي پـه ذریعـه تـر مراقبـت لانـدې ونیسـي او د شـرکت انحـلال (پـه دي شـرط چـه (۶) میاشـتي پخـوا یـې خبـر ورکـړی وي) د

مـعـاملاتـــی را کـــه قبـــلاً بـــان تـثبیـت شـده و شـرکاء بـه اکمـال آن تصویب کرده اند، مانع شود.

اگـــر تصـفیه امـور فـوراً ممکـن نباشـــد، در اخیـر سـنه حسـابیه میتوانـــد حسـابات امـور را کـه در ظـرف سـال ختم شـده، طلـب کنـد. همـــچنیـــن میـــتواند دربـــارهٔ وضـعیت معـاملات جـاریـه در ختـم سنـه حسـابیـه از شـرکاء کسـب معلومات نماید.

**مادهٔ ۱۹۴:**
اخـــراج و یـا خـروج یـک شـریک از شـرکت در مقابـل اشـخاص ثالـث از تاریخ ثـبت و اعـلان معـتبر است و قـبـل از تـــاریخ ثبـت و اعـــلان مسـئولیت آن در مـقـابـل اشـخـاص ثـالث بـاقی است.

**مادهٔ ۱۹۵:**
دائـــن شخصـــی یـــک شـــریک در صورتیکـــه از امـــوال شخصـــی مدیـــون استحصـال حـق نتـواند، میتوانـد عنـدالتصفیه، حصهٔ شریک مـدیون را ذریـعه محکمـــه تحـت مراقبـت گرفتـه و انحـلال شـرکت را (مشروط بر اینکه ششـماه قبل اخبـار نموده باشد) در اخیر سـنه حسـابیه

حسابي کال په پای کښې وغواړي.

پخوا له هغه چه د انحلال په خصوص کښې حکم صادر شي، شرکت یا نور شریکان کولي شي چه د پوروال حق ورکړي او د انحلال حکم ساقط کړي.

**۱۹۶ ماده:**
که د یوه شریک شخصي پوروال له (۱۹۵) مادې سره سم د انحلال حق استعمال کړي، نور شریکان کولای شي چه د شرکت د دوام په خصوص کښې د پوروړي شریک په ایستلو تصمیم ونیسي او پوروال ته خبر ورکړي.

پدې صورت کښې پوروړي شریک د حسابي کال په پای کښې ایستل کیږي.

**۱۹۷ ماده:**
دوه شرکتونه یا څو تضامني شرکتونه کولي شي چه یو له بله سره گډ شي او یو نوي تضامني شرکت جوړ کړی او یا په موجود یوه تضامني شرکت ورگډ شي.

**۱۹۸ ماده:**
د تضامني شرکتونو د پیوستون دپاره باید د مربوطو شرکتونو له خوا ځانگړی تصویبونه وشي او ثبت او اعلان شي.

تقاضا نماید.

قبل از آنکه دربارهٔ انحلال حکم صادر شود، شرکت و یا سائر شرکاء میتوانند حق دائن را اداء کرده حکم انحلال را ساقط نمایند.

**مادهٔ ۱۹۶:**
اگر دائن شخصی یک شریک مطابق مادهٔ (۱۹۵) حق انحلال را استعمال بکنند، شرکاء دیگر میتوانند به اخراج شریک مدیون راجع به دوام شرکت تصمیم گرفته به دائن ابلاغ نمایند.

درین صورت، شریک مدیون در اخیر سال حسابیه از شرکت اخراج میشود.

**مادهٔ ۱۹۷:**
دو شرکت و یا شرکتهای متعدد تضامنی میتوانند با یک دیگر ملحق و یک شرکت جدید تضامنی تشکیل کنند و یا به یک شرکت تضامنی موجود ملحق گردند.

**مادهٔ ۱۹۸:**
برای الحاق شرکتهای تضامنی باید تصاویب جداگانه از طرف شرکتهای مربوطه بعمل آمده وثبت و اعلان گردد.

۱۹۹ ماده:
هـر یـو لـه ګـډه شـویو شـرکتو څخـه مجبور دي چه خپل بیلانس په یو شکل ترتیـب او اعـلان کـړي او پـه عـین حـال کښې هغه ترتیب چه د پورونو ورکولو د پاره یي نیسي، تصویب او له بیلانس سره یي ضمیمه کړي.

مادهٔ ۱۹۹:
هـر یکـی از شـرکتهای ملحقـه مجبـور انـــد بـــیلانس خـــود را بصـــورت متحدالشـکل ترتیـب و اعـلان کننـد و درعـین حـال ترتیبی را کـه بـرای تادیـه دیـون اتخـاذ مینمایند، تصـویب و بـا بیلانس ضمیمه نمایند.

۲۰۰ ماده:
هغـــه تصویـــب چـــه د ګـــډون پـــه خصـوص کښې کیـږي، د اعـلان لـه نېټـې څخـــه تـــر دریـــو میاشتـــو وروسته د اعـتبار وړ کیږي.

مادهٔ ۲۰۰:
تصـویـــبـی کـه راجـع بـــه الـحـاق بـــه عـمـــل میآیـــد، از تـاریـــخ اعـــلان تـــا ســـه مـــاه بـعـد نـافـذ میګردد.

کـه ګـډ شـوي شـرکتو نـه خپـل پورونـه ورکړي او یا هغه مبلغ چـه د دوی لـــه پـورونـو سره بـرا بـروي یـوه معتبـر بانک ته وسپـاري او یـا د پورو خاوندان د شـرکتونو پـه ګـډون راضـي شـي نـو لازمـه نـده چـه درې میاشـتي انتظـار وایستل شي.

اگر شـــرکت های ملحقه دیون خود را تادیـه یـا مبلغـی را کـه معـادل دیـون شـــان بـــاشد بـه یـــک بـــانـــک معتبری تـــودیع کنند و یـا دائنیـــن بـه الحـاق شـــرکتها راضـی شـوند، لازم نیست کــه مدت سه ماه انتظار کشیده شود.

هغه رسید چه د پورونـو د معـادل مبلـغ په مقابل کښې لـه بانک څخـه اخیستـل کیـږي هم بایـد ثبت او اعـلان شـي. د ګډو شـرکتونو هـر یـو پـوروال د دریـو میاشـتو پـه مـوده کښـې د الحـاق پـه خصـوص کښـې پـه مربـوطی محکمـي کښـې اعتـراض کـولای شـي او ترهغـه وخته پورې چه د اعتراض لـه حق څخه

رســـید یکـــه در مقابل مبالغ معـادل دیـون از بانک اخذ میشـود نیـز بایـد ثبـــت و اعـلان گـردد. هـر یکـی از دائنیـــن شـــرکت هـای ملحقـه در ظرف سه ماه در خصـوص الحـاق بـه محکمـــه مربوطـــه اعتـــراض کـــرده میـــتواند و تـــا زمانیکـــه از حـق اعتـراض صـرف نظـر نکننـد و یـا

تیر نشي او یا د معترض پورروال په خصوص کښې د محکمې قطعي حکم صادر نشي، الحاق به عملي نشي.

**۲۰۱ ماده:**
که په هغې مودې کښې چه په (۲۰۰) ماده کښې تاکلي شوي ده اعتراض واقع نشي، د الحاق معامله قطعیت مومي. هغه شرکت چه باقي پاتي کیږي او یا نوي تشکیلیږي، د پخواني شرکت قایم مقام دي ټول حقوق او پورونه به هغه ته نقلیږي.

که د شرکتو له ګډون څخه نوي شرکت جوړ شوي وي، د هغه ثبت او اعلان ضروري دی.

**پنځمه برخه**
**د تضامني شرکتو تصفیه**

**۲۰۲ماده:**
که د تصفیې په خصوص کښې د شرکت په قرارداد کښې کوم صراحت موجود نه وي، ددې برخې له احکامو سره سم تصفیه کیږي.

**۲۰۳ ماده:**
د یوه تضامني شرکت تصفیه د تصفیې په هغو مامورینو پورې اړه لري چه د هغو انتخابات په لاندنیو موادو کښې ښوولي شوي دي.

قرار محکمه دربارۀ دائن معترض کسب قطعیت ننماید، الحاق صورت نخواهد گرفت.

**مادۀ ۲۰۱:**
اگر در ظرف مدتیکه در مادۀ (۲۰۰) تعیین شده است اعتراض واقع نشود، معامله الحاق کسب قطعیت مینماید. شرکتی که باقی میماند و یا جدید تشکیل میشود، قایم مقام شرکت سابق بوده، کافه حقوق و دیون به آن انتقال می یابد.

اگر از الحاق شرکتها شرکت جدیدی بوجود آمده باشد، ثبت و اعلان آن ضروری است.

**حصۀ پنجم**
**تصفیه شرکتهای تضامنی**

**مادۀ ۲۰۲:**
اگر در قرارداد شرکت راجع به تصفیه صراحتی موجود نباشد، تصفیه مطابق احکام این قسمت بعمل می آید.

**مادۀ ۲۰۳:**
تصفیه یک شرکت تضامنی عاید به مامورین تصفیه است که صورت انتخابات آنها در مواد آتیه نشان داده شده است.

**۲۰۴ ماده:**

د تصفيي مامورين ممکن دي چه له پخوا څخه د شريکانو له خوا انتخاب او د شرکت په قرارداد کښې درج شي يا وروسته په تصويب سره انتخاب شي. په همدې شان وروسته له انحلال څخه هم د شريکانو د اتفاق له مخې کولای شي چه وټاکلي شي، او غير له دې نه ټول شريکان او يا د دوی قانوني وکيلان په تصفيه مامور بلل کيږي. د انحلال په صورت کښې د هر شريک په مراجعه ممکنه ده چه د تصفيي مامورين د مربوطې محکمې له خوا وټاکلي شي.

**مادهٔ ۲۰۴:**

مامورين تصفيه ممکن است قبلاً از طرف شرکاء انتخاب و در قرارداد شرکت درج شود و يا بعداً با تصويب انتخاب شوند. هميـنطور بعد از انحلال هم به اتفاق نظر شرکاء ميتوانند تعيين شوند، در غير آن تمام شرکاء و يا وکيل قانونی ايشان مامور به تصفيه شمرده ميشوند. در صورت انحلال با مراجعه هر يکی از شرکاء ممکن است مامورين تصفيه از طرف محکمه مربوطه تعيين شوند.

**۲۰۵ ماده:**

د تصفيي مامورين که د شريکانو له خواوي او که د محکمي له خوا ممکن دي چه د شريکانو له خوا او يا له باندې وټاکلي شي.

**مادهٔ ۲۰۵:**

مامورين تصفيه، چه از طرف شرکاء باشند و چه از طرف محکمه، ممکن است از بين شرکاء و يا از خارج انتخاب شوند.

**۲۰۶ ماده:**

په تصفيه کښې د مامورينو تعدد جائز دي. که د شرکت د مقاولي يا د هغه تصويب له مخې چه وروسته شويدي په تصفيه کښې په منفرد ډول مجاز نه وي نو لازم دي چه په اتفاق سره اقدام وکړي او که په انفرادي اقدام مجاز وي لازم دي چه کيفيت ثبت او اعلان شي.

**مادهٔ ۲۰۶:**

تعدد مامورين تصفيه مجاز است. اگر حسب مقاوله شرکت يا با تصويبی که بعداً بعمل آمده در تصفيه منفرداً مجاز نباشند، لازم است که متفقاً اقدام کنند. اگر به اقدام انفرادی مجاز باشند، لازم است کيفيت ثبت و اعلان شود.

۲۰۷ ماده:
د تصفيي يو مامور خپله وظيفه د تصفيي بل مامور ته او يا دريم شخص ته نشي سپارلي. مگر د ځينو ټاکليو چارو د معاملاتو د په ځای کولو دپاره کولای شي چه يوه يا څو تنو او يا يوه دريم سړي ته واک ورکړي.

۲۰۸ ماده:
که په يوه شرکت کښې چه معاملات يې د تصفيي په حال کښې وي د تصفيي د مامورينو يوه مامور ته دريمو کسانو له خوا ابلاغ او مراجعات کافي دي. په هغو ځايو کښې چه د شرکت د گټو دپاره د كوم خطر پيښيدل متصور نه وي نو هغه چاري او معاملي چه د تصفيي کوم مامور يي اجراء کړي، معتبر دي.

۲۰۹ ماده:
تضامني شرکتونه وروسته له انحلال څخه هم د تصفيي د معاملاتو تر پای ته رسيدلو پورې د تصفيي د چارو دپاره موجود گڼل کيږي.

۲۱۰ ماده:
يو تضامني شرکت چه د تصفيي په حال کښې وي بايد په ټولو هغو پاڼو او اسنادو کښې چه د شرکت

مادهٔ ۲۰۷:
یک مامور تصفیه وظیفهٔ خود را به مامور تصفیه دیگر و یا به شخص ثالث سپرده نمیتواند ولی برای ایفای بعضی امور معاملات معیینه میتوانند از بین خود یکی یا چندی را و یا یک شخص ثالث را صلاحیت بدهند.

مادهٔ ۲۰۸:
در شرکتی که معاملات آن در حالت تصفیه میباشد ابلاغ و مراجعات از طرف اشخاص ثالث به یکی از مامورین تصفیه کافی است. در مواردیکه برای منافع شرکت وقوع خطری متصور نباشد، امور و معاملاتی را که یکی از مامورین تصفیه اجراء کند، معتبر است.

مادهٔ ۲۰۹:
شرکت های تضامنی بعد از انحلال هم الی ختم معاملات تصفیه برای امور تصفیه موجود شناخته میشوند.

مادهٔ ۲۱۰:
یک شرکت تضامنی که در حال تصفیه میباشد باید در تمام اوراق و اسنادیکه بنام شرکت

په نامه تنظیمیږي (د تضامني شرکت تصفیه....) جمله زیاته شي او په پای کښې يې د تصفيي واک لرونکي مامور یا مامورین لاسلیک کړي. غیر له دي به شرکت ته کوم مسئولیت متوجه نشي.

**۲۱۱ ماده:**

د شرکت له انحلال نه وروسته د شرکت د مالونو په نسبت د شریکانو د شخصي پوروالو په مقابل کښې د شرکت د پوروالو د ترجیح حق محفوظ دي.

**۲۱۲ ماده:**

که د شرکت شته د تصفيي په حالت کښې د پورونو د تسويي دپاره کافي نه وي او د افلاس موجبات موجود شي، محکمه کولای شي چه په داسي حالت کښې په افلاس حکم صادر کړي.

**۲۱۳ ماده:**

که د تصفيي مامورین پخوا له انحلال څخه د شرکت د قرارداد او یا د شریکانو د تصویب په موجب په خپله د شریکانو له منځه ټاکلي شوي وي، د ټولو شریکانو د آراوو په اتفاق موقوف کیدای شي او که د آراوو اتفاق حاصل نشي نو د هر یو شریک د غوښتني او مراجعي په اثر د منلو

تنظیم میگردد جمله (تصفیه شرکت تضامنی....) علاوه شده و در ذیل آن مامور و یا مامورین صلاحیت دار تصفیه امضاء نمایند. در غیر آن مسئولیت به شرکت متوجه نخواهد شد.

**مادهٔ ۲۱۱:**

حق رجحان دائنین شرکت تضامنی به اموال شرکت بالمقابل دائنین شخصی شرکاء بعد از انحلال شرکت هم محفوظ است.

**مادهٔ ۲۱۲:**

اگر دارائی شرکت در حالت تصفیه کافی برای تسویه دیون آن نباشد و موجبات افلاس موجود گردد، محکمه میتواند در چنین حالت حکم به افلاس صادر نماید.

**مادهٔ ۲۱۳:**

اگر مامورین تصفیه به موجب قرارداد شرکت و یا تصویب شرکاء قبل از انحلال از بین خود شرکاء انتخاب شده باشند، به اتفاق آراء تمام شرکاء عزل شده میتوانند. در صورت عدم حصول اتفاق آراء به اثر مراجعه و خواهش هر یکی از شرکاء از طرف

وړ علتونو په واسطه د محکمي له خوا موقوف کیدای شي.

**۲۱۴ ماده:**

د تصفیي مامورین چه وروسته له انحلال څخه د شریکانو له منځه ټاکلي شوي وي د نورو شریکانو په اتفاق موقوف کیدای شي او که د آراوو اتفاق حاصل نشي نو د هر یوه شریک د غوښتني او مراجعي په اثر د منلو وړ علتونو په واسطه د محکمي له خوا موقوف کیدای شي.

**۲۱۵ ماده:**

د تصفیي مامورین چه له شریکانو څخه نه وي او د شرکت له قرارداد او یا د شریکانو له تصویب سره سم ټاکلي شوي وي، په هرصورت د شریکانو په اتفاق سره موقوف کیدای شي. په دي صورت چه د شریکانو اتفاق حاصل نشي نو د هر یو شریک د غوښتني او مراجعي په اثر د محکمي له خوا موقوفیداي شي.

**۲۱۶ ماده:**

د تصفیي هغه مامور چه د محکمي له خوا ټاکلي شوي وي، د هغه موقوفي یواځي په محکمه پوري اړه لري.

محکمه بنابر علل قابل قبول عزل شده میتوانند.

**مادهٔ ۲۱۴:**

مامورین تصفیه که بعد از انحلال از بین شرکاء انتخاب گردیده باشند، به اتفاق شرکای دیگر معزول شده میتوانند. در صورت عدم حصول اتفاق آراء، به اثر مراجعه و خواهش هر یکی از شرکاء به استناد اسباب قابل قبول از طرف محکمه عزل خواهند شد.

**مادهٔ ۲۱۵:**

مامورین تصفیه که از شرکاء نبوده مطابق قرارداد شرکت و یا بر حسب تصویب شرکاء انتخاب شده باشند، به هر صورت به اتفاق شرکاء عزل شده میتوانند. در صورتیکه اتفاق شرکاء حاصل نشود، به اثر مراجعه و خواهش هر یکی از شرکاء از طرف محکمه عزل شده میتواند.

**مادهٔ ۲۱۶:**

مامور تصفیهٔ که از طرف محکمه تعیین شده باشد، عزل آن منحصراً مربوط به محکمه است.

**۲۱۷ ماده:**

که د تصفیي مامورین له پخوا څخه ټاکلي شوي وي نو د شرکت د انحلال په وخت کښې او که وروسته د شریکانو یا د محکمې له خوا ټاکلي شوي وي، د انحلال په وخت کښې به د شرکت مدیران راغواړي او د هغو په ګډون، او که د مدیرانو غوښتنې ته ضرورت نه وو نو دوي پخپله یو داسي دفتر چه د شرکت شته پکښې وي له یو بیلانسه سره جوړوي. او که د تصفیي مامورین لازم وبولي کولای شي چه د شرکت د مالونو د قیمت د ټاکلو دپاره پوهانو ته مراجعه وکړي. بیلانس او د شتو دفتر چه تنظیم کیږي، د تصفیي د مامورینو په مخکښې به د شرکت د مدیرانو له خوا لاس لیک کیږي.

د تصفیي مامورین وروسته د دفتر له لاس لیک څخه ټول هغه مالونه چه د شتو په همغه دفتر کښې قید دي د منحل شوي شرکت له پاڼو او دفترونو سره تر خپل تصرف لاندې راولي.

**۲۱۸ ماده:**

د تصفیي مامورین مکلف دي چه د منحل شوي شرکت د ټولو مالو او حقوقو د ساتنې دپاره لازم تدبیرونه ونیسي.

**مادهٔ ۲۱۷:**

اگر مامورین تصفیه قبلاً انتخاب گردیده باشند، در وقت انحلال شرکت و اگر بعداً از طرف شرکاء و یا محکمه تعیین گردیده باشند، حین انحلال مدیران شرکت را دعوت و به اشتراک آنها و درصورت عدم اجابت مدیران، خود ایشان یک دفتریکه حاوی دارائی شرکت باشد با یک بیلانس تنظیم میکنند. اگر مامورین تصفیه لازم بدانند میتوانند برای تعیین قیمت اموال شرکت به اهل خبره مراجعه کنند. بیلانس و دفتر دارائی که تنظیم میشود با حضور مامورین تصفیه از طرف مدیران شرکت امضاء میشود.

مامورین تصفیه بعد از امضای دفتر تمام اموالی را که در دفتر دارائی مذکور قید است با دیگر اوراق و دفاتر شرکت منحل شده تحت تصرف خود میگیرند.

**مادهٔ ۲۱۸:**

مامورین تصفیه مکلف اند که برای محافظه تمام اموال و حقوق شرکت منحل شده تدابیر لازمه را اتخاذ نمایند.

۲۱۹ ماده:
د تصفيي مامورين هغه معاملي چه د شركت د دوام په وخت كښې شروع شوي وي او تر اوسه پاى ته نه وي رسيدلي، پاى ته رسوي او د شركت پورونه او نور تعهدات نقداً او كه پوروال موافقت وكړي جنساً يې وركوي. هغه چاري او معاملي چه د شركت د دارايي او د حصول او د شريكانو په منځ كښې د ويشلو د پاره لازمي وي اجراء كوي.

مادۀ ۲۱۹:
مامورين تصفيه معاملاتی را كه در زمان دوام شركت آغاز گرديده ولی هنوز ختم نشده باشد، انجام ميدهند و ديون و سرمايه تعهدات شركت را نقداً و اگر دائنين موافقت كنند جنساً تاديه منيمايند و طلبات شركت را تحصيل و دارائی جنسی آنرا به نقد تبديل ميكنند. والحاصل تمام امور و معاملاتی را كه برای حصول دارائی شركت و تقسيم بين شركاء لازم است، اجرا ميكنند.

۲۲۰ ماده:
د هغه شركت د تمثيل حق چه د تصفيي په حال كښې وي، په محكمو يا نورو مقاماتو د تصفيي په مامورينو پورې اړه لري.

مادۀ ۲۲۰:
حق تمثيل شركتی كه در حال تصفيه ميباشد، در محاكم يا ديگر مقامات به مامورين تصفيه عايد است.

۲۲۱ ماده:
د تصفيي مامورين نشي كولاى يوه نوي معامله چه په تصفيه پورې اړه نلري اجراء كړي.

او كه ئي اجرا كړي نو هغه مسئوليت چه له هغي معاملي څخه پيدا كيږي ټول د تصفيي په مامويىنو پورې اړه لري.

مادۀ ۲۲۱:
مامورين تصفيه نميتوانند يک معامله جديدی را كه از ايجابات تصفيه نباشد اجراء كنند.

اگر اجراء نمايند، مسئوليتی كه از معامله مذكور نشئت كند، كليتاً به مامورين تصفيه مربوط است.

**۲۲۲ ماده:**
کـه د تصفيـي مامورين د منحل شوي شرکت ګټه په يوه مورد کښې ووينې نو په مصالحه او د حکم په تعيين مجاز دي.

**۲۲۳ ماده:**
د تصفيي مامورين کولای شي چه د منحل شوي شرکت منقول مالونه چه د شرکت ګټه پکښې ويني په مزايده سره يا بي له مزايدي وپلوري. مګر د شرکت غير منقول مالونه کـه د شريکانو عمومي موافقه په بل صورت نه وي يواځې په مزايده يي پلورلي شي. د شريکانو په منځ کښې د صغير يا محجور وجود د منقول او غير منقول مالونو د پلورلو مانع نشي کېدای.

**۲۲۴ ماده:**
د تصفيي مامورين کولای شي هغه معاملي چه د شرکت موضوع ورڅخه جوړيږي که تصفيه د شريکانو له خوا ټاکلي شوي وي، د شريکانو له فيصلي سره سم، او که د محکمي له خوا مقرره شوي وي، نو د شريکانو د فيصلي او د محکمي د حکم په اتفاق په مؤقت ډول سره اجراء کړي.

**۲۲۵ ماده:**
د تصفيي مامورين مجبور دي چه د

**مادهٔ ۲۲۲:**
مامورين تصفيه اگر فايده شرکت منحل شده را در موردی ملاحظه کنند، به مصالحه و تعيين حکم مجاز اند.

**مادهٔ ۲۲۳:**
مامورين تصفيه ميتوانند اموال منقوله شرکت منحل شده را نظر به ايجاب منفعت شرکت بطور مزايده و يا بدون مزايده بفروشند. اما اموال غير منقوله شرکت را اگر موافقت عمومی شرکاء بديگر صورت نباشد، منتها به مزايده فروخته ميتوانند. وجود صغير و يا محجور در بين شرکاء مانع فروش اموال منقوله و غير منقوله شده نميتواند.

**مادهٔ ۲۲۴:**
مامورين تصفيه ميتوانند معاملاتی را که موضوع شرکت را تشکيل ميدهد، اگر تصفيه از طرف شرکاء تعيين شده باشد، مطابق فيصله شرکاء و اگر از طرف محکمه مقرر شده باشد، به اتفاق نظر شرکاء و تصويب محکمه، آن معاملات را موقتاً اجراء کنند.

**مادهٔ ۲۲۵:**
مامورين تصفيه مجبور اند که

تضامني شرکت په وعده پورونه د تصفيي په حال کي د تنزيل (دسکاونت) په صورت ژر تر ژره اداء کړی او پوروال هم مجبور دي چه دا ډول ورکړه ومني.

**۲۲۶ ماده:**
که د تضامني شرکت شته ټولو پورونو ته په يو برابر کفايت ونکړی، د تصفيي مامورين کولای شي چه د شرکت د پورونو د پوره کولو د پاره شريکانو ته مراجعه وکړی.

**۲۲۷ ماده:**
که شريکان په اتفاق سره تصويب ونکړی، د تصفيي مامورين کولای نشي چه د شرکت مالونه ټول وپلوري.

**۲۲۸ ماده:**
د تصفيي د مامورينو قانوني صلاحيتونه ممکن دي چه د شريکانو په اتفاق يا د محکمي په حکم (هر مقام چه هغه تاکلي وي) زيات يا لږشي، په دي صورت کيفيت ثبت او اعلانيږی. که د صلاحيت د تحديد مسئله اعلان شوي نه وي نو د دريمو کسانو په خصوص کښې د ښه نيت خاوند بي تاثيره دی.

ديون مؤجله شرکت تضامنی در حال تصفيه را به صورت تنزيل (دسکاونت) معجلاً تاديه کنند و دائنين نيز مجبور به قبول اين طرز تاديه ميباشند.

**مادۀ ۲۲۶:**
اگر دارائی شرکت تضامنی به تسويه تمام ديون کافی نباشد، مامورين تصفيه ميتوانند برای تکميل ديون شرکت به شرکاء مراجعه کنند.

**مادۀ ۲۲۷:**
اگر شرکاء متفقاً تصويب نکنند، مامورين تصفيه نمی توانند اموال شرکت را بطور مجموعی به فروش برسانند.

**مادۀ ۲۲۸:**
صلاحيت های قانونی مامورين تصفيه ممکن است به اتفاق شرکاء و يا قرار محکمه (هر مقاميکه آنرا تعيين کرده باشد) توسيع و يا تحديد شود درين صورت، کيفيت ثبت و اعلان ميشود. اگر مسئله تحديد صلاحيت ثبت و اعلان نگرديده باشد، دربارۀ اشخاص ثالث صاحب حسن نيت بی تاثير است.

**۲۲۹ ماده:**

د تصفيي مامورين د تصفيي په مهال کي په هغه تصويب مقيد دي چه د تصفيي په خصوص کښې يي شريکان په اتفاق سره کوي. د کوم شريک د افلاس مړيني يا محجوريت په صورت کښې د (۲۳۰) مادې احکام تطبيق کيږي.

**۲۳۰ ماده:**

په هغو تصويبونو کښې چه مامورينو ته د تعليماتنامو ورکول او يا د هغو د ټاکلو يا موقوفولو په خصوص کښې کيږي، د شريک د افلاس او مړيني او محجوريت په صورت کښې د ګډون حق د دوی په قانوني وکيل او ولي پورې اړه مومي. ورثه په اتفاق سره وکيل ټاکې او که اتفاق حاصل نه شي نو وکيل په محکمه پورې اړه لري.

**۲۳۱ ماده:**

د تصفيي مامورين کولای شي چه د شرکت له نقدو شتو څخه دومره اندازه شته چه د مثبتو او متنازع فيه او معجلو او په وعدو پورونو کفايت وکړي وساتي او نور يي د شريکانو په منځ کښې وويشي.

**۲۳۲ ماده:**

د تصفيي مامورين د تصفيي د

**مادهٔ ۲۲۹:**

مامورين تصفيه در اثنای تصفيه مقيد به تصويبی ميباشند که شرکاء متفقاً راجع به تصفيه بعمل می آورند. درصورت افلاس يا وفات و يا محجوريت يکی از شرکاء احکام مادهٔ (۲۳۰) تطبيق ميشود.

**مادهٔ ۲۳۰:**

حق اشتراک در تصويب هاييکه راجع به تعيين و يا عزل و يا اعطای تعليمات به مامورين تصفيه بعمل می آيد، در صورت افلاس و وفات، محجوريت شريک به وکيل قانونی و ولی آنها عايد است. ورثه به اتفاق وکيل تعيين ميکنند و درصورتيکه اتفاق حاصل نشود، تعيين وکيل مربوط به محکمه است.

**مادهٔ ۲۳۱:**

مامورين تصفيه ميتوانند از دارائی نقدی شرکت مقداری را که برای ديون معجله و مؤجله مثبت و متنازع فيه کفايت نمايد نگهداشته، بقيه آنرا در بين شرکاء تقسيم کنند.

**مادهٔ ۲۳۲:**

مامورين تصفيه برای تأمين صحت

معاملاتو د صحت دپاره په منظم ډول د لاژمو دفترونو په جوړولو مکلف دي.

معاملات تصفیه به ترتیب دفاتر لاژمه بصورت منظم مکلف اند.

**۲۳۳ ماده:**
د تصفيي مامورين مجبور دي چه د تصفيي د چارو د موجوده وضعيت په خصوص کښې د شريکانو د مراجعي په اثر په خوله يا په ليکنه سره معلومات ورکړي.

**مادهٔ ۲۳۳:**
مامورین تصفیه مجبور اند در اثر مراجعه شرکاء راجع به وضعیت موجوده امور تصفیه شفاهاً و یا کتباً معلومات بدهند.

**۲۳۴ ماده:**
د تصفيي مامورين د شريکانو د غوښتنې په صورت مجبور دي چه د شرکت او تصفيي په خصوص کښې ټولي پاڼې او دفترونه هغو ته ورښکاره کړي.

**مادهٔ ۲۳۴:**
مامورین تصفیه درصورت خواهش شرکاء مجبور اند تمام اوراق و دفاتر راجع به شرکت و تصفیه را با آنها ارائه نمایند.

د تصفيي مامورين نشي کولای چه شريکان ددې دفترونو او پاڼو له نقل اخيستلو څخه منع کړي.

مامورین تصفیه نمی توانند شرکاء، را از اخذ نقل دفاتر و اوراق مذکور منع کنند.

**۲۳۵ ماده:**
د تصفيي مامورين مجبور دي چه له يو زر افغانيو څخه اوښتې پيسې چه د تصفيي په ترڅ کښې ئي لاس ته راځي، يوه معتبر بانک ته وسپاري.

**مادهٔ ۲۳۵:**
مامورین تصفیه مجبور اند مبالغ زاید از یکهزار افغانی را که در اثنای تصفیه حصول میشود، به یک بانک معتبری تودیع نمایند.

**۲۳۶ ماده:**
د تصفيي په پای کښې د تصفيي مامورين مجبور دي چه د تصفيي د چارو په باره کښې شريکانو ته

**مادهٔ ۲۳۶:**
در ختم تصفیه، مامورین تصفیه مجبور اند راجع به معاملات تصفیه به شرکاء

حساب وړکړی.

**۲۳۷ ماده:**

د شرکت د قرارداد ټول هغه احکام چه د تصفيي په مامورينو پورې اړه لري، سره له هغو مقرراتو چه د شريکانو او محکمي له خوا د تصفيي د مامورينو د ټاکلو، تبديلولو او موقوفولو په خصوص کښې وضع کيږي، ثبت او اعلانيږي.

**۲۳۸ ماده:**

د تصفيي په پای کښې د تصفيي مامورين د قرارداد يا د قانوني احکامو له مخې يو داسي بيلانس چه د پانګې په باره کښې د شريکانو برخي او ګټه او ضرر او نوره دارائی پکښې داخله وي جوړوي او شريکانو ته يي وړاندي کوي. که شريکان په دوي په يوه مياشت کښې دننه اعتراض ونکړي نو دغه بيلانس قطعي بلل کيږي.

وروسته له دي مودې تيريدو نه په دي صورت چه شريکان له خپلې مقرري برخي اخيستلو څخه منع راوړي نو د تصفيي مامورين د هر يوه برخه ځانګړې ځانګړې د هر شريک په نامه په يوه معتبر بانک کښې ږدي.

حساب بدهند.

**مادۀ ۲۳۷:**

تمام احکام قرارداد شرکت که عايد به مامورين تصفيه باشد، با مقرراتيکه از طرف شرکاء و محکمه راجع به تعين، تبديل و عزل مامورين تصفيه وضع ميگردد، ثبت و اعلان ميشود.

**مادۀ ۲۳۸:**

در ختم تصفيه، مامورين تصفيه نظر به قرارداد و يا احکام قانونی يك بيلانس حاوی حصص شرکاء در خصوص سرمايه نفع و ضرر و ساير اقلام دارائی و بدهی تنظيم کرده، به شرکاء تقديم ميکنند. اگر شرکاء در ظرف يک ماه توسط محکمه اعتراض ننمايند، بيلانس کسب قطعيت مينمايد.

بعد از انقضاء اين مدت در صورتيکه شرکاء از اخذ حصۀ مقرره خود امتناع ورزند، مامورين تصفيه حصۀ هر يک را عليحده عليحده بنام هر شريک به يک بانک معتبر تـوديع می نمايند.

۲۳۹ ماده:
د شرکت خالصه دارايي له قرارداد سره يا له هغه تصويب سره سم چه وروسته له هغه شويدي، د تصفيي د مامورينو له خوا ويشله کيږي اوکه له دي نه چپ په قرارداد کښې کوم صراحت او ياد شريکانو له خوا کوم تصويب نه وي، نو دا ويش په نقدي صورت کيږي.

۲۴۰ ماده:
لکه چه د تصفيي مامورين په هغو اجراآتو کښې چه ددې اصولنامي له احکامو څخه چپ وي د شريکانو او دريمو کسانو په مقابل کښې په ګډه سره مسئول دي، همداډول د هغو کسانو په معاملا تو کښې چه دوي يي ټاکې او استخداموي نوکه د اصولنامي له ټاکليو احکامو څخه چپ وي نو شريکانو او دريمو کسانو ته مسئول دي.

۲۴۱ ماده:
د تصفيي مامورين چه د شريکانو له منځه ټاکلي کيږی که په قرارداد او يا هغه تصويب کښې چه وروسته نيول کيږی شرط شوي نه وي، نشي کولای چه معاش يا اجرت واخلي. مګر که د تصفيي مامورين له دباندې څخه ټاکلي شوي وي، که څه هم له اجرت او معاش نه کوم ذکر هم نه وي شوي،

مادهٔ ۲۳۹:
دارائی خالص شرکت مطابق قرارداد و یا مطابق تصویبی که بعداً بعمل آمده، از طرف مامورین تصفیه تقسیم میشود. در صورتیکه بر خلاف آن در قرارداد صراحت و یا تصویبی از طرف شرکاء نباشد، باید این تقسیم بصورت نقدی بعمل آید.

مادهٔ ۲۴۰:
طوریکه مامورین تصفیه در اجراآتیکه مغایر احکام این قانون باشد در مقابل شرکاء و اشخاص ثالث جمعاً مسئول اند، همچنان در معاملات اشخاصیکه تعیین و استخدام میکنند، در صورتیکه مغایر احکام معیینه قانون باشد، نزد شرکاء و اشخاص ثالث جمعاً مسئول میباشند.

مادهٔ ۲۴۱:
مامورین تصفیه که از بین شرکاء تعیین و انتخاب میشوند، اگر در قرارداد و یا تصویبی که بعداً اتخاذ میشود شرط نشده باشد، نمیتوانند معاش و اجرت بگیرند. ولی مامورین تصفیه اگر از خارج تعیین شده باشند ولو از اجرت و معاش ذکری هم نشده باشد،

دوي د اجرت او معاش مستحق دي.

**۲۴۲ ماده:**
د تصفيي په پاى کښې پاڼې او دفترونه يو ځاى هغه معتمد ځاى ته چه د شريکانو له خوا ټاکلى شوي وي، سپارل کيږي اوتر پنځلسو کالو پورې ساتل کيږي. که په دي خصوص کښې د نظر توافق را نشي نو د معتمد ځاى محکمه ټاکې.

## دريم فصل
## مختلط تضامني شرکت

### لومړى برخه
### د مختلط تضامني شرکت ماهيت او د جوړيدو ډول

**۲۴۳ ماده:**
هغه شرکت چه تر ټاکلي عنوان لاندې د تجارت د اجراء په مقصد جوړيږى او د شرکت د پوروالو په مقابل کښې د هغه د يوه يا څو تنو شريکانو مسئوليت غير محدود او د يوه يا نورو شريکانو مسئوليت يي په يوه ټاکلي پانګه کښې محدود وي، دا شرکت کوماندیت (مختلط تضامني) شرکت بلل کيږي.

د هغو شريکانو پانګه چه د محدود مسئوليت تابع وي، ممکن دي چه په برخو وويشله شي.

مستحق اخذ معاش و اجرت میباشند.

**مادۀ ۲۴۲:**
در ختم تصفیه، اوراق و دفاتر به یک جای معتمدیکه از طرف شرکاء تعیین شده باشد، تودیع میگردد و تا **۱۵** سال حفظ میشود. اگر درین خصوص اتفاق نظر حاصل نشود، محل معتمد را محکمه تعیین میکند.

## فصل سوم
## شرکت تضامنی مختلط

### حصۀ اول
### ماهیت و طرز تشکیل شرکت تضامنی مختلط

**مادۀ ۲۴۳:**
شرکتی که در تحت عنوان معیین به مقصد اجرای تجارت تشکیل میشود و مسئولیت یک یا چند نفر از شرکاء آن در مقابل دائنین شرکت غیر محدود و مسئولیت شریک یا شرکاء دیگر آن به یک سرمایه معیین محدود باشد، شرکت مذکور تضامنی مختلط (کوماندیت) نامیده میشود.

سرمایه شرکائی را که تابع مسئولیت محدوده باشند، ممکن است به سهام تقسیم کرد.

**۲۴۴ ماده:**

که د هغه په خلاف په دي فصل کښي مقرر شوي نه وي نو په مختلطو تضامني شرکتو کښي د تضامني شرکت مخصوص احکام هم معتبر دي. که ئی دا معلوم نشي کړاي چه تضامني شرکت مختلط دي که تضامني، نو پدې صورت تضامني شرکت بلل کيږي.

**۲۴۵ ماده:**

د مختلط تضامني شرکت په قرارداد کښي برسيره په هغو خصوصياتو چه په (۱۳۷) ماده کښي داخل دي، د محدود المسئوليت شريکانو نومونه سره د هغي پانګې له اندازي چه دوي هر يوه ورکړې او يا يي په غاړه اخيستي دي هم د اخليږی، ثبت او اعلانيږی.

**۲۴۶ ماده:**

يو محدود المسئوليت شريک (بي له خپلي علمي او فني اختراع څخه) نشي کولای چه خپل کار او عمل او اعتبار او يا صنعت د پانګې په حيث ورانډي کړی.

**مادهٔ ۲۴۴:**

اگر بر خلاف آن درین فصل مقرر نشده باشد، احکام راجع به شرکت تضامنی در شرکت های تضامنی مختلط هم معتبر است. اگر تعیین شده نتواند که شرکت تضامنی مختلط میباشد یا تضامنی، درین صورت شرکت تضامنی دانسته میشود.

**مادهٔ ۲۴۵:**

در قرارداد شرکت تضامنی مختلط علاوه بر خصوصیات مندرجهٔ مادهٔ (۱۳۷)، اسامی شرکای محدود المسئولیت با مقدار سرمایهٔ که هر کدام آنها داده اند و یا تعهد نموده اند نیز درج گردیده، ثبت و اعلان میشود.

**مادهٔ ۲۴۶:**

یک شریک محدود المسئولیت (غیر از اختراع علمی و فنی خود) نمی تواند کار و عمل و اعتبار و یا صنعت خویش را بحیث سرمایه تقدیم کند.

## دوهمه برخه
## د شریکانو یو د بل سره مناسبات

**۲۴۷ ماده:**
د مختلط تضامني شرکت د شریکانو ترمنځ مناسباتو کښې ( که د هغو په خلاف په قرارداد کښې کوم صراحت نه وي) ددې برخي احکام تطبیق کیږي.

**۲۴۸ ماده:**
محدود المسئولیت شریکان د شرکت د چارو د اداري واک نلري او نشي کولای چه د اداري واک لرونکي شریکان د وظیفي له اجرا څخه منع کړي. مګر د اداره کوونکو کسانو له واک څخه په وتلیو معاملاتو کښې راي ورکولای شي.

**۲۴۹ ماده:**
هر محدود المسئولیت شریک کولای شي چه د کال په پای که د شرکت د شتو دفتر او بیلانس او پاڼې پخپله یا د پوهو کسانو په ذریعه تدقیق او کنترول کړي. که د محدود المسئولیت شریک د مراجعي په اثر په پوهانو باندې اعتراض راشي، په دي صورت کښې پوهان د محکمې له خوا ټاکل کیږي.

## حصۀ دوم
## مناسبات شرکاء با یکدیگر

**مادۀ ۲۴۷:**
در مناسبات بین شرکای شرکت تضامنی مختلط (اگر صراحتی در قرارداد بر خلاف آن نباشد) احکام این قسمت تطبیق میشود.

**مادۀ ۲۴۸:**
شرکای محدود المسئولیت به اداره امور شرکت صلاحیت ندارند و نمیتوانند شرکای را که صلاحیت اداره را دارند، از اجرای وظیفه منع کنند. ولی دربارۀ معاملات خارج از صلاحیت اشخاص اداره کننده میتوانند رای بدهند.

**مادۀ ۲۴۹:**
هر شریک محدود المسئولیت مأذون است در اخیر سال دفتر دارائی و بیلانس و اوراق شرکت را بالذات یا به معرفت اهل خبره تدقیق و کنترول نماید. در صورت اعتراض بر علیه اهل خبره به اثر مراجعت شریک محدود المسئولیت، اهل خبره از طرف محکمه تعیین میشود.

۲۵۰ ماده:
د هغو معاملاتو په اجراء کښې چه د شرکت موضوع جوړوی، د تضامني شرکت د شریکانو په منځ کښې د (۱۵۸) مادی احکام د محدود المسئولیت شریکانو په خصوص کښې نه جاري کیږي. مګر که محدود المسئولیت شریکان یوه داسي مؤسسه چه معاملات یې د شرکت موضوع جوړوي، تأسیس کړي او یا له یوه بل داسي شخص سره چه داډول مؤسسه ئی پرانستي وي شرکت وکړی اویا یو بل موجود شرکت کښې چه همداډول معامله کړی داخل شي، نو د شرکت د پاڼو او دفتر د تدقیق حق به ونه لري.

مادهٔ ۲۵۰:
احکام مادهٔ (۱۵۸) در منع شرکای شرکت تضامنی از اجرای معاملاتیکه موضوع شرکت را تشکیل میدهد، در مورد شرکای محدود المسئولیت جریان نمی یابد. ولی اگر شرکای محدود المسئولیت یک مؤسسه را که معاملات آن موضوع شرکت را تشکیل میدهد، تأسیس نمایند و یا با یک شخص دیگر که چنین مؤسسه باز کرده باشد، شرکت کنند و یا به یک شرکت موجود که همین نوع معامله را مینماید داخل شوند، در اوراق و دفاتر شرکت حق تدقیق را نخواهند داشت.

۲۵۱ ماده:
د یوه محدود المسئولیت شریک مسئولیت د هغي پانګې په اندازه دي چه یې ورکړي او یا یې په غاړه اخیستي وي.

مادهٔ ۲۵۱:
مسئولیت یک شریک محدود المسئولیت به اندازه سرمایه ایست که تادیه و یا تعهد کرده است.

۲۵۲ ماده:
محدود المسئولیت شریک د حسابي کال په پای کښې کولای شي چه د ګټې خپله برخه او که په قرارداد کښې تصریح وي، خپله ټکټ پولي هم اخیستلای شي. لیکن که شرکت زیان کړي وي نو تر هغه و خته چه هغه زیان پوره شوي نه وي، ټکټ پولي نه

مادهٔ ۲۵۲:
شریک محدودالمسئولیت در اخیر سنه حسابیه میتواند حصهٔ مفاد را و اگر در قرارداد تصریح شده باشد، تکت پولی خود را نیز بگیرد. لیکن اگر شرکت نقص کرده باشد، تا زمانیکه تلافی شود، تکت پولی

ورکولي کيږي. مگر په راتلونکي کال کښې د پانګې د زيان له پوره کولو څخه وروسته د تيرو کالو له پاتي ګټې څخه ټکټ پولي ورکولي کيږي.

داده نميشود اما در سنه آتيه بعد از اکمال نقص سرمايه از متباقى مفاد، تکت پولى سالهاى گذشته پرداخته ميشود.

**۲۵۳ ماده:**
محدود المسئوليت شريکان مجبور ندي چه هغه ټکټ پولۍ او ګټه چه پخوائى اخيستي دي، دداسي زيانونو د پوره کولو دپاره چه پس له دي پيښيږي، بيرته ورکړي.

**مادۀ ۲۵۳:**
شرکاى محدود المسئوليت مجبور نيستند که تکت پولى و مفادى را که قبلاً اخذ کرده اند براى جبران ضرر هايى که بعداً واقع ميشود، اعاده نمايند.

**۲۵۴ ماده:**
محدود المسئوليت شريک چه د مرتب او منظم بيلانس له مخې ګټه يا ټکټ پولي اخيستي وي، په بيرته ورکولو نه مجبوريږي.

**مادۀ ۲۵۴:**
شريک محدود المسئوليت که نظر به بيلانس مرتب و منظم مفاد و يا تکت پولى اخذ کرده باشد، مجبور به اعاده آنها نميشود.

**۲۵۵ ماده:**
ديوه محدود المسئوليت شريک د فوت په صورت کښې دده ورثه دده قايم مقام بلل کيږي.

**مادۀ ۲۵۵:**
در صورت وفات يک شرکت محدود المسئوليت، ورثه قايم مقام متوفى شمرده ميشود.

**۲۵۶ ماده:**
که محدود المسئوليت شريک په شرکت کښې خپل حق بې د نورو شريکانو له اجازي څخه ټول يا يو څه اندازه بل چاته پريږدي نو پيرودونکي به د شرکت د چارو په ادارو او تدقيق کښې د دخالت حق ونلري.

**مادۀ ۲۵۶:**
اگر شريک محدود المسئوليت حق خود را در شرکت بدون اجازه ساير شرکاء کلاً و يا بعضاً به شخص ديگرى واگذار نمايد مشترى حق دخالت در اداره و تدقيق در امور شرکت را نخواهد داشت.

## دریېمه برخه
## د شریکانو مناسبات له درېیمو کسانوسره

**۲۵۷ ماده:**
د هغه محدود المسئولیت شریک چه نوم یې د شرکت په عنوان کښې داخل وي، د دریمو کسانو په مقابل کښې د غیر محدود مسئول په صورت بلل کیږي.

**۲۵۸ ماده:**
د مختلط تضامني شرکتونو د اداري او نمایندګي مسئولیت په هغو شریکانو پورې چه مسئولیت یې غیر محدود وي، اړه لري. ددې صلاحیت حدود دهغو احکامو تابع دي چه د تضامني شرکتو په خصوص کښې مقرر شوي دي. که د شرکت په قرارداد کښې کوم مانع نه وي امکان لري چه محدود المسئولیت شریک د مدیر یا د شرکت د مدیرانو له خوا د ټاکلیو مسایلو دپاره وکیل ودراوه شي. پدې صورت، هغه مسئولیت چه دده د معاملاتو له پر ځای کولو څخه پیدا کیږي، په شرکت پورې اړه لري. محدود المسئولیت شریک چه د خپل وکالت له حدود څخه تیری او یا بي له وکالت څخه اجراآت وکړي نو هغه مسئولیت چه دده له معاملي څخه پیدا

## حصهٔ سوم
## مناسبات شرکاء باشخاص ثالث

**مادهٔ ۲۵۷:**
شریک محدود المسئولیتی که اسم آن در عنوان شرکت داخل باشد، بمقابل اشخاص ثالث بصورت غیر محدود مسئول شمرده میشود.

**مادهٔ ۲۵۸:**
مسئولیت اداره و نمایندگی شرکت های تضامنی مختلط به شرکائیکه مسئولیت ایشان غیر محدود باشد، عائد است. حدود این صلاحیت تابع احکامیست که راجع به شرکتهای تضامنی مقرر شده است. اگر در قرارداد شرکت منع نباشد، شریک محدود المسئولیت ممکن است از طرف مدیر و یا مدیران شرکت برای مسایل معیینی وکیل انتخاب شود. درین صورت مسئولیتی که از ایفای معاملات وی نشئت کند، عاید به شرکت است. شریک محدود المسئولیت که از حدود وکالت خود تجاوز میکند و یا بدون وکالت اجراآت نماید، مسئولیتی که از معامله وی نشئت میکند، عاید به

کیږي، پخپله په ده پورې اړه لري.

**۲۵۹ ماده:**
د محــدود المســئولیت شـریکانو لــه خواد شرکت په چارو کښې د مشوري ورکــول، د پلټنــې او مراقبــت د حــق استعمال، او په داسي احوالو کښې چه قانوناً ټاکلي شوي وي، د مامورینو په ټــاکلو او عــزل کښــې اشــتراک او د شرکت په فرعي چارو کښې استخدام د محـدود المسـئولیت شـریکانو د غیـر محدود مسئولیت موجب نه گرځي.

**۲۶۰ ماده:**
محدودالمســئولیت شـریکان پــه ځـان منلو پیسو څخه په هغـي اندازي چه د دوی پــه غــاړه پــاتي وي د شــرکت د پـوروالو په مقابل کي مسئول دي مگر پـوروالان ترهغه وختـه پورې چه شرکت منحـل او یــا پــه هغــه بانـدې اصولي تعقیبـات بـي نتیجـي شـوي نـه وي، محـدود المســئولیت شــریکانو تــه مراجعه نشي کولای. د شرکت د افلاس پـه حـال کښـې پـوروالان د هغـي د ټولي دارایي د غوښتلو حق لري.

**۲۶۱ ماده:**
د مختلط تضامني شرکت د افلاس په صورت د شـرکت دپـوروالو د پـور اداء کولـو حـق نظـر د شـریکانو شخصـي

شخص خودش میباشد.

**مادهٔ ۲۵۹:**
اعـطــای مشــورت از طــرف شــرکاء محـدود المسئولیـت، استعمــال حــق تفتیــش و مراقبـت در امـور شـرکت و اشتـراک در تعیـین و عـزل مــامورین در احــوالــیکــه قــانــونـــاً معیین شده است و استخدام در داخل شــرکت بــه امــور فرعـــی موجــب مســئولیت غیــر محــدود شـــــرکاء محدود المسئولیت نمیگردد.

**مادهٔ ۲۶۰:**
شــــرکای محــدود المســئولیت از مــبالــغ متعـهــده بـه انـدازهٔ کـه در ذمـت آنهـا بـاقی بـــاشد در مقابـل دائـنـیـن شــرکت مسئول اند، لیکن دائـنـیـن تــا وقتیکه شرکت منحل و یــا تعقیبـات اصـولی بـر علیـه آن عقیـم نمانـده بـاشـد بـه شـرکای مــحدود المسئولیــت مـراجعـــه نمیتوانـنـد. در صـــورت افـــلاس شـرکـت دائنـین به مجمـــوع دارائی آن حق مطالبه دارند.

**مادهٔ ۲۶۱:**
در صــــورت افـــلاس شرکـــت تضامنی مختلط طلبات دائنیـن شـرکت از طلبـات دائنـین شخصـی

پورروالو ته ړومبي دي.

**۲۶۲ ماده:**
که د شرکت دارايي د پورروالو پورونه پوره نشي کړاي نو پورروالان کولای شي چه د خپلو پاتي پورونو دپاره د غير محدود المسئوليت د هر يوه شريک شخصي مالونو ته مراجعه وکړي او پدې حال کښې د شرکت پورروالان د شريکانو له شخصي پورروالانو سره مساوي حق لري.

**۲۶۳ ماده:**
نسبت د محدود المسئوليت شريک دارايي ته چه افلاس يي کړي وي مختلط تضامني شرکت او شخصي پورروالان مساوي حق لري.

**۲۶۴ ماده:**
د تضامني شرکتو د تصفيي او انحلال په خصوص کښې د احکامو مواد په مختلطو تضامني شرکتو کښې هم تطبيقيږي.

**۲۶۵ ماده:**
هغه څوک چه په شرکت باندې پور ولري او له بلې خوا د يوه داسي محدود المسئوليت شريک پوروړي وي چه تر اوسه يي د خپلې پانګې برخه نه وي ادا کړې نو ممکنه ده چه دا پور د

شرکاء مقدم میباشد.

**مادۀ ۲۶۲:**
اگر دارائی شرکت طلبات دائنین را کفایت نکند، دائنین میتوانند برای طلبات متباقیه خود به اموال شخصیه هر شریک غیر محدود المسئولیت مراجعه نمایند و درین حال دائنین شرکت با دائنین شخصی شرکاء حقوق مساوی دارند.

**مادۀ ۲۶۳:**
نسبت به دارایی شریک محدود المسئولیت که افلاس کرده باشد، شرکت تضامنی مختلط و دائنین شخصی او حقوق مساوی دارند.

**مادۀ ۲۶۴:**
احکام مواد راجع به انحلال و تصفیه شرکت های تضامنی در شرکتهای تضامنی مختلط نیز تطبیق میشود.

**مادۀ ۲۶۵:**
شخصیکه بالای شرکت طلب داشته و از طرف دیگر مدیون یک شریک محدود المسئولیت باشد که هنوز حصۀ سرمایه خود را تادیه نکرده ممکن است این

محدود المسئولیت شریک د پور په عوض کنبې ورحساب کړی.

## څلورم فصل
## د انونیم (سهامي شرکت)

### لومړی برخه – د انونیم د (سهامي شرکتو ماهیت او د جوړښت صورت)

**۲۶۶ ماده:**
سهامي شرکت دهغه شرکت نوم دي چه تر یوه ټاکلي عنوان لاندې دتجارتي معاملو دپاره تشکیل شوي او پانګه یې ټاکلي او په برخو ویشلي شوي او دهر شریک د مسئولیت اندازه د هغه د برخي په اندازي پورې محدود وي.

**۲۶۷ ماده:**
سهامي شرکتونه یا په آني یا په تدریجي صورت تشکیلیږي.

که دشرکت مؤسسان د ټولو برخو تعهد وکړی او یا یې رانیسي، سهامي شرکت په آني صورت، او که مؤسسین ټول اسهام په خپله عهده وانخلي نو سهامي شرکت په تدریجي صورت تشکیلیږي او پدې صورت د پاتي اسهامو د تعهد دپاره وګړو ته اعلان او مراجعه کیږي.

قرض را با دین شریک محدود المسئولیت محسوب نماید.

## فصل چهارم
## شرکت سهامی (انونیم)

### حصهٔ اول – ماهیت و صورت تشکیل شرکتهای سهامی (انونیم)

**مادهٔ ۲۶۶:**
شرکت سهامی شرکتی است که تحت یک عنوان معیین برای معاملات تجارتی تشکیل شده، سرمایه آن معیین و منقسم با اسهام بوده و اندازهٔ مسئولیت هر شریک به اندازهٔ سهم آن محدود باشد.

**مادهٔ ۲۶۷:**
شرکتهای سهامی یا بصورت آنی و یا تدریجی تشکیل میشود.

اگر مؤسسین تمام اسهام شرکت را تعهد و یا اخذ کنند، شرکت سهامی بصورت آنی تشکیل مییابد. اگر مؤسسین تمام اسهام را به عهده خود نمیگیرند شرکت سهامی بصورت تدریجی تشکیل یافته و درین صورت برای تعهد متباقی اسهام با اهالی اعلان و مراجعه میگردد.

**۲۶۸ ماده:**

د يوه سهامي شرکت د جوړولو دپاره لږ تر لږه د برخي د خاوندانونه د پنځو تنو مؤسسانو وجود شرط دی.

**مادۀ ۲۶۸:**

برای تشکیل یک شرکت سهامی اقلاً وجود پنج نفر مؤسس صاحب سهم شرط است.

**۲۶۹ ماده:**

په سهامي شرکت کښې هغه برخي لرونکي چه د شرکت اساسنامه جوړوی او لاس ليک کوي ئي او د پانګې په نامه يوه اندازه پيسي په نقدي يا غير نقدي صورت ورکوی مؤسس بلل کيږي.

**مادۀ ۲۶۹:**

در شرکتهای سهامی سهم دارانیکه اساسنامۀ شرکت را تنظیم و امضاء میکنند و بنام سرمایه مبلغی بطور نقدی و یا غیر نقدی تادیه میکنند ، مؤسس شمرده میشوند.

**۲۷۰ ماده:**

مؤسسين بايد اساسنامه جوړه او لاس ليک کړی، اساسنامه بايد دا لاندې مواد ولري:

۱- د شرکت عنوان او مرکز.

۲- د شرکت موضوع او د معاملاتو ډول او ماهيت.

۳- د پانګې د اندازي ټاکل او د برخو ډول، د هري برخي قيمت او د برخو ورکولو شرطونه.

۴- هغه خصوصي ګټې چه له مفاد څخه مؤسسينو او د مديره هيئت غړيو او يا نورو کسانو ته ورکولي کيږي.

۵- د مديره هيئت او د نظار هيئت د

**مادۀ ۲۷۰:**

مؤسسین باید اساسنامه را تنظیم و امضاء کنند ، اساسنامه بایستی دارای مواد ذیل باشد:

۱- عنوان شرکت و مرکز آن.

۲- نوع و ماهیت معاملات و موضوع شرکت.

۳- تعیین مقدار سرمایه و نوع اسهام، قیمت هر سهم و شرایط تادیه سهام.

۴- منافع مخصوصۀ که از مفاد برای مؤسسین و اعضی هیئت مدیره و یا اشخاص دیگر تادیه میشود.

۵- طرز انتخاب هیئت مدیره و هیئت

تاكلو طرز او د دوی وظيفي او د اداري صلاحيت او د هغه لاس ليک.

۶- د عمومي جرګې د غونډې شکل او د سهم لرونكو د غونډې ترتيب، د تولني وخت، د خبرو اترو د اجراء شرطونه، تصويب او د راي اخيستل.

۷- د شرکت د دوام د مودې قيد که شرکت په يوه موده پورې محدود وي.

۲۷۱ ماده:
د اساسنامې نقل چه د (۲۷۰) مادې په حکم ترتيبيږی او د ملي اقتصاد وزارت ته وړاندې کيږي او د شرکت د تشکيل د پاره اجازه حاصليږی.

۲۷۲ ماده:
له اجازې وروسته که شرکت په ورو ورو تشکيليږي نومؤسسين به يو داسي اعلان کوي چه لاندنۍ مطلبونه پکښې وی:

۱- د شرکت موضوع اوموده.

۲- د هري برخې د قيمت ټاکل او د پانګې اندازه او خصوصي ګټې چه د اساسنامې له مخې مؤسسينو او يا نورو کسانو ته ورکولي کيږي.

۳- جنسي شته چه دپانګې په عوض

نظار و وظايف و صلاحيت اداره و امضای ايشان.

۶- شکل انعقاد به مجمع عمومی و ترتيب دعوت سهمداران، وقت اجتماع، شروط اجرای مذاكرات تصويب و اتخاذ رای.

۷- قيد مدت دوام شرکت اگر شرکت محدود به يک مدت باشد.

مادۀ ۲۷۱:
نقل اساسنامه که به موجب مادۀ (۲۷۰) ترتيب ميگردد، به وزارت اقتصاد ملی تقديم و برای تشکيل شرکت اجازه حاصل ميشود.

مادۀ ۲۷۲:
بعد از اجازه اگر شرکت تدريجاً تشکيل ميشود، مؤسسين اعلانی محتوی مطالب ذيل نشر ميدارند:

۱- موضوع و مدت شرکت.

۲- تعيين قيمت هر سهم و مقدار سرمايه و منافع خصوصی که برای مؤسسين و يا اشخاص ديگر بموجب اساسنامه تاديه ميشود.

۳- دارائی جنسی که عوض سرمايه

ورکول کیږي.

۴- که د یوي مؤسسي پیرودل تجویز شوي وي، د هغي قیمت.

۵- د تأسیس د عمومي مجمع د غونډې ځای او صورت.

**۲۷۳ ماده:**

د شرکت په پانګه کښې د اشتراک تقاضا په لاندې دوو نسخو کښې تنظیم کیږي:

۱- د (۲۷۲) مادې د محتویاتو لنډیز.

۲- د هغو کسانو نوم او شهرت، د استوګنې ځای چه اشتراک په غاړه اخلي.

۳- په تورو دهغي برخي اندازه چه د هغي د اخیستلو تعهد یي کړی دي او تعهد د نېټې سره لیکل.

۴- د اساسنامي د مندرجاتو قبلول که په ټاکلي موده کښې شرکت تشکیل نشي نو د اشتراک کوونکي تعهد بي اثره دي.

د اشتراک تقاضا د هغو مکتوبونو په لیږلو چه د اشتراک کوونکي په لاسلیک یي تصدیق شوي وي هم د اشتراک د تقاضا په حیث قبلیدای شي.

داده میشود.

۴- اگر خرید مؤسسه تجویز شده باشد، قیمت آن.

۵- محل و صورت انعقاد مجمع عمومی تأسیس.

**مادهٔ ۲۷۳:**

تقاضای اشتراک به سرمایه شرکت در دو نسخه قرار ذیل تنظیم میشود:

۱- خلاصه محتویات مادهٔ (۲۷۲).

۲- اسم و شهرت و اقامتگاه اشخاصیکه اشتراک را تعهد میکنند.

۳- مقدار سهمیکه اخذ آنرا تعهد نموده اند به حروف و تاریخ تعهد.

۴- قبول مندرجات اساسنامه، اگر در ظرف مدت معیین شرکت تشکیل نشود، تعهد اشتراک کننده بی اثر است.

تقاضای اشتراک با فرستادن مکاتیبی که امضای اشتراک کننده تصدیق شده باشد هم بحیث تقاضای اشتراک قبول شده میتواند.

**۲۷۴ ماده:**
ټول هغه سهمونه چه د شرکت د پانګې په مقابل کښې صادريږی بايد حقيقتاً او ټول تعهد او لږ ترلږه د هر سهم د قيمت څلورمه برخه نقده ورکړه شي.

**۲۷۵ ماده:**
د سهم د اسنادو صدور چه له ټاکلي قيمت څخه لږ وی جائز نه دی.

**۲۷۶ ماده:**
پدې صورت چه د اسهامو د قيمت د څلورمي برخي ورکول چه ورکړه يي قانوناً ضروري وي د تعهد په وخت کښې شرط شوي نه وي، مؤسسين کولای شي چه د تعهداتو له تکميل او اختتام څخه وروسته له هغو کسانو سره چه د اشتراک تعهد يي کړيدي د راجستري ليکونو په ليږلو او هم د جرائدو په ذريعه اعلان کړی او له دوي څخه د تعهد کړيو اسهامو دڅلورمي برخي د ورکړی په ټاکلي موده تقاضا وکړی.

هغه کسان چه اشتراک يې په غاړه اخيستي دي که په ټاکلي موده کښې يي د قيمت څلورمه برخه ورنکړی، مؤسسين واک لری چه ددې کسانو علاقه له شرکت څخه وشلوي او يا هغوي د تعهد په ځای کولو باندې

**مادهٔ ۲۷۴:**
مجموع اسهاميکه در مقابل سرمايه شرکت صادر ميگردد بايد حقيقتاً و تماماً تعهد و اقلاً ربع قيمت هر سهم نقداً تاديه شود.

**مادهٔ ۲۷۵:**
صدور اسناد سهم کمتر از قيمت مقررهٔ آن جايز نيست.

**مادهٔ ۲۷۶:**
در صورتيکه پرداخت ربع قيمت اسهام که تاديه آن قانوناً مقتضی است در حين تعهد شرط نشده باشد، مؤسسين ميتوانند بعد از تکميل و اختتام تعهدات به اشخاصيکه اشتراک را تعهد کرده اند با ارسال مکتوب راجستری و نيز ذريعهٔ جرايد اعلان کرده و تاديه ربع اسهام متعهدهٔ شان را در ظرف مدت معيين تقاضا کنند.

کسانيکه اشتراک را تعهد کرده اند اگر در ظرف مدت مذکور ربع قيمت را تاديه نکنند، مؤسسين مختار اند که علاقهٔ آن اشخاص را از شرکت قطع و يا ايشان را به ايفای تعهد مجبور سازند.

مجبور کړی. په هغه صورت کښې چه د متعهدینو علاقې له شرکت څخه وشلیږی نو هغه کسان چه د دوی په عوض تعهد کوي، مؤظف دي چه د اسهامو د قیمت څلورمه برخه ورکړی. ترڅو چه د برخو څلورمه برخه تحویل شوي نه وي، شرکت نشي جوړیدلای.

۲۷۷ ماده:

د اسهامو د قیمت څلورمه برخه چه د تعهد کوونکو له خوا ورکوله کیږی، یوه معتبر بانک ته سپار له کیږي. د شرکت د جوړښت په صورت د مدیره هیئت له خوا د یو داسي سند د ښکاره کولو په موجب چه د شرکت ثبت او اعلان او د مربوطه مقام اجازه پکښې وي، ټولي شوي پیسي شرکت ته ورکولي کیږي.

مګر د شرکت د نه جوړیدو په حال کښې دا پیسي هغو کسانو ته چه هغه یي سپارلي دي د سند له مخې بیرته ورکولي کیږي. د هغو اسهامو د قیمت څلورمه چه بانک ته سپارلي شویدي په هیڅ صورت مؤسسینو ته نه ورکولي کیږي.

۲۷۸ ماده:

د شرکت د ټولي پانګې له تعهد او د اسهامو له ټاکلي قیمت ورکولو څخه

در صورتیکه علائق متعهدین با شرکت قطع گردد، کسانیکه بعوض آنها متعهد میشوند مؤظفند که ربع قیمت سهام را تادیه کنند و تا وقتیکه ربع قیمت اسهام تادیه نشود، شرکت تشکیل شده نمیتواند.

مادۀ ۲۷۷:

ربع قیمت اسهامیکه از طرف تعهد کنندگان تادیه میشود، به یک بانک معتبر تودیع میگردد. در صورت تشکیل شرکت بموجب ارائه سندی از طرف هیئت مدیره که حاوی ثبت و اعلان شرکت و اجازه مقام مربوطه باشد، پول جمع آمده به شرکت تادیه میشود.

ولی در حال عدم تشکیل شرکت، پول مذکور به اشخاصیکه آنرا تودیع نموده اند، بموجب ارائه سند اعاده میگردد. ربع قیمت اسهامیکه به بانک تودیع شده است، به هیچ صورت به مؤسسین داده نمیشود.

مادۀ ۲۷۸:

بعد از تعهد تمام سرمایه شرکت و تادیه قیمت معیین

وروسته مؤسسین باید په لسو ورځو کې د هر سهم خاوند د هغه په ټاکلي آدرس د راجستري لیکونو د لیږلو او په جریدو کښې د اعلان په ذریعه د تأسیس عمومي مجمع ټولني ته راوغواړی.

ددې لیکونو لیږل او د اعلان خپریدل باید د ټولني له وخت څخه لږ تر لږه پنځلس ورځې پخوا وشي او دا لاندني مطلبونه پکښې داخل وي:

۱- د ټولو سهمونو د اشتراک د تعهد تصدیق او دقیمت د څلورمي ورکړه.

۲- د هغو اجناسو چه د پانګې د قیمت په عوض ورکړی شویدي او یا د کومي مؤسسي د پیرودلو دپاره چه د اساسنامي له مخې مجاز وي د قیمت د ټاکلو له پاره د پوهو کسانو انتخابول.

۳- د هغو مخصوصو ګټو په باره کښې چه د مؤسسینو د پاره شرط شوي وي پیشنهاد کول.

۴- که په اساسنامه کښې د مدیره هیئت غړی پیش بیني شوي نه وي د مدیره هیئت غړی ټاکل.

۵- د نظارت هیئت ټاکل.

اسهام، مؤسسین باید در ظرف ده روز به ارسال مکتوبهای راجستری به آدرس معینه هر سهم دار و اعلان به جراید، مجمع عمومی تأسیس را به اجتماع دعوت نمایند.

ارسال این مکاتیب و نشر اعلان باید اقلاً پانزده روز قبل از وقت اجتماع بعمل آید و مطالب ذیل در آن مندرج باشد:

۱- تصدیق تعهد اشتراک تمام اسهام و تادیه ربع قیمت.

۲- انتخاب اهل خبره برای تعیین قیمت اجناسیکه عوض سرمایه داده شده و اشترای کدام مؤسسه که به قرار اساسنامه مجاز باشد.

۳- پیشنهاد راجع به منافع مخصوصه که برای مؤسسین شرط شده باشد.

۴- اگر اعضای هیئت مدیره در اساسنامه پیش بینی نشده باشد، تعیین اعضای هیئت مدیره.

۵- تعیین هیئت نظار.

۲۷۹ ماده:
د تأسیس عمومي مجمع به په ټاکلي ورځو کښې غونډه کوي او په (۲۷۸) مادې کښې د ذکر شویو مسایلو په شاوخوا کښې به خبرې اترې او تصویب کوي.

د مجمع تصویبونه به پدې صورت د اعتبار وړ دي چه لږ ترلږه هغه کسان چه د شرکت نیمایي پانګه یې ورکړې وي، حاضر وي.

د هر سهم، سهم لرونکي ته به د یوې رایې حق ورکوي او تصویبونه د موجوده رایو په ډیروالي د اعتبار وړ وي.

۲۸۰ ماده:
هغه مؤسسین او یا نور سهم لرونکي چه د پانګې په ځای جنس ورکوی او یا هغه مؤسسین چه مخصوصې ګټې یې د ځانونو دپاره پیش بیني کړیدي په هغو خبرو اترو کښې چه د اجناسو د قیمت ټاکلو او یا د مخصوصو ګټو د تثبیت په خصوص کښې کیږي، د رأي حق نلري.

۲۸۱ ماده:
که د شرکت د مدیره هیئت لمړی غړی د اساسنامې له مخې ټاکلي

مادۀ ۲۷۹:
مجمع عمومی تأسیس در روز معیین اجتماع نموده، در اطراف مسایل متذکره مادۀ (۲۷۸) مذاکره و تصویب میکنند.

تصاویب مجمع در صورتی معتبر خواهد بود که اقلاً اشخاصیکه نصف سرمایه شرکت را تمثیل نمایند، حاضر باشند.

هر سهم برای سهم دار حق یک رای را میدهد و تصویبات به اکثریت آرای موجوده معتبر میباشد.

مادۀ ۲۸۰:
مؤسسین با سایر سهم دارانیکه جنسی را عوض سرمایه میدهند و یا مؤسسینی که منافع مخصوصه را برای خود پیش بینی نموده اند، در مذاکراتیکه راجع به تعیین قیمت اجناس و یا تثبیت منافع مخصوصه بعمل می آید، حق رأی ندارند.

مادۀ ۲۸۱:
اگر اولین اعضای هیئت مدیره شرکت به موجب اساسنامه تعیین

شوي نه وي نو د مؤسسينو د عمومي مجمع له خوا له سهم لرونكو څخه ټاكل كيږي.

نگردیده باشند، از طرف مجمع عمومی مؤسسین از بین سهمداران انتخاب میشوند.

د نظار هيئت لمړني انتخاب په منحصر ډول د تأسيس په عمومي مجموع پورې اړه لري، د هغو ټاكل د اساسنامي له مخې جائز نه دي.

انتخاب اولین هیئت نظار مخصوصاً مربوط به مجمع عمومی تأسیس بوده، تعیین آن ذریعه اساسنامه جایز نیست.

د نظارت چارې دوو تنو يا له دوو تنو څخه زياتو سهم لرونكو ته يا له هغو نه د باندې خلكو ته سپارلي كيږي.

امور نظارت به دو نفر یا بیشتر از سهمداران یا خارج آن تفویض میشود.

**۲۸۲ ماده:**

د تأسيس په عمومي مجمع كښې چه د (۲۷۹) مادې له مخې غونډه شوي د جنسي پانگو او د هغو مؤسسو چه پلورلي كيږي، د قيمت دپاره د پوهو كسانو په ټاكلو كښې لږ ترلږه د شركت د نقدي پانگې د سهم لرونكو د دوو ثلثو حضور شرط دي.

**مادۀ ۲۸۲:**

در مجمع عمومی تأسیس که به موجب مادۀ (۲۷۹) منعقد میگردد، در تعیین اهل خبره جهت قیمت سرمایه های جنسی و مؤسسه هاییکه خریده میشود، حضور اقلاً دو ثلث سهمداران سرمایه نقدی شرکت شرط است.

تصويبونه د آراوو په اكثريت نيول كيږي.

تصویبات به اکثریت آراء اتخاذ میشود.

پدې صورت چه د خبرو اترو نصاب ممكن نه وي نو پوه كسان د مؤسسينو د غوښتني له مخې د مربوطي محكمي له خوا ټاكل كيږي.

درصورتیکه تکمیل نصاب مذاکره ممکن نباشد، اهل خبره نظر به خواهش مؤسسین از طرف محکمه مربوطه تعیین میشود.

**۲۸۳ ماده:**

وروسته له هغه چه د پوهو کسانو له خوا رپوټ جوړ شو، د تأسیس د عمومي مجمع مؤسسین په هغه ترتیب او موعد چه په (۲۷۸) ماده کښې ذکر دي بیا غونډې ته غواړي او له غوښتنپاڼې سره د پوهو کسانو د رپوټ د صورت یوه یوه پاڼه ضمیمه کوي. د تأسیس د عمومي مجمع د خبرو اترو او تصویب کولو واک د اکثریت د هغه نصاب تابع دي چه په (۲۷۹) ماده کښې څرګند شویدی.

**مادهٔ ۲۸۳:**

بعد از تنظیم راپور از طرف اهل خبره، مؤسسین مجمع عمومی تأسیس را به ترتیب و موعدیکه در مادهٔ (۲۷۸) ذکر است مجدداً به اجتماع دعوت مینمایند و به دعوت نامه یک یک قطعه صورت راپور های اهل خبره را ضمیمه میکنند. صلاحیت مجمع عمومی تأسیس به مذاکره و اتخاذ تصویب تابع نصاب اکثریت است که در مادهٔ (۲۷۹) توضیح شده است.

**۲۸۴ ماده:**

د تأسیس عمومي مجمع د پوهو کسانو دا رپوټ ګوري او د هغو کسانو چه جنسي پانګې ورکړیدي او د هغو مالکینو چه خپلې مؤسسې پلوري، توضیحات اوري. هغه قیمت چه د پوهو کسانو په راپوټ کښې ذکر شویدي، یا یې قبلوي یا یې ردوي او یا یې د مالکینو په موافقت تعدیلوي.

**مادهٔ ۲۸۴:**

مجمع عمومی تأسیس راپور های اهل خبره را مطالعه و توضیحات اشخاصیکه سرمایه جنسی داده اند و مالکینی که مؤسسات خود را میفروشند، استماع مینماید. قمیتی را که در راپور اهل خبره ذکر شده قبول و یا رد کرده و یا موافقت مالکین آنرا تعدیل مینماید.

**۲۸۵ ماده:**

که د تأسیس په عمومي مجمع کښې چه د پوهو کسانو د رپوټ د تدقیق دپاره غوښتی شوي ده نصاب بشپړ نشي نو مؤسسین (یوه پاڼه د مجلس رویداد) جوړوي او د راجستري لیکونو په ذریعه یې سهم

**مادهٔ ۲۸۵:**

در مجمع عمومی تأسیس که برای تدقیق راپور اهل خبره دعوت شده اگر نصاب تکمیل نشود، مؤسسین یک (ورقه رویداد مجلس) را تنظیم و ذریعه مکاتیب راجستری به

لرونکو ته ورلیږي او په جریدو کښې یي اعلانوي. پدې حال کښې به راتلونکي مجلس یوه میاشت وروسته د غونډې دپاره راوغوښتل شي.

**۲۸۶ ماده:**

که د تأسیس په عمومي مجمع کښې د آراوو اتفاق حاصل نشي، مخالفین کولای شي چه د خپلو عقیدو د اختلاف علتونه ولیکي.

**۲۸۷ ماده:**

مؤسسین نشي کولای چه په اساسنامه کښې هغه مقررات درج کړي چه د هغو په موجب بي عوضه (مجاني) اسهام یا نقدي روپۍ چه د شرکت د پانګې د لږوالي باعث شي، خپلو ځانوته تخصیص کړي.

**۲۸۸ ماده:**

وروسته د (۲۷۹) او (۲۸۴) مادو د مقرراتو له اجراء څخه مؤسسین په پنځلسو ورځو کښې هغه بیان نامه چه د سهامي شرکتونو د تشکیل د مقتضیه شرطونو اجراء، د شرکت اساسنامه، د اسهامو د قیمت د ربع ورکولو په خصوص کښې د بانک آویز، د تأسیس د عمومي مجمع رویداد، د جنسي پانګې یا کومي مؤسسې د قیمت ټاکلو په خصوص کښې د پوهو

سهمداران ارسال و در جراید اعلان میدارند. درین حال، مجلس آینده بعد از یکماه دعوت به اجتماع خواهد شد.

**مادۀ ۲۸۶:**

اگر در مجمع عمومی تأسیس اتفاق آراء حاصل نشود، مخالفین میتوانند علل اختلاف عقیده خود را تحریر نمایند.

**مادۀ ۲۸۷:**

مؤسسین نمیتوانند در اساسنامه مقرراتی درج نمایند که به موجب آن اسهام بلاعوض (مجانی) و یا پول نقد که باعث تنقیص سرمایه شرکت گردد، به خود تخصیص دهند.

**مادۀ ۲۸۸:**

پس از اجرای مقررات مادۀ (۲۷۹) و (۲۸۴) مؤسسین در ظرف ۱۵ روز بیان نامه متضمن اجرای شرایط مقتضیه تشکیل شرکتهای سهامی، اساسنامه شرکت، آویز بانک راجع به تادیه ربع قیمت سهام، رویداد مجمع عمومی تأسیس، راپور اهل خبره راجع به تعیین قیمت سرمایه جنسی یا کدام مؤسسه و

کسانو ریپوټ او که معامله په امتیاز پورې مربوط وي، امتیاز نامه او یا د هغې مصدق نقل مربوطی تجارتي محکمې ته وړاندې کوي.

محکمه مربوطه اسناد په ځیر ګوری او که لازم شي له مؤسسینو څخه تحقیق کوي، او که نواقص ولیدل شي، پوره کوي یې او دوړاندې کولو له نېټې څخه وروسته تر یوې میاشتې پورې د شرکت د تشکیل پاڼې تصدیقوي.

**۲۸۹ ماده:**
د هغه شرکت تشکیل چې د (۲۸۸) مادې له مخې تصدیق شوي وي، په تجارتي مربوطه دائره کښې ثبتیږي.

**۲۹۰ ماده:**
هغه شرکت چې د (۲۸۹) مادې په موجب ثبت او اعلان نشي، د قانون له مخې متشکل نه بلل کیږي او د شرکت ثبت او اعلان څخه پخوا د معاملاتو په اجراء باندې شروع نشي کولای.

**۲۹۱ ماده:**
هغه کسان چې د شرکت په پانګې د اشتراک متعهد شوي وي نوکه د شرکت له قانوني تشکیل څخه پخوا دوي خپل سهمونه بل ته نقل کړی، د اعتبار وړ نه دي.

اگر معامله مربوط به امتیازی باشد، امتیاز نامه و یا نقل مصدق آنرا به محکمه تجارتی مربوطه تقدیم مینمایند.

محکمه اسناد مربوطه را تدقیق و اگر لازم شود، از مؤسسین تحقیق و اگر نواقص دیده شود تکمیل و تا یکماه پس از تاریخ تقدیم اوراق تشکیل شرکت را تصدیق میکند.

**مادۀ ۲۸۹:**
تشکیل شرکتی که بموجب مادۀ (۲۸۸) تصدیق شده باشد، به دایرۀ مربوطه تجارتی ثبت میگردد.

**مادۀ ۲۹۰:**
شرکتی که بموجب مادۀ (۲۸۹) ثبت و اعلان نشود، قانوناً متشکل شمرده نمیشود و قبل از ثبت و اعلان به اجرای معاملات شروع نمی تواند.

**مادۀ ۲۹۱:**
کسانیکه متعهد اشتراک به سرمایه شرکت شده باشند اگر قبل از تشکیل قانونی شرکت اسهام خود شان را به دیگری انتقال بدهند، معتبر نیست.

**۲۹۲ ماده:**

په هغو شرکتونو کښې چه سمدستي تشـکيليږي، شـريکان بـه يـوه داسـي اساسنامه جوړوی چه د ټولو اسهامو د تعهد په باره کښې (۲۷۴) ماده او د (۲۷۸) مادې ۴-۵ فقري او د (۲۷۰) مادې مقررات پکښې وي که د پانگې په يوه برخه کښې جنس وي او يا کومه مؤسسه پيرودلي شوي وي نو د قيمت د ټاکلو دپاره بيا يوه کسان د تجارتي محکمي له خوا ټاکل کيږي.

**۲۹۳ ماده:**

که د هغو سهامي شرکتو سهم لرونکي چه په آني صورت تشکيليږي وغواړی چه خپل سهمونه د پلورلو دپاره عامو خلکو ته وړاندي کړی نو د (۲۷۲) او (۲۷۳) مادې د احکامو په رعايت مجبور دي.

**۲۹۴ ماده:**

د هغي خساري او ضرر چه د اظهار نامي او د (۲۸۸) مادې د ذکر شويو پاڼو نورو اسنادو له نه صحت څخه پيدا شي، مؤسسين او هغه کسان چه ددې پاڼو او په ليکلو کښې اشتراک کوي په گډه سره مسئول دي.

**۲۹۵ ماده:**

که د يوه شرکت ټول سهمونه تعهد

**مادهٔ ۲۹۲:**

در شرکت هاييکه بصورت آني تشکيل ميشود، شرکاء يک اساسنامهٔ که حاوی مادهٔ (۲۷۴) راجع به تعهد تمام سهام و فقرات ۴ و ۵ مادهٔ (۲۷۸) و مقررات مادهٔ (۲۷۰) باشد، تنظيم مينمايند. اگر در جزء سرمايه جنس يا کدام مؤسسه خريداری شده باشد، اهل خبره برای تعيين قيمت از طرف محکمه تجارتی تعيين ميشود.

**مادهٔ ۲۹۳:**

اگر سهمداران شرکت های سهامی که بطور آنی تشکيل ميشوند بخواهند اسهام خودرا برای فروش به عامه عرضه دارند مجبور به رعايت احکام مواد (۲۷۲) و (۲۷۳) ميباشند.

**مادهٔ ۲۹۴:**

از ضرر و خسارهٔ که درنتيجه عدم صحت اظهارنامه يا اوراق متذکره مادهٔ (۲۸۸) و ديگر اسناد توليد شود، مؤسسين و آنهاييکه در تحرير اين اوراق اشتراک ميکنند، جمعاً مسئول اند.

**مادهٔ ۲۹۵:**

اگر تمام سهام يک شرکت

شــوي نــــه وي او قيمت يـي ورکـړی شـوي نــــه وي مـګـر د حقيقــت پـه خلاف تعهد شوي او ورکړشوي ښودل شوي وي نو مؤسسين او هغه کسان چه پدې فعل کښې يي له دوي سره ګډون کـړی وي مـجبــور دي چــــه دا ډول اسنــاد پـــه خپـــل حســاب کښــې ونيسي او قيمت يي ورکړی.

**۲۹۶ ماده:**

که مؤسسين يا نور کسان شرکت ته د جنسي پانګې د قيمت په ټاکلو او يا د کومي مؤسسی په پيرودلو کښې حيله وکړی، مکلف دي هغه ضرر او خساره چه له دې لاري څخه شـرکت تـه ور اوښتې ده په ګډه سره وګالي.

**۲۹۷ ماده:**

د لمړی دوري د نظار هيئت او د مديره هيئت غـړی مکلف دي چه ژوره کتنه وکـړی چه د شرکت پـه تشکيل کښـې کومه خلاف رفتاري نه وي پيښه شوي او که په دي باره کښې مسامحه وکړی او زيان پيش شي نو په دي صورت چه لـه مؤسسينو څخه پوره نشي نـو د مـديره هيئـت او نظـار هيئـت غـړي پـه ګډه سره مسئول بلل کيږي.

**۲۹۸ ماده:**

د مؤسسينو، د نظار او مديره هيئتونو

تعهد نگرديده و قيمت آن تاديه نشده باشد ولـی خـلاف حـقيقت تعهد و تاديه شده وانمود شـود، مـؤسسين و اشخاصيکه دريـن فعل بـا ايشان اشتراک نموده باشند مجبورند که چنين اسناد را به حساب خود گرفته و قيمت آنرا تاديه نمايند.

**مادۀ ۲۹۶:**

اگر مؤسسين و يا کسان ديگر در تعيين قيمت سرمايه جنسی و يا خريد مؤسسه به شرکت حيله نمايند، مکلف اند ضرر و خسارۀ که به شرکت ازين راه وارد ميشود، مجتمعاً جبران کنند.

**مادۀ ۲۹۷:**

اعضاء هيئت نظار و هيئت مديره دورۀ اول مکلف‌فند تدقيق کنند که در تشکيل شرکت کدام خلاف رفتاری واقع نشده باشد. اگر درين خصوص مسامحه نمايند و ضرری وارد شود، در صورتيکه از مؤسسين جبران نشده باشد، اعضای هيئت و نظار جمعاً مسئول شمرده ميشوند.

**مادۀ ۲۹۸:**

مسئوليت مـؤسسين، اعضـای

د غړيو مسئوليت د ثبت د نېټې نه وروسته د پنځو كالو له تيريدو څخه د شريكانو د عمومي مجمع له تصويب سره سم د صلح او ابراء وړ بلل كيږي. پدې شرط چه دا ابراء د رايو د لسمي برخي د پانگې له رايو څخه په تصويب كښې نمايندگي كړې شوي وي.

**۲۹۹ ماده:**

د هغو خسارو د جبران د غوښتنې حق چه شركت يې د مؤسسينو او يا د مديره هيئت او نظار هيئت د غړيو په مقابل كښې لري وروسته د پنځو كالو له تيريدو څخه ساقطيږي.

**۳۰۰ ماده:**

مؤسسين د تعهداتو او نورو هغو معاملاتو له باعثه چه د شركت د تأسيس دپاره يې اجراء كړيدي، ددريمو اشخاصو په مقابل كښې مسئول دي.

كه شركت تشكيل شوي وي، مؤسسين كولاى شي چه ددې مصارفو د جبران دپاره شركت ته رجوع وكړي.

له شركت څخه د پورته مصارفو په لاس راوړل د تأسيس د عمومي مجمع په تصديق پورې اړه لري، كه د شركت تأسيس د كوم علت په نسبت

هيئت مديره و نظار بعد از انقضاى پنج سال از تاريخ ثبت طبق تصويب مجمع عمومى شركاء قابل صلح و ابراء دانسته ميشود مشروط بر اينكه ابراء مذكور به تصويب ده يک آراء كه از سرمايه نمايندگى كند، بعمل آمده باشد.

**مادهٔ ۲۹۹:**

حق مطالبه جبران خسارات را كه شركت در مقابل مؤسسين و يا اعضاى هيئت مديره و نظار دارا ميباشد، بعد از انقضاى مدت پنج سال ساقط ميشود.

**مادهٔ ۳۰۰:**

مؤسسين از باعث تعهدات و ساير معاملاتيكه براى تأسيس شركت اجراء كرده اند، در مقابل اشخاص ثالث مسئول اند.

اگر شركت تشكيل شده باشد، مؤسسين ميتوانند براى جبران اين مصارف به شركت رجوع كنند.

دريافت مصارف فوق از شركت مربوطه به تصديق مجمع عمومى تأسيس است. اگر تأسيس شركت بنابر كدام علتى صورت

جوړشوي نه وي، دا مصارف په مؤسسينو پورې اړه لري، سهم لرونکو ته د رجوع حق نه لري.

**دوه یمه برخه**
**مدیره هیئت**

**۳۰۱ ماده:**
سهامي شرکتونه داډول مدیره هیئت لري چه لږ ترلږه له دري تنو څخه جوړوي. د مدیره هیئت غړی د سهم لرونکو له منځه د عمومي مجمع له خوا ټاکل کیږي. د مدیره هیئت د غړیو لمړنی ټاکل د شرکت د اساسنامي په ذریعه هم ممکن دي.

**۳۰۲ ماده:**
د مدیره هیئت هر یو غړی مجبور دي چه یوه اندازه خپل اسهام چه قیمت یې د اصلي پانګې په سلوکښې له یوي برخي سره برابر وي شرکت ته وسپاري. که دشرکت د پانګې په سلوکښې یوه برخه (دوه سوه ) زرو افغانیو څخه زیاته وي، له دینه د زیات مبلغ سپارلو ته مجبوریت نشته.

ترهغه وخته پورې چه د مدیره هیئت غړی د خپلې واکمنۍ دوخت له مسئولیتونو څخه له عمومي مجمع څخه برائت حاصل نکړی، د دوی

نگرفته باشد، مصارف مذکور عاید بمؤسسین بوده، حق رجوع به سهم داران ندارند.

**حصهٔ دوم**
**هیئت مدیره**

**مادهٔ ۳۰۱:**
شرکتهای سهامی دارای هیئت مدیره ایست که اقلاً از سه نفر مرکب میباشد. اعضای هیئت مدیره از میان سهمداران از طرف مجمع عمومی انتخاب میشود. تعیین اولین اعضای هیئت مدیره ذریعه اساسنامه شرکت هم ممکن است.

**مادهٔ ۳۰۲:**
هر یک از اعضای هیئت مدیره مجبور است یک مقدار اسهام خودرا که قیمت آن معادل یک فیصد سرمایه اصلی باشد، به شرکت تودیع نماید. اگر یک فیصد سرمایه شرکت متجاوز از (دوصد) هزار افغانی باشد، تودیع زیادتر ازین مبلغ مجبوری نیست.

تا زمانیکه اعضای هیئت مدیره از مسئولیت های زمان تصدی خود از مجمع عمومی برائت حاصل نکنند، سندات سهام

دسپارليو شويو سهمونو سندونه نه بل ته انتقال او نه له شركت څخه اخيستل كېداى شي. د همدې مقصد دپاره دا اسناد د ضمانت په حيث مهر كيږي او د شركت په خزانه كښې ساتل كيږي.

موودوعه ايشان نه به ديگرى انتقال و نه از شركت اخذ شده ميتوانند. براى اين مقصد اسناد مذكور بحيث ضمانت مهر گرديده، در خزانه شركت حفظ ميشود.

**۳۰۳ ماده:**

د مديره هيئت غړي زيات حد ددرې كالو دپاره ټاكل كيږي.

كه د شركت په اساسنامه كښې د غړيو بيا انتخاب منع شوي نه وي، د دوى بيا انتخاب جائز دي.

**مادهٔ ۳۰۳:**

اعضاى هيئت مديره حد اكثر براى سه سال انتخاب ميشوند.

اگر در اساسنامه شركت تجديد انتخاب اعضاء منع نشده باشد، انتخاب مجدد آنها جايز است.

**۳۰۴ ماده:**

د مديره هيئت غړى په هر كال كښې له خپله منځه رئيس او د لزوم په صورت، د رئيس معاون انتخابوي.

**مادهٔ ۳۰۴:**

اعضاى هيئت مديره در هر سال از ميان خود رئيس و در صورت لزوم، معاون رئيس را انتخاب ميكنند.

**۳۰۵ ماده:**

كه د مديره هيئت يو غړى د يوه قانوني علت له مخې برطرف شي نو مديره هيئت په مؤقتي ډول بل سړي چه قانوني شرطونه ولري انتخابوي او بايد د عمومي مجمع په لمړنۍ ټولنه كښې دا موضوع د تصويب دپاره پيشنهاد كړي.

**مادهٔ ۳۰۵:**

اگر يكى از اعضاى هيئت مديره بنابر علل قانونى برطرف شود، هيئت مديره بطور مؤقتى شخص ديگرى را كه داراى شرايط قانونيه باشد، انتخاب مينمايند و بايد در اولين اجتماع مجمع عمومى اين موضوع را براى تصويب پيشنهاد كنند.

**۳۰۶ ماده:**

كه د مديره هيئت غړى د اساسنامې په ذريعه هم ټاكلي شوي وي، د ضرورت

**مادهٔ ۳۰۶:**

اگر اعضاى هيئت مديره ذريعه اساسنامه شركت هم تعيين شده

لـه مخـه د عمـومي مجمـع پـه تصـويب عزل کيداى شي.

پدې صورت لـه هغـو امتيـازاتو او ګټـو څخه چه د مديره هيئت د غړيو په حيث يي درلودل، برخه نشي وړاي.

**۳۰۷ ماده:**
د سـهامي شـرکت اداره او پـه خـارج کنبې د هغه نماينده ګي په مديره هيئت پورې اړه لري.

**۳۰۸ ماده:**
مديره هيئت حق لري هر ډول حقوقي معاملـه چـه د شـرکت پـه مـرام کنبـې داخلـه وي، د هغـه پـه نامـه اجـراء او لاسليک کړي. مديره هيئت چه د شرکت ګټه ووينې، مصالحي او حکميت تـه د ارجاع واک لري.

**۳۰۹ ماده:**
د هغـو پـاڼو او اسنادو د اعتبـار دپاره چه د سهامي شرکت په نامه تنظيميږي پدې صورت چه په اساسنامه کنبې د لاس ليک صلاحيت تخصيص شوي نـه وي، د مـديره هيئـت د ټولـو غړيـو لاس ليک لازم دي.

**۳۱۰ ماده:**
هغه کسان چه د شرکت پـه نامـه د لاس ليک واک لري، مجبور دي چه وروسته

باشند، عندالايجاب با تصويب مجمع عمومی عزل شده ميتوانند.

درينصورت از امتيـازات و منافعيکـه بـه حيث عضـو هيئت مـديره داشـتند بهره مند شده نميتوانند.

**مادهٔ ۳۰۷:**
اداره شـرکت سهامـی و نمايـنـدگی آن در خـارج شـرکـت مربـوط بـه هيئت مديره است.

**مادهٔ ۳۰۸:**
هيئـت مـديره حـق دارد هـر نـوع معاملات حقوقيه را که در داخل مرام شـرکت باشـد، بنام آن اجـراء و امضـا کنند. هيئت مديره در صورت ملاحظه منفعت شرکت به مصالحه و ارجاع به حکميت مجاز است.

**مادهٔ ۳۰۹:**
بـرای اعتبـار اوراق و اسـناديکـه بـه نـام شـرکـت سهامـی تنظيـم ميشـود درصـورتيکه در اساسنامه صلاحيت امضاء تخصيص داده نشده باشـد، امضـاء تمـام اعضـای هيئـت مديره لازم است.

**مادهٔ ۳۱۰:**
کسـانيـکه بنـام شرکـت صلاحيت امضاء دارند، مجبور انـد کـه بـعـد

د شرکت د عنوان له قید څخه د هغه پای لاس لیک کړی.

از قید عنوان شرکت ذیل آن امضاء نمایند.

**۳۱۱ ماده:**

د مدیره هیئت غړی په هغو خبرو اترو کښې چه د دوی په شخصي ګټه پورې اړه لري ګډون نشي کولای.

پدې حال کښې دا ډول غړی مجبور دی هغه علاقه چه دوي يې په موضوع پورې لري مجلس ته ښکاره کړي او د مجلس په جریان کښې يې ثبت کړي، د مدیره هیئت غړی چه له دې احکامو څخه چپ حرکت وکړي د هغه ضرر په تضمین مجبور دي چه شرکت ته رسیدلي وي.

که د مدیره هیئت زیاتره غړی د خبرو اترو په موضوع کښې د شخصي ګټې خاوندان وي نو مسئله لمړی عمومي مجمع ته وړاندي کیږي.

**مادۀ ۳۱۱:**

اعضای هیئت مدیره در مذاکراتیکه به منفعت شخصیه شان تعلق داشته باشد اشتراک نمیتوانند.

درین حال اینطور اعضاء مجبور اند علاقۀ را که به موضوع دارند به مجلس اظهار دارند و در جریان مجلس ثبت نمایند. اعضای هیئت مدیره که مخالف این احکام حرکت کنند، مجبور به تضمین ضرری میباشند که به شرکت وارد میشود.

اگر اکثر اعضای هیئت مدیره بموضوع مذاکره از جنبه شخص ذینفع باشند، مسئله در اولین مجمع عمومی تقدیم میشود.

**۳۱۲ ماده:**

د مدیره هیئت غړی بې د عمومي مجمع له اجازه نه په خپل نامه او حساب او یا د بل شخص په نامه او حساب په خپله یا په واسطه سره یوه تجارتي معامله له شرکت سره نشي کولای.

**مادۀ ۳۱۲:**

اعضای هیئت مدیره بدون اذن مجمع عمومی بنام و حساب خود و یا بنام و حساب شخص دیگری بالذات یا بالواسطه یک معامله تجارتی را با شرکت نمی توانند.

**۳۱۳ ماده:**

د مدیره هیئت هیڅ یو غړی نشي کولای چه بې د عمومي مجمع له اجازي نه په تجارتي معامله کښې لکه دخپل مربوطه شرکت تجارتي معامله اشتغال وکړی او همدا ډول نشي کولای چه په خپله شخصاً د مسئول غړی په صفت په یوه بل شرکت کښې چه په همدې ډول معامله مصروف وي، داخل شي.

شرکت کولای شي چه د مدیره هیئت له هر غړی نه چه له دي حکم څخه یي چپ حرکت کړی وي خساره وغواړی او یایي هغه معامله چه په خپل نامه یي عقد کړی وي د خساري په بدل د شرکت په نامه حساب او دا تقاضا وکړی هغه ګټې چه لدی معاملاتو څخه حاصلي شوي وي شرکت ته ورکړی شي.

په هغه تصویب کښې چه د پورتنیو مطالبو شا او خوا کښې کیږی، د مدیره هیئت هغه غړی چه مسئول دي ګډون نشي کولي. د شرکت لپاره د نوموړو حقوقو څخه ګټه اخیستل د معاملي د پیښدلونه تر یوه کاله پورې محفوظ دي.

**مادهٔ ۳۱۳:**

هیچ یک از اعضای هیئت مدیره نمیتواند بدون اجازه مجمع عمومی در معامله تجارتی از نوع معامله تجارتی شرکت مربوطه خود اشتغال کند و همچنین نمیتواند شخصاً به صفت عضو مسئول در یک شرکت دیگری که به همین نوع معامله مصروف میباشد، داخل شود.

شرکت میتواند از هر عضو هیئت مدیره که مخالف این حکم حرکت نموده باشد، مطالبه خساره کند و یا معامله را که بنام خود عقد نموده باشد، در بدل خساره بنام شرکت محسوب دارد و تقاضا کند منافعیکه از معاملات مذکور حاصل شده باشد، به شرکت عاید گردد.

در اتخاذ تصویب راجع به مطالب فوق اعضای هیئت مدیره که مسئول اند، شرکت نمیتوانند. استفاده از حقوق مذکور برای شرکت تا مدت یکسال از تاریخ وقوع معامله محفوظ است.

۳۱۴ ماده:
که د شرکت پانگه نیمایي ته راښکته شي نو پدې صورت کښې به مدیره هیئت د پانګې اصلي اندازې ته د هغې دپوره کولو یا په پاتي اندازه د اکتفا کولو په خصوص کښې او یا د شرکت د انحلال دپاره تصویب نیولو ته عمومي مجمع په فوري صورت راغواړي او که یواځې دریمه برخه پانګه پاتي وي او عمومي مجمع د پانګې د پوره کولو او یا د هغې په ثلث اکتفا کولو په باره کښې تصمیم ونه نیسي نو شرکت منحل بلل کیږي.

که د شرکت پورونه د هغه له شتو څخه زیات وي، مدیره هیئت مجبوردي چه محکمې ته رجوع او دافلاس اعلان وغواړي.

مادهٔ ۳۱۴:
اگر سرمایه شرکت به نصف تنزل کند، هیئت مدیره برای اتخاذ تصویب راجع به تکمیل سرمایه به مقدار اصلی و یا اکتفاء به مقدار متباقی و یا برای انحلال شرکت مجمع عمومی را بصورت فوری دعوت میکند. اگر تنها یک ثلث سرمایه باقیمانده باشد و مجمع عمومی راجع به تکمیل سرمایه و یا اکتفاء به ثلث آن تصمیم نگیرد، شرکت منحل شمرده میشود.

اگر دیون شرکت از دارایی آن زیادتر باشد هیئت مدیره مجبور است از محکمه رسیدگی و اعلان افلاس را تقاضا کند.

۳۱۵ ماده:
مدیره هیئت مکلف دي چه لازم دفترونه ترتیب کړي او په ټاکلي وخت د تیرکال بیلانس په واضح او منظم ډول جوړکړي او د سهم لرونکو د تدقیق دپاره یې د عمومي مجمع له غونډې څخه ۱۵ ورځې پخوا حاضري کړي.

مادهٔ ۳۱۵:
هیئت مدیره مکلف است دفاتر لازمه را ترتیب کرده و در موعد معین بیلانس سنه گذشته را بطور واضح و منظم تهیه دیده و اقلاً ۱۵ روز قبل از اجتماع مجمع عمومی برای تدقیق سهمداران حاضر دارد.

۳۱۶ ماده:
ټول هغه مصارف چه د شرکت د

مادهٔ ۳۱۶:
تمام مصارفیکه به نسبت

اداري د تأسيس په نسبت شوي وي، د کالني لګښت په مربوط حساب کښې قيديږي.

مګر هغه مصارف چه د ابتدائي تأسيساتو او يا د يوي نوي څانګې جوړولو او يا د معاملاتو د ارتولو دپاره د اساسنامي له مخې او يا د عمومي مجمع په تصويب شوي وي، زيات حد تر پنځو کالو پورې د لګښت په حساب کښې ادامه مومي.

پدې صورت، بايد د هرکال په بيلانس کښې د هغه کال لګښت داخل شي. د شرکت د ماشينونو، ودانيو او منقولو مالونه قيمتونه چه هر کال په بيلانس کښې د هغو ښکاره کول لازم دي، د استهلاک د وضعي نه وروسته له اصلي قيمت عبارت دي.

که دامالونه بيمه شوي وي، د بيعي لګښت په بيلانس کښې ښکاره کاوه شي.

**۳۱۷ ماده:**

مديره هيئت مجبور دي چه د هر حسابي کال په پاى کښې سربيره په بيلانس د شرکت د مالي، اقتصادي او تجارتي وضعيت په پاره کښې راپور او د کال د عمده معاملاتو

تأسيس اداره شرکت بعمل آمده باشد، در حساب مربوطه مصرف سنويه قيد ميگردد.

ليکن مصارفيکه براى تأسيسات ابتدائى و يا احداث يک شعبه جديد و يا توسيع معاملات قرار اساسنامه و يا تصويب مجمع عمومى بعمل آمده باشد، حد اکثر تا پنج سال در حساب مصرف ادامه مييابد.

به اينصورت در بيلانس هر سنه بايد مقدار مصارف همان سنه درج شود. قيمتهاى اموال منقول و بناها و ماشين هاى شرکت که هر سال نشان دادن آن در بيلانس لازم است عبارت است از قيمت خريد بعد از وضع استهلاک.

اگر اين اموال بيمه شده باشد، مصارف بيمه در بيلانس نشان داده ميشود.

**مادۀ ۳۱۷:**

هيئت مديره مجبور است در ختم هر سنۀ حسابيه علاوه بر بيلانس راپورى دربارۀ وضعيت تجارتى، مالى و اقتصادى شرکت و خلاصه معاملات

لنډيز ترتيب کړي او همدا راز، د ګټو د ویشلو د فیصدي او د ذخیري د تشکیل په خصوص کښې یو پیشنهاد وړاندی کړي.

۳۱۸ ماده:

که د شرکت په اساسنامه کښې بل ډول مقرر شوي نه وي نو د مدیره هیئت غونډې لږ تر لږه د رسمي غړیو له نیمايي څخه د زیاتو په حضور سره کیږي او تصویبونه د غړیو د رایو په زیاتوالي سره د اعتبار وړ دي.

د غړیو راي ورکول یو د بل په وکالت سره جائز نه دي. د رایو د برابري په صورت موضوع راتلونکي غونډې ته پاتي کیږي. که په راتلونکي غونډه کښې هم رایي برابري وي، موضوع رده شوي بلله کیږي. د مدیره هیئت د غونډې خبري اتري د یوه منشي په ذریعه چه د غړیو له منځه او یا له دباندې ټاکل کیږي په منظم ډول په دفتر کښې ثبتیږي.

لازم دي چه تصویبونه د موجوده غړیو له خوا لاس لیک شي او هغه غړي چه د تصویب مخالف وي، د خپل مخالفت سبب په تصویب کښې داخلوي.

عمده سال ترتیب دهد و همچنین پیشنهادی راجع به فیصدی توزیع منافع و تشکیل ذخیره تقدیم نماید.

مادهٔ ۳۱۸:

اگر در اساسنامه شرکت طور دیگری مقرر نشده باشد، مجالس هیئت مدیره اقلاً با حضور بیش از نصف اعضاء رسمی تلقی شده و تصاویب با اکثریت آراء اعضای موجوده معتبر است.

رأی دادن اعضاء به وکالت یکدیگر جایز نیست. درصورت تساوی آراء، موضوع به جلسه آینده موکول میشود. اگر در جلسهٔ آینده نیز آراء مساوی باشد، موضوع رد شده محسوب میگردد. مذاکرات جلسه هیئت مدیره توسط یک منشی که از بین اعضاء و یا از خارج انتخاب میشود، بطور منظم به دفتر ثبت میگردد.

لازم است تصویبها از طرف اعضای موجوده امضاء شود و اعضائیکه مخالف تصویب میباشند سبب مخالفت خود را در تصویب درج مینمایند.

**۳۱۹ ماده:**
که په اساسنامه کښې بل ډول مقرر شوي نه وي، د هری ورځې تولني دپاره د مديره هيئت هغو غړو ته چه د عامل هيئت په جمله کښې شامل نه وي، د حضور حق الزحمه ورکوله کيږي. که د حق الزحمي اندازه په اساسنامه کښې ټاکلي شوي نه وي د عمومي مجمع له خوا ټاکله کيږي.

**مادۀ ۳۱۹:**
اگر در اساسنامه طور دیگری مقرر نشده باشد ، برای هر روز اجتماع به اعضاء هیئت مدیره که در جمله هیئت عامل شامل نباشند ، حق الزحمه حضور داده میشود . اگر مقدار حق الزحمه در اساسنامه تعیین نگردیده باشد ، از طرف مجمع عمومی تعیین میشود .

**۳۲۰ ماده:**
د مديره هيئت غړی له هغو معاملاتو چه د شرکت په نامه يي اجراء کړی وي شخصاً مسئول نه بلل کيږي مگر په لاندنيو موادو کي به شريکانو او ثالثو اشخاصوته مسئول وي:

۱- د سهمونو د سندونو په بدل کښې د شريکانو د ورکړی د تصديق غلط والي.

۲- د هغو گټو عدم حقيقت چه ويشلي او ورکولي کيږي.

۳- د هغو دفترونو نشتوالي چه قانوناً د هغو وجود لازمي دي او يا د هغو بي نظمي.

۴- د هغي فيصلي نه اجراء چه د عمومي مجمع له خوا کيږي.

**مادۀ ۳۲۰:**
اعضای هیئت مدیره از معاملاتی که بنام شرکت انجام داده باشند ، شخصاً مسئول شمرده نمیشوند مگر در مواد آتی در نزد شرکاء و اشخاص ثالث مسئول خواهند بود :

۱- عدم صحت تصدیق تأدیات شرکاء در بدل سند سهام.

۲- عدم حقیقت مفادیکه توزیع و تادیه میگردد .

۳- عدم وجود دفاتریکه قانوناً وجود آن لازمیست و یا عدم نظم آن.

۴- عدم اجرای فیصلۀ که از طرف مجمع عمومی بعمل می آید .

۵- د هغو ټولو وظيفو نه په ځای کول چه د قانون له مخې او يا د شرکت له اساسنامي سره سمه د دوی په غاړه ايښې شوي وي.

په هغه صورت چه شرکت د پنځه گونو فقرو له وظيفه څخه يوه وظيفه د مديره هيئت يو غړی ته ورسپارلي وي نو مسئوليت يواځې هماغه غړی ته متوجه دي او په نورو غړيو به اړه ونلري.

۳۲۱ ماده:

د مديره هيئت غړی چه نوي ټاکلي کيږي مجبور دي چه د پخوانيو غړيو له غير اصولي معاملاتو څخه چه خبر شي نظار هيئت ته اطلاع ورکړی- او که نه، د دوي په مسئوليت کښې به ورسره شريک وبلل شي.

۳۲۲ ماده:

هغه غړی چه د (۳۲۱) مادې په موجب د پخواني مديره هيئت په غير اصولي معاملاتو کښې مخالف څرگندوني وکړی، د مخالفت سبب د غونډې په رويداد کښې داخل او نظار هيئت ته يي هم په ليکنه سره خبر ورکړی او يا د کوم عذر له کبله د همغي معاملي د خبرو اترو په وخت کښې حاضر نه وي، له مسئوليت څخه وتلي دي.

۵- عدم ايفای تمام وظايفی که از روی قانون و يا بر حسب اساسنامه شرکت بدوش ايشان گذاشته شده باشد.

در صورتيکه شرکت، يکی از وظايف فقرات پنجگانه را به يکی از اعضای هيئت مديره تفويض نموده باشد، مسئوليت تنها بخود همان عضو متوجه بوده و به ساير اعضاء ربطی نخواهد داشت.

مادۀ ۳۲۱:

اعضای هيئت مديره که جديداً تعيين ميشوند، مجبورند معاملات غير اصولی اعضای سابق را که از آن آگاه شوند به هيئت نظار اطلاع دهند و الادر مسئوليت ايشان شريک شمرده خواهند شد.

مادۀ ۳۲۲:

اعضائيکه بموجب مادۀ (۳۲۱) در معاملات غير اصولی هيئت مديره سابق اظهار مخالفت کرده، سبب مخالفت خود را در رويداد مجلس درج و به هيئت نظار نيز تحريراً خبر دهند و اگر بنابر معذرتی در اثنای مذاکره همان معامله حاضر نباشند، از مسئوليت بری ميباشند.

**۳۲۳ ماده:**

کـه د مـدیره هیئـت یـو غـړی پـه یـو صــورت لـــه صورتونـــو څخـــه د شرکـت د حاضر وضعیت په باره کښې پـه دسیسـه یـا لـه حقیقت نـه پـه چپـه بیاناتو سره دریم کسـان وغلوي، نـو دا شخص د هغـه زیـان مسـئول دي چـه لـه دي لاري څخه پېښېږي.

**۳۲۴ ماده:**

د هغه دعوو مسئولیت چه د (۳۲۰) او (۳۲۱) مـادو لـه مخې د مـدیره هیئت غړیوتـه مـتوجـه کیـږي د معـاملي د وقـوع لـه نېټـې څـخـه پـنـځه کـاله وروسته ساقطیږی.

**۳۲۵ ماده:**

پدې صورت چه عمومي مجمع د مدیره هیئت پر غړیو باندې د دعوي د اقـامي کـوم تصـویب کـړی وي نـو لـه هغـه تصویب سره سم اجراء کیږي.

که عمومي مجمع د دعـوي عـدم اقامـه تصویب کړی مګر هغـه سهم لرونکي چه په شرکت کښې پـه سلو کښې لس پانګه لـري ددې تصویب سره مخالفت وکــړی نــو شــرکت د تصــویب او د مخـالفینو د غوښـتنې لـه نېټـې څخـه مجبـور دي چـه تـر یـوي مـیاشتـي پورې دعـوا وربانـدې جـوړه کـړي.

**مادهٔ ۳۲۳:**

اگــر یــکی از اعضـای هیئت مـدیره بصــــورتی از صـور بـا دسیسـه یـا بیانـــات مـــغایر حقیقــت دربـــارهٔ وضعیـــت حـاضـــره شـرکـــت اشـــخاص ثالـث را اغـــفال کنـد، شخصـاً مسـئول ضـرری میباشـد کـه ازین رهگذر وارد میشود.

**مادهٔ ۳۲۴:**

مسـئولیـت دعـاوی ایکـه بـموجـب مـواد (۳۲۰) و (۳۲۱) بر علیه اعضـاء هیـئت مدیـره متوجـه میشـود، از تـاریـخ وقـوع معـاملـه پـس از پـنج سال ساقط میشود.

**مادهٔ ۳۲۵:**

در صـــورتیکه مجمـع عمـومی بـه اقـــامه دعوی بر علیه اعضـاء هیئت مدیــــره تــــصویبی بعمـــل آورده باشــــد، مطابق آن اجراء میشود.

اگـر مجمـع عــــمومی عـدم اقامـه دعـــــوی را تصـــــویب ولـــــی سهمداراـنیـکـه ده درصـد سـرمایه شـرکت را مـالـک باشـــند بـرین تــصویـــب مـخـالـفـــت کـنـــند، شـرکــــت از تـــاریخ تصـــویب و خواهـــش مـخالفــین مجبور است تـــا مدت یـکمـاه دعــوی را اقامـه

پــه پــاس خــصــوص کـبنــې د شـرکــت پــه نـامــه ددعـــوي اقـامــه پــه نــظـار هيئت پوري اړه لري.

کـــه ددعـــوي اقـامـــه د هغـــو ســهم لرونکو پـه آراو بانـدې چـه د شرکت پـه سلوکي لس پانګه ولري وشــي نـو سـهم لرونـکـي مـمـکـن دي چـه لـه خـارج څخـه وکيل وټاکي.

هغـه سـهـم لـرونکي چـه ددعـوي پـه اقامــه راي ورکـــوي، مجبــور دي چــه خپـل سـهمونه د شـرکت د خسـاري د تـأمين پــه نـامــه ددعــوي تــر پــاى تــه رسيدلو پـوري پـه يـوه مـعـتــبر بانـک کبنې د امانت په طور واچوی.

ددعــوي د رد پــه حــال کبنــې دا ســهم لـرونـکـي د شـرکـت د خـسـاري پـه پـوره کولو مکلف دی.

**۳۲۶ ماده:**
کــه د اساسـنـامي لــه مخــې او يــا د عـمـومي مجمـع د تصـويب پـه اثـر د شرکت د چارو اجراء کـول هغـه مديرتـه چـه دمـديــره هيئـت لـه غـړيـو څخـه نــه وي، وسـپـارل شـي، پـدې صـورت کبنــې دا مـديــر لـکــه دمـديره هيئـت غـړى دهغـو وظيفـو د نـــه اجـراء پـه نسبت چـه پـه (۳۲۰) مـاده کبنـې بيـان

نــمـايد. اقــامــه دعـــوى در مـــورد فــوق بـــنـام شـــرکت بـــه هيـئـت نــظـار تـعـلـق دارد.

اگــر اقـامــه دعـــوى بــه آراء ســهم دارانيکـــه ده فيصـــد ســـرمايه را نماينـدگى ميکننـد صـورت بگيـرد، ســـهمداران مـذکـور ممکـن است از خارج وکيل تعيين کنند.

ســـهمدارانــيـکـــه بـــه اقـامـــه دعــوى رأى مـــيـدهند مجـــبورند سـهــام خـــود را بــنـــام تـأمـيـــن خســارۀ شــرکت تــا خـــتم دعـوى بـــه يـک بـانـــک معـتبـرى بطـور امـانـت بــگذارند.

در حـــال رد دعـــوى ســــــهم داران مــذکـور بــه جبـران خسـارۀ شــرکت مکلف ميباشند.

**مادۀ ۳۲۶:**
اجـــراآت امـــور شرکـــت اگـــر بـموجب اســاســـنامه و يـا تصـويب مجمــع عـــمومى بــه مديريکــه از اعضـاى هـيـئـت مـديــره نباشـد ســپــرده شـــود، دريــن حــال مـدير مــذکـــور مثـــل عـضـــو هـيـئـــت مـديـــره از عـــدم ايـفـاى وظايـــفى کـــه در مـادۀ (۳۲۰) بيـان شـده در

شویدي د شریکانو او دریمو کسانو په مقابل کښې مسئول دي.

په اساسنامه کښې له دي حکم نه چپ د بل شرط قید او یا دا ادعاء چه دا مدیر دمدیره هیئت تر اثر لاندې دي، دده مسئولیت له منځه نشي وړلي.

**۳۲۷ ماده:**

د مدیره هیئت غړي له هغه قصور څخه چه د مدیر له خوا پیښ شي مسئول نه دي مگر که د مدیره هیئت غړی داسي کسان چه اهلیت نلري په کار مقررکړي او یا د دوی د بدو چارو او معاملاتو په خصوص کښې له دوي سره مراعات وکړی او یا په هغو چارو کښې چه صلاحیت یې نلري د کار اجازه ورکړی، البته شریکانو ته به په گډه سره مسئول وي. سره لدې، د مدیره هیئت هغه غړی چه د (۳۲۲) مادې له مخې پدې ډول تقصیراتو کښې خپل نه اشتراک ثابت کړی، له مسئولیت څخه به خلاص وی.

**۳۲۸ ماده:**

که په اساسنامه کښې په بل ډول مقرر شوي نه وي، مدیره هیئت کولای شي چه مدیران عزل او نصب کړی، د عزل او نصب صورت یې اعلانیږی.

مقابل شرکاء و اشخاص ثالث مسئول میباشند.

قید شرط دیگری مغایر این حکم در اساسنامه و یا ادعای اینکه مدیر مذکور زیر اثر هیئت مدیره میباشد، مسئولیت او را از بین نمی برد.

**مادهٔ ۳۲۷:**

اعضای هیئت مدیره از قصوریکه از طرف مدیر صادر شود مسئول نمیباشند ولی اگر اعضای هیئت مدیره اشخاصی را که اهلیت نداشته باشند به کار مقرر نمایند و یا راجع به امور و معاملات سوء آنها مسامحه کنند و یا در اموریکه صلاحیت نداشته باشند، اجازه کار بدهند، البته نزد شرکاء مجتمعاً مسئول خواهند بود. مع ذالک، اعضای هیئت مدیرهٔ که بموجب مادهٔ (۳۲۲) درین نوع تقصیرات عدم اشتراک شان را ثابت نمایند، از مسئولیت بری خواهند بود.

**مادهٔ ۳۲۸:**

اگر در اساسنامه بصورت دیگری مقرر نشده باشد، هیئت مدیره میتواند مدیران را عزل و نصب نماید صورت عزل و نصب اعلان میشود.

**۳۲۹ ماده:**

مدیران کولای شي ځینې هغه معاملې چه دوي ته یې اجازه ورکړ شوي وي د اجراء دپاره بل ته وسپاري مګر دخپل مدیریت وظیفه بل چاته نشي سپارلي.

**۳۳۰ ماده:**

مدیـــران د دومره مودې دپاره چه د مدیره هیئت د غړیو د وظیفې له مودې څخه زیاته وي ټاکل کېدای نشي او لکه د مدیره هیئت غړی د دوی عزل په هر وقت کېنې کېدای شي. هغه مدیر چه د سهم لرونکو له منځه ټاکلي او عزل شوي وي نشي کولای چه خساره وغواړي.

**۳۳۱ ماده:**

د سهامي شرکت مدیره هیئت برسیره په تجارتي دفترونو چه په ترتیب یې مجبور دي، مؤظف دي چه دا لاندې دفترونه هم ترتیب کړي:

۱- د سهم لرونکو مخصوص دفتر چه په هغه کېنې د سهم لرونکو نوم، دپلار نوم، شهرت عنوان او د استوګنې ځای قیدوي.

۲- د پانګې په مقابل کېنې ورکړې چه د شرکت د تشکیل له ډول نه ورکړې شوي او یا وروسته زیاتي شوي وي.

**مادۀ ۳۲۹:**

مدیرها اجرای بعضی معاملات را که بدان مجاز باشند، میتوانند بدیگری تفویض کنند ولی وظیفۀ مدیریت خود را نمیتوانند بدیگری بسپارند.

**مادۀ ۳۳۰:**

مدیر ها برای مدتیکه بیشتر از مدت وظیفه اعضای هیئت مدیره باشد، تعیین شده نمیتوانند و مثل اعضای هیئت مدیره عزل شان در هر وقت ممکن است. مدیریکه از بین سهمدران انتخاب و عزل گردیده باشد، نمی تواند ادعای خساره کند.

**مادۀ ۳۳۱:**

هیئت مدیره شرکت سهامی علاوه بر دفاتر تجارتی که به ترتیب آن مجبورند، مؤظف اند دفاتر ذیل را هم ترتیب دهند:

۱- دفتر مخصوص سهمداران که در آن اسم، ولدیت، شهرت، عنوان و مسکن سهمداران قید باشد.

۲- تادیات در مقابل سرمایۀ که در اول تشکیل شرکت داده شده و یا بعداً تزئید یافته باشد.

۳- د عمومي غونډو د رویداد کتاب.

۴- د مدیره هیئت د تصویبونو کتاب.

**۳۳۲ ماده:**
که په اساس نامه کښې د مامورینو د مقررۍ په باره کښې بل ډول مقرر شوي نه وي، د دوی ټاکل او مقررول د مدیره هیئت له وظیفو څخه دي.

**۳۳۳ ماده:**
که د شرکت د مدیره یا نظار هیئت یو غړی افلاس وکړي یا د دوی قانونیه اهلیت سلب شي یا په جنحه او جنایت محکوم شي، د شرکت له چارو څخه د دوی د وارسي واک پای ته رسي او د دوی په ځای بل شخص ټاکل کیږي.

**۳۳۴ ماده:**
مدیره هیئت کولای شي هغه واک او اقتدار چه لري یې د آراو په اکثریت یوه یا څو تنو ته ور وسپاري.

## دریېمه برخه
## نظار هیئت

**۳۳۵ ماده:**
که د شرکت په اساسنامه کښې بل ډول نه وي مقرر شوي نو د سهامي شرکتونو نظار هیئت له دوو تنو څخه

۳- کتاب رویداد مجامع عمومی.

۴- کتاب تصویبات هیئت مدیره.

**مادۀ ۳۳۲:**
اگر در اساسنامه راجع مقرری مامورین طور دیگری مقرر نباشد، انتخاب و مقرری آنها از وظایف هیئت مدیره است.

**مادۀ ۳۳۳:**
اگر یکی از اعضای هیئت مدیره یا نظار شرکت را افلاس کند و یا اهلیت قانونیه آنها سلب شود و یا به جنحه و جنایت محکوم گردند، صلاحیت شان در وارسی از امور شرکت ختم و عوض شان شخص دیگری انتخاب میشود.

**مادۀ ۳۳۴:**
هیئت مدیره میتواند صلاحیت و اقتداری را که دارند با اکثریت آراء به یک یا چند نفر خود تفویض نمایند.

## حصۀ سوم
## هیئت نظار

**مادۀ۳۳۵:**
اگر در اساسنامه شرکت طور دیگری مقرر نشده باشد، هیئت نظار شرکتهای سهامی مرکب از دو نفر

جوړېږي. نظار هيئت له شريکانو يا له غير شريکانو څخه لمړی وار د شرکت د تأسيس د عمومي مجمع له خوا د يو کال دپاره او يا د اکثر حد دپاره دري کاله د عمومي مجمع له خوا ټاکل کيږي. هغه نظار هيئت چه د انتخاب موده يې پای ته رسيږي بيا نوي ټاکل کېدای شي. نظار هيئت د مديره هيئت په غړيتوب ټاکل کيدای نشي. همدا راز د مامور په صفت د شرکت معاملات اداره کولای نشي. د مديره هيئت غړی چه وظيفي يې پايته رسيږي ترهغه وخته پورې چه له عمومي مجمع څخه برائت حاصل نکړی، د نظار هيئت غړی ټاکل کيدای نشي.

**۳۳۶ ماده:**

عمومي مجمع د ځينو موضوعاتو دپاره کولای شي چه ځانګړی نظار هيئت وټاکي.

**۳۳۷ ماده:**

هغه کسان چه د مديره هيئت له غړيو سره خپلوي او قرابت لري، لکه پلار زوي، کاکا، ماما، خسر او زوم، د نظار هيئت غړی کيدای نشي او که ټاکل شوي وي نو استعفا ته مجبور دي.

ميباشند. هيئت نظار از شرکاء و يا غير شرکاء دفعهٔ اول براى مدت يکسال از طرف مجمع عمومى تأسيس شرکت و بعداً براى حد اکثر سه سال از طرف مجمع عمومى انتخاب ميشوند. هيئت نظاريکه مدت انتخاب شان به اختتام ميرسد، مجدداً انتخاب شده ميتوانند. هيئت نظار به عضويت هيئت مديره انتخاب شده نميتوانند همچنان بصفت مامور معاملات شرکت را اداره کرده نمى توانند. اعضاى هيئت مديره که وظايف ايشان خاتمه مى يابد، تا وقتيکه از مجمع عمومى برائت حاصل ننمايند، عضو هيئت نظار انتخاب شده نمى توانند.

**مادهٔ ۳۳۶:**

مجمع عمومى براى تدقيق بعضى موضوعات معيينه ميتواند هيئت نظار جداگانه انتخاب کند.

**مادهٔ ۳۳۷:**

کسانيکه با اعضاى هيئت مديره خويشى و قرابت نسبى داشته باشند، مثل پدر، پسر، کاکا، ماما، خسر، داماد، عضو هيئت نظار انتخاب شده نمى توانند و اگر انتخاب شده باشند، مجبور به استعفاء ميباشند.

۳۳۸ ماده:
د نظار هیئت غړی په هر وخت کښې د عمومي مجمع لـه خـوا موقـوف او پـه ځای یي نور مقرریداي شي او کـه کـوم غړی له سهم لرونکو څخه ټاکلي شوي وي، دخپـل عـزل پـه نسـبت د خسـاري دعوي نشي کولای.

مادهٔ ۳۳۸:
اعضـای هیئـت نظـار در هـر زمـان از طـرف مجمـع عمـومی عـزل و عـوض ایشـان دیگـری نصب شـده میتوانـد و اگر عضوی از بین سهمداران انتخاب گردیـده باشـد، نسـبت بـه عـزل خـود دعوی خساره نمی تواند.

۳۳۹ ماده:
د نظار هیئت تعیین او تبدیل د مدیره هیئت له خوا د تجارت د ثبت په دائره کښې ثبت او اعلانیږی.

مادهٔ ۳۳۹:
تعیین و تبدیل هیئت نظار از طرف هیئت مدیره به دایرهٔ ثبت تجارت ثبت گردیده، اعلان میشود.

۳۴۰ ماده:
که د نظار هیئت کوم غړی په کوم علت لـه علتـو سره د وظیفـي لـه اجراء څخه بیرتـه پـاتي شي نـو د نظار هیئت نـور غـړی دده د وظیفـي د پـه ځـای کولـو د پـاره د عمومي مجمع د لـومړی ټولني تر وخته پورې یو بل غړی انتخابوي. په دی صورت چه د نظار هئیت غـړی دوه تنـه وي نـو کمبـود غـړی یـي محکمـه ټـاکې او د عمومي مجمـع تـر لـومړی غونډې پورې وظیفه اجراء کوی.

مادهٔ ۳۴۰:
اگـر یکـی از اعضـای هیئـت نظـار بـه علتـی از علـل از اجـرای وظیفـه بازمانـد، اعضـای دیگـر نظـار بـرای رسیدگی به وظیفهٔ او، تـا موقـع اولـین اجتمـاع مجمـع عمـومی، یـک عضـو دیگـر را انتخـاب میکننـد و در صـورتیکه اعضـای هیئـت نظـار مـرکب از دو نفر باشند، عضو کمبود را محکمـه تعیـین و تـا انعقـاد اولـین مجمع عمومی اجرای وظیفه میکند.

۳۴۱ ماده:
نـظار هیئـت پـه لاندنیـو وظیفـو مـؤظف دی:

مادهٔ ۳۴۱:
هیئـت نـظـار بـه وظائـف ذیـل مؤظف میباشند:

۱- د مدیـره هیئـت پـه اتفـاق د

۱- بـه اتفـاق اعضـای هیئـت مـدیره

بیلانس شکلي تنظیم او داسهامو د وضع د څرنګوالي ټاکل.

تنظیم شکل بیلانس و تعیین چگونگی وضع سهام.

۲- د شرکت د دفترونو د چارو د جریان تدقیق لږ ترلږه په شپږ میاشتو کښې یوځلي.

۲- تدقیق جریان امور دفاتر شرکت اقلاً شش ماه یک مرتبه.

۳- د شرکت د خزاني پلټنه لږ ترلږه په دري میاشتو کښې یوځلي په ناڅاپي او غیر منتظره ډول.

۳- تفتیش خزانه شرکت اقلاً سه ماه یک مرتبه بصورت ناگهانی و غیر منتظره.

۴- د هر ډول قیمت لرونکو پاڼو موجودي چه د ګروی یا تضمیناتو په صورت او یا د امانت په توګه د شرکت په خزانه کښې ایښودل شوي وي او د هغو تطبیق له مربوطو دفترونو سره لږ ترلږه په میاشت کښې یو ځلي.

۴- موجودی هر نوع اوراق قیمت دار که بصورت رهن یا تضمینات و یا بطور امانت در خزانه شرکت گذاشته شده باشد و تطبیق آن به دفاتر مربوطه اقلاً ماه یک مرتبه.

۵- د عمومي مجمع د ټولني د غوښتني په خصوص کښې د اساسنامي د مقرراتو د رعایت تدقیق.

۵- تدقیق رعایت مقررات اساسنامه راجع به دعوت و اجتماع مجمع عمومی.

۶- د کالني بیلانس تدقیق.

۶- تدقیق بیلانس سنوی.

۷- د شرکت د اساسنامي د مقرراتو او د قانون د احکامو په رڼا کښې د مدیره هیئت د غړیو د چارو کتنه.

۷- نظارت اعمال اعضای هیئت مدیره در پرتو احکام قانون ومقررات اساسنامه شرکت.

۸- د مدیره هیئت د اهمال په صورت کښې دعادي یا فوق العاده عمومي مجمع غوښتنه.

۸- دعوت مجمع عمومی عادی و یا فوق العاده در صورت اهمال هیئت مدیره.

۹- په عمومي غونډو کښې حضور.

۱۰- د تصفيي د معاملو کتنه.

**۳۴۲ ماده:**
نظار هيئت مکلف دي چه د هر مالي کال په پای کښې د هغه راپور او نورو پاڼو په خصوص کښې چه مديره هيئت يې د شرکت د وضعيت او بيلانس او نورو ځايو او د ګټې د ويشلو په باره کښې ترتيبوی، خپلې کتنې عمومي مجمع ته وسپاري.

**۳۴۳ ماده:**
د نظارت هيئت واک چه په (۳۳۵) او (۳۴۲) مادو کښې داخل دي، د شرکت د اساسنامې په ذريعه تجديداي نشي.

**۳۴۴ ماده:**
نظار هيئت مجبور دي چه د مهمو او فوري عواملو څرګنديدو په صورت عمومي مجمع فوق العاده غونډې ته راوغواړی.

**۳۴۵ ماده:**
نظار هيئت مکلف دي چه خپلې وظيفي په ښه صورت اجراء کړی او که نه عمومي مجمع ته مسئول دي. د نظار هيئت دمسئوليت په خصوص کښې ددعوي حق د مسئوليت د

۹- حضور در مجالس عمومی.

۱۰- نظارت معاملات تصفيه.

**مادۀ ۳۴۲:**
هيئت نظار مکلف است تا در اخير هر سال مالی دوباره راپور و ساير اوراقيکه هيئت مديره راجع به وضعيت شرکت و بيلانس و حسابات ديگر و توزيع مفاد ترتيب ميکنند، مطالعات خود را به مجمع عمومی بسپارد.

**مادۀ ۳۴۳:**
صلاحيت هيئت نظار که در مواد (۳۳۵ و ۳۴۲) درج است، به ذريعه اساسنامه شرکت تجديد شده نميتواند.

**مادۀ ۳۴۴:**
هيئت نظار مجبورند در صورت ظهور عوامل مهم و فوری، مجمع عمومی را به اجتماع فوق العاده دعوت کنند.

**مادۀ ۳۴۵:**
هيئت نظار مکلف اند که وظايف خود را به حسن صورت اجراء نمايند و اِلّا نزد مجمع عمومی مسئول ميباشند، حق دعوی راجع به مسئوليت هيئت نظار از تاريخ ظهور

ځرګندیدو لـه نېټې څخـه وروسـته لـه پنځو کـالو د تیریدونه ساقطیږي.

**۳۴۶ ماده:**

هر سهم لرونکي د شرکت د چارو په بـاره کښـې کـولای شي چـه د مـدیره هیئت او دشرکت د مدیرانو لـه لاسـه نظـار هیئت تـه مراجعـه وکړي. نظـار هیئـت مجبـور دي د هغـي موضـوع پـه نسبت چـه دوي تـه یـي مراجعـه شـوي دي، تحقیقات وکړي.

کـه تحقیقاتـو پـه نتیجـه کښـې ادعـا صحـت ومومـي نـو کیفیـت د عـمومي مجمـع دپـاره پخپـل کـالني رپوټ کښـې درجوي.

پدې صورت چه مراجعین د شرکت په پانګه کښې په سلو کښې لـه لسو څخه نمایندګي وکړي نو نظار هیئت خپلې کتنـي او نظریـات د واقعـي پـه نسبت، عام لـه دي نـه چـه صحت لـري یـایې نـه لـري، پـه راپـور کښـې داخلـوي او پـدې صـورت چـه لازم وي کـولای شـي چـه عمومي مجمع فـوق العـاده غونډې تـه راوغـواړي. هغـه مـراجعین چـه نظـار هیئت تـه مراجعـه کـوي نـولازم دي چـه دهغـو اسـهامو انـدازه چـه د شـرکت دپانګې پـه سلو کښې لـه لسو سره برابره وي چه یـو معتبر بانک کښې د تضمن

مسـئولیت بعـد از مـرور پـنج سـال ساقط میشود.

**مادهٔ ۳۴۶:**

هـر سـهم دار راجـع بـه امـور شـرکت بـر علیـه هیـئت مـدیره و مـدیـران شـرکـت میتوانـد بـه هیئـت نظـار مـراجعـه کنـد. هیئـت نظـارت مجبـور اسـت نسـبت بـموضوعی کـه بـه ایشـان مراجعـه شـده، تحقیقات کنند.

اگـر در نتیجهٔ تحقیقـات ادعـاء صحت پیـدا کنـد، کیفیـت را در راپـور سـالانهٔ خـود بـه مجمـع عمومی درج میکنند.

در صـورتیکه مـراجعین از ده فیصـد سـرمایه شـرکت نمایندگی کننـد، هیـئت نظـار مطالعـات و نظریـات خـود را بـه نـسبـت واقعـه، اعـم از اینکـه صـحت دارد یـا نـدارد، در راپـور درج مینمایـد و درصـورتیکه لازم بـاشـد، میتواننـد مجـمع عمومـی را بـه اجتمـاع فـوق العـاده دعـوت کننـد. مـراجعینـی کـه بـه هیـئت نظـار مراجعـت میـکننـد، لازم است مقـدار اسهامی را کـه معـادل ده فیصـد سـرمایـه شـرکـت بـاشـد، بـه یک بـانـک

په ډول واچوي، دا اسهام به دعمومي مجمع د لومړی غونډې ترپای ته رسيدلو پورې په بانک کښې ساتل کيږي.

معتبر بطور تضمين بگذارند اين اسهام تا ختم اولين اجتماع مجمع عمومی در بانک حفظ ميشود.

۳۴۷ ماده:

د نظار هيئت غړی کولای شي چه د مديره هيئت په خبرو اترو کښې حاضر شي او داسي پيشنهادونه چه مناسب يي وبولي، مديره هيئت او يا عادي ټولنو او فوق العاده ټولنو ته وړاندي کړي. مګر د نظار هيئت غړی د مديره هيئت په غونډو او په عمومي ټولنو کښې د رأي حق نلري.

مادهٔ ۳۴۷:

اعضای هيئت نظار ميتوانند در مذاکرات هيئت مديره حاضر شده پيشنهاداتی را که مناسب بدانند به هيئت مديره و يا مجامع عادی و فوق العاده تقديم دارند. ولی اعضای نظار در مجالس هيئت مديره و مجامع عمومی حق رأی ندارند.

## څلورمه برخه
## عمومي مجمع

۳۴۸ ماده:

د سهامي شرکتونو د عمومي مجمع غونډه يا په عادي ډول او يا په فوق العاده صورت وي. عادي غونډه وروسته له هري حسابي دوری نه وروسته په موده د څلورو مياشتو کښې او لږ ترلږه په کال کښې يو ځلي کيږي.

پدې غونډه کښې د (۳۵۸) مادې له مخې دهغو موضوعاتو په شاوخوا کښې چه د هغو داخليدل په آجنده

## حصهٔ چهارم
## مجمع عمومی

مادهٔ ۳۴۸:

اجتماع مجمع عمومی شرکتهای سهامی يا بطور عادی و يا بصورت فوق العاده ميباشد. اجتماع عادی بعد از ختم هر دوره حسابيه در ظرف چهارماه و اقلاً در سال يکبار انعقاد ميیابد.

درين اجتماع بموجب مادهٔ (۳۵۸) در اطراف موضوعاتيکه درج آنها در آجندا لازم است،

کښې لاژم دي څېړنه او خبرې اترې کيږي او د ضرورت په وخت کښې عمومي مجمع فوق العاده غونډې ته رابلله کيږي.

**۳۴۹ ماده:**
د عادي غونډې او فوق العاده غونډې دپاره د عمومي مجمع رابلل په مديره هيئت پورې اړه لري. نظار هيئت هم کولای شي چه د (۳۴۴) مادې له مخې عمومي مجمع د فوق العاده ټولني دپاره وغواړي.

**۳۵۰ ماده:**
که په اساسنامه کښې بل ډول قيدشوي نه وي، عمومي مجمع په هغه ځای چه د شرکت مرکز وي ټولني ته غوښتله کيږي.

**۳۵۱ ماده:**
که په اساسنامه کښې بل ډول قيدشوي نه وي، د برخو خاوندان په عمومي غونډو کښې د خپلې برخي په تناسب د رای حق لري. هغه سهم لرونکي چه د ټاکلي سهم خاوندان نه وي، کولای شي چه په مشترک ډول خپل سهمونه د نصاب حد ته ورسوي او له خپله منځه يوتن په ليکنه سره نماينده معرفي او د عمومي مجمع په خبرو اترو کښې ګډون وکړي.

بحث و مذاکره ميشود و در صورت لزوم، مجمع عمومی به اجتماع فوق العاده دعوت ميشود.

**مادهٔ ۳۴۹:**
دعوت مجمع عمومی برای اجتماع عادی و اجتماع فوق العاده به هيئت مديره مربوط است. هيئت نظار هم ميتواند بموجب مادهٔ (۳۴۴) مجمع فوق العاده را دعوت به انعقاد کند.

**مادهٔ ۳۵۰:**
اگر در اساسنامه طور ديگر قيد نشده باشد، مجمع عمومی در محليکه مرکز شرکت است به اجتماع دعوت ميشود.

**مادهٔ ۳۵۱:**
اگر در اساسنامه طور ديگری قيد نشده باشد، ارباب سهام در مجامع عمومی به تناسب سهم خود حق رای دارند. سهمدارانيکه مالک سهم معيينه نباشند، ميتوانند بطور مشترک اسهام خود را به حد نصاب رسانيده از بين خويش شخصی را کتباً نماينده معرفی و در مذاکرات مجمع عمومی اشتراک کنند.

**۳۵۲ ماده:**

د عمومي مجامعو د تشکيل دپاره (پرته له هغو موضوعاتو چه په دي قانون کښې مقررشويدی) هغه نصاب چه اساسنامه يي وټاکي، د اعتبار وړ دی مګر په دي شرط چه نصاب د پانګې له ۱ پر ۴ برخي څخه لږ نه وي. که په لومړۍ غونډه کښې نصاب حاصل نشي نو په موده د پنځلسو ورځو کښې مجمع بيا غونډی ته بلله کيږي. هغه سهم لرونکي چه په دوهمه غونډه کښې حاضريږی، په خبرواترو او راي ورکولو کښې حق لری. تصويبونه د رايو په اکثريت (اصالتاً وي او که وکالتاً) د اعتبار وړ دی.

**۳۵۳ ماده:**

له سهم لرونکو څخه هيڅوک چه په کومه موضوع کی د علاقي خاوند وي، د راي حق نلری.

**۳۵۴ ماده:**

هغه سهم لرونکي چه لږ ترلږه د شرکت د سهمونو په سلو کښې شل سهمونه ولری، کولای شي چه د عمومي مجمع په ترلو کښې کتبي او مستنده تقاضا ورکړی- مديره هيئت مکلف دي چه ددې تقاضا په موجب عمومي مجمع فوق العاده غونډې ته راوبولي. پدې صورت هغه مواد چه د خبرواترو تقاضا

**مادهٔ ۳۵۲:**

برای تشکيل مجامع عمومی (به استثنای موضوعاتيکه درين قانون مقرر شده) نصابيکه اساسنامه آنرا تعيين ميکنند، معتبر است ولی مشروط بر اين که اين نصاب از ۱ بر ۴ حصهٔ سرمايه کمتر نباشد. اگر نصاب در اجتماع اول حاصل شده نتوانند، به فاصله **۱۵** روز مجمع دوباره به اجتماع دعوت ميشود. سهمدارانيکه در اجتماع دوم حضور بهم ميرسانند، در مذاکرات اعطاء رای صلاحيت دارند. تصاويب به اکثريت آراء (چه اصالتاً باشد و چه وکالتاً) معتبر است.

**مادهٔ ۳۵۳:**

هيچ يکی از سهمداران به موضوعيکه شخصاً ذيعلاقه باشد، حق رای ندارد.

**مادهٔ ۳۵۴:**

سهمدارانيکه اقلاً دارای بيست فيصد سهام شرکت باشند، ميتوانند تقاضای کتبی و مستند در انعقاد مجمع عمومی بدهند. هيئت مديره مکلف است که بموجب اين تقاضا مجمع عمومی را به اجتماع فوق العاده دعوت کند. درينصورت

يې شويده، د مجلس په اجندا کښې داخليږي ممکن دي چه په اساسنامه کښې دا هم مقرر شي هغه سهم لرونکي چه د شرکت په پانګه کي په سلو کي لس برخي ولري هم وکولای شي چه د عمومي مجمع په حاضرولو کښې دا حق استعمال کړي.

**۳۵۵ ماده:**

پدې صورت چه دسهم لرونکو په کتبی تقاضا له (**۳۵۴**) مادې سره سم د مديره هيئت له خوا او د (**۳۴۶**) مادې په موجب د نظار هيئت له خوا کومه اعتنا ونشي نو دشرکت محلي تجارتي محکمه ددې سهم لرونکو د مراجعي په اثر عمومي مجمع راوغواړي او هغه موضوعات چه غوښتنې يې شويدي د اجندي جزء ګرځوی او پدې صورت کښې د اجتماع په اعلان کښې بايد د محکمي اجازه هم تصريح شي. محکمي ته د مراجعي په حال کښې هم د (**۳۴۶**) مادې د وروستۍ فقرې حکم تطبيق کيږي.

**۳۵۶ ماده:**

د غونډې دپاره دعمومي مجمع غوښتنه په هغه ترتيب او شکل چه په اساسنامه کښې ذکر شوي وي اجراء کيږي او د غونډې له وخته لږ ترلږه يوه مياشت پخوا سهم لرونکو ته اطلاع

موادیکه مذاکرۀ آن تقاضا شده است، به آجندای مجلس داخل میشود. ممکن است در اساسنامه مقرر شود که سهمدارانیکه ده فیصد از سرمایه شرکت را نمایندگی کنند هم بتوانند این حق را در احضار مجمع عمومی استعمال نمایند.

**مادۀ ۳۵۵:**

در صورتیکه به تقاضای کتبی سهمداران طبق مادۀ (**۳۵۴**) از طرف هیئت مدیره و یا بموجب مادۀ (**۳۴۶**) از طرف هیئت نظار ترتیب اثر داده نشود، محکمه تجارتی محل شرکت میتواند به اثر مراجعه سهمدران مذکور مجمع عمومی را دعوت و موضوعاتی را که خواهش نموده اند، جزو آجندا قرار دهد درینصورت، در اعلان اجتماع باید اجازه محکمه هم تصریح گردد. در حال مراجعه به محکمه هم حکم فقره اخیر مادۀ (**۳۴۶**) تطبیق میشود.

**مادۀ ۳۵۶:**

دعوت مجمع عمومی برای اجتماع به ترتیب و شکلیکه در اساسنامه ذکر شده اجراء میشود و اقلاً یکماه قبل از زمان اجتماع به سهمداران اطلاع

ورکول کیږي.

**۳۵۷ ماده:**
لپاره ددې چه دبې نامه سهمونو خاوندان وکولای شي په عمومي مجمع کښې راي ورکړي، لازم دي چه خپل سهمونه او سندونه د غونډې له ورځې څخه لس ورځې پخوا شرکت ته وسپاري.

**۳۵۸ ماده:**
د عمومي مجمع د غونډې غوښتنپاڼې او اعلانونه باید چه دا لاندې اجندا ولري:

۱- د هغو راپورونو لوستل چه د مدیره هیئت او د نظار هیئت له خوا ترتیبیږي.

۲- د ګټې د ویشلو پیشنهاد او دګټې او ضرر حساب او د بیلانس تصدیق یا تعدیل یا رد.

۳- که په بل ډول ټاکلي شوي نه وي، د حق الزحمي ټاکل او دمدیره هیئت او د نظار هیئت د غړیو ګټې ټاکل.

۴- د مدیره هیئت او نظار هیئت دهغو غړیو بیا نوي انتخاب او یا تبدیل چه د دوی دخدمت موده پای ته رسیدلې وي. هغه موضوعات چه په اجندا کښې

داده میشود.

**مادۀ ۳۵۷:**
برای اینکه مالکین سهام بی اسم بتوانند در مجمع عمومی رای بدهند، لازم است که سهام و اسناد خود را ده روز قبل از روز اجتماع به شرکت بسپارند.

**مادۀ ۳۵۸:**
اعلانات و دعوت نامه های انعقاد مجمع عمومی لازم است که حاوی آجندای ذیل باشد:

۱- قرائت راپورهاییکه از طرف هیئت مدیره و هیئت نظار ترتیب داده میشود.

۲- تصدیق یا تعدیل یا رد بیلانس و حساب نفع و ضرر و پیشنهاد توزیع مفاد.

۳- اگر طور دیگری تعیین نشده باشد، تعیین حق الزحمه و منافع اعضای هیئت مدیره و هیئت نظار.

۴- انتخاب مجدد و یا تبدیل اعضای هیئت مدیره و نظاریکه مدت خدمت شان ختم شده باشد. موضوعاتیکه در آجندا

قيد شوي نه وي، خبري اتري نه وربانديې کيږي.

**تبصره:**

د لزوم په صورت نور مواد هم په اجندا کښې د اخليداى شي.

**۳۵۹ ماده:**

هر سهم لرونکی چه د رأي حق ولری کولای شي چه د مجمع د غونډې له ورځې څخه لس ورځې پخوا دشتو دفتر د ګټې او زيان حساب او بيلانس او د نظار هيئت او د مديره هيئت راپور د شرکت په مرکز کښې تدقيق کړی او دراپور او بيلانس نقل واخلي.

**تبصره:**

ممکن دي چه د مديره او نظار هيئت راپورټ سره له بيلانس او دګټې او زيان حساب لا پخوا چاپ او د مجمع د غوندی په وخت کښې سهم لرونکو ته وويشلي شي.

**۳۶۰ ماده:**

دعمومي مجمع په ټولنه کښې يوداسي جدول ترتيبيږی چه د هغو سهم لرونکو يا د دوی دوکيلانو چه حاضر شوي وي، نومونه او داستوګنې ځای او داسهامو اندازه وښئی. دا جدول د رئيس او منشي له خوا لاس ليک کيږي

قيد نشده باشد، مورد مذاکره قرار داده نميشود.

**تبصره:**

در صورت لزوم، مواد ديگری هم درج آجندا شده ميتواند.

**مادۀ ۳۵۹:**

هر سهمداريکه حق رأی داشته باشد ميتواند قبل از ده روز اجتماع مجمع، دفتر دارايی و حساب نفع و ضرر و بيلانس و راپور های هيئت نظار و هيئت مديره را در مرکز شرکت تدقيق کرده و نقل راپور و بيلانس را اخذ کند.

**تبصره:**

ممکن است راپورت هيئت مديره و نظار با بيلانس و حساب نفع و ضرر قبلاً چاپ و حين انعقاد مجمع به سهمداران توزيع گردد.

**مادۀ ۳۶۰:**

در اجتماع مجمع عمومی جدولی ترتيب ميشود که اسامی و محل اقامت و مقدار سهام سهمداران و يا وکلای شانرا که حاضر شده اند، نشان بدهد. اين جدول از طرف رئيس و منشی امضاء شده و در

او د مجمع له نورو پاڼوسره په مخصوصه دوسيه کښې ساتلي کيږي.

۳۶۱ ماده:
د مجمع رئيس پخپله د عمومي مجمع له خوا ځخه ټاکل کيږي.

۳۶۲ ماده:
د زياتو سهم لرونکو يا د لږو چه د شرکت په پانګه کښې لسمه برخه ولري، د غوښتنې په اثر د بيلانس په خصوص کښې خبري اترې تر پنځلسو ورځو پورې ټالېدای شي.

۳۶۳ ماده:
د عادي او فوق العاده عمومي مجمع د تصويبونو يو نقل سره د هغو سهم لرونکو د نومونو له جدوله چه د (۳۶۰) مادې له قراره غونډې ته حاضر شوي دي او د غوښتنې د هغو مثبتو اسنادو سره چه مجمع د قانون له مخې منعقده شوي ده بايد ترتيب او د مجلس د رويداد سره د تجارتي ثبت دايري ته دثبت دپاره وليږل شي.

۳۶۴ ماده:
که هغه سهم لرونکي چه د شرکت په پانګه کښې لسمه برخه لري ادعا وکړي چه د شرکت په تأسيساتو او يا د هغه په معاملاتو کښې بد استعمالات

جـزء ديگـر اوراق مجمـع بـه دوسـيه مخصوصی حفظ ميگردد.

مادهٔ ۳۶۱:
رئـيس مجمـع از طـرف خـود مجمـع عمومی انتخاب ميشود.

مادهٔ ۳۶۲:
در اثر درخواست اکثريت سهمداران و يا اقليتی که دهم حصهٔ سرمايه شرکت را نماينـدگی کنـد، مـذاکره راجـع بـه بـيلانس بـرای (۱۵) روز بـه تعويـق انداخته شده ميتواند.

مادهٔ ۳۶۳:
يـک نقـل تصويبـات مجمـع عمومـی عـادی و فـوق الـعاده با جـدول اسامـی سهمدارانيکـه قـرار مـادهٔ (۳۶۰) به اجتـماع حاضر شده انـد و اسناد مثبـته دعوت که مجمـع بـه قـرار قـانون منعقـد شـده تـرتيب گرديده و با رويداد مجلـس بـرای ثبـت در دايـرهٔ ثبـت تجارتی ارسـال ميگردد.

مادهٔ ۳۶۴:
اگـر سهمدارانيکـه دارای ده يـک سـرمايـه شرکـت باشنـد، ادعـا کننـد کـه در تـأسيسات شـرکـت و يـا معـاملات آن سوء استعمـالات

شته یا د قانون په احکامو او د شرکت د اساسنامي په مقرراتو کښې ګوتې وهلي کیږي، کولای شي چه د هغو د پلټنې دپاره له عمومي مجمع څخه تقاضا وکړی چه یو خصوصي نظار هیئت وټاکي.

له عمومي مجمع څخه ددې تقاضا د رد په صورت محکمي ته رجوع کولای شي مګر پدې صورت کښې لازم دي چه لازمه مصارف لاېخوا ورکړی او هغه اسهام چه لري یي، یو معتبر بانک ته وسپاری. پدې صورت کښې چه دا غوښتنه د محکمي له خوا رد شي او یا سره له په نظر کښې نیولو او د تحقیقاتو نتایج بې مورده ولیدل شي نو هغه سهم لرونکي چه د دوی بد نیت پدې کار کښې په ثبوت ورسي، د هغه ضررچه شرکت له دې حیثه موندلي وي، دوي په ګډه سره مسئول دي.

**۳۶۵ ماده:**

له عمومي مجمع څخه د بیلانس تصدیق د مدیره هیئت او نظار هیئت د غړیو د برائت متضمن دي خوسره له دې هم که د بیلانس په مندرجاتو کښې کږ کیچنی او پیچیدګی وي د مدیره او نظار هیئتونو غړی د مجمع له خوا د هغي په تصدیق برائت نشي موندلای.

وجود دارد یا احکام قانون و مقررات اساسنامه شرکت اخلال میشود، میتوانند برای تحقیق آن از مجمع عمومی تقاضا کنند که هیئت نظار خصوصی تعیین شود.

درصورت رد این تقاضا از مجمع عمومی، میتوانند به محکمه رجوع کنند ولی درینصورت لازم است که مصارف لازمه را قبلاً تادیه و سهامی را که مالک اند، به یک بانک معتبر تودیع نمایند. درصورتیکه این درخواست از طرف محکمه رد گردد و یا با درنظر گرفتن نتایج تحقیقات بی مورد دیده شود، سهمدارانیکه سؤنیت ایشان در این امر به ثبوت برسد، برای ضرریکه شرکت ازین حیث متحمل گردیده باشد، جمعاً مسئول اند.

**مادۀ۳۶۵:**

تصدیق بیلانس از مجمع عمومی متضمن برائت اعضای هیئت مدیره وهیئت نظار است. با اینهم، اگر در مندرجات بیلانس غموض و پیچیدگی وجود داشته باشد، اعضای هیت مدیره و نظار نمیتوانند با تصدیق آن از طرف مجمع برائت حاصل کنند.

**۳۶۶ ماده:**

هغه تصویبونه چه د عمومي مجمع له خوا کیږي د هغو شریکانو په باره کښې چه په ټولنه کښې حاضر نه وي او یا مخالفه رایه ورکړی هم معتبردي.

**۳۶۷ ماده:**

دعمومي مجمع په تصویبونو باندې چه د قانون له صریحو احکامو او یا د شرکت له اساسنامي څخه چپ وي، د صدور له نېټې څخه تر دري میاشتو پورې کولای شي هغي محکمي ته چه د شرکت په محل کښې وي او د تجاریه معاملاتو په فیصله باندې مکلف وي مراجعه او اعتراض وکړی او د اعتراض حق وهغو کسانو ته عائد دی:

۱- هغو سهم لرونکو ته چه په غونډه کښې حاضر نه وي مګر له تصویب سره مخالف او خپل مخالفت یي د رویداد په پاڼه کښې داخل کړی وي، او یا په غیر قانوني صورت له راي ورکولونه محروم شوي وي او یا ټولنی ته په قانوني صورت نه وي را بلل شوي.

۲- مدیره هیئت.

۳- هر یوه د مدیره هیئت او نظار هیئت له غړیو څخه پدې صورت چه تصویب د دوی دپاره د مسئولیت

**مادۀ ۳۶۶:**

تصویباتیکه از طرف مجمع عمومی بعمل می آید، راجع به شرکاییکه در اجتماع حاضر نباشند و یا رای مخالف بدهند نیز معتبر است.

**مادۀ ۳۶۷:**

بر علیه تصویبات مجمع عمومی (که مغایر احکام صریحه قانون و یا اساسنامه شرکت باشد) از تاریخ صدور الی سه ماه میتوان به محکمۀ که در محل شرکت بوده و به فیصله معاملات تجاریه مکلف باشد، مراجعت و اعتراض کرد. حق اعتراض عاید است به:

۱- سهمدارانیکه در اجتماع حاضر بوده لیکن با تصویب مخالف و مخالفت خود را به ورقه رویداد درج کرده اند یا بصورت غیر قانونی از دادن رای محروم شده باشند و یا دعوت به اجتماع بصورت قانونی بعمل نیامده باشند.

۲- هیئت مدیره.

۳- هر یکی از اعضای هیئت مدیره و هیئت نظار درصورتیکه تصویب برایشان موجب

دپيداکيدو موجب شي، که د عمومي مجمع له تصويب څخه اعتراضونه ډير وي، محاکمه د دوی يوه وي نو بنا پردي، د اعتراض د مودې تر پای ته رسيدو پورې د شکاياتو اوريدل ټاليږی. محکمه د علاقه مندانو د غوښتنې په اثر کولای شي چه له اعتراض کوونکو څخه د شرکت د احتمالي زيان په مقابل کښې د ضمانت تقاضا وکړی.

د ضمانتونو د اندازې ټاکل په محکمه پورې اړه لري، که اعتراض د مديره هيئت له خوا وی، د شرکت له خوا نظار هيئت نمايندګي کوی.

**۳۶۸ ماده:**

د مجمع په تصويب باندې د اعتراض په صورت له (۳۶۷) مادې سره سم محکمه کولای شي چه د مديره هيئت او د نظار هيئت له غړيو څخه د توضيح غوښتلو څخه وروسته د هغه تصويب اجراء چه په هغه باندې اعتراض راغلي وي، ټال کړی.

**۳۶۹ ماده:**

د هغه تصويب دفسخ په خصوص کښې دمحکمې تصويب چه اعتراض ورباندې شوي دي، وروسته له هغه چه قطعي صورت ومومي، د ټولو سهم

تولید مسئولیت گردد، اگر اعتراضات از تصویب عمومی متعدد باشد، محاکمهٔ آنها واحد است و بنابرین تا ختم مدت اعتراض رسیدگی به شکایات معطل میشود. محکمه به اثر درخواست علاقمندان میتواند از اعتراض کنندگان ضماناتی را در مقابل ضرر احتمالی شرکت تقاضا کند.

تعیین مقدار ضمانات مربوط به محکمه است، اگر اعتراض از جانب هیئت مدیره باشد، از طرف شرکت هیئت نظار نمایندگی میکند.

**مادهٔ ۳۶۸:**

در صورت اعتراض بر علیه تصویب مجمع بر طبق مادهٔ (۳۶۷)، محکمه میتواند بعد از خواستن توضیح از اعضای هیئت مدیره و هیئت نظار اجرای تصویب را که بر علیه آن اعتراض واقع شده باشد، تأخیر کند.

**مادهٔ ۳۶۹:**

حکم محکمه راجع به فسخ تصویبی که مورد اعتراض است، بعد از آنکه صورت قطعیه را بخود بگیرد، دربارهٔ

لرونکو دپاره داعتبار وړ بلل کیږي. مدیره هیئت مجبور دي ترڅو ددې حکم یو نقل ژرتر ژره ثبت او اعلان کړي.

**۳۷۰ ماده:**

که ثابت شي چه د اشخاصو اعتراض د عمومي مجمع په تصویب باندې د بدنیت له مخې دي نو هغه ضرر او خساره چه لدې سببه شرکت ته پیښیږي، دا کسان یې په ګډه سره مسئول دي.

**۳۷۱ ماده:**

که په اساسنامه کښې د هغه په خلاف مقرر شوي نه وي، عمومي مجمع کولای شي چه د اساسنامي مقررات تعدیل کړي مګر د شرکت د پانګو په زیاتولو او د تابعیت په تبدیل کښې د سهم لرونکو د آراوو اتفاق شرط دي. د هغو ټولنو په خبرو اترو کښې چه د اساسنامي د تعدیل دپاره کیږي هغه څوك چه د یوه سهم خاوند وي هم د اشتراک او راي حق لري. که په اساسنامه کښې ددې امر په خلاف کوم قیدوي، د اعتبار وړ ندي. هغه کسان چه له یوه سهم څخه زیات سهمونه ولري، که په اساسنامه کښې د هغه په خلاف هم مقرر شوي وي نو دهغه رایي به د اسهامو په تناسب د اعتبار وړ وی.

تمام سهمداران معتبر شمرده میشود. هیئت مدیره مجبور است تا یک نقل حکم مذکور را فوراً ثبت و اعلان کند.

**مادۀ ۳۷۰:**

اگر ثابت شود که اعتراض اشخاص بر علیه تصویب مجمع عمومی بنابر سؤ نیت بوده است، از ضرر و خسارۀ که ازین سبب به شرکت وارد میشود، اشخاص مذکور جمعاً مسئول اند.

**مادۀ ۳۷۱:**

اگر در اساسنامه خلاف آن مقرر نشده باشد، مجمع عمومی میتواند مقررات اساسنامه را تعدیل کند ولی در تزئید سرمایه شرکت و تبدیل تابعیت اتفاق آراء سهمداران شرط است.در مذاکرات اجتماعاتیکه برای تعدیل اساسنامه بعمل می آید، شخصیکه مالک یک سهم هم باشد، حق اشتراک و رای دارد. اگر در اساسنامه قیدی بر خلاف این امر باشد، معتبر نیست. اشخاصیکه دارای زیادتر از یک سهم باشند اگر در اساسنامه بر خلاف آن هم مقرر شده باشد، آراء به تناسب اسهام معتبر خواهد بود.

**۳۷۲ ماده:**

د عمومي مجمع په تولنو کښې چه د معاملي د موضوع په تبديلي او يا د شرکت په ډول پورې اړه لری د هغو سهم لرونکو حضور چه لږ ترلږه د شرکت د پانګې له دري ربع څخه نمايندګي وکړی شرط دی.

د هغو تصويبونو د اعتبار په خصوص کښې چه په دي تولنو کښې نيول کيږي د آراوو دوه ثلثو اتفاق چه اصالتاً يا وکالتاً ورکولي کيږي، ضروري دي.

که په لومړی غونډه کښې د پانګې د دری ربع نمايندګی حضور ممکن نشي نو مديره هيئت کولای شي چه عمومي مجمع بيا راوبولي د مجمع دا بلنه د پنځلسو ورځو په فاصله په جريدو کښې اعلانيږی او په دي وار د هغو سهم لرونکو د شمير حضور چه له نيمايې پانګې څخه نمايندګې وکړی، کافی دي.

په اعلاناتو او هغو غوښتنپاڼو کښې چه غونډې ته د اسهامو د خاوندانو راغوښتلو دپاره سره له نومه ليکلي کيږي، د خبرو اترو اوريدو او د تولني دغونډی نېټه او د پخوانيو خبرواترو نتيجه هم داخليږی.

**مادۀ ۳۷۲:**

در اجتماعات مجمع عمومی که مربوط به تبديل موضوع معامله و يا نوع شرکت باشد، حضور سهم دارانيکه اقلاً از سه ربع سرمايه شرکت نمايندگی کنند، شرط است.

برای اعتبار تصويباتيکه در اين اجتماعات اتخاذ ميشود، اتفاق دو ثلث آرائيکه اصالتاً و يا وکالتاً داده شود، ضروريست.

اگر در اجتماع اول حضور نمايندگی سه ربع سرمايه ممکن نشود، هيئت مديره ميتواند بار دوم مجمع عمومی را دعوت کند. اين دعوت مجمع در ظرف پانزده روز در جرايد اعلان ميشود و درين مرتبه حضور تعداد ارباب سهاميکه نصف سرمايه را نمايندگی کنند، کافيست.

در اعلانات و دعوتنامه هائيکه برای دعوت به اجتماع به مالکين سهام با اسم تحرير ميگردد، رويداد مذاکرات و تاريخ انعقاد و نتيجه مذاکرات سابقه هم درج ميشود.

که د خبرو اترو نصاب په دوهمه غونډه کښې پوره نشي نو د دوهمي غونډې په موده کښې دریمه غونډه مجلس ته رابلله کیږي.

ددې ټولني دپاره د شرکت له پانګې څخه د ثلث حضور او نمایندګي کافي دی. مګر د تصویبونو د اعتبار دپاره شرط دي چه د هغو رایو چه اصالتاً یا وکالتاً حاضر شوي او رایي یي ورکړی وي، دوه ثلثه وي.

**۳۷۳ ماده:**

هغه تصویب چه د شرکت د اساسنامي د موادو د تعدیل په خصوص کښې د عمومي مجمع له خواکیږي، پخوا له ثبت او اعلان څخه د هغه محل په تجارتي محکمه کښې چه د شرکت مرکز دي، د اعتبار وړ نه دي.

**۳۷۴ ماده:**

پدې صورت چه عمومي مجمع د اساسنامي د مواد د تعدیل دپاره ټولنی غوښتله کیږي، باید د تعدیل متن هم د (**۳۵۶**) مادې له مخې علاقه لرونکي ته اعلان شي.

**۳۷۵ ماده:**

تر هغه وخته چه دشرکت ابتدائي پانګه ورکړی شوي نه وي، عمومي

اگر نصاب مذاکره در اجتماع دوم هم کافی نگردد ، اجتماع سوم در داخل مدت اجتماع دوم به انعقاد دعوت میشود .

برای این اجتماع حضور و نمایندگی از ثلث سرمایه شرکت کافیست، ولی برای اعتبار تصویبات شرط است که دو ثلث آرائیکه اصالتاً یا وکالتاً حاضر شده اند ، رای داده باشند .

**مادۀ ۳۷۳:**

تصویبی که از طرف مجمع عمومی راجع به تعدیل مواد اساسنامۀ شرکت بعمل می آید ، قبل از ثبت و اعلان به محکمۀ تجارتی محلی که مرکز شرکت باشد ، معتبر نیست.

**مادۀ ۳۷۴:**

در صورتیکه مجمع عمومی برای تعدیل مواد اساسنامه دعوت به اجتماع میشود ، باید متن تعدیل هم به موجب مادۀ (**۳۵۶**) به علاقه مندان اعلان شود .

**مادۀ ۳۷۵:**

تاوقتی که سرمایه ابتدائی شرکت تادیه نشده، مجمع

مجمع نشي کولای چه د نویو اسهامو د صدور او د پانګې د زیاتولو دپاره تصمیم ونیسي.

### ۳۷۶ ماده:

پدې صورت چه عمومي مجمع شرکت د پانګې زیاتولو په باره کښې د نویو سهمونو د صدور دپاره تصمیم ونیسي نو مربوط اسناد وروسته د قانونیه مراسمو له تکمیل څخه د مدیره هیئت او نظار هیئت له ګډې بیان نامې سره یو ځای د ملي اقتصاد وزارت ته سپارلي کیږي او د وزارت د مقام له تصدیق څخه وروسته مراتب په تجارتي محکمه کښې ثبت او اعلانیږي.

### ۳۷۷ ماده:

پدې صورت کښې چه د نویو سهمونو بدل جنس وي نو دهغو مقرراتو په موجب چه پدې خصوص کښې د شرکت په لومړی تأسیس کښې د هغې پیش بیني شوي ده، اجراء کیږي.

### ۳۷۸ ماده:

که پانګې زیاتول د قانون د احکامو له مخې نه وي شوي، بې اثره دي او د مدیره او نظار هیئتونه د شرکت او دریمو کسانو په مقابل کښې له دې حیثه په ګډه سره مسئول بلل کیږي.

عمومی نمیتواند به صدور سهام جدید و تزئید سرمایه تصمیم بگیرد.

### مادۀ ۳۷۶:

در صورتیکه مجمع عمومی دربارۀ تزئید سرمایۀ شرکت با صدور سهام جدید تصمیم بگیرد، اسناد مربوطه پس از تکمیل مراسم قانونیه با یک بیان نامه مشترک هیئت مدیره و هیئت نظار به وزارت اقتصاد ملی سپرده شده، پس از تصدیق مقام وزارت مراتب به محکمه تجارتی ثبت و اعلان میشود.

### مادۀ ۳۷۷:

در صورتیکه بدل سهام جدید جنس باشد، بموجب مقرراتیکه درین باره در ابتدای تأسیس شرکت پیش بینی شده اجراء میشود.

### مادۀ ۳۷۸:

اگر تزئید سرمایه مطابق احکام قانون بعمل نیامده باشد، بی اثر بوده و هیئت مدیره و نظار در مقابل شرکت و اشخاص ثالث از این حیث جمعاً مسئول شمرده میشوند.

**۳۷۹ ماده:**

که د عـمومي مجمع په تصويب کښې د پـانګې د زيـاتولو پـه خصوص کښې کـوم ممانعت موجـود نـه وي نـو هـر يـو سهـم لـرونکي کولای شي چه لـه نويـو سهمونـو څخـه د هغـه سهـم پـه تنـاسـب چـه د شرکـت پـه پـانګـه کښـې يـي لـري، سـهمونه واخلـي. مديره هيئت صادره سهمونـه چه سهم لرونکو ته ورکول کيـږي، اعلانـوي او د سهم لرونکو د رد يا قبول په خصوص کښـي يـوه دومـره مـوده چـه لـه څلـورو هفتو څخه لږ نه وي، ټاکله کيږي.

**۳۸۰ ماده:**

هغـه تصـويب چـه د عمـومي مجمع لـه خـوا دپـانګې د تنقـيص پـه بـاره کښـې کيـږي بايـد د تنقيص داجراء ترتيـب او طرز هم پکښې وي.

**۳۸۱ ماده:**

د پانګې د تنقيص پـه خصوص کښـې د عـومي مجمـع د تصويب لـه اعلان او ثبت څخه وروسته پـوروالان پـه جرائدو کښـې د درې وارو اعـلان پـه ذريعـه راغوښتل کيـږي. برسيـره پـدې هغـو پـور والاتو ته چه شرکـت ته معلوم دي، ځـانګـړي او مخـصوص غوښـتنپاڼې هم ليږلی کيږي.

**مادۀ ۳۷۹:**

اگـر در تصــــويب مجمـع عمـومی راجع به تـزئيد سرمايـه ممـانعتـی مــوجــود نباشــد ، هــر يکــی از ســــهمداران ميتـواننـد از سهـام جـديد بــه تناسـب سـهمی کـه در سرمـايــه شرکـت دارنـد ، بـه اخـذ سهـام بپردازنـد . هيئـت مديـره سهـام صادره را کـه بــه سـهمـداران داده ميشــود ، اعــلان ميکنــد و در اعــلان راجــع بــه قبــول و يــا رد سهمداران يک مدتيکـه کم از چهار هفته نباشد ، تعيين ميشود .

**مادۀ ۳۸۰:**

تصـويبی کـه از طرف مجمع عمـومی راجع بـه تنقيص سرمايه بـه عمل مـی آيد ، بايد ترتيب و طرز اجرای تنقيص را هم دربر داشته باشد .

**مادۀ ۳۸۱:**

بــــعد از اعـــلان و ثبـت تصــويب مـجمع عـمومـی راجـع بـه تـنقيـص سـرمايـــه، دائنيــن ذريـــعــه ســه مـرتبــه اعــلان در جرايــد دعــوت ميشـوند . عـــلاوتاً ، بـــه داينينـی کـه نزد شرکت معلــوم انـد ، دعـوت نـامـــه هـــــای عـليحـده هـم فرستاده ميشود .

د وروستي اعلان د نېټې له ختم څخه پخوا هغه پوروالان چه طلبات يې ثابت شي د غوښتنې په صورت، د دوی پورونه ورکول کیږي. د پوروالانو د معاملاتو د تصفیې دپاره د تنقیص د اعلان له نېټې څخه تر دوو کالو پورې سهم لرونکو ته څه نه ورکول کیږي.

۳۸۲ ماده:

د پانګې په تنقیص کښې که د اسهامو تنزیل د مبادلې یا ټاپه کولو په ډول او یا په بل صورت مناسب لیدلي شوي وي دا ترتیب اعلانیږي. هغه اسهام چه سره د اطلاع را نه وړل شي، ممکن دي چه باطل شي. مګر په هغو اعلانو کښې چه شرکت ته د اسهامو د اعادې په خصوص کښې کیږي، باید صریحاً ابطال په خصوص کښې اخطار ورکړ شي.

۳۸۳ ماده:

وروسته له هغه چه د پانګې د تنقیص په خصوص کښې معاملات پای ته ورسیدل، کیفیت د مدیره هیئت له خوا د تجارت د ثبت په دائره کښې ثبت او اعلانیږي.

قبل از ختم تاریخ اعلان اخیر، دائنینی که طلبات ایشان ثابت شود، درصورت درخواست، قروض ایشان پرداخته میشود. برای تصفیه معاملات به داینین از تاریخ اعلان تنقیص تا مرور دو سال به سهمداران تادیه بعمل نمی آید.

مادهٔ ۳۸۲:

در تنقیص سرمایه اگر تنزیل سهام بطور مبادله یا تاپه نمودن و یا صورت دیگری مناسب دیده شده باشد، این ترتیب اعلان میشود: سهامی را که با وجود اطلاع آورده نشده باشد، ممکن است ابطال نمود. ولی در اعلانیکه در مورد اعاده سهام به شرکت بعمل می آید، باید صریحاً راجع به ابطال اخطار داده شود.

مادهٔ ۳۸۳:

بعد از آنکه معاملات راجع به تنقیص سرمایه انجام یافت، کیفیت از طرف هیئت مدیره به دایرهٔ ثبت تجارت ثبت و اعلان میگردد.

## پنځمه برخه
## د سهم سندونه

**۳۸۴ ماده:**
د سهم سندونه يا په نوم يا بې نومه وي.

**۳۸۵ ماده:**
د شرکت له ثبت څخه پخوا نه بنايي چه د سهم سندونه يا مؤقتي سندونه چه د سهم د اسنادو په عوض وي صادر شي.

**۳۸۶ ماده:**
پدې صورت چه د هغه په خلاف د شرکت په اساسنامه کښې مقرر شوي نه وي لازم دي چه د سهم سندونه له نوم سره وي.

**۳۸۷ ماده:**
د شرکت په اساسنامه کښې که په بې نومه سهمونو باندې د نوم لرونکو اسهامو دتبديل نه راوستلو په خصوص کښې يا ددې په عکس کوم شرط داخل شوي وي، د اعتبار وړ دي.

**۳۸۸ ماده:**
په بې نومه اسهامو باندې د نوم لرونکو اسهامو د تبديل دپاره شرط دي چه ټول قيمت يې ورکړی شوي وي، که د نوم لرونکو اسهامو قيمت د اخيستل شوي قيمت څخه زيات وي،

## حصهٔ پنجم
## اسناد سهم

**مادهٔ ۳۸۴:**
سندات سهم با اسم و يا بی اسم ميباشد.

**مادهٔ ۳۸۵:**
قبل از ثبت شركت سندات سهم و يا اسناد مؤقتيکه عوض اسناد اسهام ميباشند، نبايد صادر شود.

**مادهٔ ۳۸۶:**
در صورتيکه خلاف آن در اساسنامه شركت مقرر نشده باشد، لازم است که سندات سهم با اسم باشد.

**مادهٔ ۳۸۷:**
اگر در اساسنامه شركت شرطی راجع به تبديل نيافتن سهام با اسم به سهام بی اسم و يا بالعکس درج گرديده باشد، معتبر است.

**مادهٔ ۳۸۸:**
برای تبديل سهام با اسم به اسهام بی اسم شرط است که تمام قيمت آن پرداخته شده باشد و اگر قيمت سهام با اسم از قيمت محرزه آن زياد باشد، مبلغ زايد

زاید مبلغ باید واخیستل شي.

**۳۸۹ ماده:**

د سهم هغه سندونه چه ټول قیمت یې ورکړی شوي نه وي او هغه مؤقتي اسناد چه د سهم له سندونو څخه پخوا سهم لرونکو ته د دوي د اشتراک دحق د معلومولو دپاره ورکړی کیږي، باید نوم لرونکي وی.

**۳۹۰ ماده:**

دسهم هر سند د شرکت په مقابل کښې د ویشلو وړ ندي. که د سهم د سند ملکیت په څو تنو پورې اړه ولري، هغوي کولای شي چه د شرکت په مقابل کښې خپل حقوق یوائې د وکیل د ټاکلو په واسطه تثبیت کړی.

**۳۹۱ ماده:**

د سهم سندونه باید د هغه شخص لاس لیک ولری چه د شرکت په نامه دلاس لیک واک ولری. د سهم په سند کښې دی د شرکت عنوان، نېټه د تأسیس اعلان او د سهم د سندونو شمیر د شرکت د پانګې اندازه او د اسهامو قیمت قید شي. لاس لیک د ټاپي یا مهر په شکل هم جواز لری.

**۳۹۲ ماده:**

د سهم هر سند باید لږ ترلږه (سل)

باید اخذ شود.

**مادۀ ۳۸۹:**

سندات سهمیکه قیمت آن تماماً پرداخته نشده باشد و اسناد مؤقتیکه قبل ازسندات سهم به سهم داران برای معلوم ساختن حق اشتراک ایشان داده میشود، باید که با اسم باشد.

**مادۀ ۳۹۰:**

هر سند سهم در مقابل شرکت غیر قابل تقسیم است. اگر ملکیت سند سهم متعلق به چند نفر باشد، میتوانند حقوق خود شانرا در مقابل شرکت تنها بواسطه تعیین وکیل تثبیت کنند.

**مادۀ ۳۹۱:**

سندات سهم باید دارای امضای شخصی باشد که به نام شرکت صلاحیت امضاء را دارد. در سند سهم عنوان شرکت، تاریخ اعلان تأسیس و تعداد سندات سهم با مقدار سرمایه شرکت و قیمت های سهام قید شود، امضاء بشکل تاپه یا مهر هم مجاز است.

**مادۀ ۳۹۲:**

هر سند سهم باید اقلاً (صد)

افغانۍ قیمت ولری. د صدور سند دسهم سند دي لـه سلو افغانیو څخه لږ نه وي - مگر په دي شرط چه په اساسنامه کښې بل ډول ټاکل شوي وی.

**۳۹۳ ماده:**

د سهم په نوم لرونکو سندو کښې باید د مالک نوم، کسب او د استوگنې ځای ولیکل شي او د شرکت لـه خوا پـه مخصوص دفتر کښې قید شي.

**۳۹۴ ماده:**

کـه د هغـه پـه خلاف د شرکت پـه اساسنامه کښې پیش بیني نه وي شوي نوکولای شي چه د سهم نوم لرونکي سندونه بي د شرکت لـه موافقي څخه بل ته انتقال کړی.

**۳۹۵ ماده:**

کولای شی چه نوم لرونکي د سهم سند د ظهر نویسۍ په ذریعه یا په ځانگړی لیکنه بل ته انتقال کړی او د شرکت او دریمو کسانو په مقابل کښې ددې انتقال د اعتبار دپاره لازم دي چه دشرکت لـه خوا پـه مخصوص دفتر کښې قید شي او دغه قید د سهم د سند او یا د سهم د اخیستونکي له خوا د انتقال د سند د ښکاره کولو په اثر عملي کیږي.

افغانی قیمت داشته باشد. سند صدور سند سهم کمتر از یکصد افغانی مجاز نیست مگر بشرطیکه در اساسنامه طور دیگری مقرر شده باشد.

**مادۀ ۳۹۳:**

در سندات سهم با نام باید اسم، پیشه و مسکن مالک نوشته شده و از طرف شرکت در دفتر مخصوص قید شود.

**مادۀ ۳۹۴:**

اگر بر خلاف آن در اساسنامه شرکت پیش بینی نشده باشد، سندات سهم با نام را میتوان بدون موافقت شرکت بدیگری انتقال داد.

**مادۀ ۳۹۵:**

سند سهم با نام را میتوان با ظهر نویسی و یا با سند تحریری جداگانه بدیگری انتقال داد و برای اعتبار این انتقال به مقابل شرکت و اشخاص ثالث لازم است که از طرف شرکت به دفتر مخصوص قید شود و قید در اثر نشان دادن سند سهم و یا سند انتقال از طرف گیرندۀ سهم عملی میشود.

**۳۹۶ ماده:**

دسهم دبی نومه سندونو تصاحب او انتقال دشرکت او دریمو کسانو په مقابل کښې يواځې په تصرف داعتبار وړ بلل کيږي.

**مادهٔ ۳۹۶:**

تصاحب و انتقال سندات سهم بی نام در مقابل شرکت و اشخاص ثالث تنها به تصرف معتبر شناخته میشود.

**۳۹۷ ماده:**

هغه سهم لرونکي چه د سهم د یوه سند قیمت نه ورکوي له هغي ورځې څخه چه ورکړه يې لازمه ده د هغي د خساري د قانوني ټکټ پولي په ورکړه چه له دي لاري شرکت ته پيښه شوي وي مجبور دي. هغه مقررات چه د خساري د جبران په نامه چه د سهم د سندونو د قیمت د ورکړې د معطلی له لاري پيښ شوي وي كه د يو ټاکلي مبلغ د ورکړې په خصوص کښې د شرکت په اساسنامه کښې مندرج وي، د اعتبار وړ ده.

**مادهٔ ۳۹۷:**

سهمداریکه قیمت یک سند سهم را تادیه نمیکند، از روزیکه لازم الاداء میباشد، به پرداخت تکت پولی قانونی آن خسارهٔ که ازین حیث به شرکت وارد شده باشد مجبور است. مقرره ایکه راجع به تادیه یک مبلغ معیین بنام جبران خساره از رهگذر معطلی پرداخت قیمت سندات سهم در اساسنامهٔ شرکت مندرج باشد، معتبر است.

**۳۹۸ ماده:**

پدې صورت کښې چه يوه سهم لرونکي دخپل سهم قیمت ټول يا يې لږ په خپل ټاکلي وخت نه وي ورکړی که د شرکت په اساسنامه کښې ورته مقررات نه وي نو مدیره هیئت کولای شي چه په لاندې ډول اقدام وکړي:

هغه سهم لرونکي چه د سهم د اسنادو د قیمت ورکړې وځنډوي، دوي ته په روزنامو کښې په يوه میاشت کې دوه

**مادهٔ ۳۹۸:**

در صورتیکه یک سهمدار قیمت سهم خود را تماماً و یا قسماً در وقت معیین آن نپرداخته باشد، اگر در اساسنامه شرکت مقرراتی وجود نداشته باشد، هیئت مدیره میتواند به قرار آتی اقدام نماید:

سهمدارانیکه در پرداخت قیمت اسناد سهم تأخیر کنند، برای ایشان در روزنامه ها دو اخطار در ظرف یکماه

ځله اخطاره ورکول کیږي. هر اختطار د ۱۵- ورځو نه پس هر کرت درې ورځې پرله پسې نشریږی.

که د وروستي اعلان له نېټې څخه په یوه میاشت کی دننه قیمت ورنکړی شي نو دي سهم لرونکو ته دوه نورو اخطارونه د لسو ورځو په فاصله کښې ورکول کیږي چه د نه ورکړی په صورت به د خپل اشتراک ټول حقوق له لاسه ورکړی.

هغه سهم لرونکي چه په ټاکلي وخت روپي ورنکړی که په اساسنامه کښې د هغه په خلاف څه نوي مقرر شوي د اشتراک حق ضایع کوي داکیفیت هم په ځانګړی صورت نشریږی.

ددې ترتیب له اجرانه وروسته په شرکت مربوطه اسهام یا د بورس په قیمت یا د مزائدي په ډول پلوري، پخواني سندونه، باطلوي او د هغو په ځای نوي اسناد ورکوي. په دي اسنادو کښې ورکړی شوي پیسي او پاتي قسطونه د اخلیږي، که د سهم د هغو سندونو د پلورلو له درکه چه ددې مادې په موجب پلورل کیږي تحصیل شوي مبلغ ددې سند له ټاکلي مبلغ څخه لږ وي نو دهغو فرق د سند له لومړی مالک څخه اخیستل کیږي.

داده میشود. هر اخطار به فاصله ۱۵ روز که در هر مرتبه سه روز متوالیاً نشر شود بعمل می آید.

اگر از تاریخ اعلان اخیر در ظرف یکماه قیمت پرداخته نشود، به سهمدار مذکور دو اخطار دیگر به فاصله های ده روز ابلاغ میشود که در صورت عدم پرداخت، تمام حقوق اشتراک خود را از دست خواهد داد.

سهمدارانیکه در وقت معیینه پول را نپردازند اگر در اساسنامه بر خلاف آن مقرر نشده باشد، حق اشتراک را ضایع میکنند. این کیفیت هم بصورت جداگانه اعلان میشود.

بعد از اجرای این ترتیب شرکت اسهام مربوطه را به قیمت بورس و یا بطور مزایده به فروش رسانده، اسناد سابق را باطل و عوض آن اسناد جدید اعطا مینماید. در این اسناد مبالغ تادیه شده و اقساط باقیمانده درج میگردد اگر مبلغ تحصیل شده از درک فروش اسناد سهمیکه بموجب این ماده فروخته میشود از مبلغ معیین سند مذکور کم باشد، فرق آن از مالک اول سند گرفته میشود.

۳۹۹ ماده:
ديوه نوم لرونکي سهم د سند دپلورلو په حال کښې چه قيمت ئي ټول نه وي ورکړی شوي لمړی مالک او وروسته هغه کسان چه دغه سندئی پيرودلي دي ددې سند له پاتي پيسو څخه د شرکت په مقابل کښې په ګډه سره مسئول دي. د انتقال ورکوونکو مسئوليت د شرکت په دفتر کښې د انتقال د درج له نېټې څخه وروسته له درې کالونه ساقطيږی. د سهم د سند د پاتي پيسو له ورکړی نه پخوا انتقال ورکوونکي حق لري چه وروسته له دنه يو د انتقال ورکوونکی څخه او يا د سند وروستني خاوند ته د هغو پيسو د پاره چه ورکړی يې دي رجوع وکړی.

مادهٔ ۳۹۹:
در حال فروش يک سند سهم با نامیکه قيمت آن تماماً پرداخته نشده باشد، مالک اول و کسانيکه بعداً سند را خريده اند از مبلغ باقی سند مذکور در مقابل شرکت جمعاً مسئول ميباشند. مسئوليت انتقال دهندگان از تاريخ درج انتقال در دفتر شرکت بعد از سه سال ساقط ميشود. قبل از پرداخت بقيه مبلغ سند سهم، انتقال دهنده حق دارد به يکی از انتقال دهندگان بعد از خود و يا آخرين دارندهٔ سند برای مبلغی که تاديه نموده است، رجوع کند.

۴۰۰ ماده:
د سهامي شرکت له قطعي تشکيل څخه پخوا بل ته د سهم د سندونو انتقال جائز نه دي.

مادهٔ ۴۰۰:
قبل از تشکيل قطعی شرکت سهامی انتقال سندات سهم بديگری جائز نيست.

۴۰۱ ماده:
د هغه سهم د سندونو انتقال چه د جنس په مقابل کښې ورکړی شوي وي دشرکت له تشکيل څخه د دوه کالوله تيريدونه وروسته ممکن دي.

مادهٔ ۴۰۱:
انتقال سندات سهمی که مقابل جنس داده شده باشد، بعد از مرور دو سال از تشکيل شرکت ممکن است.

۴۰۲ ماده:
که د سهم يو سند يا مؤقتي سند داسي

مادهٔ ۴۰۲:
اگر يک سند سهم و سند مؤقتی

وروسـت او خـراب شـوي وي چـه استعمال يې غيرممكن وي مګر اصلي مندرجات او فارقه علامي يې په ځاى او د لوستو وړ وي، خاوند يې كولاى شـي چـه د مصـارفو لـه وركولـو نـه وروسته له شركت څخه د سهم نـوي سند او مؤقت سند وغواړي.

## شپږمه برخه
## د پور اسناد

**۴۰۳ ماده:**

سهامـي شـركتونـه كـولاى شـي چـه پـور وكـړي. پـوركـول د هغـو اسنـادو لـه مـخـې چـه مسـاوي قيمت او يـو عـبارت ولـري كـيږي.

**۴۰۴ ماده:**

تـر هغـه وختـه پـورې چـه د صـادره قـرض د اسنـادو قيـمت ټول پـوره شوي نـه وي پـه هيـڅ شـان دپـور نـور اسنـاد نـشي صادرېداي.

**۴۰۵ ماده:**

د هغه پور اسناد چه سهامي شركتونه يې صادروي نه بنايي چه د شركت د وركړ شويو شتو او پـانګې لـه هغـې اندازې څخه چه د وروستني بيلانس په موجب تصديق شوي او معلـوم شـوي وي، تيري وكړي.

طوری پوسیده و خـراب شـده باشـد كـه استعمـال آن غيـر ممكـن ولـى مندرجات اصلی و علامهٔ فارقـه آن بلا تـردد قـابل فهـم باشـد ، صاحـب آن حق دارد بـا پـرداخـت مصـارف از شركـت سنـد سهـم و سنـد مؤقـت جديد طلب نمايد .

## حصهٔ ششم
## اسناد قرض

**مادهٔ ۴۰۳:**

شـركت هـای سـهامی میتواننـد استقراض کننـد . استقراض بموجب اسـنادیكه دارای قيمـت مسـاوی و عبارت واحد باشد بعمل می آید .

**مادهٔ ۴۰۴:**

تـا زمانیـکه قیمـت اسنـاد قـرض صـادره تمامـاً اسـتيفاء نشـده ، هيچگونه اسنـاد قـرض ديگـر صـادر شده نميتواند .

**مادهٔ ۴۰۵:**

اسناد قرضیکه شرکتهای سهامی صـادر ميكننـد ، نبـايـد از مقـدار تـاديه شـده سـرمايه و دارايـی شـركـت كـه بموجـب آخريـن بيـلانس تـصـديـق شـده معلـوم شده تجاوز كند .

**۴۰۶ ماده:**

کـه څـه هـم د سـهامي شـرکت پـه اساسـنامه کښـې د پـور د اسـنادو د صدور دپاره اجازه ورکړې شوي وي، خـو سـره لـه هغـه د عمـومي مجمـع تصـویب هـم لازم دي. ددې تصـویب د اعتبـار دپـاره (۳۷۲) مـادې د لـومړۍ برخې د مندرجه اکثریت او خبرو اترو نصاب شرط دي.

دا تصـویب بایـد د تجـارت د ثبـت پـه دفتر کښې ثبت او اعلان شي.

**مادۀ ۴۰۶:**

اگــر چــه در اســاسنامه شـرکت سهامی بـرای صـدور اسنـاد قـرض اجــازه داده شــده باشــد، مـع ذالـک تصویـب مجـمع عمـومی نیـز لازم اســت. بــرای اعتبــار ایــن تصویــب نــصاب مذاکــره و اکـثریـت منـدرجۀ قســمت اول مادۀ (۳۷۲) شرط است.

این تصویب باید به دفتر ثبت تجارت ثبت و اعلان شود.

**۴۰۷ ماده:**

مـدیره هیئـت چـه د پـور داسـنادو د خپرولـو دپـاره اقـدام کـوي، بایـد بیـان نامه په لاندې ډول نشر کړي:

۱- نوم، موضوع، مرکز او د شرکت د دوام موده.

۲- د شرکت د پانګې اندازه.

۳- د شرکت د اساسنامي نېټه او کـه په هغې کښې کوم تعدیلات پېښ شوي وي، د هغو نېټه سره له هغو نیټو چه اعلان شوي دي.

۴- دمصدقه بیلانس له مخې د شرکت مـالي وضعیت.

**مادۀ ۴۰۷:**

هیئت مدیره که برای نشر اسناد قرض اقدام میکند، باید بیان نامه به شرح ذیل نشر نماید:

۱- اسـم، موضـوع، مـرکـز و مـدت دوام شرکت.

۲- اندازه سرمایه شرکت.

۳- تـاریـخ اساسنامـه شرکـت و اگــر در آن تعــدیلات بعمـل آمـده باشـد، تاریـخ هـای آن بـا تـاریـخ هـایی که اعـلان شده.

۴- وضـعیت مـالی شـرکت نظـر بـه بیلانس مصدقه.

**۵**- د پــور د اســنادو ټــول قيمــت او شرکت ته د ورکړې صورت، د هر سند قيمــت، د ټکــټ پــولۍ انــدازه، د نــوم لرونکي او بې نومه په لحاظ د سند ډول، د شرکت له خوا د پور د ورکړې وخت او صورت.

**۶**- د هغه تصويب د ثبت او اعلان نېټه چه د پور د اسنادو د صدور په خصوص کښې د عمومي مجمع له خوا شوي وي.

۷- که د شرکت منقوله او غير منقوله مالونه د پور د هغو اسنادو په سبب چه پخوا صادر شوي وي او يا په بل سبب تر ګروی يا تضمين لاندې راغلي وي، دا بيان نامه بايد لږترلږه پنځه لس ورځې پخوا د پور د اسنادو له صدور څخه نشر او اعلان شي.

**۴۰۸ ماده:**

د پور د اسنادو د پيرودلو د تعهد په پاڼه کښې د (۴۰۷) مادې د بيان نامې شرطونه داخلېږي.

**۴۰۹ ماده:**

د پور په اسنادو کښې برسېره د بيان نامې په مندرجاتو د ټکټ پولۍ قيمت او د ورکړې شرطونه هم داخلېږي. د پور سند بايد لږ ترلږه د مديره هيئت د

**۵**- مجموع قيمت اسناد قرض و صورت تاديه به شرکت با قيمت هر سند، مقدار تکت پولی، نوعيت سند از لحاظ با نام و يا بی نام بودن، صورت و زمان ادای قرض از طرف شرکت.

**۶**- تاريخ ثبت و اعلان تصويبيکه راجع به صدور اسناد قرض از طرف مجمع عمومی شده باشد.

۷- اگر اموال منقوله و غير منقوله شرکت بسبب اسناد قرض که قبلاً صادر گرديده باشد و يا بسبب ديگری تحت رهن و يا تضمين نشان داده شده باشد، اين بيان نامه بايد اقلاً پانزده روز قبل از صدور اسناد قرض، نشر و اعلان گردد.

**مادۀ ۴۰۸:**

در ورقه تعهد خريداری اسناد قرض شرايط بيان نامه مادۀ (۴۰۷) درج ميگردد.

**مادۀ ۴۰۹:**

در اسناد قرض علاوه از مندرجات بيان نامه، قيمت و شرايط تاديه تکت پولی هم درج ميشود. سند قرض بايد اقلاً از طرف دو عضو

دوه تنو غړیو له خوا لاس لیک شي.

۴۱۰ ماده:

د مدیره هیئت غړي چه د پور له مربوطو احکامو څخه خلاف رفتاری وکړي، دعلاقه لرونکو کسانو په مقابل کښې په ګډه سره مسئول دي.

۴۱۱ ماده:

د پور د اسنادو د مالکینو د عمومي مجمع له غونډې نه پخوا مدیره هیئت باید د اسنادو د مالکینو د تدقیق دپاره د متداوله پور د اسنادو یو جدول جوړ کړي.

۴۱۲ ماده:

په سهامي شرکت کښې د پور د نوم لرونکي سند دقید دپاره دثبت یو دفتر جوړول کیږي.

۴۱۳ ماده:

مدیره هیئت او نظارت هیئت د ضرورت په وخت کښې کولای شي چه د عمومي مجمع په شان د پور د اسنادو خاوندان تهولني ته راوغواړي. دپور د اسنادو خاوندان چه لږ ترلږه د متداوله پور د اسنادو د قیمت د پنځمی خاوندان وي کولای شي چه د پور د اسنادو د خاوندانو د عمومي مجمع د تهولني تقاضا وکړي. مدیره هیئت او

هیئت مدیره امضاء شود.

مادۀ ۴۱۰:

اعضای هیئت مدیره که مخالف احکام مربوطه به قرض رفتار کنند، در مقابل اشخاص ذیعلاقه جمعاً مسئول اند.

مادۀ ۴۱۱:

قبل از اجتماع مجمع عمومی مالکین اسناد قرض هیئت مدیره باید یک جدول اسناد قرض متداوله را برای تدقیق مالکین اسناد تهیه کنند.

مادۀ ۴۱۲:

در شرکت سهامی برای قید سند قرض با نام یک دفتر ثبت ترتیب داده میشود.

مادۀ ۴۱۳:

هیئت مدیره و هیئت نظار عندالایجاب میتوانند مالکین اسناد قرض را مثل مجمع عمومی دعوت به اجتماع نمایند. مالکین اسناد قرض که مالک پنج یک قیمت اسناد قرض متداول باشند، میتوانند انعقاد مجمع عمومی مالکین اسناد قرض را تقاضا کنند. هیئت مدیره و نظار

نظار هيئت مکلف دي چه د دوی تقاضا پر ځای کړی، د پور د اسنادو د خاوندانو را غوښتل د ټولو سهم لرونکو ټولني ته د غوښتنې د مخصوصو احکامو تابع دي.

مکلف اند که به تقاضای آنها ترتیب اثر بدهند، دعوت مالکین اسناد قرض تابع به احکام مخصوص دعوت به اجتماع عمومی سهمداران است.

**۴۱۴ ماده:**

د پور د اسنادو د مالکينو عمومي مجمع واک لری چه په لاندې موادو کښې راي او تصويب ورکړی:

۱- د پور د سند د مخصوصو تضميناتو تنقيص، يا رفع يا لغو کول.

۲- د ټکټ پولي د ميعاد اوږدول، او د تکت پولی د ورکړی د اندازي تنزيل او يا د شرايطو تعديل.

۳- د پور د استهلاک د شرطونو تعديل او د مودې اوږدول.

۴- د پور د اسنادو په عوض د اسهامو د سندونو اخيستل او قبلول.

۵- په پورته موادو کښې د رسيدګۍ دپاره د يوه يا څو تنو وکيلانو ټاکل.

**مادهٔ ۴۱۴:**

مجمع عمومی مالکین اسناد قرض صلاحیت دارند که در موارد ذیل ابراز رای و تصویب نمایند:

۱- تنقیص یا رفع و یا الغای تضمینات مخصوصه سند قرض.

۲- تمدید میعاد تکت پولی، تنزیل مقدار و یا تعدیل شرایط تادیه تکت پولی.

۳- تمدید مدت و تعدیل شرایط استهلاک قرض.

۴- اخذ و قبول اسناد سهامی بعوض اسناد قرض.

۵- تعین یک و یا چند نفر وکیل برای رسیدگی در موارد فوق.

**۴۱۵ ماده:**

لپاره ددې چه د (۴۱۴) مادې ۱-۲-۳-۴ برخو مقرراتو د پور اسنادو د مالکينو په حق کښې معتبر وي نو

**مادهٔ ۴۱۵:**

برای اینکه مقررات حصهٔ ۱- ۲- ۳- ۴- مادهٔ (۴۱۴) در حق مالکین اسناد قرض معتبر باشد،

بـايـــد د اسنــادو د خاونــدانـــو دوه ثلثــه يــې تصــويب كـړى.د نومــوړى مـادې پـه پنځمـه فقـره كښــې د هغــو مـالكينو راې چه د پور نيمـايي اسناد تمثيل كړى، كافي دي.

بايـــد دو ثلـــث اربــــاب اســــناد تصويب نــــمايند ، در فــقره پنجـم مــــادهٔ مذكــــور راى مــالكين كـه نـصـف اسـنـاد قـــرض را تمـثيـــل كنند ، كافيست.

## اوومه برخه
## دسهم د اسنادو او د پور د اسنادو ضياع

## حصهٔ هفتم
## ضـــياع اســــناد ســـهم و اســـناد قـــرض

**۴۱۶ ماده:**

هغه شركتونه چه بي نومه سهمونه او دپور بي نومه سندونه يي صادر كړى وي، قيمت او ګټې يي يوائې حامل ته وركولاى شي.

**مادهٔ ۴۱۶:**

شــركت هاييكه سهام بى نام و اسناد قـــرض بــى نـام صـادر كـرده باشنـد قيمت و منـافع را تنهـا بحامـل اعطـا كرده مى توانند.

**۴۱۷ ماده:**

كه د پور يا د سهم بي نومه سند دكوم علت له مخې لـه حامل څخه ورک شي او صـــادركوونكي شــــركت څخـــه د تجارت د محكمي د ثبت د څانګې پـه ذريعـه د وركـړى دنـه اجـراء لـه املـه تحريـري تقاضــا وشــي او د وركــړى د تـأخير هـر ډول مسئوليت قبـول شـي، شركت به د وركړې نه ځان ژغوري.

**مادهٔ ۴۱۷:**

اگـــر ســـنـد سهـم و يـا سنـد قــرض بــى نــام بـــه علـتـى از علـل از نـزد حـامــل مفقـود شـود و بـه شركـت صـــادر كـنـنده ذريعـه شـعبه ثبـت محكمـه تجارت عـــدم اجـراى تاديـه كـتـباً تقـاضـا و هر نـوع مسئـوليـت تـأخيـر تاديه قبـول شـود ، شركـت از تاديه خودداری خواهد نمود.

كــه د اطلاع لـه نـېټې تـرشـلـو ورځـو پــورې د وركـړى د منـع پـه خصـوص كـښې د تجـارتي محكمي لـه خـوا شـركـــت تـــه تبـليـــغ ونشــي نـــو دا

اگـــر از تـاريــخ اطـــلاع الـى بيست روز تـصويـبى راجـع بـر منـع تـاديـه از طـــرف محـكـمـــه تجـارتـــى بـــه شـركـت تبليـغ نميگـردد ، تقاضـاى

تقاضا بې اثره ده.

**۴۱۸ ماده:**
په تحریري تقاضا کښې باید دا لاندې تفصیلات درج وي:

۱- د پور د اسنادو او د سهم د اسنادو د قیمت عدد او لمبرونه.

۲- که د پور او سهم د اسنادو نشر متعدد وي، د هغو تذکر.

۳- د ورکې کیفیت او که ممکن وي د تکټ پولۍ او د ګټې د اخیستو زمانه او ځای.

**۴۱۹ ماده:**
هغه څوک چه د (۴۱۸) مادې په موجب د هغه د سهم د سند او یا د پور د سند ذوالیدي زائلیږي، پدې صورت چه د شرکت محل تجارتي محکمې ته مراجعه وکړي، محکمه دده ادعا د صحت د دلائلو استیضاح کوي.

که موجوده قریني په دې باب کښې کافي وي نو شرکت له ورکړو څخه منع کوي او خپل قرار په جریدو کښې اعلانوي. که د اعلان له نیټې څخه د دوو کالو په موده کښې یو شخص پیداشي او تجارتي محکمې ته مراجعه وکړي، محکمه په هغې رسیدګی کوي

مذکور بی اثر است.

**مادۀ ۴۱۸:**
تقاضای تحریری باید محتوی تفصیلات ذیل باشد:

۱- عدد قیمت و نمبر های اسناد سهم و اسناد قرض.

۲- اگر نشر اسناد قرض و سهم متعدد باشد، تذکر آن.

۳- کیفیت مفقودی و اگر ممکن باشد، زمان و مکان اخذ تکت پولی و یا مفاد.

**مادۀ ۴۱۹:**
شخصیکه بموجب مادۀ (۴۱۸) ذوالیدی او از سند سهم و یا سند قرض زایل میشود، درصورتیکه به محکمه تجارتی محل شرکت مراجعت کند، محکمه دلایل صحت ادعای او را استیضاح میکند.

اگر قرائن موجوده درین باب کافی باشد، شرکت را از تادیات منع و قرار خود را در جراید اعلان میکند. اگر در ظرف دو سال از تاریخ اعلان شخصی پیدا و به محکمه تجاریه مراجعه کند، محکمه بآن رسیدگی کرده،

او لازمه فیصله صادروي. که پدې موده کښې کوم سړي دعوی ونکړي نو محکمه د هغه شخص د مراجعې په اثر چه د پور د سند او د سهم د سند د ذواليدي د زوا ل ادعايي کړيده، د ټکټ پولی یا مفاد په ورکړه امر کوي او دا سړي د مالک په حیث پیژندل کیږي. دا تصویب وروسته له اعلان څخه لازم الاجراء دي.

فیصله لازم صادر میکند. اگر در ظرف مدت مذکور شخصی دعوی نکند، محکمه به اثر مراجعه کسیکه ادعای زوا ل ذواليدی سند سهم و سند قرض را نموده امر به اعطای تکت پولی یا مفاد مینماید و نامبرده بحیث مالک شناخته میشود. این تصویب بعد از اعلان لازم الاجراء است.

**۴۲۰ ماده:**

د پور او د سهم د بې نومه اسنادو ذواليدی د سلب په سبب د استحقاق دعوي يوازې په هغه چاباندې اقامه کیږي چه دا سندونه يې موندلي او یايي غلا کړي او یا یي له هغه چاڅخه چه وربانديې پوه وي چه حقیقي حامل يي نه دي، اخیستي وي.

**مادهٔ ۴۲۰:**

دعوای استحقاق به سبب سلب ذواليدی اسناد سهم و اسناد قرض بی نام صرف علیه شخصی اقامه میشود که سندات مذکور را یافته و یا دزدی کرده و یا دانسته از شخصیکه حامل حقیقی آن نیست، گرفته باشد.

**۴۲۱ ماده:**

هر هغه چا چه خپل د سهم او پور نوم لرونکي اسناد له لاسه ورکړی وي او شرکت ته مراجعه وکړی او مثنی يې وغواړی، پدې صورت چه د ثبت له مخې د پور د سند او د سهم د سند شخص حقیقي خاوند ثابت شي، د مدیره هیئت د تصویب په موجب مثنی ورکوله کیږي.

**مادهٔ ۴۲۱:**

۷شخصیکه اسناد سهم و اسناد قرض با نام خود را از دست داده باشد و با مراجعه به شرکت مربوطه خواهان مثنی شود، درصورتیکه از روی ثبت شخص صاحب حقیقی سند سهم و یا سند قرض ثابت شود، بموجب تصویب هیئت مدیره مثنی داده میشود.

**۴۲۲ ماده:**
ټول هغه مصارف چه د سهم د سند یا د پور د سند دپاره چه ذوالیدي یي زائله شوي وي لازمیږي. سره له هغو مصارفو چه د (مثنی) د ورکړی په نسبت د شرکت له خوا غوښتل کیږي، د سندونو په مالک پورې اړه لري.

**مادۂ ۴۲۲:**
تمام مصارفیکه برای سند سهم و یا سند قرض که ذو الیدی آن زایل شده لازم میشود. با مصارفیکه نسبت اعطای (مثنی) از طرف شرکت مطالبه میشود، عاید به مالک سند است.

**اتمه برخه**
**د انونیم (سهامي شرکتونه) ړنګول او تصفیه**

**حصۂ هشتم**
**انحلال و تصفیه شرکت های سهامی (انونیم)**

**۴۲۳ ماده:**
سهامي شرکتونه د لاندېنیو علتو څخه دیوه په پیښدلو سره ړنګیږي:

۱- د ټاکلي مودې پای ته رسیدل.

۲- د شرکت د مقصد حصول او یا د هغه د امکان سلبیدل.

۳- د (۳۱۴) مادې له مخې د شرکت د پانګې د دوو ثلثو ضایع کېدل.

۴- په دې صورت چه ټول سهم لرونکي له پنځو تنو څخه لږشي.

۵- دداسې کوم سبب څرګندیدل چه په اساسنامه کښې دړنګیدو موجب وبلل شي.

۶- د یوه شرکت له بل شرکت

**مادۂ ۴۲۳:**
شرکتهای سهامی درصورت وقوع یکی از علل ذیل منحل میشود:

۱- ختم مدت معیینه.

۲- حصول مقصد شرکت و یا سلب امکان آن.

۳- بموجب مادۂ (۳۱۴) ضیاع دو ثلث سرمایه شرکت.

۴- در صورتیکه مجموع سهمداران از پنج نفر کم شود.

۵- ظهور سببیکه در اساسنامه موجب انحلال شمرده شده باشد.

۶- اتحاد شرکت با

سـره يووالي.

۷- د شرکت افلاس.

۸- د (۳۷۲) مـادې د لـومړۍ برخـي سره سم دشرکت دعمومي مجمع له خوا دشرکت د ړنګېدو تصویب.

**۴۲۴ ماده:**

کـه د شـرکت لـه قطعـي تشـکیل نـه وروسـتـه د سـهم لرونکـو شـمېر لـه پـنځـو تـنـو څـخـه لـږ شـي او د شـرکت ړنګېـدل اعـلان نشـي نـو هـر علاقـه لرونکـي شـخص محکمـي تـه د مراجعي سره کولای شي چه د شرکت ړنګېدل وغواړي.

**۴۲۵ ماده:**

د شـرکت پـوروالان محکمـي تـه پـه مراجعـه سـره کـولای شـي چـه د هغـه شرکت انحلال چه دوه ثلثه خپله پانګه یـې ضـایع کـړي وي وغـواړي - کـه شـرکت دپـوروالانو د طلبـاتو پـه مقابـل کښـي محکمـي تـه مقتضـیه تأمینـات ورکـړي، محکمـه د شـرکت پـه انحـلال حکم نشي صادرولای.

**۴۲۶ ماده:**

کـه د شرکت انحـلال ( غیـر لـه افلاسـه) پـه بـل علت مسـتند وي نـو موضـوع د مدیره هیئت له خوا درې کرتـه پـه هفتـه

شرکت دیگری.

۷- افلاس شرکت.

۸- تـصـویـــب انحـــلال شــرکت از طرف مجمع عمومی بـه مـوجب حصـۀ اول مـادۀ (۳۷۲).

**مادۀ ۴۲۴:**

اگــر بــعــد از تـشکیــل قطعــی شرکــت تعــداد سهمداران از پـنج نفـر کــم شـــود و انحــلال شـرکت اعــلان نگـــردد، هــر شـــخص ذیعـــلاقــه بـا مــراجـــعه بـــه مـحکمه مـیتـواند انحلال شرکت را مطالبه کند.

**مادۀ ۴۲۵:**

داینیــن شرکــت بــا مراجعــه بــه محکمـــه میتـواننـــد انحـــلال شـرکتی را که دو ثلث ســرمایه خود را ضـایــع کــرده باشــد تـــقاضا نمایند. اگر شرکت در مقابـل طلبات داینین بـه محکمه تأمینات مقتضیه را بدهد، محکمه نمیتواند به انحـلال شرکت حکم صادر کند.

**مادۀ ۴۲۶:**

اگـر انحــلال شـرکت (غیـر از افـلاس) مســتند بعلــت دیگــری باشــد، مــوضوع از طرف هیــئت مدیره سه

کنبې يوکرت اعلانيږي چه پوروالان دې تر يو کال پورې خپل حقوق له شرکت څخه واخلي.

ددې مودې شروع ددريم اعلان د خپريدو له نېټې څخه کيږي.

**۴۲۷ ماده:**
که يو سهامي شرکت غير له افلاسه په بل علت سره منحل شوي وي وروسته له هغه تصفيه کيږي.

**۴۲۸ ماده:**
که د تصفيي مامورين د شرکت په اساسنامه کنبې پيش بيني شوي نه وي نو عمومي مجمع د شرکت دانحلال په وخت کنبې د تصفيي هيئت ټاکي.

**۴۲۹ ماده:**
که د تصفيي مامورين د اساسنامي په موجب او يا د عمومي مجمع په تصويب ټاکلي شوي نه وي، د تصفيي وظيفې د مديره هيئت له خوا اجراء کيږي.

**۴۳۰ ماده:**
د تصفيي مامورين چه د اساسنامي له مخې او يا د عمومي مجمع په تصويب ټاکل کيږي او يا مديره هيئت د (۴۲۹) مادې له مخې د تصفيي وظيفې اجراء کوي، د عمومي مجمع له

مرتبه هفته يکبار اعلان ميگردد که داينين تا مدت يکسال حقوق خود را از شرکت اخذ نمايند.

مبدأ اين مدت از تاريخ نشر اعلان سوم است.

**مادۀ ۴۲۷:**
اگر يک شرکت سهامی غير از افلاس بعلت ديگری منحل شده باشد، متعاقباً تصفيه ميشود.

**مادۀ ۴۲۸:**
اگر مامورين تصفيه در اساسنامه شرکت پيش بينی نشده باشند، مجمع عمومی حين انحلال شرکت هيئت تصفيه را تعيين مينمايد.

**مادۀ ۴۲۹:**
اگر مامورين تصفيه بموجب اساسنامه و يا تصويب مجمع عمومی تعيين نگرديده باشند، وظايف تصفيه از طرف هيئت مديره اجراء ميشود.

**مادۀ ۴۳۰:**
مامورين تصفيه که بموجب اساسنامه و يا تصويب مجمع عمومی تعيين ميگردند و يا هيئت مديره بموجب مادۀ (۴۲۹) وظايف تصفيه را اجراء ميکنند، از طرف مجمع عمومی قابل

خوا د عزل او تبديل وړ دي.

په همدې ډول محكمه كولاى شي چه د يوه يا څو علاقه لرونكو دمراجعې په اثر له كتنې وروسته د تصفيې مامورين موقوف او يا تبديل كړي.

**۴۳۱ ماده:**

د منحل شوي شركت شته د پورونو له اداء څخه وروسته د سهمونو په تناسب د سهم لرونكو په منځ كښې وېشل كيږي. هغه كسان چه د دفترونو او نورو معتبرو وثيقو له مخې پوروال بلل كيږي، د خپلو حقوقو اخيستلو دپاره د راجستري ليكونو په ذريعه رابلل كيږي.

د هغو كسانو طلبات چه نه حاضريږي او يا يې حقوق تر اوسه پورې په اختلاف كښې وي، يو معتبر بانك ته سپارل كيږي.

د تصفيې مامورين چه له پاسنى ښوونې څخه چپ حركت وكړي او غير حق پيسې وركړي يواځې او په ګډه سره مسئول دي.

**۴۳۲ ماده:**

د منحل شوي سهامي شركت پاڼې او دفترونه د تصفيې په پاى كښې د تصفيې د مامورينو او يا د علاقه

عزل و تبديل اند.

همچنان محكمه ميتواند در اثر مراجعه يک يا چند نفر شخص ذيعلاقه پس از رسيدگى مامورين تصفيه را عزل و يا تبديل نمايد.

**مادهٔ ۴۳۱:**

داراىى شركت منحل شده بعد از تسويه ديون به تناسب سهام بين سهمداران تقسيم ميشود. اشخاصيكه از روى دفاتر و ديگر وثايق معتبر دائن دانسته ميشوند، ذريعه مكتوب راجسترى براى اخذ حقوق شان دعوت ميگردند.

طلبات اشخاصيكه حاضر نميشوند و يا حق ايشان هنوز مختلف فيه ميباشد، به يک بانک معتبر توديع ميگردد.

مامورين تصفيه كه مخالف هدايت فوق حركت كنند و مبالغى را غير حق بپردازند، شخصاً و جمعاً مسئول اند.

**مادهٔ ۴۳۲:**

اوراق و دفاتر شركت سهامى منحل شده در اختتام تصفيه به اثر مراجعه مامورين تصفيه و يا

لرونکو کسانو د مراجعي په اثر د تجارتي مربوطی محکمي له خوا په داسي ځای کښي چه لازم يي وبولي، تر پنځلسو کالو پورې ساتل کيږي.

**۴۳۳ ماده:**
د (**۲۰۵**) (۲۰۶) (۲۰۷) (۲۰۸) (۲۰۹) (۲۱۰) (۲۱۱) (۲۱۶) (۲۱۷) (۲۱۸) (۲۱۹) (۲۲۰) (۲۲۱) (۲۲۲) (۲۲۳) (۲۲۴) (**۲۲۵**) (۲۲۶) (۲۲۷) (۲۲۸) (۲۲۹) (۲۳۰) (۲۳۲) (۲۳۳) (۲۳۹) (۲۴۰) (۲۴۱) مادو احکام په سهامي شرکتو کښې هم تطبيق کيږي.

**۴۳۴ ماده:**
هغه وظيفي چه له (۲۱۷) مادې سره سم مديرانو ته سپارلي شوي دي د سهامي شرکتونو په تصفيه کښې د مديره هيئت له خوا په ځای کيږي.

**۴۳۵ ماده:**
سهامي شرکتونه له انحلال څخه وروسته هم د تصفيي د معاملاتو تر پای ته رسيدلو پورې موجود بلل کيږي.

او که د تصفيي هيئت لازم وبولي، کولای شي چه د مربوطه چارو د تصويب دپاره عمومي مجمع غونډې ته را وغواړي.

اشخاص ذيعلاقه از طرف محکمه مربوطه تجارتی در جاييکه لازم بداند، برای پانزده سال حفظ ميشود.

**مادهٔ ۴۳۳:**
احکام مواد (**۲۰۵**) (۲۰۶) (۲۰۷) (۲۰۸) (۲۰۹) (۲۱۰) (۲۱۱) (۲۱۶) (۲۱۷) (۲۱۸) (۲۱۹) (۲۲۰) (۲۲۱) (۲۲۲) (۲۲۳) (۲۲۴) (**۲۲۵**) (۲۲۶) (۲۲۷) (۲۲۸) (۲۲۹) (۲۳۰) (۲۳۲) (۲۳۳) (۲۳۹) (۲۴۰) (۲۴۱) در شرکتهای سهامی نيز تطبيق ميشود.

**مادهٔ ۴۳۴:**
وظايفی که مطابق مادهٔ (۲۱۷) به مديران سپرده شده است، در تصفيه شرکتهای سهامی از طرف هيئت مديره ايفاء ميشود.

**مادهٔ ۴۳۵:**
شرکتهای سهامی بعد از انحلال نيز تا انجام معاملات تصفيه موجود شمرده ميشوند.

و اگر هيئت تصفيه لازم ببيند ميتواند مجمع عمومی را برای تصويب امور مربوطه به اجتماع دعوت کند.

**۴۳۶ ماده:**

د تصفیي مامورین د شرکت حاضر وضعیت ګوری او د شتو دفتر او بیلانس یي جوړوي او عمومي مجمع ته یې وړاندي کوي.

**۴۳۷ ماده:**

دکار په پای کښې دتصفیې مامورین مؤظف دي چه یو نهایې او قطعي حساب جوړ کړی او عمومي مجمع ته ئي وسپاري.

**۴۳۸ ماده:**

د تصفیې مامورین مکلف دي چه خپلې وظیفي په یوکال کښې پای ته ورسوي او که د تصفیې د معاملاتو اکمال دیو کال په موده کښې ممکن نه وي، د تصفیي مامورین باید دکال په پای کښې د تصفیي نتیجې سره له هغو اسبابو چه د تصفیي د اکمال مانع شوي دي عمومي مجمع ته ابلاغ کړی او د تصفیي د کار د ادامې دپاره تصویب حاصل کړی.

**۴۳۹ ماده:**

د تصفیي مامورین چه مالونه د عمده په ډول پلوري، د عمومي مجمع په تصویب اخیستو باندې مکلف دي.

**مادهٔ ۴۳۶:**

مامورین تصفیه وضعیت حاضره شرکت را تدقیق و دفتر دارایی و بیلانس را ترتیب نموده برای تصویب به مجمع عمومی تقدیم میدارند.

**مادهٔ ۴۳۷:**

در ختم کار مامورین تصفیه مؤظفند که یک حساب نهائی و قطعی ترتیب و به مجمع عمومی بسپارند.

**مادهٔ ۴۳۸:**

مامورین تصفیه مکلفند که وظایف خود را در ظرف یک سال به انجام رسانند. اگر اکمال معاملات تصفیه در ظرف یک سال ممکن نباشد، مامورین تصفیه باید در اخیر سال نتایج تصفیه را با اسبابیکه مانع اکمال تصفیه شده به مجمع عمومی ابلاغ و برای ادامه عمل تصفیه تصویب حاصل نمایند.

**مادهٔ ۴۳۹:**

مامورین تصفیه در فروش اموال بطور عمده فروشی مکلف به اخذ تصویب مجمع عمومی میباشند.

**۴۴۰ ماده:**

د شرکت خالصه دارایي چه د سهم لرونکو په منځ کښې د هغو روپو په تناسب ویشله کیږي. د ترجیحي او امتیازي سهمونو په خصوص کښې (که د امتیازي سهم قیمت ورکړی شوي نه وي) که په اساسنامه کښې پیش بیني شوي نه وي، د عمومي مجمع د تصویب له قراره رفتار کیږي.

**مادۀ ۴۴۰:**

دارایی خالص شرکت در بین سهمداران به تناسب مبالغیکه پرداخته اند تقسیم میشود. راجع به سهام ترجیحی و امتیازی (اگر قمیت سهم امتیازی تادیه نشده باشد) اگر در اساس نامه پیش بینی نشده باشد، به قرار تصویب مجمع عمومی رفتار میشود.

**۴۴۱ ماده:**

که د سهامي شرکت انحلال له یوه بل شرکت سره دیووالي په اثر شوي وي، لاندني احکام تطبیق کیږي:

۱- د اداري چاري په هغه شرکت پوري چه د یووالي په نتیجه کښې نوي تشکیل شویدي، اړه لري، مګر لازم دي چه منحل شوي شرکت شته د پورووالاوو د طلباتو د ورکړی تر وخته پوري ځانګړی اداره او تصفیه شي.

۲- د هغي محکمي واک چه منحل شوي شرکت د یووالي تر وخته پوري د هغي تابع وي، تر هغي مودې چه ددې شرکت شته ځانګړی اداره کیږي هم دوام کوي.

۳- د نوي شرکت د مدیره هیئت

**مادۀ ۴۴۱:**

اگر انحلال شرکت سهامی در اثر اتحاد با یک شرکت دیگر صورت گرفته باشد، احکام آتیه تطبیق میشود:

۱- امور اداره به شرکتی که جدیداً در نتیجۀ اتحاد تشکیل یافته مربوط است، اما لازم است که دارایی شرکت منحل شده تا وقتیکه تادیۀ طلبات دائنین مستقلاً اداره و تصفیه شود.

۲- صلاحیت محکمه که شرکت منحل شده تا زمان اتحاد تابع آن بوده، الی مدتیکه دارایی این شرکت جداگانه اداره میشود نیز دوام میکند.

۳- اعضای هیئت مدیره

غــــړی د شـرکـــت د چــارو د اداري دپـاره ددې مــادې د لــومړۍ فقــرې د حکم تـر اجراء پورې يـواځې او پـه ګډه سره مسئول دي.

۴- د شرکـــت د انحــلال موضــوع د تجارتي ثبت پــه دايــره کـښې ثــبـت او اعـلانـيـږي.

۵- د دوو يـــو شـويـــو شرکتـــو مـالــونه په (۴۳۸) مـاده کـښې د ټاکـل شوي مودې تر تېرېدلو پورې يـو لـه بـل سره ګډيداى نشي.

## نهمه برخه
## د نفع او ضرر حساب

**۴۴۲ ماده:**
د ګټو په ويشلو کښې لږ ترلږه لـه هغـو څخـه پـه سلو کـښـې پنځـه د شـرکت د احتمـالي ضـررونو د پوره کولـو دپـاره داحتياطي پانګې په نامه ساتلي کيږي. احتيـاطي پانګـه چـه پـدې ډول تـوليږي (کـه پــه اساسـنامه کښــې د هغـــې د زيـاتوالي پـه بـاره کـښـې کـوم صـراحت موجـود نـه وي) وروسـتـه لـه هغـه چـه د شرکت د پانګې څلورمي تـه ورسيږي، نـوري پيسـې نــه سـاتلي کـيـږي. کــه دسهمونو قيمت د هغو له ټاکلي قيمت څخه زيات وي، د قيمت زياتوالي يې

شـرکـــت جــديـــد تــا اجـــرای حـــکم فـقـرۀ اول این مـــادۀ بـــرای ادارۀ امـــور شــــرکت شخصـاً و جمعاً مسئول اند.

۴- مــوضــوع انحـلال شـرکت بـه دايـرۀ ثـبـت تـجـارتـی ثبـت و اعـلان ميشود.

۵- امــوال دو شـــرکـــت مـتحـده تـا مـــرور مـدت مــعـيـينـه مـادۀ (۴۳۸) بـــه يکــــديگــر مـمـزوج نمی شود.

## حصۀ نهم
## حساب نفع و ضرر

**مادۀ ۴۴۲:**
در تـوزيـع مـنافع اقـــلاً پنج فيصد آن بنـام ســـرمايه احتيـاطی بـرای جبـران ضررهـــای احتمـالی شـرکت نگهداشته ميشود. سرمايه احتيـاطی که بـــاينصورت جمع ميشود (اگر در اســـاسنامه راجـع بـه زيـــادت آن صراحتی مـــوجود نباشد) بـــعد از آنـــکه به ربع سرمايه شـرکت برسد، ديگـر مبلغـی نـــگهداشته نميشود. اگـر قيمت سهام از قـــيمت هــــای مـعـيـينـــه آنـــها زيـــادتر باشـد، زيادگی قيمت نيز ممکن است بـه

هم ممکن دي چه په احتياطي پانگه ور زيات شي. وروسته له هغه چه احتياطي پانگه هغي اندازي ته چه په اساسنامه يا قانون کښې ټاکلي شوي وي ورسيږی او بيا په هر سبب چه وي نقصان وموميِ، د لمړنۍ فقري له ذکر شوي ترتيب سره سم د نقصان د پوره کېدو تر وخته پورې دگټهو ساتني ته ادامه ورکول کيږي.

۴۴۳ ماده:

تر هغه وخته پورې چه د شرکت زيانونه پوره نشي او د (۴۴۲) مادې له مخې د احتياطي پانگې روپي وضع نشي، گټې نه ويشلي کيږي. هغه گټې چه له دې حکم نه چپي وويشلي شي، غير حقيقي بللی کيږي او د هغو په باره کښې د (۴۴۴) مادې حکم تطبيقيږی.

۴۴۴ ماده:

که مفاد د بد نيت له مخې (لکه د بيلانس نشتوالي او يا په بيلانس کښې غير حقيقي گټې ښودل) ويشلي شوي وي، مستردېږی – د غيرحقيقي گټهو د استرداد د دعوي حق وروسته له پنځو کالو له هغي مودې چه په اساسنامه کښې دگټهو ويشلو دپاره ټاکلي دې ساقطيږی.

سرمايه احتياطی علاوه شود. بعد از آنکه سرمايه احتياطی به مقداريکه در اساسنامه و يا قانون تعيين گرديده برسد، باز به هر سببی که باشد تناقص کند، مطابق ترتيب متذکره فقره اول تا وقت اکمال نقصان دوباره به نگهداشت منافع ادامه داده ميشود.

مادهٔ ۴۴۳:

تا زمانيکه ضررهای شرکت جبيره نشود و مبلغ سرمايه احتياطی بموجب مادهٔ (۴۴۲) وضع نگردد، منافع توزيع نميشود. منافعيکه مخالف اين حکم توزيع گردد، غير حقيقی محسوب شده و احکام مادهٔ (۴۴۴) راجع به آن تطبيق ميشود.

مادهٔ ۴۴۴:

اگر مفاد از روی سوء نيت از (قبيل عدم موجوديت بيلانس و يا نشان دادن مفاد غير حقيقی در بيلانس) توزيع گرديده باشد، مسترد ميشود. حق دعوی استرداد منافع غير حقيقی بعد پنج سال از مدتيکه در اساسنامه برای توزيع منافع معيين است، ساقط ميگردد.

**۴۴۵ ماده:**

د سهم د سند دپاره د شرکت داساسنامي يا د عمومي مجمع په ذريعه ټکټ پولۍ نه منل کيږي او نه ټاکله کيږي – مگر د هغو شرکتو سهم لرونکو ته چه د هغو کار موضوع د لوئي پانگې ټولول وي او دا ترتيب د مودې د تيريدو متضمن وي، د شرکت د متعهده پانگې د ټولي شوي برخي دپاره منتها په سلو کښې پنځه ټکټ پولي ورکول کيداى شي په شرط ددې چه له پنځو کالو څخه زياتي ونکړي. هغه پيسې چه په دي صورت د ټکټ پولۍ له درکه ورکول کيږي د ابتدائي تأسيساتو د مصارفو په شان په بيلانس کښې معامله کيږي.

**مادهٔ ۴۴۵:**

برای سند سهم ذریعه اساسنامه شرکت و یا تصویب مجمع عمومی تکت پولی قبول و تعیین نمیشود، لیکن به سهمداران شرکت هاییکه موضوع فعالیت آنها جمع شدن سرمایه بزرگ بوده و این ترتیب متضمن مرور مدت باشد، برای قسمت جمع شده سرمایه متعهدهٔ شرکت منتها پنج فیصد تکت پولی داده شده میتواند مشروط بر اینکه از پنج سال تجاوز نکند. مبالغیکه به این صورت از درک تکت پولی تادیه میشود، مانند مصارف تأسیسات ابتدائیه در بیلانس معامله میشود.

**۴۴۶ ماده:**

که احتياطي پانگه د هغه کسر د پوره کولو دپاره چه له ضرر څخه پيدا شوي وي کفايت ونکړي، د ټول ضرر د پوره کولو تر وخته پورې گټې په سهم لرونکو نشي ويشل کيداى.

**مادهٔ ۴۴۶:**

اگر سرمایه احتیاطی برای تلافی کسر ناشی از ضرر کفایت نکند، تا زمان تلافی تمام ضرر منافع به سهمداران تقسیم شده نمیتواند.

## پنځم فصل
## سهامي مختلط تضامني شرکتونه

## فصل پنجم
## شرکتهای تضامنی مختلط سهامی

**۴۴۷ ماده:**

سهامي مختلط تضامني شرکتونه عبارت له هغو شرکتو څخه دي چه په

**مادهٔ ۴۴۷:**

شرکتهای تضامنی مختلط سهامی عبارت از شرکتهایی

هغو کمپنۍ يو يا زيات شمير شريکان د شرکت د پورونو په مقابل کې تضامني او غير محدود مسئوليت لري. پدې حال کې چه بل شمېر شريکان فقط د هغو اسهامو په اندازه چه په شرکت کې يي لري مسئول دي.

**۴۴۸ ماده:**

يو د بل سره متضامن شريکانو حقوقيه مناسبات او په عمومي صورت له محدود المسئوليت سهم لرونکو سره او له دريمو کسانو سره او په تيره بيا د شرکت د اداري او په خارج کې د هغه د نمايندګۍ په خصوص کې صلاحيتونه او له شرکت څخه وتل، د مختلطو تضامني شرکتو د احکامو تابع دي. په نورو خصوصياتو کې که پدې فصل کې د هغه په خلاف تصريح نه وي شوي، د سهامي شرکتو احکام تطبيق کيږي.

**۴۴۹ ماده:**

د سهامي مختلط تضامني شرکت په اساسنامه کې پرته له (۶) فقرې نورې ټولې فقرې چه په (۲۷۰) ماده کې ذکر شوي وي داخليږي. د سهامي مختلط تضامني شرکتو په خصوص کې د (۲۷۱) مادې حکم نه جاري کيږي.

است که در آن يک يا تعداد بيشتری از شرکاء در مقابل ديون شرکت مسئوليت تضامنی و غير محدود دارند، در حاليکه عده ديگری از شرکاء فقط به اندازه سهاميکه به شرکت دارند مسئول ميباشند.

**مادهٔ ۴۴۸:**

مناسبات حقوقيه شرکای متضامن با يکديگر و بصورت عمومی با سهمداران محدود المسئوليت و با اشخاص ثالث و بالخاصه صلاحيتهای راجع به اداره شرکت و نمايندگی آن در خارج و خروج از شرکت، تابع به احکام شرکتهای تضامنی مختلط ميباشد. در خصوصيات ديگر اگر خلاف آن درين فصل تصريح نشده باشد، احکام شرکتهای سهامی تطبيق ميشود.

**مادهٔ ۴۴۹:**

در اساسنامه شرکت تضامنی مختلط سهامی غير از فقره (۶) تمام فقرات ديگريکه در مادهٔ (۲۷۰) ذکر شده درج ميشود. حکم مادهٔ (۲۷۱) راجع به شرکتهای تضامنی مختلط سهامی جاری نيست.

**۴۵۰ ماده:**
د سهامي مختلط تضامني شرکت اساسنامه بايد د ټولو متضامنو شريکانو له خوا لاس ليک شي او ټول هغه کسان چه د اساسنامي په جوړولو کښې ګډون کوي مؤسس بلل کيږي. مؤسسين له پنځو تنو څخه لږيداى نشي او لږ ترلږه بايد يوتن له مؤسسينو څخه متضامن شريک وي. محدود المسئوليت شريکان چه د مؤسس په حيث پيژندل کيږي بايد د هغو سهمونو اندازه چه مالک يي دي په اساسنامه کښې درج شي.

**مادۀ ۴۵۰:**
در اساسنامه شرکت تضامنی مختلط سهامی باید از طرف عموم شرکای متضامن امضاء شود و تمام اشخاصیکه در تنظیم اساسنامه اشتراک میکنند، مؤسس شمرده میشوند. مؤسسین از پنج نفر کمتر شده نمیتوانند و اقلاً یکی از مؤسسین باید از شرکای متضامن باشد. شرکای محدود المسئولیت که بحیث مؤسس شناخته شوند باید مقدار سهامی را که مالک میباشند در اساسنامه درج شود.

**۴۵۱ ماده:**
د سهامي مختلطو تضامني شرکتونو د متضامنو شريکانو په باره کښې د سهامي شرکتونو د مديره هيئت د وظيفو او مسئوليت په خصوص کښې احکام جاري دي.

**مادۀ ۴۵۱:**
احکام راجع به وظایف و مسئولیت هیئت مدیرۀ شرکتهای سهامی دربارۀ شرکاء متضامن شرکتهای تضامنی مختلط سهامی هم جاریست.

**۴۵۲ ماده:**
د سهامي مختلطو تضامني شرکتو مديران د هغو شرطونو او احوالو په دائره کښې چه دتضامني شرکتونو د مديرانو د عزل دپاره ټاکل شوي دي، د عزل وړ دي.

**مادۀ ۴۵۲:**
مدیران شرکتهای تضامنی مختلط سهامی در دایرۀ شرایط و احوالیکه برای عزل مدیران شرکتهای تضامنی تعیین شده قابل عزل اند.

**۴۵۳ ماده:**
لکه چه يو متضامن شريک نشي کولاى

**مادۀ ۴۵۳:**
یک شریک متضامن طوریکه

بي د شرکت د نورو متضامنو شريکانو له اجازي ځخه په تجارتي ډول چه د شرکت موضوع ده معامله وکړي، په همدې شان نشي کولای چه په يو بل داسي تضامني شرکت کښې چه په همغــه ډول تجـــارت بخــت وي، د متضامن شريک په صفت داخل شي.
هغه متضامن شريک چه ددې حکم په خلاف رفتار وکړی، د (۱۵۹) مادې مقررات د هغه په باره کښې تطبيقيږی.
که متضامن شريکان او يا نظار هيئت په بل شرکت کښې د يوه متضامن شريک په اشتراک او يا د هغه په تجارتي عمل چه ددې مادې له مقراتو ځخه چپ يي رفتار کړي وي د وقوع له نېټې ځخه تر يو کال پورې اعتراض ونکړی، د اعتراض حق يي ساقطيږی.

نميتـــــواند بـــی اجــازه شــرکای متضـامن ديـــگر شـرکت بـه نـوع تجـارتی کـه موضـوع شـرکت اسـت معامله کند، همـــچنان نميتواند به يـک شـرکت تضـامنی ديگـــريکه بـه همان نوع تجارت مشغول بـــاشـــد، بـه صفت شريک متضامن داخل شود.
شـريـک متضمـــانيکه بر خلاف اين حکم رفتار کند، مقرره مادۀ (۱۵۹) دربارۀ آن تطبيق ميشود. اگر شرکای متضـامن ويـا هيـأت نظـار اشـتراک شريـــک متضـــامنی را بـه شرکـت ديگـر و يـا عمـل تجـارتی او را کـه بـرخلاف مقـررات ايـن مـــاده رفتـار کـرده باشـد از تـاريـخ وقـوع تـا يــک ســال اعتــراض ننماينـد، حــق اعتــراض ساقط ميشود.

**۴۵۴ ماده:**

د عمومي مجمع د تصويبونو اجراء (په داسي حال کښې چه د شرکت په اساسنامه کښې د هغو په خلاف نور مقررات موجود نه وي) په نظار هيئت پورې اړه لري.

**مادۀ ۴۵۴:**

اجـرای تصـويـبـات مجمـع عـمـومـی (در حاليکه در اساسنامه شرکت مقـررات ديـگـری بـر خـلاف آن موجود نبـــاشد) مربوط به هيئت نظار است.

**۴۵۵ ماده:**

نظار هيئت په هغو دعوو کښې چه د متضـــامنو شـــريکانو او د محـــدود المسئوليت شريکانو د عمومي مجمع تـــرمنځ پـــيښ شــي، د محـــدود

**مادۀ ۴۵۵:**

هيئـت نظـار در دعـاوی ايکـه ميـان شـرکای متضـامن و مجمـع عـمـومی شـــرکاء محـدود المسـئوليت واقـع شـــود، شـــرکای محـــدود

المسئوليتو شريکانو نمايندګي کولای شي. مګر دا صلاحيت د محدود المسئوليتو شريکانو د عمومي مجمع په تصويب سره خصوصي وکيلانو ته هم سپارل کيدای شي.

متضامن شريکان د نظار هيئت په جمله کښې شامليدای نشي.

## شپږم فصل
## محدود المسئوليت شرکتونه

**۴۵۶ ماده:**
هغه تجارتي شرکت چه پانګه يي په سهمونو نه وي ويشل شوي او د هر شريک مسئوليت په شرکت کښې دده د متعهده پانګې په اندازه وي، محدود (لميتد) بلل کيږي.

**۴۵۷ ماده:**
پرته د بيمې له چارو دهر ډول معاملاتو دپاره محدود شرکت تشکيليدای شي.

**۴۵۸ ماده:**
لميتد شرکت د ملي اقتصاد د وزارت په اجازه جوړيږی. د اجازي په درخواست کښې لازم دي چه د ټولو شريکانو او يا د دوی د مصدقو وکيلانو لاس ليکونه داخل شي. بايد د شرکت ټوله پانګه تعهد او لږ ترلږه

المسئوليت را نمايندگی ميتوانند. ليک اين صلاحيت با تصويب مجمع عمومی شرکاء محدود المسئوليت به وکلای خصوصی هم سپرده شده ميتواند.

شرکای متضامن در جمله هيئت نظار شامل شده نميتوانند.

## فصل ششم
## شرکتهای محدود المسئوليت

**مادهٔ ۴۵۶:**
شرکتهای تجارتی ايکه سرمايه آن غير منقسم با سهام بوده و مسئوليت هر شريک محدود باندازه سرمايه متعهده او در شرکت باشد، محدود (لميتد) ناميده ميشود.

**مادهٔ ۴۵۷:**
غير از امور بيمه برای هر نوع معاملات شرکت محدود تشکيل شده ميتواند.

**مادهٔ ۴۵۸:**
شرکت لميتد به اجازه وزارت اقتصاد ملی تشکيل می يابد. در درخواست اجازه لازم است که امضاء تمام شرکاء و يا وکيل های مصدق ايشان درج گردد. بايد تمام سرمايه شرکت تعهد و اقلاً نصف

نيمايي پانګه ورکړي شوي وي.

**۴۵۹ ماده:**
په محدودو شرکتو کښې د شريکانو شمير لږ ترلږه دوه او زيات يې پنځوس تنه دي. په محدود شرکت کښې بايد پانګه له سلو زرو افغانو څخه لږ نه وي.

**۴۶۰ ماده:**
په محدودو شرکتو کښې دي وروسته له عنوان څخه د (محدود) کلمه زياته شي.

همدا ډول په تولو پاڼو او اسنادو کښې دي د شرکت تر عنوان لاندې دپانګې اندازه داخله شي.

**۴۶۱ ماده:**
په محدودو شرکت کښې د اشتراک اسناد نوم لرونکي دي. د هغو انتقال د هغو زياتو شريکانو په موافقه پورې تړلي دي چه د پانګې د درې ربع نمايندګي وکوي. که د پانګې په ځای شيان ورکړي شوي وي، د شرکت د تشکيل په لمړيو دريو کالو کښې بل ته انتقال کيدای نشي.

**۴۶۲ ماده:**
هغه چا چه يوه اندازه تعهد کړي پانګه نه وي ورکړي او خپله برخه انتقال

آن تاديه شده باشد.

**مادۀ ۴۵۹:**
در شرکتهای محدود عدد شرکا اقلاً دو و اکثراً پنجاه نفر است در شرکت محدود سرمايه نبايد کمتر از يکصد هزار افغانی باشد.

**مادۀ ۴۶۰:**
در شرکتهای محدود بعد از عنوان کلمۀ (محدود) علاوه شود.

همچنين در تمام اوراق و اسناد در زير عنوان شرکت مقدار سرمايه درج گردد.

**مادۀ ۴۶۱:**
اسناد اشتراک در شرکت محدود با اسم است. انتقال آن مقيد بموافقه اکثريت شرکائيکه سه ربع سرمايه را نمايندگی کنند، ميباشد. اگر در عوض سرمايه، اشياء داده شده باشد، در ظرف سه سال اول تشکيل شرکت، به ديگری انتقال داده شده نميتواند.

**مادۀ ۴۶۲:**
شخصيکه يک مقدار از سرمايه متعهده را تاديه نکرده و حصۀ

کړي، شرکت کولای شي چه پاتي پانګه لــه لمــړی شــخص او یــا د انتـــقال اخیستونکي څخه وغواړي.

مګر د انتقال له نېټې څخه د دووکـالو له تیریدونه وروسته یواځې لـه انتـقال اخیستونکي څخه د غوښتنې وړ ده.

**۴۶۳ ماده:**
محدود شرکت د یوه یا څو تنو مدیرانو لـه خوا چه د شریکانو لـه خوا یا لـه د باندې څخه ټاکل کیږي، اداره کیږي. مدیران یا د شرکت پـه مقاولـه کښـې یا د شـریکانو پـه ورسـتني تصویب سـره ټاکل کیږي.

**۴۶۴ ماده:**
د شـــرکت مـــدیران د قـــانون یـــا داساسـنامې پـه خـلاف اجراآتـو کښـې شخصاً یا په ګډه سره مسئول دي.

**۴۶۵ ماده:**
پـه هغـو شـرکتو کښـې چـه د شـریکانو شمېر یي له شلو تنو څخه زیات وي د عمومي مجمع ټولنه د هغو مراسمو او قیـودو تـابع ده چـه د سـهامي شـرکتونو په خصوص کښې پیش بیني شوي دي. په هغو شرکتو کښې چه شریکان یي لـه شـلوتنو څخــه لــږ وي، تصــویبونه د شریکانو په رأي سره کیږي.

خـود را انتـقال دهد، شرکت مـیتواند بـاقیمانده سرمایه را از شـــخص اول و یا انتـقال گیرنده مطـــالبه نماید.

ولی بعد از مرور دو ســـال از تـاریخ انتـقال، تنها از انتـــقال گیرنده قابـل مطالبه میباشد.

**مادۀ ۴۶۳:**
شـرکـت مـحـدود از طـرف یـک و یـا چنـد مدیـریکـه از طـرف شـرکاء و یـا از خـارج تعیـین میشـوند، اداره مـیگــردد. مدیــران یــا در مقاولــه شـرکت یـا در اثـر تصــویب بعـدی شرکاء تعیین میشوند.

**مادۀ ۴۶۴:**
مـدیـران شرکـت در اجـراآت خـلاف قـانــون یـــا اســاسنامــه شخصــاً و جمعاً مسئول اند.

**مادۀ ۴۶۵:**
در شرکـت هـاییکـه عـدد شـرکاء از بیســـت نفـــر متجـــاوز باشـــد، اجتمـــاع مجمـــع عمـومی تـابع بـه مراســم و قیودیســت کــه در مــورد شـرکتهای سـهامی پـیش بینـی شـده اسـت. در شـــرکت هاییکــه شــرکاء کمتر از بیست نفر باشند، تصویبات برای شرکاء **بعمل** می آید.

په دواړو صورتونو لازمه ده هغه شریکان چه لږ ترلږه د نیمایي پانګې نمایندګي کوي، د هغې موضوع دپاره چه تر مذاکرې لاندې ده، رای ورکړي.

**۴۶۶ ماده:**
د (۱۵۱) مادې حکم په محدودو شرکتو کښې هم جاري دي.

**۴۶۷ ماده:**
په تصویبونو کښې هر شریک د خپلې برخې په تناسب رأي لري.

**۴۶۸ ماده:**
په محدودو شرکتونو کښې چه د شریکانو شمېر له پنځو تنو څخه زیات نشي د ټولو شریکانو په موافقت مقاوله تعدیلیداي شي. په هغو شرکتو کې چه شریکان یي له پنځو تنو څخه زیات وي، د هغو شریکانو د رایو موافقت چه دوه ثلثه پانګه ولري، کافي دي.

**۴۶۹ ماده:**
د یوه شریک په وفات یا افلاس شرکت نه فسخ کیږي. که شرکت له دوو تنو څخه جوړ وي او یو شریک وفات یا افلاس وکړی نو بل شریک د مړه شریک په عوض بل معرفي کوي او که نه شرکت منحل کیږي.

در هر صورت لازمیست که شرکائیکه اقلاً نصف سرمایه را نمایندگی میکنند، بر له موضوع که تحت مذاکره است رأی داده باشند.

**مادهٔ ۴۶۶:**
حکم مادهٔ (۱۵۱) در شرکتهای محدود هم جاری است.

**مادهٔ ۴۶۷:**
در تصویبات هر شریک به تناسب حصهٔ خود دارای رأی میباشد.

**مادهٔ ۴۶۸:**
در شرکتهای محدود که عدد شرکاء از پنج نفر تجاوز نکنند، تعدیل مقاوله نامه با موافقت تمام شرکاء بعمل آمده میتواند. در شرکت هاییکه شرکاء آن از پنج نفر تجاوز میکنند، موافقت آراء شرکائیکه دو ثلث سرمایه را تمثیل میکنند، کافیست.

**مادهٔ ۴۶۹:**
به وفات و یا افلاس یکی از شرکاء شرکت فسخ نمیشود. اگر شرکت مرکب از دو نفر باشد و یک شریک وفات یا افلاس کند، شریک دیگر عوض شریک متوفا دیگری را معرفی میکند و الا شرکت منحل میشود.

۴۷۰ ماده:
په محدودو شرکتو کښې چه د شریکانو شمیر یې له شلو تنو څخه زیاتیږی، یو تن یا دوه تنه د نظار غړي موجود وي چه د سهامي شرکتو د نظار هیئت له مربوطو احکامو سره سم به اجراآت وکړي.

تبصره:
په سهامي او لمیتد شرکتو کښې به یو تن ددولت نماینده د کمیسر په نامه موجود وي تر څو د اصولنامي د موادو په تطبیق کښې مراقبت وکړي. د کمیسر وظیفي د ځانګړي تعلیماتنامي له مخې ټاکلي کیږي.

## دریم باب - تجارتي اسناد

## لومړی فصل
## برات

### لومړۍ برخه - د برات لیکنه او شکل

۴۷۱ ماده:
برات باید دا لاندني شرطونه ولري:

۱- د برات کلمه د سند په متن کښې په هره ژبه چه برات لیکلي شوي وي.

۲- د ټاکلي مبلغ د ورکړي امر بي له قید او شرط څخه.

مادۀ ۴۷۰:
در شرکتهای محدود که عدد شرکاء آن از بیست نفر تجاوز میکند، یک و یا چند نفر عضو نظار موجود میباشد که مطابق احکام مربوطه به هیئت نظار شرکتهای سهامی اجراآت خواهند کرد.

تبصره:
در شرکتهای سهامی و لیمتد یک نفر نماینده دولت بنام کمیسر موجود خواهد بود تا در تطبیق مواد اصولنامه مراقبت بدارد. وظایف کمیسر بموجب تعلیمات نامه علیحده معیین میگردد.

## باب سوم - اسناد تجارتی

## فصل اول
## برات

### حصۀ اول - تحریر و شکل برات

مادۀ ۴۷۱:
برات باید محتوی شرایط ذیل باشد:

۱- کلمۀ برات در متن سند بهر زبانیکه برات تحریر شده باشد.

۲- امر تادیه مبلغ معیین بلا قید و شرط.

۳- د (برات ورکوونکي) مخاطب نوم.

۴- د ورکړې موده.

۵- د ورکړې ځای.

۶- د هغه چا نوم چه مبلغ ده ته او یا دده حواله ورکړې ته باید ورکړې شي.

۷- د برات د لیکلو ځای او نېټه.

۸- د برات د صادرونکي لاسلیک.

**۴۷۲ ماده:**
هغه سند چه د (**۴۷۱**) مادې له مندرجاتو څخه یو په کښې نوي، د برات ماهیت به ونلري پرته له هغو حالاتو چه په لاندنیو فقرو کښې ذکر شوي دي:

۱- هغه برات چه د ورکړې موده پکښې ذکر شوي نه وي د ښکارولو په وخت کښې د ورکړې وړبلل کیږي.

۲- په هغه برات کښې چه دور کړې ځای یي ذکر نه وي نو هغه ځای چه د مخاطب له نامه څخه وروسته لیکلي شوي وي، د ورکړې ځای بلل کیږي.

۳- هغه برات چه د صدور ځای پکښې ذکر شوي نه وي نو هغه ځای چه ددې صادرونکي له نامه څخه وروسته وي د

۳- اسم مخاطب (تادیه کننده برات).

۴- موعد تادیه.

۵- محل تادیه.

۶- اسم شخصیکه مبلغ در وجه او و یا حواله کردش باید تادیه شود.

۷- محل و تاریخ تحریر برات.

۸- امضای صادر کننده برات.

**مادۀ ۴۷۲:**
سندیکه یکی از مندرجات مادۀ (۴۷۱) را حاوی نباشد، ماهیت برات را نخواهد داشت به استثنای حالاتیکه در فقرات ذیل ذکر گردیده است:

۱- براتیکه موعد تادیه در آن ذکر نشده باشد، عند الرویت قابل تادیه دانسته میشود.

۲- در براتیکه محل تادیه ذکر نباشد، محلیکه بعد از اسم مخاطب تحریر شده باشد، محل تادیه شناخته میشود.

۳- براتیکه محل صدور در آن ذکر نشده باشد، محلیکه بعد از اسم صادر کننده مذکور باشد، محل

صدور ځای بلل کيږي.

**۴۷۳ ماده:**

د ورکړې وړ برات کيدای شي چه د صادرونکي په امر يا د صادروونکي په وجه يا دريم شخص په حساب وليکل شي.

**۴۷۴ ماده:**

د برات ورکړه کيدای شي چه د دريم شخص د استوګنې په ځای کښې وي او که د مخاطب د استوګنې په ځای کښې وي او که په بل ځای کښې وي، مشروط کړي.

**۴۷۵ ماده:**

هغه برات چه د ښودلو په وخت کښې او يا وروسته له ښودنې په ټاکلي موده کښې د ورکړې وړ وي، صادرونکي کولای شي چه دا شرط کيږدی چه د ورکړې وړ مبلغ يې تکټ پولي بللي وي.

په نورو براتو کښې د تکټ پولۍ شرط معتبر ندي. د تکټ پولۍ اندازه بايد ټاکلي وي، که تکټ پولي ټاکلي نه وي، معتبر نه دي. که بله نېټه مقرره شوي نه وي نو تکټ پولي به د برات د ليکلو له نېټې څخه حساب شي.

صدور شناخته ميشود.

**مادهٔ ۴۷۳:**

برات را ميتوان قابل تاديه به امر صادر کننده يا در وجه صادر کننده يا به حساب شخص ثالث تحرير کرد.

**مادهٔ ۴۷۴:**

تاديه برات را ميتوان در اقامتگاه شخص ثالث، چه در محل سکونت مخاطب باشد و چه در محل ديگری، مشروط نمود.

**مادهٔ ۴۷۵:**

براتی که عند الرويت و يا در مدت معينی بعد از ارائه قابل تاديه باشد، صادر کننده ميتواند شرط گذارد که مبلغ تاديه، تکت پولی دانسته باشد.

در براتهای ديگر شرط تکت پولی معتبر نيست. مقدار تکت پولی بايد تعيين شده باشد درصورت عدم تعين، تکت پولی معتبر نيست. اگر تاريخ ديگری مقرر نشده باشد، تکت پولی از تاريخ تحرير برات حساب خواهد شد.

**۴۷۶ ماده:**

په هغه برات کښې چه مبلغ هم په حروفو او هم په ارقامو ليکلي شوې وي. که په دواړوکښې توپير پيدا شي نو هغه مبلغ چه په حروفو ليکل شوي دي د اعتبار وړ دي.

په هغه برات کښې چه مبلغ يوائې په حروفو يا يوائې په ارقامو مکرر ليکلي شوي وي او په منځ کښې يي توپير پيدا شي، لږ مبلغ ته اعتبار ورکاوه کيږي.

**۴۷۷ ماده:**

د هغو کسانو لاس ليک چه په برات باندې دلاس ليک اهليت او صلاحيت نلري، د واک لرونکو کسانو د لاس ليک په اعتبار کوم اثر نشي اچولي.

**۴۷۸ ماده:**

هغه کسان چه برات د يوه داسي شخص په نامه او حساب باندې چه د هغه وکالت نلري لاس ليک کړي نو هر ډول مسئوليت چه د هغه برات په خصوص کښې پيښ شو، په دوي پورې اړه لري او دهغه وکيل په باره کښې چه د خپل واک له حدودو څخه تيري وکړي هم همدغه حکم معتبر دي.

**مادهٔ ۴۷۶:**

در براتيکه مبلغ هم بحروف و هم به ارقام تحرير شده باشد. اگر بين هر دو تفاوت موجود شود، مبلغيکه با حروف تحرير گرديده معتبر است.

در براتيکه مبلغ تنها با حروف و يا تنها با ارقام مکرر تحرير شده باشد و در بين آنها تفاوت موجود شود، به مبلغ اقل اعتبار داده ميشود.

**مادهٔ ۴۷۷:**

امضای اشخاصيکه واجد صلاحيت و اهليت در برات نباشند، به اعتبار امضای اشخاص واجد صلاحيت اثری وارد نميتواند.

**مادهٔ ۴۷۸:**

کسانيکه برات را بنام و حساب شخصيکه وکالت او را ندارد امضاء کنند، هر نوع مسئوليت راجع به آن برات به ايشان عايد است. دربارهٔ وکيلی که از حدود صلاحيت خود تجاوز کند نيز عين همين حکم معتبر است.

**۴۷۹ ماده:**

د برات قبول او ورکړه د صادروونکي تر ضمانت لاندې دي. صادروونکي ممکن دي چه د قبول له ضمانت څخه ځان خلاص کړي مګر هغه شرط چه د ورکړې له ضمانت څخه د ابراء متضمن وي، د اعتبار وړ نه دي.

**مادهٔ ۴۷۹:**

قبول و تادیهٔ برات تحت ضمانت صادر کننده است صادر کننده ممکن است خود را از ضمانت قبول وارهاند ولی شرطیکه متضمن ابراء از ضمانت تادیه باشد معتبر نیست.

## دوه یمه برخه

## په شا لیکل

## حصهٔ دوم

## ظهر نویسی

**۴۸۰ ماده:**

که د برات صادرکوونکي د انتقال وړ نه وي او جمله له یوې بلې داسي جملي چه کټ مټ دغه معنی افاده کړي لیکلې وي نو دا برات نقل کیدای نشي او دغیر قابل انتقال طلباتو د احکامو تابع دي.

برات کیدای شي چه مخاطب او صادر کوونکي او یا نورو مسئولینو ته ظهر نویسي کړی شي. له برات څخه ټول پیداشوي حقوق په ظهر نویسۍ سره انتقال مومي.

**مادهٔ ۴۸۰:**

برات بموجب ظهر نویسی قابل انتقال میگردد. اگر صادر کننده برات جمله قابل انتقال نیست و یا یک جمله دیگریکه عین معنی را افاده کند نوشته باشد، برات مذکور به طریق ظهر نویسی نقل شده نتوانسته تابع احکام طلبات غیر قابل انتقال است.

برات را میتوان به مخاطب و صادر کننده و یا مسئولین دیگری ظهر نویسی نمود. با ظهر نویسی کافه حقوق متولد از برات انتقال می یابد.

**۴۸۱ ماده:**

د برات په شالیکنه لازمه ده چه له هر ډول قید او شرطو څخه عاري وي. په هر شرط پورې چه ظهر نویسي تعلق

**مادهٔ ۴۸۱:**

ظهر نویسی لازم است از هر گونه قیود و شروط عاری باشد. هر شرطیکه ظهر نویسی به آن

لري، هغه شرط باطل او بې اثر دي. او د برات د پيسو څخه د يوې برخې ظهر نويسي کول باطل دي.

متعلق باشـد، بلا اثر ميباشد و ظهر نويسی يک قسمت از وجه برات باطل است.

**۴۸۲ ماده:**

د برات په شا ليکنه يا په خپله په برات او يا په يوه بله پاڼه چه په برات پورې نښتې وي، ليکله کيږي. د برات په شا ليکنه لازمه ده چه د برات په شا باندې د ليکوونکي له خوا لاس ليک شي. که د برات په شاليکنه کښې د حامل نوم نه وي ذکر شوي او ليکونکي د برات په شا او يا په برات پورې نښتې پاڼه باندې يواځې په لاس ليک اکتفا کړې وي دبرات په شا دا ليکنه صحيح او د اعتبار وړ ده (سپينه ظهر نويسي)

**مادهٔ ۴۸۲:**

ظهر نويسی يا بر خود برات و يا بر يک ورقه ديگر ملصق به برات نوشته ميشود. ظهر نويسی لازم است از طرف ظهر نويس امضاء شود. اگر در ظهر نويسی اسم حامل ذکر نگرديده باشد و يا ظهر نويس در ظهر برات يا ورقه ملصق برات تنها به امضاء اکتفا نموده باشد، اين ظهر نويسی صحيح و معتبر است. (ظهر نويسی سفيد).

**۴۸۳ ماده:**

که ظهر نويسي د سپيني ظهر نويسي له ډوله وي نو حامل يې کولای شي:

۱- ظهر نويسي په خپل نامه يا دبل شخص په نامه وکړي.

۲- برات د سپيني ظهر نويسي په ډول نقل او يايې بل شخص ته په تکرار ډول په شا وليکي.

۳- بې دهغه دسپين ځای له ډکولو او يا بې لدې چه دبرات په شا وليکي، برات بل شخص ته نقل کړي.

**مادهٔ ۴۸۳:**

اگر ظهر نويسی از نوع ظهر نويسی سفيد باشد، حامل آن ميتواند:

۱- ظهر نويسی را بنام خود يا بنام شخص ديگری بنويسد.

۲- برات بطور ظهر نويسی سفيد نقل و يا به يک شخص ديگری تکراراً ظهر نويسی کند.

۳- بدون پر کردن جای سفيد آن و يا بدون ظهر نويسی برات را بشخص ديگری نقل دهد.

**۴۸۴ ماده:**
که دهغه په خلاف کوم قید نه وي نو د برات په شاليکونکي د برات د قبول او ورکړي متکفل دي. د برات ظهر نويس کولای شي چه د يوي نوي ظهر نويس اجراء منع کړي. پدې صورت کښې ظهر نويس د هغه شخص په مقابل کښې چه وروسته له هغه ده ته ظهر نويس شوي وي، هيڅ ضمانت نلري.

**مادهٔ ۴۸۴:**
اگر بر خلاف آن قیدی نباشد ظهر نویس متکفل قبول و تادیه برات است. ظهر نویس میتواند اجرای یک ظهر نویسی جدید را منع کند. درینصورت ظهرنویس هیچ ضمانتی را در مقابل شخصیکه بعد از آن برات به او ظهر نویسی شده باشد ندارد.

**۴۸۵ ماده:**
که سپينه ظهر نويسي (د ټاکلي شخص په نامه) پوره ظهر نويسي تعقيب کړي دبرات د وروستۍ ظهر نويس لاس ليک کوونکي داسي ښکاري چه د سپيني ظهر نويسي په ذريعه دبرات خاوند دي.

**مادهٔ ۴۸۵:**
اگر ظهر نویسی سفید را یک ظهر نویسی کامل (بنام شخص معیین) تعقیب کند، امضاء کنندهٔ ظهر نویسی اخیر برات چنان تلقی میشود که به توسط ظهر نویسی سفید مالک برات است.

خط وهلي شوي ظهر نويسي د اعتبار وړ نه دي.که د يو شخص ذواليدي په کوم سبب له برات څخه زائله شوي وي نو د هغه حامل په دي صورت چه خپل حقوق اثبات کړاي شي، د هغه خاوند بلل کيږي.

ظهر نویس های خط زده شده معتبر نیست. اگر ذو الیدی یک شخص بنابر سببی از برات زایل شده باشد، حامل آن در صورتیکه حقوق خود را اثبات بتواند، مالک آن شمرده میشود.

**۴۸۶ ماده:**
که د برات حامل پر مسئولينو باندې دعوي وکړي، مدعي عليه نشي کولای چه دمعاملاتو په استناد له پخوانيو حاملينو او يا صادرکوونکو څخه د

**مادهٔ ۴۸۶:**
اگر حامل برات علیه مسئولین دعوی کند، مدعی علیه نمیتواند به استناد معاملات یا حاملین سابق یا صادر کننده

مسئوليت دفع وکړي.

دفع مسئوليت کند.

**۴۸۷ ماده:**

که ظهر نويس يو له لاندنيو عباراتو ځخه:(د تحصيل دپاره دي) (د قبض دپاره دي) ولري يا وکالتاً يا يو بل داسي عبارت چه پر وکالت دلالت وکړي، حامل سره له دي چه له برات ځخه دپيدا شويو ټولو حقوقو موندونکي دي، د هغو ظهر نويسي فقط د وکيل په حيث اجراء کولای شي. په دي حال کښې مسئولين نشي کولای چه دا ډول برات پخوا له هغي ادعا نه چه د مؤکل ظهر نويس په برابر يي لري د حامل په مقابل کښې يې وړاندي کړي. هغه وکالت چه په ظهر نويسي کښې موجود دي، د مؤکل شخص په مرګ او يا د قانوني اهليت په ځائليدو نه ساقطيږي.

**مادهٔ ۴۸۷:**

اگــر ظهر نويسی حاوی يکی از عباره های ذيل باشد :(برای تحصيل است) (برای قبض است) و يا وکالتاً يا عبارهٔ ديگری را که دلالت بر وکالت نمايد ، حامل با اينکه واجد کافه حقوق متولده از برات است، ظهر نويسی آن را فقط بحيث وکيل ميتواند اجراء نمايد. درين حال مسئولين اينگونه برات نميتوانند پيش از آن ادعائيکه در برابر ظهر نويس مؤکل دارند ، در مقابل حامل پيش کنند. وکالتی که در ظهر نويسی موجود ميباشد ، با مرگ شخص مؤکل و يا بنابر زايل شدن اهليت قانونی ساقط نميشود.

**۴۸۸ ماده:**

پدې حال کښې چه په ظهر نويسي کښې دا عبارتونه ( دتضمين دپاره دي) او يا (د ګرو دپاره دي) او يا داسي تعبيرونه چه د ضمانت يا ګروی معني ورځني وفهميږي موجود وي، حامل کولای شي چه له دي برات ځخه د پيدا شويو ټولو حقوقو ځخه استفاده وکړي.

**مادهٔ ۴۸۸:**

درحاليکه در ظهر نويسی عبارت های (برای تضمين است) و يا (برای رهن است) و يا تعبيراتيکه معنی ضمانت و يا رهن از آن فهميده شود موجود باشد ، حامل ميتواند از تمام حقوق متولده ازين برات استفاده کند.

مګر دده له خوا د برات ظهر

اما ظهر نويسی برات از طرف

نویسي یواځې د وکیل له خوا د ظهر نویس حکم لري.

**۴۸۹ ماده:**
ظهر نویسی چه وروسته له مودې تیریدونه اجراء شي، د هغې ظهر نویسی په حکم کښې ده چه پخوا اجراء شوی وی.

که د هغه په خلاف کوم حکم موجود نه وی نو بی تاریخه ظهر نویسی داسی گڼلی شي چه د اعتراض د میعاد له پای ته رسیدلونه پخوا لیکلی شوی وی.

**دریمه برخه**
**قبولی**

**۴۹۰ ماده:**
برات د موعد او نېټې د پوره کیدلونه پخوا د حامل له خوا او یا د هر یو بل ذوالید له خوا د مخاطب په استوگنځی کښې د قبولی دپاره ښکاره کولای شي.

**۴۹۱ ماده:**
صادرکوونکی کولای شي د مخاطب د قبولی دپاره په برات کښې د مودی د تېریدو شرط قید کړی او یا بی له مودی، د قبولی په اخیستو کښې د حامل مکلفیت ولیکی. هغه برات چه

او تنها حکم ظهر نویسی از طرف وکیل را دارد.

**مادهٔ ۴۸۹:**
ظهر نویسی ایکه بعد از انقضای مدت اجراء شود، در حکم ظهر نویسی است که قبلاً اجرا شده باشد.

اگر بر خلاف آن حکمی موجود نباشد، ظهر نویسی بی تاریخ چنان محسوب میشود که قبل از ختم میعاد اعتراض تحریر شده باشد.

**حصهٔ سوم**
**قبولی**

**مادهٔ ۴۹۰:**
برات را قبل از رسیدن موعد از طرف حامل و یا از طرف هر ذوالید دیگری به محل اقامتگاه مخاطب برای قبولی میتوان ارائه نمود.

**مادهٔ ۴۹۱:**
صادر کننده میتواند در برات برای قبولی مخاطب شرط مرور مدتی را قید کند و یا بدون مدت، مکلفیت حامل را در اخذ قبولی تحریر نماید.

ورکړه يې په استوګنځی کښې او يا وروسته له ښکاره کولو نه د هغه ورکړه د مودې په تيرېدو مقيده شوی نه وی نو صادروونکی کولای شي چه هغه (غير قابل قبول) وليکی.

براتيکه تاديه آن به اقامتگاه و يا بعد از ارائه تاديه آن به مرور مدتی مقيد نشده باشد، صادر کننده ميتواند آن را (غير قابل قبول) بنويسد.

همدا ډول صادروونکی کولای شي چه دا شرط کيږدی چه پخوا له ټاکلی نېټې څخه د قبول دپاره ښکاره کيدای نشي.

همچنان صادر کننده ميتواند شرط بگذارد که ارائه برای قبول قبل از تاريخ معيين بعمل آمده نميتواند.

پدی صورت چه د صادروونکی له خوا د (غير قابل قبول) قيد درج شوی نه وی، هر ظهرنويس کولای شي چه د يوی مودی په ټاکلو سره او يا بی د مودی له ټاکلو برات د قبول دپاره مشروط کړی.

در صورتيکه از طرف صادر کننده قيد (غير قابل قبول) درج نشده باشد، هر ظهر نويس ميتواند با تعيين يک مدت و يا بدون تعيين مدت برات را برای قبول مشروط نمايد.

**۴۹۲ ماده:**

په هغو براتونو کښې چه د هغو ورکړه وروسته له ښکاره کولونه په يوه ټاکلی موده پوری مشروط وی، لازم دی چه د برات له نېټې څخه تر شپږو مياشتو پوری ښکاره شي. صادر وونکی کولای شي چه دا موده لږه يا زياته کړی.

**مادۀ ۴۹۲:**

در براتهاييکه تاديه آن به يک مدت معيين بعد از ارائه مشروط باشد، لازم است از تاريخ برات الی ظرف شش ماه ارائه شود. صادر کننده ميتواند اين مدت را کم يا زياده نمايد.

د ظهرنويس له خوا موده يواځې لږيدای شي.

از طرف ظهر نويس مدت تنها تقليل شده می تواند.

**۴۹۳ ماده:**

هغه برات چه حامل يې د قبولی دپاره

**مادۀ ۴۹۳:**

براتی را که حامل برای قبولی

ښکاره کوی، مجبورنه دی چه مخاطب ته یې تسلیم کړی. مخاطب کولای شي د هغې ورځې په سبا چه برات ورته ښکاره کړی شوی وی، بیا یې هم ښکاره کول وغواړی.

که حامل اعتراض وکړی او په ځواب کښې د دوهم ځل په غوښتنه استناد ونشي نو علاقه لرونکی نشي کولای چه د دوهمی غوښتنې د نه قبلولو ادعا وکړی.

**۴۹۴ ماده:**

قبول د (قبول شوی دی) په عبارت او یا په بل عبارت چه همدا معنی افاده کوی افاده کیږي او د مخاطب له خوا لاس لیک کیږي. د برات پر مخ د مخاطب تش لاس لیک هم د قبول په حکم کښې دی. په دی حال کښې چه د برات ورکړه په ټاکلی موده کښې د ښکاره کولونه وروسته او یا د هغه ښکاره کول په یو ټاکلی موده کښې د قبولی دپاره مشروط وی نو که حامل د ښکاره کولو د ورځې د نېټې درج و نه غواړی نو هر هغه ورځ چه قبولی پکښې پیښه شوی وی د همغی ورځې نېټه درجیږی.

که مخاطب دقبول په وخت کښې نېټه نه وی درج کړی نو لازم دی چه

ارائه میکند، مجبور نیست به مخاطب تسلیم کند. مخاطب میتواند فردای روزیکه برات به او ارائه شده باشد، برای بار دوم طالب ارائه گردد.

اگر حامل اعتراض کند و در جواب به مطالبه بار دوم استناد نشود، علاقه مندان نمیتوانند قبول ننمودن مطالبه دوم را ادعا کنند.

**مادهٔ ۴۹۴:**

قبول به عبارت (قبول گردیده است)و یا به عبارت دیگریکه مفید همین معنی باشد، افاده میشود و از طرف مخاطب امضاء میگردد. محض امضای مخاطب بر روی برات هم در حکم قبول است. در حالیکه تادیه برات بعد از ارائه در یک مدت معیین و یا ارائه آن در ظرف یک مدت معیین برای قبولی مشروط باشد، اگر حامل درج تاریخ روز ارائه را تقاضا نکند، هر روزی که قبولی در آن واقع شده باشد، تاریخ همان روز درج میشود.

اگر مخاطب در حین قبول، تاریخ درج نکرده باشد، لازم است

حامل د خپلو حقوقو د ساتنې دپاره د ظهر نویس په مقابل کښې او د صادرکوونکی په مقابل کښې د اعتراض (پروتست) د یوی پاڼې په جوړولو چه په ټاکلی وخت او زمان کښې لیکلی شوی وی، دا غفلت اثبات کړی.

**۴۹۵ ماده:**

قبول باید بی له قید او شرط شخه وی مگر مخاطب کولای شي چه د برات له منځه شخه یوه برخه روپۍ قبول نکړی. نور ټول قیدونه چه په قبول کښې درج کیږي که دبرات مندرجات تعدیل کړی، د نه قبول په حکم کښې دی.

سره لدی په شرط قبلوونکی دهغه شرط په حدود کښې چه لیکلی یې دی، مسئول دی.

**۴۹۶ ماده:**

که برات دا ډول صادر شوی وی چه د مخاطب د استوګنې په غیر ځای کښې د ورکړی وړ وی او د هغه شخص نوم چه هغه ته ورکاوه کیږی په هغه کښې تصریح شوی نه وی، داسی ګڼل کیږي چه قبلوونکی تعهد کړی دی چه د برات وجه شخصاً د ورکړی په محل کښې اداء کړی.

حامل برای محافظه حقوق خود در مقابل ظهر نویس ها و در مقابل صادر کننده با تنظیم یک ورقه اعتراض (پروتست) که در وقت و زمان معیین تحریر شده باشد، این غفلت را اثبات کند.

**مادهٔ ۴۹۵:**

قبول باید بدون قید و شرط باشد ولی مخاطب میتواند جزئی از مبلغ محتویه برات را قبول نکند. تمام قیود دیگری که در قبول درج میشود، اگر مندرجات برات را تعدیل نماید، در حکم عدم قبول است.

معذالک قبول کننده بشرط در حدود شرطیکه نوشته مسئول است.

**مادهٔ ۴۹۶:**

اگر برات طوری صادر شده باشد که در محل غیر اقامتگاه مخاطب قابل تادیه باشد و نام شخصیکه به او تادیه میشود در آن تصریح نشده باشد، چنان محسوب میشود که قبول کننده تعهد نموده که وجه برات را شخصاً در محل تادیه اداء نماید.

**۴۹۷ ماده:**
هغــه څــوک چــه بــرات قبلــوی، د هـغـه د ورکړې مسئول دی. لـه ورکړې نـه د مـنـع پــه صـورت، کـه حامـل د بــرات صادروونـکــی هــم وی، د (**۵۱۸ - ۵۱۹**) مـادو لـه مـخې د ټولـو هغـه حقوقـو چـه د غوښـتنې وړ وی، دعوی کولای شي.

**۴۹۸ ماده:**
که قبلوونکی قبولی د برات په مخ لـیکلـی وی او حامـل تـه د بـرات لـه تسـلیمی څخــه یــې پخــوا بېرتــه کـرښـه یـې راښکلی وی، داسی ګڼل کیـږي چـه دغـه بـرات یــې نــه دی مـنـلی. مګر که مخاطب دا قبول حامل ته او یا د برات یولاسلیک کوونکی تـه په لیکنه سره اخبار کړی او وروسته لـه هغـه یـې پـه خپلـه قبـولیـ بانـدې خـط نیـولی وی، دخپلـی قبـولی پـه دائـره کښې مسئول دی.

**مادهٔ ۴۹۷:**
شـخصیکه بـرات را قبـول میـکنـد مسـئـول تـادیـه آنسـت. در صـورت امتنــاع از تـادیــه اگــر حامـــل صــادر کننـده بـرات هـم باشـــد، بموجـب مـواد (**۵۱۸-۵۱۹**) هـــمه حـقـــوق قـابـــل مطـالـبـــه را میـتـوانـد دعـــوی کند.

**مادهٔ ۴۹۸:**
اگــر قبـول کننـده، قبولـی را بـر روی بـرات نـــوشـــته باشد و قبل از تسلیمی برات بــه حامل آنرا خط بـــزند، چنـان محسـوب میشـود کـه از قبـــول امتنـاع نمـوده است. ولی اگر مخـاطب این قـبـول را بــه حـامل و یـا بـه یـکـی از اشـــخاص امضــاء کـننـــده بـــرات تحریـــراً اخبـــار و بعد از آن قبـــولی خود را خـط زده بـاشـد، در دایـرهٔ قبـول خود مسئول است.

## څلورمه برخه
## ضمانت

## حصهٔ چهارم
## ضمانت

**۴۹۹ ماده:**
د یـو بـرات ورکـړه کـه یـوه برخـه وی یـا ټول وی د ضـمانت پـه ذریعـه تضـمین کیـدلای شـي. تضـمین ممکـن دی چـه ددریـم شـخص او یـا د یـوه لاس لیـک

**مادهٔ ۴۹۹:**
تــادیـــه یــک بـرات جـزواً و یـا کـلاً توســط ضــمـانـــت تــأمین شـــده میتواند. تضمین ممکن است از طرف شخصـی ثالـث و یـا یکـی از امضـاء

کوونکی له خوا وی.

**۵۰۰ ماده:**
ضمانت یا په برات کښې او یا په یوه ملحقه پاڼه کښې داخلیږی.

ضمانت ( د ضمانت دپاره دی) په عبارت سره او یا په بل داسی عبارت سره چه دغسی معنی افاده کړی د ضامن له خوا لاس لیک کیږي. پر ته له صادروونکی او مخاطب څخه د برات پر مخ د نورو کسانو لاس لیک ضمانت افاده کوی.

په ضمانت کښې باید تصریح شي چه د کوم شخص په حساب ضمانت شوی دی او که تصریح شوی نه وی نو د صادرونکی په حساب ګڼل کیږي.

**۵۰۱ ماده:**
ضمانت کوونکی دهغه شخص په اندازه چه دی یې ضامن شویدی، مسئول دی. که برات په قانونی شکل نه وی جوړ شوی نو ضامن له خپل تعهد نه بری دی.

که ضامن د برات وجه ورکړی، حق لری چه ضمانت شوی او نورو هغو کسانو ته چه د ضمانت شوی شخص په نزد مسئولیت لری، رجوع وکړی.

کنندگان بوده باشد.

**مادهٔ ۵۰۰:**
ضمانت یا در برات و یا در یک ورقه ملحقه درج میشود.

ضمانت یا عبارت (برای ضمانت است) و یا عبارت شبیه آن افاده میشود و از طرف ضامن امضاء میگردد. امضای اشخاص دیگر غیر از صادر کننده و مخاطب بر روی برات افاده ضمانت را میکنند.

در ضمانت باید تصریح گردد که به حساب کدام شخص ضمانت شده است و اگر تصریح نگردیده باشد، به حساب صادر کننده شمرده میشود.

**مادهٔ ۵۰۱:**
ضمانت کننده به اندازهٔ شخصیکه ضامن او شده است، مسئول است. اگر برات بشکل قانونی ترتیب نشده باشد، ضامن از تعهد خود بری میباشد.

اگر ضامن وجه برات را تادیه کند، حق دارد علیه شخص ضمانت شده و اشخاص دیگری که نزد شخص ضمانت شده مسئولیت دارند، رجوع کند.

## پنځمه برخه

## موده

**۵۰۲ ماده:**
کیدای شي چه برات په لاندې شرطونو سره صادر شي:

۱- له ښکاره کولو څخه وروسته په ټاکلې موده کښې.

۲- د برات له نېټې څخه وروسته په ټاکلې موده کښې.

۳- په ټاکلې نېټه.

**تبصره:**
له دې پاس مودو څخه وتلې براتونه یا هغه براتونه چه ورکړه یې په قسطونو مقیده وی، باطل دی.

**۵۰۳ ماده:**
هغه برات چه ورکړه یې په ښکاره کولو پوری مشروط وی لازم دی چه د ښکاره کولو په وخت کښې ورکړشي. او هغه براتونه چه ورکړه یې وروسته له ښکاره کولونه په یوه ټاکلې موده کښې لازم وی باید خامخا په هغې مودې کښې چه د قبول له جهته د ښکاره کولو دپاره مشروط وی ښکاره شي.

## حصهٔ پنجم

## موعد

**مادهٔ ۵۰۲:**
برات را میتوان به شرایط ذیل صادر نمود:

۱- در مدت معیین بعد از ارائه.

۲- در مدت معیین بعد از تاریخ برات.

۳- در تاریخ معیین.

**تبصره:**
براتهای خارج از مواعد فوق یا براتهاییکه تادیه آن مقید باقساط شده باشد باطل است.

**مادهٔ ۵۰۳:**
براتیکه تادیه آن به ارائه مشروط باشد، لازم است در موقع ارائه تادیه گردد و برات هاییکه تادیه آن در یک مدت معیین بعد از ارائه لازم باشد، حتماً باید در ظرف مدتی که برای ارائه جهت قبول مشروط باشد، ارائه شود.

**۵۰۴ ماده:**
هغه براتونه چه د ورکړې وعده یې د قبول نېټه او یا د اعتراض نېټه ټاکې. په داسي حال کښې چه اعتراض نه وی شوی، نسبت قلبوونکی شخص ته هغه برات چه قبولی یې بې نېټې وی نو د هغې مودې وروستۍ ورځې ته چه دښکاره کولو دپاره دقانون یا د قرارداد په ذریعه ټاکلی شوی ده، اعتبار ورکاوه کیږي.

**مادۀ ۵۰۴:**
براتیکه وعده تادیۀ آن در یک مدت معیین بعد از ارائه میباشد، وقت تادیۀ آنرا تاریخ قبول و یا تاریخ اعتراض تعیین میکند. در حالیکه اعتراض نشده باشد، نسبت به شخص قبول کننده برات که قبولی او بی تاریخ باشد، روز اخیر مدتیکه ذریعه قانون یا قرارداد برای ارائه تعیین گردیده اعتبار داده میشود.

**۵۰۵ ماده:**
هغه برات چه د صدور له نېټې څخه یوه یا څو میاشتې وروسته او یا له ښکاره کولونه وروسته یې ورکړه ضروری وی، د هغه د ورکړې موده د همغې میاشتې مقابله نېټه ده چه په هغې کښې ورکړه کیږی او که مقابله نېټه موجوده نه وي نو د میاشتې وروستۍ ورځ د ورکړې موده شمېرله کیږي.

**مادۀ ۵۰۵:**
براتیکه به یک و یا چند ماه بعد از تاریخ صدور و یا بعد از ارائه واجب التادیه میباشد، میعاد تادیۀ آن تاریخ مقابل همان ماهیست که در آن تادیه صورت میگیرد. و اگر تاریخ مقابل موجود شده نتواند، روز اخیر ماه موعد تادیه شمرده میشود.

که برات د ورکړې دپاره په یوه یا څو نیمو میاشتو کښې اصدار شوی وی، لمړی باید ټولې میاشتې حساب کړی شي. که د برات موده دمیاشتې سر او یایې پای ټاکل شوی وی، مقصد له دی تعبیراتو څخه لمړی پنځلسم او آخر د میاشتې دی.

اگر برات برای تادیه در یک یا چند ماه و نیم اصدار شده باشد، اول باید ماه های کامل را حساب نمود. اگر موعد برات ابتدای ماه و نهایت ماه تعیین شده باشد، مقصد ازین تعبیرات اول پانزدهم و روز اخیر ماه است.

د اتو يا پنځلسو ورځنيو ذکر يوه يا دوه هفتې نه دى بلکه اته يا پنځلس ورځې حقيقي دى.

ذکر هشت يا پانزده روز ه و يک و يا دو هفته نبوده بلکه هشت و يا پانزده روز حقيقى است.

د نيمې مياشتې تعبير په پنځلسو ورځو اطلاق کيږي.

تعبير نيم ماه به (۱۵) روز اطلاق ميشود.

**۵۰۶ ماده:**
که د ورکړې د مودى له نظره د برات د صدور د ځاى کليز د ورکړې د ځاى کليز اختلاف ولرى، د ورکړې د ځاى کليز د اعتبار وړ دى. که د برات د ورکړې موده له تعطيل سره تصادف وکړى، بايد چه له تعطيل څخه په وروسته ورځ ورکړ شي. دا قاعده به د نورو تجارتى پاڼو په باب کښې هم رعايت شي.

**مادۀ ۵۰۶:**
اگر از نظر ميعاد تاديه تقويم محل صدور برات با تقويم محل تاديه اختلاف داشته باشد، تقويم محل تاديه معتبر است. اگر موعد پرداخت برات با تعطيل تصادف کند، بايد روز بعد از تعطيل تاديه شود. همين قاعده درمورد ساير اوراق تجارتى نيز رعايت خواهد شد.

## شپږمه برخه
## ورکړه

## حصۀ ششم
## تأديه

**۵۰۷ ماده:**
حامل مجبوردى په هغه ورځ چه برات د ورکړې وړ وى او يا منتهى له دوو ورځو کار نه وروسته دې مخاطب ته رجوع وکړى.

**مادۀ ۵۰۷:**
حامل مجبور است به روزيکه برات قابل تأديه ميباشد و يا منتهى تا دو روز کار بعد از آن به مخاطب رجوع نمايد.

**۵۰۸ ماده:**
پدى حال کښې چه مخاطب د برات وجه ورکوى، له حامل څخه تقاضا کوى چه په برات رسيدوليکى او هغه

**مادۀ ۵۰۸:**
درحاليکه مخاطب وجه برات را تاديه ميکند، از حامل تقاضا مينمايد که به برات رسيد تحرير و

تسليم کړي. ديوی برخی د ورکړې په صورت برات نه رديږي مگر مخاطب دا تقاضا کولای شي چه په برات کښې ده ته د ورکړې شوی برخی رسيد ورکړ شي.

آنرا تسليم کند. درصورت تاديه قسمی، برات رد نميشود ولی مخاطب ميتواند تقاضا نمايد که در برات برای قسمت تاديه شده به او رسيد داده شود.

**۵۰۹ ماده:**

د برات حامل پخوا دمودې له راتگ د برات د وجهی په اخيستلو نه مجبوريږي.

**مادۀ ۵۰۹:**

حامل برات قبل از حلول موعد به گرفتن وجه برات مجبور نميشود.

هغه مخاطب چه د مودی له رسيدلو څخه پخوا برات ورکوی نو ضرر به يې په خپله ده ته متوجه شي. هغه څوک چه د مودی په رسيدلو کښې برات تاديه کوی، بری الذمه کيږي پدې شرط چه په ورکړه کښې حيله او يا زيات غفلت نه وی راغلی.

مخاطبيکه قبل از حلول موعد برات را تاديه ميکند، ضرر اين تاديه به خودش متوجه خواهد شد. شخصيکه در حلول موعد برات را تاديه ميکند، بریٔ الذمه ميشود مشروط بر اينکه حيله و يا غفلت فاحش در تاديه بعمل نيامده باشد.

ورکوونکی شخص د شا ليکنو (ظهر نويسی) د انتظام او توالی په تدقيق مجبور دی مگر (د ظهر نويسی) لاس ليک د صحت په تدقيق به مکلف نه وی.

شخص تاديه کننده به تدقيق انتظام و توالی ظهر نويسی ها مجبور است ليکن به تدقيق صحت امضای ظهر نويسان مکلف نخواهد بود.

**۵۱۰ ماده:**

که برات په هغو پولونو چه د ورکړې په محل کښې رواج نه وی صادر شي او صادرکوونکی د هغو پولونو چه ورکړه يې په برات کښې ذکر شوی ده شرط نه

**مادۀ ۵۱۰:**

اگر برات پولی که در محل تاديه رايج نباشد، صادر گردد و صادر کننده پولی را که تاديه آن در برات ذکر گرديده شرط

وی ایښی، مخاطب کولای شي چه د ورکړی د محل مروج پولونه (د ورکړې د ورځې) دقیمت له قراره اجراء کړی.

که د برات د وجه ډول مقید وی او د برات پوروړی له ورکړی څخه عاجز راشي، حامل کولای شي دا تقاضا وکړی چه وجه د ورکړی د محل په پولونو د ورکړې د مودی د ورځې په نرخ سره ورکړی.

**۵۱۱ ماده:**

هغه نرخونه چه د ورکړی په محل کښې جاری وی، د خارجي پولونو د قیمت اساس بلل کیږي. صادرکوونکی یا یو له شالیکونکو (ظهر نویسو) څخه کولای شي هغه مبلغ چه وربه کړ شي له ټاکلی قیمت سره تسعیر او په برات کښې یې داخل کړی.

که د برات وجه په هغو پولونو وټاکله شي چه د صادروونکی او تادیه کوونکی په مملکت کښې یو نوم او متفاوت قیمت ولری، پدې صورت د ورکړی د محل مسکوک (مروج پولونه) معتبر ګڼل کیږی.

**۵۱۲ ماده:**

پدی حال کښې چه د برات د وجه دپاره په هغې مودی کښې چه په (۵۰۷)

نگذاشته باشد، مخاطب میتواند که پول متداول محل تادیه را قرار قیمت (روز تادیه) اجرأ نماید.

اگر نوع وجه برات مقید باشد و مدیون برات از تادیه عاجز آید، حامل میتواند تقاضا کند وجه برات را به پول محل تادیه به قرار روز نرخ موعد تادیه کند.

**مادهٔ ۵۱۱:**

نرخهائیکه در محل تادیه جاری میباشد، اساس قیمت پول خارجی شمرده میشود. صادر کننده و یا یکی از ظهر نویسان میتواند مبلغی را که تادیه خواهد شد مطابق قیمت معیین تسعیر و در برات درج کند.

اگر وجه برات به پولی تعیین شود که در مملکت صادر کننده و تادیه کننده اسم واحد و قیمت متفاوت داشته باشد، درین صورت مسکوک (پول رایج) محل تادیه معتبر دانسته میشود.

**مادهٔ ۵۱۲:**

در حالیکه برای وجه برات در ظرف مدت معیین مادهٔ (۵۰۷)

مادی کښېږ تاکلی شوی وی د ورکړې دپاره رجوع ونشي نو د برات هر يو پوروړي کولای شي چه د برات مبلغ د حامل په مصرف او خساره واک لرونکی مقام ته وسپاری.

**اوومه برخه**
**دنه قبول او نه ورکړې په حال کښې د رجوع حق**

**۵۱۳ ماده:**
حامل کولی شي چه په صادرکوونکی او (ظهر نويس) او نورو مسئولو اشخاصو باندې په لاندنيو حالاتو کښې رجوع وکړي:

۱- که د برات د موده په راتگ کښې ورکړه نه وی شوی.

۲- که له يوی برخی يا ټول قبول څخه امتناع شوی وی.

۳- د مخاطب افلاس که برات قبول شوی وی يا نه وی شوی يا د مخاطب له خوا د ورکړې د تاليدو په صورت که څه هم د محکمی په حکم وی يا نه وی يا په دی صورت چه حامل محکمی ته مراجعه کړی وی او د برات د وجه په اندازه د مخاطب له مالونو څخه تر مراقبت لاندې نيولی شوی وی او نتيجه يې نه وی ورکړې.

برای تاديه رجوع نشود، هر يکی از مديونين برات ميتوانند مبلغ برات را به مصرف و خساره حامل به مقام صلاحيت دار توديع کنند.

**حصهٔ هفتم**
**حق رجوع در حال عدم قبول و عدم تأديه**

**مادهٔ ۵۱۳:**
حامل عليه صادر کننده و ظهر نويس و اشخاص مسئول ديگر در حالات ذيل ميتواند رجوع کند:

۱- اگر در حلول مدت برات تاديه بعمل نيامده باشد.

۲- اگر از قبول کلاً يا قسماً امتناع شده باشد.

۳- در صورت افلاس مخاطب، خواه برات قبول شده باشد و يا نشده باشد، يا در صورت معطلی تاديه از جانب مخاطب، چه به حکم محکمه باشد يا نباشد و يا درصورتيکه حامل به محکمه مراجعه نموده و معادل وجه برات از اموال مخاطب تحت مراقبت گرفته شده و نتيجه نداده باشد.

۴- د برات د صادروونکی د افلاس په صورت چه د قبول وړ نه وی.

**۵۱۴ ماده:**
له قبول څخه منع راوړل یا ورکړه لازم دی چه له یوې رسمی پاڼې سره چه د نه قبول او یا نه ورکړی اعتراض بلل کیږی، اثبات کړل شي. د نه ورکړی اعتراض باید په هغه ورځ چه د برات ورکړه لازمیږی او یا پس له هغه د کار په دوو ورځو کښې وشي او د نه قبول اعتراض باید په هغې مودې کښې چه د قبول له جهته د برات ښکاره کولو دپاره ټاکلی شوی ده اجراء شي.

که د (۴۹۳) مادې د دوهمی فقری په موضوع کښې د برات چه لمړی ښکاره کول د مودې په وروستۍ ورځ کښې شوی وی نو اعتراض د هغې ورځې نه په راتلونکی ورځ کښې هم کولای شي.

د نه قبول اعتراض د نه ورکړی او نه ښکاره کولو اعتراض له منځه وړی د (۵۱۳) مادې د دریمی فقری په ذکر شویو حالاتو کښې حامل بی له دې چه برات مخاطب ته ورښکاره کړی او یا اعتراض وکړی، کولای شي چه د مسئولینو په مقابل کښې دخپلی رجوع له حق څخه استفاده وکړی ددې مادی دڅلورمی فقري په خصوص

۴- در صورت افلاس صادر کننده براتیکه غیر قابل قبول باشد.

**مادۀ ۵۱۴:**
استنکاف از قبول یا تادیه، لازم است با یک ورقه رسمیه که اعتراض عدم قبول و یا عدم تادیه گفته میشود، اثبات کرده شود. باید اعتراض عدم تادیه در روزیکه تادیه برات لازم می آید و یا در ظرف دو روز کار متعاقبه بعمل آید و اعتراض عدم قبول باید در ظرف مدتیکه برای ارائه برات به جهت قبول تعیین شده، اجراء شود.

در موضوع فقرۀ دوم مادۀ (۴۹۳) اگر ارائه اول برات در روز اخیر موعد بوقوع آمده باشد، اعتراض را میتواند در روز آیندۀ همان روز هم بعمل آورد.

اعتراض عدم قبول، اعتراض عدم تادیه و ارائه را از بین میبرد. در حالات متذکرۀ فقرۀ سوم مادۀ (۵۱۳) حامل بدون اینکه برات را به مخاطب ارائه کند و یا اعتراض نماید، میتواند از حق رجوع خود در مقابل مسئولین استفاده کند. راجع به فقره چهارم مادۀ

کښېـــږ حامـــل کـــولای شـــي چـــه د صـــادروونکی د افـلاس دلیـل پـه لرلـو سره رجوع وکړي.

**۵۱۵ ماده:**

حامـل مجبـور دی چـه د اعتـراض لـه ورځـې نه وروسته د کار د څلورو ورځو په مـوده کښې او یا که په برات کښې د بـي مـــصرفه اعـادی شـرط موجـود وی، د ښکارونی له ورځې نه وروسته د کـار پـه څـــلورو ورځـــو کـښـــې د نـه قبـول یـا د نـه ورکـړی کیفیـت (ظهـر نـویس) او صـادرونکی تـه اخبـار کـړي. هر هغه (ظهر نـویس) چه ده تـه اخـبـار کیـــږي مجبـــور دی هغـــه خبـــر چـــه اخیستی یې دی د کـار د دوو ورځـو پـه مـوده کښـې د هغـو کـسانو د نـوم او آدرس پـه زیـاتولو چـه ده تـه یې اخبـار کړیدی خپل شالیکونکی (ظهر نـویس) ته اطلاع ورکړي، تر هغه وختـه پـوری چه صادروونکی تـه رسـېږي پـه همدې ډول مـــعـامله دوام کـوی. دا ذکـر شـوی مـودی د خبـر اخیـسـتـلو لـه نـېـټـې څخه دوام پیدا کوی.

که یـوه ظهـر نـویس خپـل آدرس نـه وی لیکلـی او یـایې داسـی لیکلـی وی چـه لوستل کېدای نـشي نـو اخبـار لـه ده نـــه مـقـــدم شـالـیـکـونـکـــی (ظهـــر نویس) ته کـافی دی. هغـه څـوک چـه پـه

مـــــذکور حامـل بـا داشـتن دلیـل افـلاس صـــادر کـنـنـده مـیـتـوانـد رجوع کند.

**مادهٔ ۵۱۵:**

حـــامــل مـجبـور اسـت در ظـرف چـهـــار روز کـــار بـــــعد از روز اعـتـــراض و یـــا اگــــر در بـرات شـرط اعـاده بـی مصـرف موجـــود باشـد، در ظـــرف چـهـــار روز کـار بـعـد از روز ارائـــه کیفیـت عـدم قبـول یـا عـــدم تـادیـــه را بـه ظهـر نـویس و صـــادر کـنـنـده اخبار کـنـد. هـر ظهـر نویسـی کـــه بـه او اخبـار مـیشـود، مجبـور اسـت خبـری را کـــه گـرفـتـــه در ظــرف دو روز کـار بـــا عـــــلاوه کـــردن اســـم و آدرس کسانیکه بـه او اخـبـار کـرده انـد، بـــه ظـــهـــر نـــویـس خـــود اطـلاع بـــدهد. تـــا زمـــانیکه بـه صـادر کـــننده میـــرســـد، بهمین منـــوال معاملـه دوام میکنـــــــد. مـــــدت هـای مـــذکـــوره از تـاریـــخ اخـــذ خبر آغاز میـیابـد.

اگـر یـک ظهـر نـویس آدرس خـود را تحریـر ننمـوده باشـد و یـا بصـورتی تحریـر نمـوده باشـد کـه خوانـده شـده نتـــواند، اخبـار بـه ظهـــر نـــویس مقـدمتر از او کـافی اسـت شخصـیکه

اخبار مجبور دی، لاژم دی چه دا خبر د رسمی مربوطه دایری پواسطه تبلیغ کړی.

مجبور به اخبار است لاژم است این خبر را به واسطه دائره مربوطهٔ رسمی تبلیغ کند.

هغه څوک چه په مقرره موده کښې اخبار ونکړی، دده حقوق نه ساقطیږی او که دده دغفلت له مخې زیان او ضرر پیښ شوی وی په خپله په ده پوری اړه لری. ددی زیان او ضرر اندازه د برات له وجه نه زیاتی نشي کولای.

شخصیکه در داخل مدت مقرره اخبار نکند، حقوق او ساقط نمیشود و اگر بنابر غفلت او ضرر و زیانی تولید شده باشد، به خود او مربوط است. مقدار این ضرر و زیان از وجه برات تجاوز نمیتواند.

**۵۱۶ ماده:**

که صادروونکی یا (ظهر نویس) یا ضامن په برات کښې (بی مصرفه اعاده) او یا (بی اعتراضه) او یا هغه کلمې چه دا منظور افاده کړی په برات کښې لیکلی وی نو د هغه برات حامل د نه قبول یا نه ورکړی له اعتراض څخه د خپلی رجوع دپاره معاف ګڼل کیږي مګر د برات حامل مکلف دی چه په ټاکلی موده کښې صادروونکو او شالیکونکو (ظهر نویس) ته اخبار وکړی.

**مادهٔ ۵۱۶:**

اگر صادر کننده یا ظهر نویس یا ضامن در برات کلمات (اعاده بی مصرف) و یا (بی اعتراض) ویا کلماتیکه این منظور را افاده کنند نوشته باشد، حامل آن برات برای رجوع خود از اعتراض عدم قبول یا عدم تادیه معاف دانسته میشود اما حامل برات مکلف است که در ظرف مدت معیینه به ظهر نویس ها و صادرکننده اخبار نماید.

د مودو د نه رعایت اثبات په هغه چا پوری اړه لری چه د حامل په مقابل کښې هغه شرط چه صادروونکی وضع کړیدی د هغو ګردو په حق کښې چه په برات کښې یې لاس لیک کړیدی مرعی دی.

اثبات عدم رعایت مدت ها به شخصی راجع است که در مقابل حامل مدعی میشود، شرطیکه صادر کننده وضع کرده در حق کافی آنانیکه ببرات امضا نموده اند مرعی است.

که دا ډول شرط د یوه (ظهر نویس) یا ضامن له خوا لیکلی شوی وی نو یواځې د (ظهر نویس) یا ضامن په خصوص کښې مرعي دی.

اگر چنین شرط از طرف یک ظهر نویس یا ضامن نوشته شده باشد، تنها راجع بظهر نویس یا ضامن مرعی میباشد.

که سره له هغه شرطه چه د صادروونکی له خوا لیکلی شوی وی حامل اعتراض وکړی مصارف په خپله په ده پوری اړه لری.

اگر با وجود شرطیکه از طرف صادر کننده نوشته شده باشد حامل اعتراض نماید، مصارف مربوط به خود اوست.

**۵۱۷ ماده:**

هغه کسان چه برات صادروی یا قبول یا (ظهر نویسی) یا ضمانت کوی د حامل په مقابل کښې یواځې او په گډه سره مسئول دی. د برات حامل بی له دی چه مراتب په نظر کښې ونیسی حق لری چه په دوی ټولو باندې یواځې یا په گډه سره دعوی وکړی.

**مادهٔ ۵۱۷:**

اشخاصیکه برات را صادر و یا قبول و یا ظهر نویسی و یا ضمانت میکنند، در مقابل حامل بصورت منفرد و مجتمع مسئول اند. حامل برات بدون اینکه مراتب را در نظر بگیرد، حق دارد علیه تمام ایشان منفرداً یا مجتمعاً اقامه دعوی کند.

دا حق د لاس لیک هر هغه خاوند چه د برات وجه ورکوی، لری. په لومړۍ مرتبه کښې په یوه له دی کسانو باندې دعوی دائرول په نورو باندې ددعوی دائرولو مانع نه کیږي. که په یوه (ظهر نویسانو) باندې رجوع وشي چه د لاس لیک نیټه یې له نورونه وروستۍ وی په نورو باندې د حامل ددعوی مانع نه گرځي.

عین همین حق را هر صاحب امضائیکه وجه برات را تادیه میکنند دارا است. اقامه دعوی به مرتبه اول علیه یکی از اینها مانع اقامه دعوی علیه دیگران نمیشود، اگر به یکی از ظهر نویسان رجوع شود که تاریخ امضاء او از دیگران مؤخر باشد، مانع دعوی حامل به دیگران نمیشود.

**۵۱۸ ماده:**
حامل کولای شي له هغه چا څخه چه رجوع يې وربانديې کړېده لاندنۍ غوښتنې وکړي:

۱- د هغه برات وجه چه نه ده قبوله شوي او يا قبوله شوي وي خو ورکړ شوي نه وي او هم د هغه ټکټ پولي که مشروط وي.

۲- په سلو کښې شپږ د هغو ټکټ پولی د مودی د راتگ څخه.

۳- د هغه اعتراض او اخبار مصارف چه د حامل له خوا (ظهر نويسانو) او صادروونکو ته تبليغ شوی وی سره له هغو نورو مصارفو چه له همدی حيثه يې گاللی وی.

که د رجوع حق دمودی له راتگ څخه پخوا استعمال شوی وی برات تنزيليږی.

دا تنزيل د رسمی نرخ (د بانک نرخ) د تنزيل او يا د آزاد بازار د نرخ د تنزيل له مخې چه د رجوع په زمانه کښې د حامل د استوگنې په ځای کښې جاری وی حسابيږی.

**تبصره:**
په سلو کښې شپږ ټکټ پولی چه په (۲)

**مادهٔ ۵۱۸:**
حامل ميتواند از شخصيکه عليه او رجوع کرده مطالبات ذيل را بنمايد:

۱- وجه براتی را که قبول نگرديده و يا قبول شده و يا تاديه نشده باشد و نيز تکت پولی آنرا اگر مشروط باشد.

۲- فی صد شش تکت پولی آنرا از تاريخ حلول موعد.

۳- مصارف اعتراض و اخباريکه از طرف حامل به ظهر نويس ها و صادرکننده تبليغ گرديده باشد با مصارف ديگريکه از همين حيث متحمل شده باشد.

اگر حق رجوع قبل از حلول موعد استعمال شده باشد، برات تنزيل ميشود.

اين تنزيل از روی نرخ رسمی تنزيل (نرخ بانک) و يا نرخ بازار آزاد که در زمان رجوع در اقامتگاه حامل جريان داشته باشد حساب ميشود.

**تبصره:**
تکت پولی فيصد شش که در

فقره کښې يې تصريح شويده په ټولو هغو مواردو کښې چه موافقت موجود نه وي، معتبر دی.

**۵۱۹ ماده:**

هغه څوک چه دبرات وجه ورکوی له هغو کسانو څخه چه دده په مقابل کښې مسئول دی دا لاندې غوښتنې کولای شي:

۱- ټول هغه پولونه چه ورکړی يې دی.

۲- ددی مبلغ ټکټ پولی د ورکړی له نېټې څخه.

۳- هر هغه مصارف چه په غاړه يې اخيستی وی.

**۵۲۰ ماده:**

هر هغه مسئول چه درجوع حق وربانديې استعمال شوی وی کولای شي دبرات د وجه د ورکړی په مقابل کښې وغواړی چه د برات په مقابل کښې د اعتراض له پاڼې سره ده ته رسيد ورکړشي.

هر هغه (ظهر نويس) چه د برات وجه ورکوی، کولای شي چه په خپله ظهر نويسی او له دنه وروسته ظهرنويسی باندې خط ونيسی.

فقره (۲) تصريح شده در تمام مواردیکه موافقت موجود نباشد، معتبر است.

**مادۀ ۵۱۹:**

شخصیکه وجه برات را تادیه میکند، از اشخاصیکه در مقابل او مسئول اند مطالبات ذیل را می تواند:

۱- تمام مبلغی را که تادیه کرده.

۲- تکت پولی مبلغ مذکور را از تاریخ تادیه.

۳- هر مصارفی را که متحمل شده باشد.

**مادۀ ۵۲۰:**

هر مسئولیکه حق رجوع علیه او استعمال شده باشد، می تواند در مقابل تادیه وجه برات تقاضا کند که در مقابل برات با ورقه اعتراض به او رسید داده شود.

هر ظهر نویسیکه وجه برات را تادیه میکند، میتواند ظهر نویسی خود و ظهر نویسی های مابعد را خط بکشد.

**۵۲۱ ماده:**

لـه یـوی برخـی قبـول څخـه وروسـته د رجوع د حق د استعمال په صورت هغه څوک چه د برات نه قبول شوی مبلغ ورکـوی، دا تقاضـا کـولای شـي چـه دا ورکـړه دی د بـرات پـر مـخ قیـد شـي او رسید یـې هـم ده تـه ورکـړشـي. د بـرات حامل باید د برات یو مصدق نقل هم لـــه اعـتـراض سـره ده تـه ورکـړي تـرڅـو چـه د اعـتـراض د زیـات حـق اسـتـعـمـال امـکان ولـری.

**مادۀ ۵۲۱:**

در صــورت استعمـال حق رجـوع پـس از قبــول قسـمی، شخصـیکه مبلـغ قبـول نشـدۀ بـرات را تادیـه مینمایـد میـــتواند تقاضـا کنـد کـه تادیـه مذکـــور بـر روی بـرات قیـد شـده رسـید آن هـم بـه او داده شـود. حامـل بـــرات بـایـــد یـک نـقـل مصدق بـــرات را نیـز بـا اعتـراض بـه او بـدهــد تـا آنکه استعمـال مزید حق اعتراض ممکن شده بتواند.

**۵۲۲ ماده:**

هـغـه څـوک چـه د رجوع حق لـری کـه پـه بـرات کښـې د هـغـه پـه خـلاف مشروط نـه وی کـولای شي چـه د یـوه نـوی برات پـه ذریعه چه په د بـرات اعـــاده **(Rechange)** پـه نامـه بلـل کیـږي د بــرات وجـه لـه یـوه لـه هغـو کسـانو څخـه چـه ده تـه مسـئول دی، واخلی او لازم دی چه (د اعـادی بـرات) پـه استوګنځی کـښـې او پـه ښـکاره کولو سره د ورکړی وړ لـه ډولـه وی.

**مادۀ ۵۲۲:**

شـخصـیکـــه دارای حـــق رجـوع اســت اگـر در بـــرات برخـــلاف آن مشـــروط نبـــاشـــد میتوانـد بـه ذریعـه یـک بـرات جـدیـدیکـه بـه بـرات اعـاده (**Rechange**) مـــوسوم میشـود وجـه بـــرات را از یکـی از اشخاصـیکه نـزد او مسـئول انـد دریافـت کننـد و لازم اســـت (بـرات اعـــاده) از نـــوع قابـــل تــــادیه در اقامتگاه و عند الرویه باشد.

د اعـــادی بـــرات غـیـــر لـــه هغـــو مـبلغـونـو چه په (۵۱۸ – ۵۱۹) مادو کــښـې ښـوولـې شـوی دی ددلالـی مـبلغ د صکوکو مخـارج او د روپـو د انتـقـال مـصارف هم لـری.

بـــرات اعـــاده غـیـر از مـبـالـغـی کــــه در مـواد (۵۱۸- ۵۱۹ ) نشـان داده شـــده حـاوی بـر مبلـغ دلالــی و مـخـــارج صکوکـــی و مصـــارف انـتـقال پـول نـیـز مـیبـاشـد.

**۵۲۳ ماده:**

په صادرونکی – ظهر نویسانو او د برات په نورو مسئولینو باندې د حامل د رجوع (حق پرته په قبلونکی د رجوع له حقه) په لاندې مواردو کښې ساقطیږی:

۱- که د هغو براتونو قانونی تاکلی شوی موده چه د ښکاره کولو په وخت کښې یا له ښکاره کولو نه یوه موده وروسته د ورکړی وړ گرځي، تیره شوی وی.

۲- پدی صورت چه په نه قبول او نه ورکړه پوری مربوط اعتراضونه وروسته له قانونی تاکلی مودې څخه شوی وی.

۳- که (بی مصرف) شرط لرونکی برات وروسته له تاکلی مودی څخه ښکاره کړ شوی وی او یا که د صادرونکی له خوا قید شوی وی چه د برات د قبول دپاره په تاکلی موده کښې ښکاره کړل شي، په هغه باندې د نه مراعات په صورت او دا قید په دی صورت اعتبار لری چه له مضمون څخه یې معلوم نشي چه د صادروونکي مقصد د قبول له مسئولیت څخه ذمی ابراء ده.

**مادهٔ ۵۲۳:**

حق رجوع حامل به صادر کننده ظهرنویسان و سایر مسئولین برات (به استثنی حق رجوع به قبول کننده) در موارد ذیل ساقط میگردد:

۱- هرگاه مدت معیینه قانونی برات هاییکه عند الارائه یا بعد از یک مدت پس ارائه قابل تادیه باشد، منقضی شده باشد.

۲- در صورتیکه اعتراضات مربوط به عدم قبول یا عدم تادیه بعد از مدت معیینه قانونی بعمل آمده باشد.

۳- اگر براتی دارای شرط (بی مصرف) بعد از مدت معیینه ارائه شده باشد و یا اگر از طرف صادر کننده قید باشد که در ظرف مدت معیینه برای قبول برات ارائه گردد، در صورت عدم مراعات به آن و این قید در صورتی اعتبار دارد که از فحوای آن استنباط نشود که مقصد صادر کننده ابراء ذمه از مسئولیت قبول بوده است.

که یوه ظهر نویس په خپله ظهر نویسي کښې د ښکاره کولو دپاره یوه موده داخله کړې وي، له دې مودې څخه یواځې هغه ظهر نویس استفاده کولی شي.

اگر یک ظهر نویس در ظهر نویسی خود مدتی را برای ارائه درج نموده باشد، از ین مدت تنها همان ظهر نویس میتواند استفاده نماید.

**۵۲۴ ماده:**

که په هغو مودو کښې چه قانوناً ټاکلې شوې دي د یوه نه رفع کیدونکي مانع (فورس ماژور) په سبب دبرات ښکاره کول او اعتراض ممکن نشي نو دا مودې اوږدېږي.

**مادهٔ ۵۲۴:**

اگر در ظرف مدت هاییکه قانوناً معیین است ارائه برات و اعتراض به سبب یک مانع غیر قابل رفع (فورس ماژور) ممکن نشود، مدت ها ی مذکور تمدید میشود.

د برات حامل مجبور دی چه ډیر ژر له مجبره علتونو څخه (فورس ماژور) خپل (ظهر نویس) ته اطلاع ورکړې او دا اطلاع باید په برات کښې او یا په یوه پانه ضمیمه چه ورسره مل وي او نېټه اولاس لیک ورباندې وي ولیکله شي.

حامل برات مجبور است بلا تأخیر علل مجبره (فورس ماژور) را به ظهر نویس خود اطلاع دهد و این اطلاع باید در برات و یا یک ورقه ضمیمه منضمه که در آن تاریخ نوشته و امضاء شده باشد، تحریر شود.

وروسته د مجبره علتونو له رفع حامل باید بې د وخت له فوته د قبول یا ورکړې دپاره برات ښکاره کړي او دلزوم په صورت اعتراض نامه صادره کړي.

بعد از رفع علل مجبره حامل باید برات را بدون فوت وقت برای قبول و یا تادیه ارائه کند و درصورت لزوم اعتراض نامه صادر نماید.

که مجبره علتونه د مودې له راتګ څخه وروسته له دیرشو ورځو څخه زیات دوام وکړي نو بې له دې چه د

اگر علل مجبره بیشتر از سی روز بعد از حلول موعد دوام کند، بدون اینکه به

برات ښکاره کولو او اعتراض ليکلو ته حاجت وی، د رجوع حق استعماليدای شي.

د هغو براتونو په خصوص کښې چه په ښکاره کولو او يا له ښکاره کولو نه وروسته په يو تاکلی موده کښې د ورکړی وړ وی نو ديرش ورځې له هغې نېټې څخه حسابيږی چه حامل له مجبره علتونو څخه خپل (ظهر نويس) ته خبر ورکړی وی که څه هم دا نېټه دښکاره کولو دمودی له پای ته رسيدلونه پخوا وی.

په هغو احوالو کښې چه اعتراض يوائې پخپله په حامل او يا په هغه شخص پوری چه دبرات په ښکاره کولو مامور دی اړه ولری، له مجبره علتونو (فورس ماژور) نه بلل کيږي.

اتمه برخه
توسط

**۵۲۵ ماده:**
صادرونکی يا (ظهر نويسان) کولای شي چه يو بل سړی معرفی کړی ترڅو دقبول يا ورکړی دپاره دمخاطب دنکول په صورت هغه ته مراجعه وشي. دريم شخص او مخاطب او هر هغه شخص چه په برات باندې دلاس ليک له

ارائه برات و تحرير اعتراض حاجت باشد، حق رجوع استعمال شده ميتواند.

دربارهٔ برات هايکه با ارائه و يا در يک مدت معيين بعد از ارائه قابل تاديه باشد، مدت سی روز از تاريخی حساب ميشود که حامل علل مجبره را به ظهر نويس خود خبر داده باشد ولو اين تاريخ قبل از اختتام موعد ارائه هم بوده باشد.

در احواليکه اعتراض تنها به شخص حامل و يا شخصيکه مامور به ارائه برات است عايد گردد، از علل مجبره (فورس ماژور) شمرده نميشود.

حصهٔ هشتم
توسط

**مادهٔ ۵۲۵:**
صادرکننده يا ظهر نويس ميتواند شخص ديگری را معرفی کند تا در صورت نکول مخاطب برای قبول يا تاديه به او مراجعه شود. شخص ثالث و مخاطب و هر شخصيکه بنابر امضاء برات

مخې مسئولیت ولری (پر ته له هغو کسانو چه برات قبلوی) کولای شي منځګړیتوب وکړی. هغه څوک چه دیوه لاس لیک کوونکی دپاره منځګړی توب کوی مجبور دی هغه چا ته چه دده دپاره یې منځګړی توب کړی وی په موده د دوو ورځو کښې دخپل منځګړی توب خبر ورکړی.

## په منځګړی توب سره قبول

**۵۲۶** ماده:
پدی صورت چه د برات موده ورسیږی او حامل د رجوع واک ولری، په منځګړی توب سره قبول کیدای شي.

حامل د منځګړی توب په قبول کښې مختار دی مګر که حامل په منځګړی توب سره پیشنهاد قبلوی نو د هغې مراجعی حق چه د مودی له راتګ څخه پخوا یې دبرات په مسئولینو باندې لری له لاسه ورکوی.

**۵۲۷** ماده:
په منځګړی توب سره د قبول کیفیت په برات کښې لیکل کیږي او د منځګړی له خوا لاس لیکولي شي. په منځګړی توب سره قبول چه د هر چا په حساب شوی وی، تصریح کیږي او د نه

مسئولیت داشته باشد (غیر از شخصیکه برات را قبول میکند) میتوانند توسط کنند. شخصیکه برای یکی از امضاء کنندگان توسط میکند مجبور است به کسیکه برای او توسط نموده باشد از وساطت خود در ظرف دو روز کار اخبار کند.

## قبول بالتوسط

مادهٔ **۵۲۶**:
در صورتیکه موعد برات حلول نموده و حامل صلاحیت رجوع را داشته باشد قبول بالتوسط بعمل آمده میتواند.

حامل در قبول وساطت مختار است و اما اگر حامل پیشنهاد بالتوسط را قبول مینماید، حق مراجعتی را که پیش از حلول موعد علیه مسئولین برات دارد، از دست میدهد.

مادهٔ **۵۲۷**:
کیفیت قبول بالتوسط در برات تحریر و ازطرف توسط کننده امضاء میشود. قبول بالتوسط به حساب هر کسیکه بعمل آمده باشد، تصریح میگردد. در صورت عدم

تصریح پـه صـورت د صـادروونکی پـه حساب ګڼل کیږي.

**۵۲۸ ماده:**

په منځګړی توب سره قبلونکی دحامل په مقابل کښې مسئول دی او کـه دا پـه منځګړی توب سره قبـول د مخاطب پـه حساب وی نو د هغو (ظهر نویسیو) پـه مقابل کښې چه وروسته له هغـه راځي، لکه مخاطب غوندی مسئول دی.

په منځګړي تـوب سره پـه قبـول برسیره هغـه شـخص چـه ده تـه منځګـړی واقـع شویدی او یایې قانونی وکیـل و کـولای شي چه لـه (۵۱۸) مـادی سره سم وجه ورکړی او بـرات او دایجاب پـه صـورت کښې د اعتـراض پاڼه و غواړی.

### په منځګړی توب سره ورکړه

**۵۲۹ ماده:**

په ټولو احوالو کښې چه حامل د رجـوع حق ولـری، څـه د مـودی پـه راتګ کښـې اوڅـه لـه هغـې نـه پخوا، پـه منځګـړی تـوب سـره ورکـړه امکـان لـری. پـه منځګړی توب سره ورکړه بایـد ټـول د ورکړی وړ مبلغ ولری او بایـد منتهـا د هغـې آخـرې ورځـې پـه سبـا چـه د نـه ورکـړې د اعتـراض دپـاره مقـرره شـوی ده، اجراء شي.

تصـریح بــه حســاب صــادر کننــده محسوب میشود.

**مادهٔ ۵۲۸:**

قبـــــول کننــده بالتوسـط در مقابـل حــامــل مسئول است و اگر این قبول بــالــتوســط بــه حســاب مخاطـب باشـد، در مـقـابـــل ظهــر نـویســی هاییکــه بعــد از آن میآینــد، مثــل مخاطب مسئول است.

بــــا وجــــود قبـــول بالـــتوســـــط شخصیکــه بـــرای او توسط واقـع میشـــود و یـــا کفیـــل قـــانونی او میتوانـد طبـق مـادهٔ (۵۱۸) وجـه را تادیــه کــرده بــرات یــا در صــورت ایجاب، ورقه اعتراض را طلب کند.

### تادیهٔ بالتوسط

**مادهٔ ۵۲۹:**

در تــمام احــوالیکه حامـل دارای حـق رجـــــوع میـــباشد، چــه در حلــول موعـــد و چــــه قبـــل از آن تادیـــه بالـــتوسط ممــــکن اســت. تادیــه بــالـتوســـط بـایــد شـــامل تمام مبلغ قابل تــادیــه بــاشــد و بــاید منتهـی فـردای روز آخـری کـه بـرای اعتــراض عـــــدم تــادیـــه مقــرر است، اجراء شـــود.

**۵۳۰ ماده:**
که په منځګړی توب سره برات قبول شوی او ورکړه یې نه وی شوی، نو د هغې وروستی ورځې په سبا چه د اعتراض دپاره مقرره شویده، د نه ورکړې اعتراض لیکی. په دی حال کښې چه په دی موده کښې اعتراض ونه لیکل شي نو هغه شخص چه برات دده په حساب قبول شوی او همدا ډول وروستی (ظهر نویسان) له مسئولیت څخه خلاصیږی.

**ماده ۵۳۰:**
اگر برات بالتوسط قبول شده و تادیه بعمل نیامده باشد، حامل فردای روز آخری که برای اعتراض مقرر است اعتراض عدم تادیه را تحریر میکند. در حالیکه در ظرف مدت مذکوره اعتراض تحریر نگردد، شخصیکه برات به حساب او قبول شده و همچنان ظهر نویسان مابعد از مسئولیت بری میشوند.

**۵۳۱ ماده:**
هغه حامل چه په منځګړی توب سره ورکړه له (۵۱۸) مادی سره سم نه قبلوی، د هغو کسانو په مقابل کښې چه ورکړه د دوی د ذمی د برائت باعث کیږي، د خپلی رجوع حق له لاسه ورکوی.

**ماده ۵۳۱:**
حاملیکه تادیه بالتوسط را مطابق مادهٔ (۵۱۸) قبول نمیکند، حق رجوع خودرا در مقابل اشخاصیکه تادیه باعث برائت ذمه ایشان میشود، از دست میدهد.

**۵۳۲ ماده:**
په منځګړی توب سره ورکړه د هر شخص د پاره چه اجراء کیږی د برات پرمخ په لیکنه او لاسلیك سره اثباتیږی.

که په برات کې ښوولی شوی نه وی چه ورکړه د کوم شخص د پاره شوی ده داسی ګڼله کیږی چه د صادرونکی برات دی. برات او دا اعتراض پاڼه په دې صورت چه اجرا شوی وی هغه

**ماده ۵۳۲:**
تادیه بالتوسط برای هر شخصیکه اجراء میشود با تحریر و امضای روی برات اثبات میگردد.

اگر در برات نشان داده نشده باشد که تادیه برای کدام شخص بعمل آمده، چنان فرض میشود که برات صادرکننده است. برات ورقه اعتراض در صورتیکه اجراء شده باشد، به

شخص ته چه د منځګړی توب په لاره برات ورکوی تسلمیږی.

**۵۳۳ ماده:**
په منځګړی توب سره ورکړه چه دهر چا دپاره وشي نو هغه حقوق چه حامل یې د هغه او د نورو اشخاصو په مقابل کښې چه ده ته مسئول دی لری، ورکونکی شخص ته انتقالوی مګر هغه ځوک نشي کولای چه د برات په شا مکرر ولیکی. په منځګړی توب سره ورکړه (د هر هغه چا دپاره چه منځګړی واقع شوی وی) د ورستیو (ظهر نویسانو) دذمی د برائت مستلزم دی. پدی حال کښې چه په منځګړی توب سره د ورکړی دپاره څو منځګړی موجود وی نو د دوی د هر یوه په منځګړی توب سره چه د زیاتو کسانو برائت راځي، ترجیح ورکوله کیږي.

شخصیکه به طریق توسط برات را تادیه مینماید، تسلیم میشود.

**مادهٔ ۵۳۳:**
تادیه بالتوسط برای هر کسیکه بعمل آید حقوقی را که حامل در مقابل آن شخص و اشخاص دیگری که نزد او مسئولند دارد، به شخص تادیه کننده انتقال مینماید. ولی آن شخص برات را نمیتواند مکرراً ظهر نویسی کند. تادیه بالتوسط (برای هر کسیکه توسط واقع شده باشد) مستلزم برائت ذمه ظهر نویسان ما بعد میباشد. در حالیکه برای تادیه بالتوسط متوسطین متعددی موجود باشد، توسط هر کدام آنها که برائت اشخاص زیاده تر را در برداشته باشد، ترجیح داده میشود.

## نهمه برخه
## د برات د نسخو شمېر

**۵۳۴ ماده:**
برات د متعددو نسخو په صورت چه یو له بله تفاوت نه سره لری صادریدای شي.

د هغو براتونو په متن کښې چه په متعددو نسخو لیکل کیږي، باید پرله

## حصهٔ نهم
## تعداد نسخه های برات

**مادهٔ ۵۳۴:**
برات بصورت نسخه متعددی که از هم دیگر تفاوت نداشته باشد، صادر شده میتواند.

در متن برات هاییکه به نسخه های متعدد نوشته میشود باید نمبر

پسی لمبر ولیکل شي.

د بــرات هــره نــسخــه چــه پــر لـــه پـســي لمبــر، ونــه لــری، ځانگــړی بـرات گڼل کیږي.

کـه د بـرات پـه متـن کښـې یواځـې یـوه نسخه عبارت لیکل شوی نـه وی، حـامــــل کــولای شــي چـــه د مصـارفو پـه غـاړه اخیـستلـو سره متعددی نسخی وغواړی.

کـه بـرات یـوه نسخـه وی او پـه هغـه کښـې (ظهر نویسی) شوی وی او پس لـه هغـه حـامـل متعـددی نسخی واخلـــی نـــو ښـــایې خپـــل نــژدی شالیکونکی (ظهر نویس) تـه مراجعه وکړی او دا ظهر نویس مکلف دی چه دحامـل لپـاره پخوانی ظهـر نـویس تـه رجـوع وکـړی او پــه همـدی ترتیــب شالیکنه (ظهر نویس) جریان مومی.

ظــهــر نـویــســان مـجبـور دی چـــه د بـرات په نویو نسخو باندې خپلی ظهر نویسی ولیکی.

**۵۳۵ ماده:**
که له هغو براتونو څخه چه په متعددو نسخو لیکلی شوی دی د یوی نسخی پـه مقابـل کښـې ورکـړه واقـع شـي نـو نوری نسخی یې بی اثره کیږي.

مسلسل نسخه ها تحریر شود.

هـــر نـســخه بـرات کـه دارای نمبــر مسلســـل نباشــد، بــرات جداگانـــه شناخته میشود.

اگــر در مـتـن بـرات عــبـارت تـنـهـا یـــک نسخــــه نـوشتـــه نبـاشـــد، حـامــــل میتوانـــد بــــا تـحـمـــل مـصــارف نـسـخــه هــای مـتـعــددی مـطـالـبـه کـنـد.

اگـــر بــرات یـک نسـخـه بـوده و در آن ظـــهـــر نـویـســی بـعـمــل آمـــده بـاشــد و پـــس از آن حـامــل نسـخه هـای مـتـعـددی بگیـرد، بـایستـی بـه ظـهـر نـویـس قـریـب خـود مـراجعـه کـند و ایـن ظـهـر نـویس مکلف است بر له حـامـل بـه ظـهـر نـویـس ماقبل رجـوع کنـد و بـه همـین ترتیـب ظهـر نویسی جریان می یابد.

ظهر نویسان مجبور اند که به نسخه هـای جدیـد بـرات ظهـر نویسـی هـای خود شانرا تحریر کنند.

**مادۀ ۵۳۵:**
اگـــــر تادیــه بمقابــل یــک نســخه از براتیـــــکه بـه نسـخه هـای متعـدد تحریـر گـــردیده واقـع شـود، نسـخه های دیگر بی اثر میگردد.

سره لـه دې مخاطب د هـرې يـوې لـه قبولو شويو نسخو څخه چه مستردې شـوي نـه وي، مسـئول دی هغـه ظهـر نويسـان چه متعددی نسخي متعددو کسانو تـه ورسپاری او همدا ډول نـور هـغـه شـاليـکـونکـی (ظهـر نويسـان) چه وروسـته لـه دوی څخـه راځـي، د هغـو نسـخـو پـه مقابـل چـه ددوی لاس ليک ولـری او مستردی شـوی نـه وی، مسئول دی.

### لسمه برخه

### جعل کاری – تحريفات

**۵۳۶ ماده:**

په برات کښې د يوه لاس ليک جعل کـه د صـادروونکی وی او کـه د قبلـوونکی نوروهغـو لاس ليکونـو تـه چه پـه بـرات کښې موجود دی، خلل نه پيښوي.

**۵۳۷ ماده:**

که د برات پـه متن کښې تحريف واقـع شـي، نـو هغـه کسـان چـه وروسـته لـه تحريفه څخه يې لاس ليک کړی دی لـه تحريـف نـه پـه وروسـته مبلـغ او هغـه کسـان چه پخوا لـه هغـه يې لاس ليک کړی دی، د برات له اصل متن سره سم مسئول دی.

با وجود، ايـن مخاطب بـه نسبت هر يکـی از نسـخه هـای قبـول شـده کـه مسترد نگرديده بـاشد مسئول است. ظهر نويسيکه نســخه های متعددی را بـه اشـــخاص متعـــدد تفـويض ميکنـد و همچنـان ظهـر نويــسهای ديگريـــکه بـعــد از او مــی آينـد، بمقابـل نســخه هائـيکـه امضـای شانــرا محتــوی بــوده و مســترد نشـده باشد، مسئول اند.

### حصۀ دهم

### جعل کاری – تحريفات

**مادۀ ۵۳۶:**

**جعل** يک امضاء در برات، چه امضـای صادر کننده باشد و يا قبول کننده، به امضاهای ديگری کـه در برات موجود است خللی وارد نميکند.

**مادۀ ۵۳۷:**

اگـــر در متـــن بـــرات تــحـريــف واقـع شـــود، اشــــخاصيکه بعد از تــحـريــف امـضـاء نمـــوده انـــد، بـــه مبـــلـغ بعــــد از تــحـريــف و آنانيکـــه قبـــــل از آن امـــــضا نمـــوده انـد، بـــــر طبــــق مـتن اصل برات مسئول اند.

## یوولسمه برخه
## د وخت تېرېدل

**۵۳۸** ماده:
دتولي هغه دعوې چه په قبلوونکي باندې دبرات له لارې پیدا کیږي د مودې د رسیدلو له نېټې څخه وروسته له درې کالو تېرېدو څخه ساقطیږي.

هغه دعوی ګانې چه حامل ئې په (ظهر نویسانو) او صادروونکي باندې وکړي او دهغه اعتراض له نېټې څخه چه په خپل ټاکلي وخت لیکلی شوی وي (او که په سند کښې د بې لګښته اعادې شرط موجود وي د مودې تیریدلو له نېټې څخه) د یو کال په تیریدو ساقطیږي.

هغه دعوی چه ظهر نویس یې یو پربل او یا په صادروونکي وکوي، د ظهر نویس له خوا د برات د ورکړې له نېټې څخه او یا له هغې نېټې څخه چه پخپله په دوی باندې دعوی شوی وي، د شپږو میاشتو په تیریدو باندې ساقطیږي.

**۵۳۹** ماده:
هغه معامله چه د زمان د تیریدلو قطع لازموي، یوائې دهغو کسانو په حق کښې چه له هغه څخه

## حصۀ یازدهم
## مرور زمان

مادۀ **۵۳۸**:
کافه دعاوی ایکه علیه قبول کننده از رهگذر برات نشئت نماید، از تاریخ حلول موعد بعد از مرور مدت سه سال ساقط میشود.

دعاوی ایکه حامل علیه ظهر نویسان و صادرکننده اقامه کند و از تاریخ اعتراضیکه در وقت معیین آن نوشته شده باشد (و اگر در سند شرط اعاده بدون مصرف موجود باشد از تاریخ انقضای موعد) به مرور یک سال ساقط میشود.

دعواییکه ظهر نویسان بر علیه همدیگر شان و یا علیه صادر کننده اقامه کنند از تاریخ تادیه برات از طرف ظهر نویسان و یا از تاریخیکه علیه خود آنها اقامه دعوی شده باشد، به مرور شش ماه ساقط میشود.

مادۀ **۵۳۹**:
معامله ایکه مستلزم قطع مرور زمان است، تنها در حق کسیکه از آن استفاده میکند

ګټه کوی معتبر دی.

## دولسمه برخه
## عمومی احکام

**۵۴۰ ماده:**
که دیو برات موده دتعطیل له ورځو سره مصادفه وی د هغه ورکړه د کار په هغه ورځ چه وروسته له تعطیل څخه راځي او همدا ډول په برات پوری تړول متعلق معاملات په تیره بیا د قبول دپاره د برات ښکارونه او د اعتراض لیکنه د کار په ورځ اجراء کیږي.

پدی صورت چه له پاس معاملاتو څخه یوه معامله په یوه داسی موده کښي تصادف وکړی چه وروستی ورځ یي د قانون له مخي تعطیل وبالله شي نو دا موده د کار تر لومړۍ ورځي پوری چه وروسته له هغه راځي اوږدیږي. د تعطیل ورځي چه په منځ کښي راځي، د مودی په حساب کښي داخلی دی.

**۵۴۱ ماده:**
هغه موده چه داصولو له مخي په مقاوله سره ټاکلی وی، د هغو لمړی ورځي په دی مودو کښي نه شاملیږی.

**۵۴۲ ماده:**
د برات په تعهداتو کښي د اشخاصو

معتبر است.

## حصهٔ دوازدهم
## احکام عمومیه

**مادهٔ ۵۴۰:**
اگر موعد یک برات با ایام تعطیل مصادف باشد، تادیه آن در روز اول کاری که یوم تعطیل را تعقیب میکند، طلب میگردد و همچنان جمله معاملات متعلق به برات بالخاصه موضوع ارائه برای قبول و تحریر اعتراض در روز کار اجراء میشود.

در صورتیکه یکی از معاملات مذکوره در داخل یک مدتی تصادف کند که روز آخر آن قانوناً تعطیل شمرده شود مدت مذکور تا روز اول کاری که روز انقضای مدت مذکور را تعقیب میکند تمدید میشود. روزهای تعطیل که در بین واقع میشود بحساب مدت داخل است.

**مادهٔ ۵۴۱:**
مدتیکه قرار قانون با مقاوله معیین باشد، روزهای اول آن به این مدتها شامل نمیشود.

**مادهٔ ۵۴۲:**
اهلیت اشخاص در تعهدات برات نظر

اهلیت نظر د متبوع دولت اصولو ته تعهد کوونکی اشخاص تثبیت کیږي.

**۵۴۳ ماده:**
د برات په معاملاتو کښې د هر ډول تعهداتو اجراء د هغه مملکت د اصولو تابع دی چه تعهد په هغه ځای کښې شوی وی.

**۵۴۴ ماده:**
اعتراض او په عام ډول سره هر اقدام چه له برات څخه د پیدا شویو حقوقو د ساتنی او له هغو څخه د ګټې دپاره کیږي دهغه مملکت د قوانینو تابع به وی چه دا اقدام په هغه ځای کښې عملی کیږي.

**دوه یم فصل**
**حجت**

**۵۴۵ ماده:**
تجارتی حجت باید دا لاندنی شرطونه ولری:

۱- د (حجت) د کلمی لیکنه د حجت پرمخ په هره ژبه چه هغه حجت لیکلی شوی وی.

۲- د تاکلی مبلغ بی له شرطه ورکړه.

۳- د ورکړی موده.

به قوانین دولت متبوع اشخاص تعهد کننده، تثبیت میگردد.

**مادهٔ ۵۴۳:**
اجرای هرگونه تعهدات در معامله برات تابع قوانین مملکتی است که تعهد در آنجا بعمل آمده است.

**مادهٔ ۵۴۴:**
اعتراض و بالعموم هر اقدامی که برای حفظ حقوق ناشیه از برات و استفاده از آن بعمل می آید، تابع قوانین مملکتی خواهد بود که آن اقدام در آنجا عملی میشود.

**فصل دوم**
**حجت**

**مادهٔ ۵۴۵:**
حجت تجارتی باید دارای شرائط ذیل باشد:

۱- تحریر کلمه (حجت) بر روی سند به هر زبانی که حجت نوشته شده باشد.

۲- تادیه بلا شرط مبلغ معیین.

۳- موعد تادیه.

۴- د ورکړې ځای.

۵- د هغه چا نوم چه د مبلغ ورکړه دده په وجه او یا دده په امر کیږي.

۶- د حجت د لیکنې ځای او نېټه.

۷- د حجت د صادروونکی لاس لیک.

**۵۴۶ ماده:**

هغه سند چه د پاس ذکر شوي مادې له موادو څخه کم یو ونه لري (بې له لاندنیو موادو)، (حجت) نه ګڼل کیږي.

هغه حجت چه د ورکړې موده یې نه وي لیکلې شوې، د غوښتنې په وخت کښې د ورکړې وړ دی.

که په کوم یو حجت کښې دو رکړې ځای نه وي لیکلی شوی نو د صدور ځای یې د ورکړې ځای دی او په عین زمان کښې د صادروونکی د استوګنې ځای بلل کیږي.

که د حجت په متن کښې د صدور ځای نه وي لیکلی شوی، د صدور ځای یې هغه محل بلل کیږي چه د لاس لیک کوونکی د نامه په خوا کښې لیکلی شوی وي.

۴- محل تادیه.

۵- اسم شخصیکه تادیه مبلغ در وجه و یا به امر او میشود.

۶- محل و تاریخ تحریر حجت.

۷- امضای صادر کنندۀ حجت.

**مادۀ ۵۴۶:**

سندیکه یکی از مواد متذکره مادۀ فوق را حاوی نباشد (به استثنای موارد ذیل) (حجت) شناخته نمیشود.

حجتی که موعد تادیه آن تحریر نگردیده باشد، عند المطالبه قابل تادیه است.

اگر در یک حجت محل تادیه آن تحریر نشده باشد، محل صدور آن محل تادیه و در عین زمان محل اقامت صادر کننده دانسته میشود.

اگر در متن حجت محل صدور تحریر نگردیده باشد، محل صدور همان محلی دانسته میشود که پهلوی اسم امضاء کننده تحریر گردیده باشد.

**۵۴۷ ماده:**

دا لاندې مقررات چه په برات پوری اړه لري، د حجت په خصوص کښې هم دتطبیق وړ دی:

د (**۴۸۰ - ۵۱۰**) موادو د ظهر نویسي په خصوص کښې.

د (**۴۹۹ - ۵۰۱**) موادو د ضمانت په باره کښې.

د (**۵۰۲ - ۵۰۶**) مادو د مودی په خصوص کښې.

د (**۵۰۷ - ۵۱۲**) مادو د ورکړې په خصوص کښې.

د (**۵۱۳- ۵۲۰- ۵۲۲- ۵۲۳**) مادو دنه ورکړې په صورت د رجوع د حق په خصوص کښې.

د (**۵۲۵- ۵۲۹- ۵۳۳**) مادو په واسطه سره د ورکړې د توسط په خصوص کښې.

د (**۵۳۶- ۵۳۷**) مادو د جعل او تحریف په خصوص کښې.

د (**۵۳۸-۵۳۹**) مادو د زمانی د تیریدو په باره کښې.

د رسمي ورځو د حساب د صورت په

**مادهٔ ۵۴۷:**

مقررات ذیل که به برات تعلق دارد راجع به حجت نیز قابل تطبیق است:

راجع به ظهر نویسی مواد (**۴۸۰ - ۵۱۰**).

راجع به ضمانت مواد (**۴۹۹- ۵۰۱**).

راجع به موعد مواد (**۵۰۲- ۵۰۶**).

راجع به تادیه مواد (**۵۰۷- ۵۱۲**).

راجع به حق رجوع درصورت عدم تادیه مواد (**۵۱۳- ۵۲۰- ۵۲۲- ۵۲۳**).

راجع به توسط تادیه بالواسطه مواد (**۵۲۵- ۵۲۹- ۵۳۳**).

راجع به جعل و تحریف (**۵۳۶- ۵۳۷**).

راجع به مرور زمان (**۵۳۸- ۵۳۹**).

راجع به صورت حساب ایام رسمیه

خصوص کښيږي (۵۴۰- ۵۴۱).

همدا ډول د بل شخص په استوګنځی کښي د ورکړې په خصوص کښي (۴۷۴) او (۴۹۶) او د ټکټ پولي د مقاولې په دائر (۴۷۵) او د هغو مبلغونو په خصوص کښي د مختلفو بياناتو په باره کښي ورکول کيږي (۴۷۶)، د هغه شخصي د لاس ليک د نتيجو په خصوص کښي چه اهليت يې موندلی دی (۴۷۷) او د هغه شخص د لاس ليک د نتيجو په باره کښي چه وکيل نه وی او يا د وکالت له حدودو څخه تيری وکړی د (۴۷۸) مادی حکم د حجت په خصوص کښي هم معتبر دی.

**۵۴۸ ماده:**

هغه څوک چه حجت لاس ليکوی، لکه د يو برات د قبلوونکی په شان مسئول دی څه وخت چه له ښکاره کولونه څه موده وروسته د هغه ورکړه قبلوله کيږي (په دی شرط چه د لاس ليک کوونکی له خوا وربانديې د (وکتل شو) عبارت ليکلی وی په (۴۹۲) مادو کښي ټاکلي شوی موده کښي دهغه ښکارونه لازمه ده که د لاس ليک خاوند د (کتلی شوي دی) له عبارت څخه سره د هغه د نېټې له قيده منع راوړل د اعتراض د يوې پاڼې په ذريعه اثبات

(۵۴۰- ۵۴۱).

همچنان راجع به تاديه در اقامتگاه شخص ديگر احکام مواد (۴۷۴- ۴۹۶) و دائر به مقاوله تکت پولی (۴۷۵) و درباره‌ٔ بيانات مختلف راجع به مبالغيکه تاديه ميشود (۴۷۶) راجع به نتايج امضای شخصی که واجد اهليت ميباشد (۴۷۷) و راجع به نتايج امضای کسيکه وکيل نباشد و يا از حدود وکالت تجاوز کند، حکم مادهٔ (۴۷۸) در خصوص حجت هم معتبر است.

**مادهٔ ۵۴۸:**

شخصيکه حجت را امضاء ميکند مثل شخصی قبول کنندهٔ يک برات مسئول است حينيکه بعد از مدتی از رويت تاديه آن قبول ميشود (بشرطيکه از طرف امضاءکننده عباره (ملاحظه شده) بر آن تحرير شده باشد) در ظرف مدت های معيينه مادهٔ (۴۹۲) لازم الارائه است اگر صاحب امضاء از تحرير عباره (ملاحظه شده است) با قيد تاريخ آن امتناع کند بايد قرار مادهٔ (۴۹۴) امتناع توسط يک ورقه اعتراض

شي، دديٍ اعتراض پاتې نېټه د سند له ښکاره کولونه وروسته د ورکړې د مودې شروع بلله کيږي.

## درېيم فصل
## لومړۍ برخه

## چک

**۵۴۹ ماده:**
چک بايد دا لاندې شرطونه ولري:

۱- د سند په متن کښې د چک دکلمې ذکر.

۲- د مبلغ د ورکړې بې قيده او بې شرطه امر.

۳- د هغه شخص نوم چه ورکړه کوي (مخاطب).

۴- د ورکړې دځاى ذکر.

۵- دچک دصدور دمحل او نېټې قيد.

۶- دهغه شخص لاس ليک چه چک صادروي (صادروونکى).

**۵۵۰ ماده:**
هغه سند چه د (۵۴۹) مادې له ذکر شويو شرطونو څخه يو په کښې نه وي چک نه بالله کيږي، مگر په

اثبات شود، تاريخ اين ورقه اعتراض مبدأ موعد تأديه بعد از ارائه سند دانسته ميشود.

## فصل سوم
## حصۀ اول

## چک

**مادۀ ۵۴۹:**
چک محتوى شرايط ذيل باشد:

۱- در متن سند ذکر کلمۀ چک.

۲- امر بلا قيد و شرط تاديۀ مبلغ.

۳- اسم شخصيکه تاديه ميکند (مخاطب).

۴- ذکر محل تاديه.

۵- قيد محل و تاريخ صدور چک.

۶- امضاى شخصى که چک را صادر ميکند (صادر کننده).

**مادۀ ۵۵۰:**
سنديکه يکى از شرايط متذکره مادۀ (۵۴۹) حاوى نباشد چک شناخته نميشود. مگر در

لاندې مواردو کښې:

که په چک کښې د ورکړې محل ذکر شوی نه وی نو هغه محل چه د مخاطب دنوم په څنگ کښې ليکلی شوی وی د ورکړې محل او په عين زمان کښې د مخاطب د استوگنې ځای باله کېږی.

که دچک د صدور محل ذکر شوی نه وی، هغه محل چه وروسته د صادروونکی له نامه ذکر شوی وی د صدور محل بلل کيږي.

**۵۵۱ ماده:**
چک په داسی حال کښې صادريږي چه صادروونکی له مخاطب څخه شته ولری او مخاطب دصريح يا ضمنی موافقی په اثر د هغه په ورکړه مکلف وی.

**۵۵۲ ماده:**
چک کيدای شي چه په لاندې صورتو يې د ورکړې وړ وبولی:

۱- په يو ټاکلی شخص يا د هغه په امر.

۲- په حامل.

يو چک چه د هغه مودی اليه شخص معلوم نه وی، په حامل

دو مورد آتیه:

اگر محل تادیه در چک ذکر نشده باشد، محلیکه به پهلوی اسم مخاطب نوشته باشد محل تادیه و در عین زمان اقامتگاه مخاطب شناخته میشود.

اگر محل صدور چک ذکر نشده باشد، محلیکه بعد از اسم صادر کننده ذکر شده باشد، محل صدور شناخته میشود.

**مادۀ ۵۵۱:**
چک در حالی صادر میشود که صادر کننده در نزد مخاطب دارایی داشته و مخاطب در اثر موافقه صریح یا ضمنی به تادیه آن مکلف باشد.

**مادۀ ۵۵۲:**
چک را میتوان (بصورت) ذیل قابل تادیه دانست:

۱- به یک شخص معین یا به امر او.

۲- به حامل.

یک چکی که شخص مودی الیه آن معلوم نباشد، محرر به حامل

محرر پيژندل کيږي.

**۵۵۳ ماده:**
صادروونکي کولای شي چه چک په خپله وجه صادر کړي.

**۵۵۴ ماده:**
که چيرې چک د ټکټ پولی له شرط سره صادر شوی وی، دا ډول شرط معتبر نه دی.

**۵۵۵ ماده:**
په دی صورت چه د چک د مندرجه مبلغ د ارقامو او حروفو په منځ کښې اختلاف وی، حروف معتبر دی.

**۵۵۶ ماده:**
که چک برسيره دواک لرونکی شخص په لاس ليک دداسی کسانو لاس ليک ولری چه دچک د تعهد اهليت نلری او يا جعلی لاس ليک او د هغو کسانو لاس ليک ولری چه غير حقيقی وی نو د اهليت لرونکو کسانو تعهد چه چک باندې يې لاس ليک کړی دی بياهم د اعتبار وړ دی.

**۵۵۷ ماده:**
هغه څوک چه چک دداسی کس په نامه او حساب چه وکالت يې نلری صادر يا ورکړی، دهغه دنتيجو مسئول دي.

شناخته ميشود.

**مادۀ ۵۵۳:**
صادرکننده ميتواند چک را در وجه خود صادر کند.

**مادۀ ۵۵۴:**
هرگاه چک با شرط تکت پولی صادر شده باشد، چنين شرط معتبر نيست.

**مادۀ ۵۵۵:**
در صورتيکه بين ارقام و حروف مبلغ مندرجۀ چک اختلاف باشد، حروف معتبر است.

**مادۀ ۵۵۶:**
اگر چک علاوه از امضای شخص صلاحيت دار، دارای امضای اشخاص باشد که اهليت تعهد چک را دارا نباشند و يا امضاء های جعلی و اشخاص غير حقيقی باشد، تعهد اشخاص دارای اهليت که در چک امضاء نموده اند باز هم معتبر است.

**مادۀ ۵۵۷:**
کسانيکه چک را بنام و حساب شخصيکه وکالت او را ندارند صادر يا تاديه کنند، مسئول نتايج آنند.

**۵۵۸ ماده:**
صادروونکی شخص دورکړی ضامن دی. هغه شرط چه د ورکړی دضمانت په ابراء کښې وی، معتبر ندی او دچک د وجه له ورکړی څخه وروسته صادروونکی له ضمانت څخه بری دی.

**مادهٔ ۵۵۸:**
شخص صادر کننده ضامن تادیه است و شرطی که متضمن ابراء ضمانت تادیه باشد، معتبر نیست و پس از تادیه وجه چک صادر کننده از ضمانت بری میشود.

## دوه یمه برخه
## شالیکنه

## حصهٔ دوم
## ظهر نویسی

**۵۵۹ ماده:**
هر چک پرته له حامل ته لیکلی شوی چک نه د (ظهر نویسی) په لاره بل ته د انتقال وړ دی.

که صادروونکی په چک باندې (دانتقال وړ نه دی) جمله او یایوه بله جمله چه عین معنی ورکړي لیکلی وی نو دا چک د ظهر نویسي په طریقه نقل کیدای نشي. چک مخاطب او صادروونکی او نورو مسئولینو ته ظهر نویسی کیدای شي.

دا کسان کولای شي چه چک له خپلی خوا تکرار نورو ته ظهر نویسی کړی. په ظهر نویسی سره ټول هغه حقوق چه له چک څخه پیدا شوی وی، انتقال مومی.

**مادهٔ ۵۵۹:**
هر چک به استثنای چک محرر به حامل بطریق ظهر نویسی به دیگر قابل انتقال است.

اگر صادر کننده بر چک جمله (قابل انتقال نیست) و یا یک جمله دیگریکه عین معنی را افاده کند نوشته باشد، چک مذکور بطریق ظهر نویسی نقل شده نمیتواند. چک را میتوان به مخاطب و صادر کننده و مسئولین دیگر ظهر نویسی نمود.

این اشخاص میتوانند از طرف خود چک را تکرار به دیگران ظهر نویسی کنند. با ظهر نویسی کافه حقوق متولد از چک انتقال می یابد.

**۵۶۰ ماده:**
ظهر نویسي باید بې له شرطه

**مادهٔ ۵۶۰:**
ظهر نویسی باید بلا شرط

وی په (ظهر نويسي) کې د شرط تاکل معتبر نه دی. په همدی شان د چک له مندرجه مبلغ څخه د يوی برخی (ظهر نويسي) صحيح نه ده.

که ( ظهر نويسي) د مخاطب له خوا وشي، باطله ده. د مخاطب په نامه ظهر نويسی د رسيد حکم لری.

**۵۶۱ ماده:**

(ظهر نويسی) يا پخپله پر چک باندې يا په يوه بله چک سره پيوسته پاڼې باندې کيږي. ظهر نويسی بايد د (ظهر نويس) له خوا لاس ليک شي. که (ظهر نويس) يوازې بی د حامل له ذکره په لاس ليک کفايت کړی وی (ظهر نويسی) صحيح ده. سپينه (ظهر نويسی) د چک دظهر نويسی په خصوص کښې د (۴۸۳ تر ۴۸۸) مادو پوری مقررات د تطبيق وړ دی.

**دريمه برخه**

**ضمانت**

**۵۶۲ ماده:**

د چک ضمانت په خصوص کښې د برات د ضمانت په باره کښې د څلورمی برخی د (۴۹۹) تر (۵۰۱)

باشد. تعيين شرط در ظهر نويسی معتبر نيست. همچنين ظهر نويسی يک قسمت از مبلغ مندرجه چک صحيح نيست.

ظهر نويسی اگر از طرف مخاطب به عمل آيد، باطل است. ظهر نويسی بنام مخاطب حکم رسيد را دارد.

**مادهٔ ۵۶۱:**

ظهر نويسی يا بر خود چک يا بر يک ورقه ملحقه ديگر چک نوشته ميشود. ظهر نويسی لازم است از طرف ظهر نويس امضاء شود. اگر ظهر نويس بدون ذکر حامل تنها به امضاء اکتفا نموده باشد، ظهر نويسی صحيح است (ظهر نويسی سفيد) راجع به ظهر نويسی چک مقررات مواد ۴۸۳ الی ۴۸۸ قابل تطبيق است.

**حصهٔ سوم**

**ضمانت**

**مادهٔ ۵۶۲:**

مقررات مادهٔ (۴۹۹) الی (۵۰۱) حصهٔ چهارم راجع به ضمانت برات در خصوص ضمانت چک

مادو مقررات هم معتبر دی.

## ځلورمه برخه
## ښکارونه او ورکړه

**۵۶۳ ماده:**
چک د ضرورت له مخې د ورکړې وړ دی. هر هغه شرط چه په خلاف يې وی معتبر نه دی.

**۵۶۴ ماده:**
که چک په همغه ځای کښې چه صادر شويدی د ورکړې وړ وی نو چک لرونکی مکلف دی چه د صدور له نېټې څخه په پنځلسو ورځو کښې دهغه وجه وغواړی او که دمملکت له يوی نقطی څخه بلی نقطی ته صادر شوی وی نو ښايي چه د چک دصدور له نېټې څخه په موده د دوو مياشتو کښې وغوښتل شي.

د هغو چکانو په خصوص کښې چه له خارجه صادر شوی او بايد په افغانستان کښې ورکړل شي، هغه مقررات به چه په افغانستان کښې د صادر شويو چکونو په خصوص کښې وی رعايت شي مګر هغه موده چه ددی ډول چکانو لرونکی په هغې مودی کښې کولای شي د هغو وجه وغواړی، د صدور له نېټې

هم معتبر است.

## حصۀ چهارم
## ارائه و تادیه

**مادۀ ۵۶۳:**
چک عند الرویت قابل تادیه است هر شرطیکه بر خلاف آن باشد، غیر معتبر است.

**مادۀ ۵۶۴:**
اگر چک در همان مکانیکه صادر شده قابل تادیه باشد، دارندۀ چک مکلف است که در ظرف پانزده روز از تاریخ صدور وجه آنرا مطالبه کند و اگر از یک نقطه به نقطه دیگر مملکت صادر شده باشد، باید در ظرف دو ماه از تاریخ صدور چک مطالبه شود.

در مورد چک هاییکه از خارج صادر شده و باید در افغانستان پرداخته شود، مقررات راجعه به چک هاییکه در افغانستان صادر شده رعایت خواهد شد، ولی مدتیکه در ظرف آن دارنده این چنین چک ها میتواند وجه آنرا مطالبه کند، چهار ماه از تاریخ

ثخه ثلور میاشتې دی.

**۵۶۵ ماده:**
که د چک د صدور د محل او د ورکړې د محل تقویم مختلف وی نو د صدور د نېټې ورځ به هغه ورځ وګڼله شي چه د ورکړې د محل د تقویم له ورځې سره برابر وی.

**۵۶۶ ماده:**
که د چک لرونکی په قانونی مودوکښې د چک د وجه ورکړه ونه غواړی نو دعوی به یې ظهر نویس باندې وانه وریدله شي او که د چک وجه یو داسې سبب چه په مخاطب پوری اړه لری له منځه لاړه شي نو د چک لرونکی دعوی په صادرونکی هم ممنوع نه ده مګر مخاطب وروسته د مودې له ختم ثخه هم کولای شي چه چک ورکړی.

**۵۶۷ ماده:**
که د چک صادروونکی وروسته د هغه له صادرولو فوت یا بی اهله او بی واکه شي، د چک په اعتبار کوم تأثیر نلری.

**۵۶۸ ماده:**
د هغه څوک چه د چک وجه په لاس راوړی، باید شایې رسید کړی. لرونکی کولای شي چه یوه برخه یې

صدور است.

**مادۀ ۵۶۵:**
اگر محل صدور و محل تادیه چک تقویم مختلف داشته باشد، تاریخ صدور همان روز دانسته خواهد شد که با روز تقویم محل تادیه مطابق باشد.

**مادۀ ۵۶۶:**
اگر دارنده چک در ظرف مواعد قانونی پرداخت وجه چک را مطالبه نکند، دعوی او علیه ظهر نویس مسموع نخواهد بود و اگر وجه چک به سببی که مربوط به مخاطب است از بین برود، دعوی دارنده چک علیه صادر کننده نیز مسموع نیست؛ ولی مخاطب بعد از اختتام موعد چک هم میتواند تادیه کند.

**مادۀ ۵۶۷:**
اگر صادرکننده چک بعد از اصدار آن فوت یا واجد عدم صلاحیت و اهلیت شود، در اعتبار چک تأثیر ندارد.

**مادۀ ۵۶۸:**
کسیکه وجه چک را دریافت میکند باید ظهر آنرا رسید نماید. دارنده میتواند تادیه قسمی را قبول

قبوله کړي، په دې صورت کښې هر ځومره مبلغ چه لاس ته راوړي، د چک په شا رسيد کړي.

**۵۶۹ ماده:**
که کوم چک د ورکړې وړ داسې پولونو باندې وليکل شي چه د ورکړې د مملکت پول نه وي، د ورکړې وړ پولونه دمملکت په پولونو د ورکړې په ورځ کښې دهغه قيمت سره (دحامل په غوښتنه) په عمل راوړي.

که دښکاره کولو په وخت کښې پول تاديه شوي نه وي، دچک خاوند کولای شي چه دخپل ميل په اساس تقاضا وکړي چه زما پيسې دې د مملکت له پيسو څخه د ورځې دنرخ له مخه ارائه او يا تاديه شي. دخارجي پيسو قيمت دهغه ځای له دود سره سم ټاکل کيږي.

سره له دې صاروونکي کولای شي چه شرط کيږدي چه د ورکړې وړ مبلغ دې له هغه نرخ سره سم چه په چک کښې ليکل شوي دي، حساب شي.

**پنځمه برخه**
**مخطط (کراس) او په حساب سره دانتقال وړ چکونه**

**۵۷۰ ماده:**
صادروونکي يا چک لرونکي کولای

نمايد، دراينصورت، به اندازه مبلغيکه دريافت داشته در ظهر چک رسيد نمايد.

**مادهٔ ۵۶۹:**
اگر چکي به پولي قابل تاديه نوشته شود که پول مملکت تاديه نباشد، مبلغ قابل تاديه را ميتوان به پول مملکت مطابق به قيمت آن در روز تاديه (بخواهش حامل) بعمل آورد.

اگردر وقت ارائه پول تاديه نشده باشد دارنده چک مي تواند بر حسب ميل خود تقاضا کند که تاديه به پول آن مملکت از روی نرخ روز ارائه و يا نرخ روز تاديه به عمل آيد. قيمت پول خارجي بر طبق رواج محل تعيين ميشود.

معذالک صادر کننده ميتواند شرط گذارد که مبلغ قابل تاديه بر طبق نرخي که در چک نوشته شده است، حساب شود.

**حصهٔ پنجم**
**چک های مخطط (کراس) و چک های قابل انتقال به حساب**

**مادهٔ ۵۷۰:**
صادر کننده و يا دارنده چک ميتواند

شي چه په چک باندې خط (کراس) وکاږي. خط کښل عبارت دی دچک پر مخ له دوو متوازي کرښو څخه چه یا عام دی یا خاص.

که ددوو خطونو په منځ کښې څه شي ذکر شوی نه وی او یا د (بانکدار) یا د هغې معادله کومه بله کلمه لیکل شوی وی، دا خط کښل عام دی او که د (بانک لرونکی) نوم د دوو خطونو ترمنځ لیکل شوی وی نو دا خط کښل خاص دی. عام خط په خاص خط باندې تحویلیدای شي مګر د هغه عکس یا د خط او د بانک لرونکی او یا د بانک لرونکی دنوم محو کول جائز نه دی.

**۵۷۱ ماده:**

یو چک چه په عام طور خط ورباندې کښل شوی وی نو مخاطب یواځې (بانک لرونکی) یا خپل مشتری ته انتقال ورکولای شي. هغه چک چه په خاص ډول خط کش شوی وی نو مخاطب یې فقط هغه بانک لرونکی ته چه نوم یې لیکلی شوی او که بانک لرونکی مخاطب وی فقط خیل مشتری ته انتقال ورکولای شي. هغه بانک لرونکی چه نوم یې ذکر شوی دی کولای شي چه چک یو بل بانک لرونکی ته دتحصیل دپاره ور وسپاری. بانک لرونکی مخطط چک بیرته دخپلو

چک را خط (کراس) بکشد. خط کشیدن عبارت است از کشیدن دو خط متوازی بر روی چک که یا عام است یا خاص.

اگر در بین دو خط چیزی ذکر نشده باشد و یا کلمه (بانکدار) و یا کدام کلمه دیگری معادل آن نوشته باشد، این خط کشیدن عام است و اگر اسم (بانکدار) در بین دو خط نوشته شده باشد، این خط کشیدن خاص است. خط عام را میتوان به خط خاص تحویل داد، مگر عکس آن و یا امحای خط و بانکدار و یا اسم بانکدار جایز نیست.

**مادهٔ ۵۷۱:**

یک چک که بطور عام خط کشیده شده باشد، مخاطب تنها به (بانکدار) و یا مشتری خود انتقال داده میتواند. چکی که بصورت خاص خط کشیده شده باشد، مخاطب فقط به بانک داریکه اسم او نوشته شده و یا اگر بانکدار مخاطب باشد فقط به مشتری خود انتقال داده میتواند. بانکداریکه اسم او ذکر شده است، می تواند چک را به بانکدار دیگری برای تحصیل تسلیم کند، بانکدار چک مخطط را به جز در حساب

مشـتريانو يـا بـل بانـک لرونکـی پـه حسـاب کښېـږ معاملـه کـولای نشـي مخاطب يا بانک لرونکی چه دپورتنيو مقرراتو رعايت ونه کړی، هر هغه ضرر چه پيدا کيـږي دچک مبلـغ ترانـدازی پوری مسئول دی.

**۵۷۲ ماده:**

صـادروونکی يـا چـک لرونکـی کـولای شـي چـه د چـک نقـدی ورکـړه پـه دی صورت منـع کـړی چـه د چـک پـر مـخ عـرضـاً (پـه حـسـاب کـی د معـاملـی وړ دی) عبـارت وليـکـی (پـه حسـاب کـی د ورکـړی وړ دی) عبـارت محـوکـول له چک څخه جائز نه دی.

## شپږ مه برخه
## دنه ورکړی له امله مراجعه

**۵۷۳ ماده:**

له ورکړی څخه دمنع راوړلو په صورت کښې چک لرونکـی کـولای شـي چـه شـاليکونکو صـادروونکو او نـورو مسـئولو کسـانو تـه مراجعـه وکـړی. لرونکـی کـولای شـي چـه لـه لانـدنيو دلايلو څخه په يو دليل سره له د ورکړی څخه امتناع په اثبات ورسوی:

۱- د يـوی رسـمـی پاڼـې پـه ذريـعـه اعـتـراض.

مشـتريان خـود و يـا بـانـکـدار ديگـر نميتـوانـد معـاملـه کـنـد. مـخـاطـب يا بـانـک داريـکـه مـقـررات فـوق را رعـايـت نکنـد، بـرای ضـرريکه توليـد ميشـود تـا بـه انـدازه مبلغ چک مسئول است.

**مادۀ ۵۷۲:**

صـادر کننـده يـا دارنـده چـک ميتوانـد تـاديه نقـدی چـک را بـه اينصورت منـع کند که بر روی چک عرضـاً عبـاره (قابـل مـعامله بـه حسـاب اسـت) را بنـويسد. محـو عباره (قابل تاديـه بـه حساب است) از چک جايز نيست.

## حصۀ ششم
## مراجعه بنا بر عدم تاديه

**مادۀ ۵۷۳:**

در صـورت امـتنـاع از تاديه، دارنـده چـک مـيتـوانـد بـه ظـهـر نـويسـان صـادر کننـده چـک و اشـخاص مسـئـول ديـگـر مـراجـعـه کـنـد. دارنـده ميتـوانـد بـا يـکـی از دلايـل ذيـل امـتـنـاع از تـاديـه بـه اثبات بـرساند:

۱- اعـتـراض تـوسـط يـک ورقـه رسـمـی.

۲- د مخاطب له خوا دچک په شالیکنه سره دنېټې له قید سره.

۳- د تجارتی محکمی تصدیق چه د نېټې په قید د چک په ښکاره کولو مبنی وی.

**۵۷۴ ماده:**
اعتراض باید پخوا لـه هغې مودې تیریدلو څخه چه دښکاره کولو دپاره مقرره ده، عملی شي.

که چک په وروستنۍ مقرره ورځ ښکاره کړي شي نو اعتراض ممکن دی چه د کار په هغه ورځ چه وروسته له هغه راځي، عملی کړی شي.

**۵۷۵ ماده:**
لـه اعتراض څخه وروسته لـه ورکړی څخه دامتناع پـه صورت کښې چک لرونکی کولای شي چه خپل شالیکونکی یا صادرونکی ته د هغه کار په څلورو ورځو کښې چه د اعتراض لـه لیکلونه وروسته راځی، اطلاع ورکړي. هرشالیکونکی باید دهغه کار په څلورو ورځو کښې چه وروسته لـه اطلاع اخیستلو څخه راځی، له نه ورکړی څخه خپل پخوانی شالیکونکی ته خبر ورکړي او په دی اطلاع کښې دی د هغو کسانو نوم او

۲- تحریر در ظهر چک از طرف مخاطب با قید تاریخ.

۳- تصدیق محکمه تجارتی مبنی بر ارائه چک به قید تاریخ.

**مادۀ ۵۷۴:**
اعتراض باید قبل از انقضای مدتیکه برای ارائه مقرر است، عملی شود.

اگر چک در آخرین روز مقرره ارائه شود، اعتراض را ممکن است در روز کاری که بعد از آن می آید، عملی ساخت.

**مادۀ ۵۷۵:**
در صورت امتناع از تادیه پس از اعتراض دارنده چک میتواند به ظهر نویس خود و یا صادر کننده در داخل چهار روز کاری که بعد از تحریر اعتراض می آید اطلاع بدهد. هر ظهر نویس باید در داخل چهار روز کاری که بعد از گرفتن اطلاع می آید، از عدم تادیه به ظهر نویس ماقبل خود خبر بدهد. و درین اطلاع اسم و آدرس

ادرس ذکر کړی چه پخوانۍ اطلاع یې ورکړې ده. په همدې صورت دی په مسلسل ډول تر صادرونکی پورې ورسیږی.

اشخاصی را که اطلاع سابق را داده اند، ذکر نماید و به همین صورت، مسلسلاً تا به صادر کننده برسد.

که چک ضمانت شوی وی، باید په همغه موده کښې ضامن ته هم خبر ورکړ شي.

اگر چک ضمانت شده باشد، باید در داخل همان مدت به ضامن هم خبرداده شود.

اطلاع ممکنه ده چه چک په اعاده او یا په راجستری لیک سره د پوستی په ذریعه اجراء شي.

اطلاع ممکن است با اعاده چک و یا با مکتوب راجستری توسط پوسته اجراء شود.

د پوستې د رسید نېټې ته د اطلاع د مودې په ټاکلو کښې اعتبار ورکاوه کیږي.

تاریخ رسید پوسته در تعیین موعد اطلاع اعتبار داده میشود.

هغه څوک چه په ټاکلې موده کښې اطلاع ورنکړی، خپل حقوق له لاسه نه ورکوی، مګر که دده دغفلت له مخې کوم ضرر پېښ شوی وی، د هغه دجبران مسئول دی.

شخصیکه در داخل مدت معینه اطلاع ندهد، حقوق خود را از دست نمی دهد ولی اگر بنابر غفلت او کدام ضرری عاید شده باشد، مسئول جبران آن میباشد.

سره له هغه هم، دده د مسئولیت اندازه د چک له مندرجه مبلغ څخه زیاتیدای نشي.

معذالک، اندازه مسئولیت او از مبلغ مندرجه چک اضافه تر شده نمیتواند.

**۵۷۶ ماده:**

د چک حامل کولای شي چه پر ټولو هغو کسانو باندې چه په چک کښې مسئولیت لری، په ګډه سره

**مادۀ ۵۷۶:**

حامل چک میتواند بر علیه تمام اشخاصیکه در چک مسئولیت دارند، مجتمعاً یا

یا په یوائې صورت دعوی اقامه وکړی او پدی کار کښې دشالیکونکی د ترتیب په رعایت مکلف نه دی او همدغه حق هر یو بل تادیه کوونکی شخص هم لری. له مسئولو اشخاصو څخه چه پر یوه شخص باندې دعوی کول پر نورو اشخاصو باندې ددعوی کولو مانع نه گرځې.

**۵۷۷ ماده:**

دچک حامل یا تادیه کوونکی کولای شي چه له مسئول شخص څخه لاندنی مصارف وغواړی:

۱- د چک نه ورکړی شوی مبلغ.

۲- ټکټ پولی.

۳- د اعتراض او نورو مصارف چه متحمل شوی وی.

**۵۷۸ ماده:**

هر مسئول شخص چه د مراجعی مورد واقع شوی وی، کولای شي چه د ورکړی په بدل کښې چک سره له اعتراضه او رسیده وغواړی. هغه شالیکونکی چه چک یې اخیستی او تادیه کړی وی، کولای شي چه

منفرداً اقامه دعوا نماید و درین کار مکلف به رعایه ترتیب ظهر نویسی نمیباشد و همین حق را هر شخص تادیه کننده دیگر نیز دارا میباشد دعوی بر علیه یکی از اشخاص مسئول، مانع دعوی بر علیه اشخاص دیگر نیست.

**مادهٔ ۵۷۷:**

حامل چک یا تادیه کننده میتواند از شخص مسئول مصارف ذیل را مطالبه کند:

۱- مبلغ تادیه ناشده چک.

۲- تکت پولی.

۳- مصارف اعتراض و غیره که متحمل شده باشد.

**مادهٔ ۵۷۸:**

هر شخص مسئول که مورد مراجعه واقع شده باشد، میتواند در بدل تادیه چک را با اعتراض و رسید تقاضا نماید. ظهر نویسی که چک را گرفته و تادیه نموده باشد، میتواند ظهر نویسی خود و ظهر

خپلــه شالیکنــه او د وروستیــو شالیکونکو شالیکنی باطله کړي.

نــویــسی ظهــر نویســان مـابعــد را ابـطال نمـایـد.

## اوومه برخه
## د چک د نسخو تعدد

## حصهٔ هفتم
## تعدد نسخه های چک

**۵۷۹ ماده:**
پــه متعــددو نسخــو د چــک صــدور ممکــن دی.

پـدی صـورت کښـې بایـد هـره نسـخه واحـده نمـره ولـری او پـه هغـه کښـې تصریح شي چه د نسخو شمیر څو دی او د لـومـړۍ نسخـی پـه موجـب وجه د ورکـړې وړ ده.

**مادهٔ ۵۷۹:**
صدور چک به نسخـه هـای متعـدد ممکـن است.

دراینصورت بایـد هـر نسـخـه دارای نـمـرهٔ واحـد بـوده و در آن تصریــح شـود کـه تعداد نسخه چند است و بــه مـوجــب نسخــه اول وجــه قابـل تـادیـه میبـاشد.

**۵۸۰ ماده:**
څرنګـه چه د لـومړی نسخی پـه ذریعـه ورکړه اجراء شي، نوری نسخی یې لـه اعتباره وتلی دی.

**مادهٔ ۵۸۰:**
چــون تـادیــه بذریعــه نسخــهٔ اول صـورت گرفتـه، نسـخه هـای دیگـر از اعتبار ساقط است.

## اتمه برخه
## ساخته کاری او تحریفات

## حصهٔ هشتم
## ساخته کاری و تحریفات

**۵۸۱ ماده:**
د **۵۳۶** او**۵۳۷** مـادو احکـام چـه پـه سـاخته کـاري او تحریفـاتو پـوری اړه ولـری د چــک پــه بــاره کښــې هــم مرعـی الاجـراء دی.

**مادهٔ ۵۸۱:**
احکــــــام مــــواد **۵۳۶** و **۵۳۷** کــــه مربــوط ساختــه کـاری و تـحریفـات مــیـبـاشـــد در بـــارهٔ چـــک نیـــز مـرعــی الاجـراء است.

## نهمه برخه
## د زمانی تېرېدل

**۵۸۲** ماده:
هغه دعوی چه حامل یې په شالیکونکو او صادروونکو باندې کوی د ښکارونی د مودی له تیریدو څخه شپږ میاشتې وروسته ساقطیږی.
همدا ډول د هر یوه مسئول دعوی د وجه د ورکړی له نېټې څخه شپږ میاشتې وروسته ساقطیږی.
د **۵۳۹** مادی حکم د چک په باره کښې هم معتبر دی.

**۵۸۳** ماده:
د (**۵۴۰** او **۵۴۱**) مادو عمومی احکام چه د برات او حجت په خصوص کښې دی، د چکونو په باره کښې هم د تطبیق وړ دی.

## څلورم فصل
## د تجارتی اسنادو ضیاع

**۵۸۴** ماده:
که د یوه تجارتی سند حامل خپل مالکیت د بلا انقطاع شالیکنو په ذریعه په اثبات ورسوی، مجبور نه دی چه هغه وجه چه اخیستی یې ده اعاده کړی؛ مګر دا چه ثابت شي چه هغه یې په غیر قانونی

## حصۀ نهم
## مرور زمان

مادۀ **۵۸۲**:
دعاوی ایکه حامل علیه ظهر نویس ها و صادر کننده اقامه میکند، شش ماه بعد از انقضای مدت ارائه ساقط است.
همچنین دعوی هر یک از مسئولین از تاریخ تادیه وجه بعد از انقضای شش ماه ساقط میشود. حکم مادۀ (**۵۳۹**) دربارۀ چک نیز معتبر است.

مادۀ **۵۸۳**:
احکام عمومیه مواد (**۵۴۰** و **۵۴۱**) که راجع به برات و حجت میباشد، درباره چک ها نیز قابل تطبیق است.

## فصل چهارم
## ضیاع اسناد تجارتی

مادۀ **۵۸۴**:
اگر حامل یک سند تجارتی مالکیت خود را ذریعه ظهر نویسی های بلا انقطاع به اثبات برساند، مجبور نیست وجه آنرا که اخذ نموده اعاده بدارد؛ مگر اینکه ثابت شود که آنرا به ذرایع غیر قانونی

ذريعو په لاس راوړی دی.

**۵۸۵ ماده:**

تجارتی سند چه له حامل څخه ورک شوی وی، کولای شي چه دهغه بطلان په مربوطه محکمه کښې چه تجارتی دعوو په اوریدو مکلفه دی، وغواړی.

د تملک او ورکړی سند او کیفیت ته دې تر وسی پورې شرح ورکړی.

پدې صورت چه محکمه د درخواست کوونکی دلائل کافی وبولی، که د برات ورک شوی سند قبول شوی وی نو هغه قبلونکی ته، او که دچک یا برات سند قبول شوی نه وی نو هغه صادرونکی او مخاطب ته، او که سند د حامل په وجه کی وی نو مخاطب ته د هغه د وجه د نه ورکړی امر په تحریری ډول ورکوی.

د سند محتویات او دهغه د ارائې لزوم په دوو میاشتو کښې د رسمی او غیر رسمی جریدو په ذریعه درې کرته اعلانوی.

ددی مودې په پای کښې به د سند په ابطال کښې لازم تصمیم ونیسی.

دا موده د هغه سند په باره کښې چه موده یې پوره شوی وی په رسمی

بدست آورده است.

**مادهٔ ۵۸۵:**

سند تجارتی ایکه از نزد حامل مفقود شده باشد، میتواند بطلان آنرا در محکمهٔ مربوطه که مکلف به استماع دعاوی تجارتی است، ادعاء نماید.

سند و کیفیت به تملک و فقدان را حتی الامکان شرح دهد.

در صورتیکه محکمه دلائل درخواست کننده را کافی بداند، اگر سند مفقود برات قبول شده باشد، آنرا به قبول کننده و اگر سند چک یا برات قبول ناشده باشد، به صادر کننده و مخاطب اگر سند در وجه حامل باشد، به مخاطب عدم تادیه وجه آنرا تحریراً امر میدهد.

محتویات سند و لزوم ارائه آنرا در ظرف دو ماه توسط جراید رسمی و غیر رسمی سه مرتبه اعلان می نماید.

در ختم این مدت تصمیم لازم را در ابطال سند اتخاذ خواهد نمود.

این مدت راجع به سندیکه موعد آن به سر رسیده باشد، سر

جريدو کښې د نشر شوی اعلان د نېټې له سره او د هغه سند په باره کښې چه موده يې له دريم اعلان څخه وروسته پوره کيږي، د هغه د مودې د پوره کيدو له سره او دهغه سند په باره کښې چه ورکړه يې په ښکارونه پوری مشروطه وی او ددريم اعلان په نېټه کښې دهغه دښکارونی موده لاتـه وی رسيدلی، د ښکارونی د مودې د وروستۍ ورځی له سره معتبر دی.

از تاريخ اعلان منتشره در جريدۀ رسمی و درباره سنديکه موعد آن بعد از اعلان سوم بسر ميرسيد ، سر از تاريخ به سر رسيدن موعد آن و راجع به سنديکه تاديه آن مشروط به ارائه بوده و در تاريخ اعلان سوم مدست ارائه آن هنوز نرسيده باشد ، سر از روز اخير مدت ارائه معتبر است.

**۵۸۶ ماده:**

هغه څوک چه د سند بطلان غواړی، کولای شي چه د سند د اساسی محتوياتو په خصوص کښې يوه بيانيه ترتيب کړی او په هغه موده او محل کښې چه قانوناً ټاکلی شوی وی، مخاطب ته وروليږی همدغه پاڼه د ورکړی او نه ورکړی او ښکارونه په خصوص کښې د اعتراض په منزله ګڼل کيږي.

**مادۀ ۵۸۶:**

شخصيکه خواهش بطلان سند را مينمايد ، ميتواند بيانيۀ مبنی بر محتويات اساسی سند ترتيب و در مدت و محليکه قانوناً تعيين شده باشد ، به مخاطب ارسال نمايد . همين ورقه راجع به تاديه و عدم تاديه و رؤيت به منزله اعتراض تلقی ميشود .

**۵۸۷ ماده:**

که سند د هغې مودې په پای کښې چه ټاکلی شوی ده ښکاره نشي نو محکمه کولای شي چه د مدعی د غوښتنې په اثر دسند دابطال په باره کښې حکم صادر کړی او هغو کسانو ته يې چه په (**۵۸۵** ماده کښې

**مادۀ ۵۸۷:**

اگر سند در خاتمۀ مدتی که تعيين شده ارائه نشود ، محکمه ميتواند در اثر تقاضای مدعی، راجع به ابطال سند حکم صادر و به اشخاصيکه در مادۀ (**۵۸۵**) ذکر

ذکر شوی دی ابلاغ کړی.

شده ابلاغ نـمـايد.

د حـکـم د ابـطال پـه موجب مـدعی د ضـايع شـوی اصـل سند د خاونـد پـه توګـه خپـل حقـوق د بـرات لـه قبلوونکی او کـه برات قبول شوی نـه وی او يـا حجـت او چـک وی نـو لـه صادرونکی څخه وغواړی.

بموجـب حکـم ابـطال، مـدعی مثـل اينکـه اصـل سند ضـايع شـده را مـالک بـاشد، حقوق خود را از قبول کننـده بـرات و اګـر بـرات قبـول نـشده بـاشد و يـا حجت و چک باشد، از صادرکـننده مطالبه نمايد.

هغه څوک چه په ده باندې دعوی کيږی حق لـری چـه د حکـم د صـدورله نېټې څخه تـر يـوې مياشتې پورې محکمی تـه رجـوع وکـړی او د محکـوم لـه نـه استحقاق په اثبات ورسوی.

شـخصيکـه عليـه او دعـوی ميشـود حـق دارد کـه از تـاريخ صـدور حکـم تـا يـک مـاه بـه محکمـه رجوع و عدم استحقاق محکوم له را به اثبات برساند.

**۵۸۸ ماده:**

که سند د اعلان د مودې تر پايه پوری تاکلی محکمی ته ښکاره کړې شي نـو محکمـه د ابـلاغ پـه خصـوص کښـې د (**۵۸۵**) مادې هدايت اجراء کـوی او لـه اصول سره سم په دعوی رسيدګی کـوی او حکم صادروی.

**مادهٔ ۵۸۸:**

اګـر سـند الـی ختـم مـدت اعـلان بـه مـحـکمـهٔ مـعيـيـن ارائـه شـود، محکـمـه هـدايـت مـادهٔ (**۵۸۵**) راجع بـه ابـلاغ را اجراء و مطابـق اصول بـه دعـوی رسيدګـی نـموده؛ حـکـم صادر می نمايد.

## ځلورم باب
## تجارتی تعهدات

## باب چهارم
## تعهدات تجارتی

### لومړی فصل- عمومي احکام

### فصل اول- احکام عمومی

**۵۸۹ ماده:**

کـه دوه تنـه يـا زيـات کسـان د يـوی معـاملی په ضمن کښې چه که يو تـن تـه

**مادهٔ ۵۸۹:**

اګر دو شـخص و يـا اشـخاص متعـدد در ضمن يک معاملهٔ که خواه برای يک

یا دوی ټولو ته تجارتی ماهیت ولری د دریم کس په مقابل کښې په ګډه سره تعهد وکړی، په دی صورت چه دهغه په خلاف په قرارداد کښې تصریح شوی نه وی نو په ګډه سره مسئول بلل کیږي. عین همدغه حکم پرهغو کسانو باندې چه د پورونو ضمانت کوی هم تطبیقیږی.

نفر و یا همه ایشان ماهیت تجارتی را دارا باشد در مقابل شخص ثالثی مشترکاً داخل تعهد شوند، درصورتیکه خلاف آن در قرارداد تصریح نشده باشد، مجتمعاً مسئول شمرده میشوند. عین همین حکم بر اشخاصیکه ضمانت دیون را می نمایند نیز تطبیق میشود.

**۵۹۰ ماده:**

هغه پیسې چه دکوم تجارتی عقد په نتیجه کښې یې ورکړه ضروری وګرځې او په دننه د مملکت کښې قانونی رواج ونه لری نو د هغو د وعدي په تیریدو کښې نظر د ورځې نرخ ته د هغو تبدیل په افغانی سره جائز دی.

**مادهٔ ۵۹۰:**

پولیکه در نتیجه کدام عقد تجارتی واجب التادیه شود و در داخل مملکت رواج قانونی نداشته باشد، در انقضای وعده تبدیل آن نظر به نرخ روز به پول افغانی جائز است.

مګر د خارجی پیسو د ورکړی د عقد په وخت کښې چه قانوني رواج ونه لری تصریح شي او یا په دی معنی کوم بل عبارت استعمال شوی وی نو د عین خارجی پیسو د ورکړی شرط معتبر دی.

لیکن اگر در حین عقد تادیه پول خارجی که رواج قانونی نداشته باشد تصریح شود و یا به این معنی کدام عبارت دیگری استعمال شده باشد شرط تادیه عین پول خارجی معتبر است.

**۵۹۱ ماده:**

هغه څوک چه خپل تجارتی تعهد د حیلی او تقصیر په اثر په ځای نکړی او یایې په ځای کولو کښې ځنډ وکړی نو وروسته له هغه چه رسماً یا د راجستری لیك په لیږلو هغه ته

**مادهٔ ۵۹۱:**

شخصیکه تعهد تجارتی خود را در اثر حیله و تقصیر ایفاء نکند و یا در ایفای آن تأخیر نماید، بعد از اینکه رسماً و یا به ارسال مکتوب راجستری به او

اخطار کيږي، مجبور دی چه هغه خساره چه متعهدله ته پيښه شوی ده سره له هغې ګټې چه ورڅخه محروم شوی دی، جبران کړی.

مجبره اسباب (فورس ماژور) له دې حکم څخه وتلی دی.

**۵۹۲ ماده:**

که متعهد خپل تعهد مات کړی او يا کوم تعهد چه په مطلق صورت په يوه ټاکلی وخت او يا په يوه ټاکلی موده کښې لازم الاجراء وی په ځای نکړی او يا د تعهد موضوع د يوه عمل له نه کولو څخه عبارت وی او هغه اجراء کړی، بی له اخطاره د خساری د جبران دعوی کيدلی شي.

**۵۹۳ ماده:**

که هغه مبلغ چه په تعهد کښې د خساری د جبران په نامه ټاکلی شوی وی د هغې ګټې له اندازی څخه چه متعهد له د تعهد په ځای کولو په صورت کښې حاصلوله زيات هم شي، محکمه کولای نشي چه اندازه يې ټيټه کړی.

پدې صورت چه په قرارداد کښې د هغه په خلاف کوم صراحت نه وی نو متعهدله د هغه مبلغ په اخيستلو چه د

اخطار میشود مجبور است که خسارهٔ را که متعهدله دچار شده با مفادیکه از آن محروم گردیده جبران کند.

اسباب مجبره (فورس ماژور) ازین حکم مستثنی است.

**مادهٔ ۵۹۲:**

اگر متعهد تعهد خود را نقض نماید یا تعهدی را که بصورت مطلق در یک وقت معین و یا در ظرف یک مدت معین لازم الاجراء باشد ایفاء ننماید و یا موضوع تعهد عبارت از نکردن یک عمل باشد و آنرا اجراء نماید، بدون اخطار دعوی جبران خساره شده میتواند.

**مادهٔ ۵۹۳:**

اگر مبلغی که در تعهد بنام جبران خساره معین شده باشد از مقدار منفعتی که متعهدله در صورت ایفای تعهد حاصل مینمود اضافه هم شود، محکمه نمیتواند اندازهٔ آنرا تنزیل دهد.

در صورتیکه برخلاف آن در قرارداد صراحت نباشد، متعهدله به اخذ مبلغیکه

خساری د جبران په نامه يې مقرر کړېدی د تعهد د په ځای کولو په عوض نه مجبوريږي.

که هغه ضرر چه متعهدله په هغه باندې اخته شي، هغه مبلغ څخه چه د خساری د جبران په نامه ټاکل کيږي زيات وی نو په دی صورت که په قرارداد کښې د هغه په خلاف کوم صراحت موجود نه وی نو متعهد مجبور دی چه هغه اضافه مبلغ هم تاديه کړی.

بنام جبران خساره مقرر داشته است به عوض ايفای تعهد مجبور نميشود.

اگر ضرريکه متعهد له به آن دچار شود از مبلغی که بنام جبران خساره معين ميشود زيادتر باشد، در صورتيکه در قرارداد صراحتی بر خلاف آن موجود نباشد، متعهد مجبور است مبلغ اضافی را هم تاديه کند.

**۵۹۴ ماده:**

که د تعهد نه په ځای کېدل دداسی علت په اثر وی چه له پخوا څخه د پيش بينی وړ نه وی او يا د پوروال له تقصير څخه پيدا شوی وی او يا د تعهد په اجراء کښې د متعهدله له خوا د احتراز قيد قبول شوی وی، متعهد په هيڅ ډول د خساری په جبران مکلف کيدای نشي.

**مادهٔ ۵۹۴:**

اگر عدم ايفای تعهد در اثر علتی باشد که قبلاً قابل پيش بينی نبوده و يا از تقصير دائن توليد شده و يا در اجرای تعهد قيد احترازی از جانب متعهدله قبول شده باشد، متعهد به هيچ نوع به جبران خساره مکلف شده نميتواند.

**۵۹۵ ماده:**

د بيعانی ورکول د عقد دليل بلل کيږي. د طرفينو د تعهد په ځای کولو په حال کښې بيعانه محاسبه کيږي.

که عقد د طرفينو په رضا او يا نظر کوم بل سبب ته چه د خساری د جبران موجب نه وی فسخ شي نو بيعانه بيرته

**مادهٔ ۵۹۵:**

دادن بيعانه دليل عقد شمرده ميشود درحال ايفای تعهد طرفين بيعانه محاسبه ميشود. اگر عقد در اثر رضای طرفين ويا نظر به سبب ديگريکه موجب جبران خساره نباشد فسخ گردد، بيعانه

خپل خاوند ته ورکوله کیږي.

**۵۹۶ ماده:**

په دی صورت چه دهغه په خلاف په قرارداد کښې او یا په تجارتی عرف کښې مقررنه وی نو هغه طرف چه د خپل تقصیر په اثر تعهد نه په ځای کوی که یې بیعانه ورکړی وی د هغې د غوښتنې حق نه لری او که کوم شخص د خپل تقصیر له مخې تعهد په ځای نکړی نو د بیعانی اخیستونکی برسېره په بیعانی بیرته ورکولو مجبور دی چه د هغې معادل هم مقابل جانب ته ورکړی.

په دواړو صورتونو هغه طرف چه خپل تعهد په ځای نکړی، مجبور دی چه د هغه بل طرف خساره که څه هم د بیعانی له پیسو څخه زیاتی وی، ورکړی.

**۵۹۷ ماده:**

که یو له طرفینو څخه د ټاکلی مبلغ د ورکړی یا د ورکړی د وعدی په مقابل کې له عقد څخه د رجوع حق ځان ته شرط ایښی وی نو د مقابل طرف د تعهد په ځای کولو شروع او یا د تعهد په ځای کولو قبول د رجوع د حق د اجراء مانع ګرځي.

به صاحب آن اعاده میشود.

**مادۀ ۵۹۶:**

درصورتیکه برخلاف آن در قرارداد ویا عرف تجارتی مقرر نباشد، طرفیکه در اثر تقصیر خود به ایفای تعهد نمی پردازد، اگر بیعانه داده باشد، حق مطالبه آنرا ندارد و اگر شخصی تعهد را بنابر تقصیر خود ایفاء نکند، گیرنده بیعانه علاوه از اعاده بیعانه مجبور است که معادل آنرا هم بجانب مقابل بپردازد.

در هردو صورت طرفیکه تعهد خود را ایفاء نکند، مجبور است خساره طرف دیگر را ولو اینکه از پول بیعانه اضافه هم باشد، جبران کند.

**مادۀ ۵۹۷:**

اگر یکی از طرفین در مقابل تادیه و یا وعده تادیه مبلغ معین، حق رجوع از عقد را برای خود شرط گذاشته باشد، شروع ایفای تعهد و یا قبول ایفای تعهد طرف مقابل مانع اجرای حق رجوع میگردد.

**۵۹۸ ماده:**

د تجارتي پور تکټ پولي وروسته له ټاکلیو ورځو تیریدو څخه او دټاکلي مودې د تعیین په صورت کښې د اخطار له نېټې څخه حسابیږي.

**۵۹۹ ماده:**

هغه څوک چه تجارتي اوصاف ولري او یوه تن تاجر یا غیر تاجر ته داسې یو کار وکړي چه دده له تجارتي ایجاباتو څخه وي او یا یې په بل صورت ګټه په لاس راوړې وي، حق لري چه د هغه کار عوض وغواړي او وایې خلي.

برسیره پر دې، حق لري هغه مبلغ چه دکار د اجراء او یا د ګټې په لاس راوړلو د پاره یې په پیشکي ډول ورکړې وې او هغه مصارف چه لګولي یې وې د لګښت له نېټې څخه سره له تکټ پولۍ وغواړي.

**۶۰۰ ماده:**

تکټ پولي په تجارتي چاروکښې د دواړو خواوو په موافقه په آزاد ډول ټاکل کیدای شي.

**۶۰۱ ماده:**

تجارتي تعهد په داسې محل کښې چه په قرارداد کښې ټاکلی شوی وی او که

**مادۀ ۵۹۸:**

تکت پولی دین تجارتی بعد از انقضای ایام معین و درصورت تعیین موعد معین از تاریخ اخطار حساب میشود.

**مادۀ ۵۹۹:**

شخصیکه واجد اوصاف تجارتی بوده برای یکنفر تاجر و یا غیر تاجر عملی را انجام دهد که از ایجابات تجارتی وی باشد و یا بصورت دیگری تحصیل منفعت نموده باشد، حق دارد عوض آن عمل را مطالبه و اخذ نماید.

علاوه بر این حق دارد مبلغی را که برای اجرای کار و یا تحصیل منفعت بطور پیشکی داده و مصارفی را که بعمل آورده باشد، از تاریخ مصرف با تکت پولی طلب نماید.

**مادۀ ۶۰۰:**

تکت پولی در امور تجارتی به اساس موافقه جانبین آزادانه تعیین شده میتواند.

**مادۀ ۶۰۱:**

تعهد تجارتی در محلی که در قرارداد معین شده و اگر در

په قرارداد کښې ځای نه وي ټاکل شوی نو په داسې محل کښې چه نظر د تجارت ماهيت او مقصد ته ضمناً ټاکل کيدای شي، لازم الاجراء دی. که د اجراء محل په قرارداد کښې تصريح شوی نه وي او ضمناً هم ونشي ټاکليدای نو متعهد مجبور دی چه خپل تعهد په هغه محل کښې چه دده تجارت خانه وي او که تجارت خانه ونه لري نو د خپلې استوګنې په ځای کښې اجراء کړي.

قرارداد معين نشده باشد، در محلی که نظر به ماهيت و مقصد تجارت ضمناً معين شده ميتواند، لازم الاجراء است. اگر محل اجراء در قرارداد تصريح نشده و ضمناً نيز معين شده نتواند، متعهد مجبور است تعهد خود را به محليکه تجارت خانه او ميباشد و اگر تجارت خانه نداشته باشد، در محل اقامت خويش اجراء کند.

**۶۰۲ ماده:**

د يوه مبلغ د تسويې تعهد که د هغه په خلاف په صريح يا ضمني ډول په قرارداد کښې ذکر شوی نه وي د پوروال د تجارتخانې په محل کښې او که تجارت خانه موجوده نه وي نو دده د استوګنې په شخصي ځای کښې په ځای کيږي او پوروړی د تسويې د لګښت او خسارې د غوښتنې حق نه لري.

**مادۀ ۶۰۲:**

تعهد تسويه يک مبلغ اگر برخلاف آن بطور صريح يا ضمنی در قرارداد ذکر نشده باشد، در محل تجارت خانۀ دائن و اگر تجارت خانه او موجود نباشد، در اقامتگاه شخصی او ايفاء ميشود و مديون حق مطالبه مصارف و خساره تسويه را ندارد.

**۶۰۳ ماده:**

د يوه تعهد د په ځای کولو غوښتنه چه د اجراء وخت يې په مقاوله کښې ټاکلی شوی نه وي، په هر وخت کښې ممکن دی. مګر هغه تعهد چه نظر و عرف او د معاملې څرنګوالی ته له عقد څخه د يوې ټاکلې مودې له تيريدو څخه

**مادۀ ۶۰۳:**

خواهش ايفای يک تعهد که زمان اجرای آن در مقاوله تعيين نگرديده باشد، در هر زمان ممکن است وليکن تعهديکه نظر به عرف و يا چگونگی معامله بعد از مرور يک مدت معين از

وروسته د اجراء وړوی نشي کولای چه متعهد ددې مودې له تېریدو څخه پخوا په اجراء باندې مجبور کړي.

**۶۰۴ ماده:**
که شرط شوی وی چه تعهد د هغې مودې په منځ کښې چه صراحتاً یا ضمناً ټاکلی شویده اجراء شي نو لازم دی چه د هغې مودې له ختم نه پخوا اجراء شي.

او که د ختم موده د عمومی تعطیل له ورځې سره سمه وی نو د ختم له ورځې څخه دې لږ تر لږه یوه ورځ پخوا اجراء شي. که پوروړی د مودی له ختم څخه پخوا د پور د ورکړې اجازه ولری په دی صورت چه د هغه په خلاف کوم عرف او عادت وجود ونلری، نشي کولای چه بی د پوروال له رضا څخه پور ټیټ کړي.

**۶۰۵ ماده:**
که د هغو شیانو چه تسلیم یې تعهد شوی دی د ډول او وصف په خصوص کښې په مقاوله کښې کومه تصریح موجوده نه وی، متعهد کولای شي چه له هغو شیانو څخه چه وصف او نوعیت یې متوسط وی ورکړي؛ مګر په هغه شان چه متعهد د اعلی جنس په ورکولو باندې مجبور ندی، د ادنی

عقد قابل ایفاء باشد، نمیتوان متعهد را قبل از انقضای مدت مذکور به ایفاء مجبور ساخت.

**مادۀ ۶۰۴:**
اگر شرط شده باشد که تعهد در بین مدتیکه صراحتاً و یا ضمناً تعیین شده ایفاء گردد، لازم است قبل از ختم آن مدت اجراء شود.

اگر ختم مدت مصادف با روز تعطیل عمومی باشد، اقلاً یکروز قبل از روز ختم ایفاء گردد. اگر مدیون قبل از ختم موعد اذن تادیه دین را داشته باشد، در صورتیکه عرف و عادتی بر خلاف آن وجود نداشته باشد، نمیتواند بدون رضای دائن دین را تنزیل کند.

**مادۀ ۶۰۵:**
اگر در مقاوله راجع به نوع و وصف اشیایی که تسلیم آن تعهد شده است تصریحی موجود نباشد، متعهد میتواند از اشیایی که دارای وصف و نوعیت متوسط باشند بدهد؛ ولی همانطوریکه متعهد مجبور به دادن جنس اعلی نیست، به دادن

جنس ورکول هم ورته مجاز نه دی.

**۶۰۶ ماده:**

هغه عقد چه پر دواړو طرفو باندې الزام ړدی ترڅو یو طرف خپل تعهد په ځای نکړی، بل طرف د تعهد په اجراء کولو باندې مجبور نه دی، مګر که یو طرف نظر د قرارداد صراحت او یا د معاملی ماهیت او یا نظر و جاری عرف ته یو طرف د تعهد په اجراء باندې تر بل طرف له پخوا څخه مکلف وی که څه هم بل طرف خپل تعهد نه وی اجراء کړی، د هغه تعهد په اجراء باندې مکلف دی.

**۶۰۷ ماده:**

په دې صورت چه یو طرف خپل تعهد اجراء کړی او بل طرف یې اجراء نکړی نو اجراء کوونکی کولای شي چه یوه اطلاعیه ولیږی په دی شان چه که بل طرف په مناسبه موده کښې تعهد اجراء کولو ته اقدام ونکړی نو عقد به فسخ شي او پس له هغه محکمی ته مراجعه او د قرارداد فسخ غوښتلی شي. هغه طرف چه د فسخ دپاره محکمی ته مراجعه کوی، د تعهد د اجراء تقاضا نشي کولای د فسخ د دعوی له اقامی نه وروسته څرنګه چه محکمه نشي کولای مدعی علیه ته د تعهد د اجراء دپاره مهلت ورکړی، په همغه صورت

جنس ادنی هم مجاز نمیباشد.

**مادهٔ ۶۰۶:**

عقدیکه طرفین را الزام مینماید تایک طرف تعهد خویش را ایفاء نکند، طرف دیگر به ایفای تعهد مجبور نیست، لیکن اگر یکطرف نظر به صراحت قرارداد و یا ماهیت معامله و یا نظر به عرف جاریه مقدمتر از طرف دیگر به اجرای تعهد مکلف باشد ولو که طرف دیگر تعهد خود را ایفاء ننموده باشد، به اجرای تعهد مذکور مکلف است.

**مادهٔ ۶۰۷:**

در صورتیکه یکی از طرفین تعهد خود را ایفاء نماید و طرف دیگر اجراء نکند، اجراء کننده میتواند یک اطلاعیه ارسال کند مبنی بر اینکه اگر طرف دیگر به ایفای تعهد در ظرف مدت مناسب اقدام نکند، عقد فسخ خواهد شد و پس از آن به محکمه مراجعه و فسخ قرارداد را مطالبه میتواند. طرفیکه به محکمه برای فسخ مراجعه میکند ایفای تعهد را تقاضا نمیتواند. بعد از اقامه دعوی فسخ همان طوریکه محکمه نمیتواند به مدعی علیه برای ایفای تعهد مهلت بدهد، به

نشي کولای هغه پیشنهاد چه دمدعی علیه له خوا د تعهد د اجراء په نسبت کیږي، قبول کړي. که د عقد فسخ په یوه شرط پوری معلقه وی او یا د هغه د اجراء دپاره صراحتاً یا ضمناً یوه موده ټاکلې شوی وی، د شرط له تحقق او یا دبل طرف د مودی له تیریدو څخه وروسته د هغې غوښتنې په قبلیدو چه د تعهد د اجراء په خصوص کښې د متعهد له خوا کیږی، نه مجبوریږی.

همان صورت نمیتواند پیش نهادی را که از جانب مدعی علیه به نسبت ایفای تعهد میشود، قبول کند. اگر فسخ عقد معلق به یک شرط باشد و یا برای اجرای آن صراحتاً و یا ضمناً مدتی معین شده باشد، بعد از تحقق شرط و یا مرور مدت طرف دیگر به قبول خواهشی که از جانب متعهد راجع به ایفای تعهد میشود مجبور نمیگردد.

## دوه یم فصل
## تجارتی عقدونه

## فصل دوم
## عقود تجارتی

### لومړۍ برخه
### د انعقاد صورت

### حصهٔ اول
### صورت انعقاد

**۶۰۸ ماده:**
د تجارتی عقدونو د پاره د دواړو خواوو رضا او موافقت کافی دی. د قرارداد تنظیم او د نورو مراسمو اجراء کول لزوم نلری.

**مادهٔ ۶۰۸:**
برای عقود تجارتی رضاء و موافقت طرفین کافیست. تنظیم قرارداد و یا ایفای مراسم دیگر لزوم ندارد.

**۶۰۹ ماده:**
که د قانون له مخې د عقد دپاره د یوه مخصوص شکل رعایت په تحریری ډول لازم وی او یا دواړه خواوې عقد د ځینو مراسمو د اجراء پوری لکه د مقاولی تنظیم موقوف پری ایښی وی نو ترهغه وخته پورې چه ددې شکل

**مادهٔ ۶۰۹:**
اگر قانوناً برای عقد رعایت شکل مخصوص تحریراً لازم باشد و یا طرفین عقد را به ایفای بعضی مراسم مانند تنظیم مقاوله موقوف گذاشته باشند، تا زمانیکه

رعایت ونشي او یا ټاکلی مراسم اجراء نشـي، عقـد نـه اجـراء کیـږي. پـه دی صورت چه دواړو خواوو د قرارداد په تنظیم باندې موافقت سره کړی وی داسی بلل کیږي چه د عقد تړل یې د قرارداد پـه تنظیم پورې موقوف پری ایښی دی.

که قرارداد تنظیم شوی هم نـه وی مګر ثابت شي چه دواړو خواوو عقد تړلی بللی دی نو د قرارداد نـه تنظیم د عقد د نه تړلو سبب نه ګڼل کیږي.

۶۱۰ ماده:

که ایجاب د قبول دپاره د یوې ټاکلی مودی د تعیین په صورت شوی وی نو په دی صورت چه دواړه خواوی حاضر هم وی ایجاب کوونکی نشي کولای چه د ټاکلی مودی له تیریدو څخه پخوا له ایجاب څخه تیر شي. که ایجاب بی د مودی له ټاکلو نه شوی وی نو اعتبار یې نه پاتی کیږي په دی شرط چه د دواړو خواوو د حاضر والی په صورت کښې قبول فوراً نـه وی واقع شـوی. د هغه عقد چه د مخابراتی وسیلو پـه ذریعه لکه په تیلفون سره وشي، د هغه عقد حکم لری چه په حضور سره شوی وی.

شـکل مـذکور رعایـت و یـا مراسـم معینـه اجـراء نشـود ، عقـد صـورت نمیگیـرد . درصـورتیکه طـرفین بـه تنظـیم قـرارداد موافقـت نمـوده باشـند ، چنـان دانسـته میشـود کـه انعقـاد عقـد را بـه تنظـیم قـرارداد ملتوی گذاشته اند .

اگر قرارداد تنظیم هم نگردیده ولی ثابت شود که طرفین عقد را منعقد دانسته اند ، عدم تنظیم قرارداد سبب عدم انعقاد عقد شمرده نمیشود .

مادۀ ۶۱۰:

اگـر ایـجاب بصـورت تعیـین یـک مـدت معـین بـرای قبـول بعمـل آمـده باشـد ، در صـورتیکه طـرفین حاضـر هـم باشـند ، ایـجاب کننـده نمیتوانـد قبـل از انقضـای مـدت معینـه از ایجـاب منصـرف شـود . اگـر ایجـاب بدون تعیین مدت بـعمل آمده باشد اعتبار آن باقی نمیماند ؛ مشروط به اینکه در صورت حاضر بودن طرفین قبـول فـوراً واقـع نشـده بـاشد . عقدیکه ذریعه وسایل مخابراتی از قبیل تیلفون وقوع مییابد ، در حکم عـقدیسـت کـه حضـوراً بـه عمـل آمده باشد .

۶۱۱ ماده:

د هغـه ایجـاب دپـاره چـه دلیکنـی پـه صـورت واقـع کیـږي کـه مـوده نـه وی ټاکلی شوی نـو ایجاب کـوونکی نشـي کولای پخوا له هغې مودې تېرېدو څخه چه دعرف له مخې قبول کوونکې تـه د فکر کولـو او د قبـول د جـواب ورکولـو دپـــاره د هـــغې تېرېـــدل لازم دی لـــه ایجاب څخه تیـرشي.

مادۀ ۶۱۱:

بـرای ایجابیکـه بـــــصورت تحریـر واقـع مـــیشود اگـــر مـــدت تعیـــین نشــــده بــــاشد، ایجــــاب کــــننده نمیتوانــــد قــــبل از انــــقضای مــــدتیکه عــــرفاً بــــرای تفکر و دادن جـــواب قبـــول از جـــانـــب قـــبـــول کــنــنـــده مـــرور آن لازم اســـت از ایـــجاب منصرف شود.

۶۱۲ ماده:

د قبول ځواب بایـد پـه یـوه ټاکلی مـوده کښې چه ایجاب کوونکی ته ورسیدای شي ولیږل شي.

او کـه ځـواب د مـودې لـه تیریدونـه وروسته ورسیږی، عقـد نـه تـاړه کیـږي. مگر که معلوم شي چه د قبول جواب پـه ټاکلی لازمه موده کښې ور رسـول شـوی دی نو ایجاب کوونکی مجبور دی چه د ځواب د ځنډیدو پـه خصـوص کښـې فـوراً مقابـل جانـب تـه دعقـد د نـه تړلـو خبر ورکړی او که نه دا عقد تاړه کیږي.

مادۀ ۶۱۲:

جـواب قبـول بایـد در ظـرف مـدت معینـی کـه بـه ایجـاب کننـده رسـیده بتواند فرستاده شود.

اگـر جـواب بعـد از مـرور ایـن مـدت توصـل ورزد، عقـد صـورت نمیگیـرد ولـی در صـورتیکه معلـوم شـود کـه جواب قبول در ظرف مدت معین لازمه داده شده است، ایجاب کننده مجبور است راجع به تأخیر جواب فوراً بجانب مقابل از عدم انعقاد عقد خبر دهد و الاعقد مذکور منعقد میگردد.

۶۱۳ ماده:

د مقابل جانب محض سکوت قبـول نـه بلل کیږي، مگر پـه دی صـورت چـه دوه تـاجران یولـه بلـه سـره دائمـی تجـارتی

مادۀ ۶۱۳:

ســکوت مـحض جـانـب مـقابـل قبول گفتـه نمیشود، ولیکن درصورتیکه دو تـاجر بـا هـم دیگـر مناسـبات تجـارتی

مناسـبات ولـري او يـا يولــه دی دوو تاجرانو څخه بل خپل ته مراجعه او هغه يې په خپـل نامـه د ځينـو معـاملاتو د اجـراء دپـاره وکيـل ګرځـولی وی هغـه ايجاب چه لـه دوی څخـه د يوه لـه خوا بل ته واقع کيږي نو مقابـل طرف بايد ژر تر ژره هغه ايجاب تـه ځواب ورکړی او کـه نـه سکوت يې قبول بلل کيږي. هغـه طـرف چـه ايجـاب ردوی، د هغـو مـالونو پـه بـاره کښـې چـه د ايجـاب د تبليغ پـه وخت کـښـې هغـه تـه ليـږل شوی دی مکلـف دی هغـه تـدبيـرونـه چـه پـه (۷۶۲ - ۷۶۳) مـادو کښـې بيـان شوی دی ونـيسـی.

دائمی داشته باشند و يا يکی از اين دو تـاجر بـديگر خـود مراجعـه و او را بنام خود به اجرای بعضی معـاملات به وکالت گماشته باشد، ايجابيکه از طـرف يکـی از ايشـان بـديگری واقـع ميشـود، بايـد طـرف مقابـل فـوراً بـه ايجـاب مـذکور جـواب بدهـد و الا سـکوت او قبـول شـمرده ميشـود. طرفـيکـه ايجـاب را رد ميکنـد، راجـع بـه امـواليکه در اثنـای تبليـغ ايـجـاب بـه او فـرسـتـاده شـده اسـت، مـکلف است تدابيـری را کـه در مواد (۷۶۲ - ۷۶۳) بيـان شـده اسـت اتـخاذ کند.

**۶۱۴ ماده:**

کـه د قبـول ځـواب لـه ايجـاب سـره موافق نـه وی عـقـد نـه تـاړه کيـږي. پـه دی صـورت قبول د نـوی ايجـاب تقاضا کوی.

**مادهٔ ۶۱۴:**

اگـر جـواب قبـول موافق بـه ايجاب نباشـد عقـد منعقـد نميگـردد. دريـن صورت قبول ايجاب جديد را اقتضاء ميکند.

**۶۱۵ ماده:**

لپاره ددی چه په ايجاب يا قبول پوری مربوط تلگرام داعتباروړ و بلل شي نو لازم دی چـه پـه اثبـات ورسيږی چـه د ليږونکـی شـخص لاس ليـک وربانـدي شـته دی او يـا تلگـرام دهغـه پـه اجـازه صادر شوی دی.

**مادهٔ ۶۱۵:**

بـرای اينکـه تـلگراف مربـوط بـه ايجـاب يـا قـبـول مـعتبر شـده بتـوانـد لازم اسـت بـه اثبـات بـرسد کـه دارای امضـای شـخص فـرستنـده اسـت و يـا تلگـرام بـه اجازه او صادر شده است.

۶۱۶ ماده:

هغه ایجاب چه په لیکنه سره کیږي ایجاب کوونکی ته د قبول د ځواب د رسیدو له نېټې څخه عقد تاړه کیږي. مګر که ایجاب کوونکی د قبول د ځواب له رسیدو څخه پخوا او یا په عین زمان کښې د قبول کوونکی له اووښتو څخه خبر شي، ایجاب بی اثره کیږي.

مادهٔ ۶۱۶:

ایجابیکه تحریراً بعمل می آید، از تاریخ وصول جواب قبول به ایجاب کننده عقد منعقد میشود. لیکن اگر ایجاب کننده قبل از رسیدن جواب قبول و یا در عین زمان از انصراف قبول کننده واقف شود، ایجاب بلا اثر میشود.

۶۱۷ ماده:

هغه عقد چه د مخابري په ذریعه وشي، د قبول د ځواب د لیږلو له نېټې څخه تړل کیږی او د اعتبار وړ بلل کیږی. لکه چه په (۶۱۳) ماده کښې مقرره شویده، په هغه صورت چه قبول په صراحت سره لازم نه دي، عقد مخاطب ته د ایجاب د رسیدو له نېټې څخه د اعتبار وړ دي.

مادهٔ ۶۱۷:

عقدیکه ذریعه مخابره واقع شود از تاریخ ارسال جواب قبول منعقد و معتبر دانسته میشود. طوریکه در مادهٔ (۶۱۳) مقرر شده، در صورتیکه قبول به صراحت لازم نباشد، عقد از تاریخ رسیدن ایجاب به مخاطب معتبر است.

۶۱۸ ماده:

د یوه تاجر فوت یا د اهلیت سلبیدل دده د تجارتی معاملاتو په خصوص کښې په ایجاب او قبول کښې د بطلان مستلزم نه کیږي، مګر داچه د هغه په خلاف دوی تصریح کړی وی او یا د معاملی له ماهیت څخه استدلال وشي.

مادهٔ ۶۱۸:

فوت و یا سلب اهلیت یک تاجر در ایجاب یا قبول او راجع به معاملات تجارتی اش مستلزم بطلان نمی گردد، مگر اینکه بر خلاف آن تصریح نموده باشند و یا از ماهیت معامله استدلال شود.

## دوه یمه برخه
## د تجارتی عقودو تفسیر

**۶۱۹ ماده:**
کــه د عبــارت معــنی چــه پــه یــوه تجـارتی معامله کښې لیکل کیږي واضـح او منطقی وی، د هغـه ظـاهری معـنی تـه اعتبـار ورکـاوه کیـږي او کـه د مقصد منافی عبارت څرگنده وی نـو پـدی صورت مقصد تـه اعتبـار ورکاوه کیږي.

**۶۲۰ ماده:**
پـه دی صـورت چـه عبـارت د متعـددو تعبیرونـو امکـان ولـری نـو د طرفینـو مشـترک مقصـد د بلـی مقـاولی لـه مندرجاتو یا له هغه عرف او عـاداتو او احــوالو څــخه چــه د مـقـاولــی د تنظیم پـه وخـت کښـې مـوجـود وی او یــا نظـــر د پــــخوانیو تـطبیقاتـــو سوابقو ته ټاکل کیږي.

**۶۲۱ ماده:**
پـه دې صـورت چـه عبـارت متعـدده او مشـترکه معنـی ولـری، د هـری معنـی افاده کولو ته چه نژدې وی، تفسیر یې په همغی معنی سره کیږي.

## حصهٔ دوم
## تفسیر عقود تجارتی

**مادهٔ ۶۱۹:**
اگـــر معنـــی عبارتیکـــه در یـــک مـعـامـلــه تجــارتی تحریــر میشــود واضـــح و مـنطقـــی باشــد ، بمعنـــای ظاهری آن اعتبار داده میشـود . اگـر عــبارتـــی منـــافی مقصد بـدیهی باشــد ، در اینصـــورت بـــه مقصـــد اعتبار داده میشود .

**مادهٔ ۶۲۰:**
درصـورتیکه عبـارت امکـان تعبیـرات متعــددی را داشــته باشــد ، مقصــد مشــترک طـرفین از منـدرجات دیگـر مقـاولـــه بـــا عـــرف و عـــادات و تعـــاملات و احـــوالیکه در زمـــان تـنظیـم مقـاولـه موجـود باشـد و یـا نظــر بـــه سوابــق تطبــیقـــات در گذشتـه، تعـیین میشـود .

**مادهٔ ۶۲۱:**
در صـورتیکـــه عبـــارت معنــــی مـتعــدد و مـشتـرک داشتــه بـاشـد ، به هر معنی که قرینه افـاده نمایـد ، بـه همان معنی تفسیر میشود .

**۶۲۲ ماده:**
په دې صورت چه د مقاولې عبارت په ډیرو معنی ګانو سره تعبیر شي او له (۶۲۰) مادې سره سم حقیقي مقصد و نه ټاکل شي نو مقاوله د متعهد بر له او د متعهدله بر علیه تفسیر کیږي.

**مادهٔ ۶۲۲:**
در صورتیکه عبارت مقاوله به معنی متعددی تعبیر شود و مطابق حکم مادهٔ (۶۲۰) مقصد حقیقی طرفین تعیین شده نتواند، مقاوله به له متعهد و علیه متعهد له تفسیر میگردد.

**۶۲۳ ماده:**
د قانوني احکامو او تجارتي عرف اعتبار په تجارتي معاملاتو کښې مؤثر دی بیله هغه وخته څخه چه صراحتاً دواړو خواوو د هغه په خلاف موافقت کړی وی.

**مادهٔ ۶۲۳:**
اعتبار عرف تجارتی و احکام قانونی در معاملات تجارتی مؤثر است مگر اینکه صراحتاً جانبین بر خلاف آن موافقت نموده باشند.

### دریيمه برخه
### د تجارتي عقودو د ثبوت وسیلې

### حصهٔ سوم
### وسائل ثبوت عقود تجارتی

**۶۲۴ ماده:**
محکمه د تجارتي اسنادو او مقالاتو په استناد دعقد په ثبوت حکم صادر وی او په دې صورت چه په دی قانون کښې بل حکم موجود نه وی دشاهدانو له شاهدی نښو او اماراتو څخه استفاده کولای شي. د مدعی (به) اندازه په دې قاعده کښې د محکمې په نزد فرق نه کوی.

**مادهٔ ۶۲۴:**
محکمه با استناد به اسناد و مقاولات تجارتی بر ثبوت عقد، حکم صادر می نماید ودر صورتیکه حکم دیگری در این قانون موجود نباشد، از شهادت شهود، قراین و امارات استفاده میتواند. اندازه مدعی به درین قاعده نزد محکمه فرقی نمیکند.

**۶۲۵ ماده:**
پوروړی ته د یوه سند اعاده په دی

**مادهٔ ۶۲۵:**
اعاده یک سند به مدیون درصورتیکه

صورت چه د هغه په خلاف ثابت نشي دسند دبدل دور کړی دلیل بلل کیږي.

**۶۲۶ ماده:**

که د یوی تجارتی معاملی سند یا مقاوله چه اثبات ئی په سند پوری اړه ونه لری ابهام ولری محکمه کولای شي چه د شهادت دقرینو او اماراتو له مخې حکم صادر کړی.

**۶۲۷ ماده:**

اقرار دتجزیې وړ نه دی نوځکه لاژم دی هغه بیان چه مدعی علیه ئی کوی یادې ټول رد او یا دی ټول ومنلی شي.

**۶۲۸ ماده:**

په دی صورت چه تحریری مقاوله موجوده نه وی نو هغه څوک چه صراحتاً یا ضمناً بیجک قبلوی، داسی ګڼل کیږي چه د هغه مندرجات یې هم قبول کړی دی. هغه څوک چه بیجک اخلی نو که د هغه د اخیستلو له نېټې څخه د شلو ورځو په موده کښې د هغه په محتویاتو اعتراض ونکړی، داسی معلومیږی چه د هغه محتویات یې قبول کړی دی.

خلاف آن ثابت نشود، دلیل تادیه بدل سند محسوب میشود.

**مادۀ ۶۲۶:**

سند یا مقاوله یک معامله تجارتی ایکه اثبات آن لازم به سند نبوده ابهام داشته باشد، محکمه میتواند از روی شهادت قرائن و امارات اصدار حکم نماید.

**مادۀ ۶۲۷:**

اقرار قابل تجزیه نیست بنابرآن لازم است بیانیکه مدعی علیه میکند یا تماماً رد یا قبول شود.

**مادۀ ۶۲۸:**

درصورتیکه مقاولۀ تحریری وجود نداشته باشد، شخصیکه یک بیجک را صراحتاً یا ضمناً قبول میکند، چنان شمرده میشود که مندرجات آنرا هم قبول نموده است. شخصیکه بیجک میگیرد، اگر از تاریخ گرفتن آن در مدت بیست روز اعتراضی در محتویات آن نکنند، چنان تلقی میشود که مندرجات آن را قبول نموده است.

## دریم فصل
## تجارتی بیع

### لومړۍ برخه
### عمومی احکام

**۶۲۹ ماده:**
د مبیعی او قیمت په نسبت د طرفینو رضا د بیع انعقاد بلل کیږي. د جاری قیمت اطلاع او د کتلاک لیږل او یا د پلورنی عرضه چه بی د شیانو د ماهیت او اندازی او قیمت له ټاکلو کیږي ایجاب نه بلل کیږي.

**۶۳۰ ماده:**
که بایع د بل چا مال پلورلی وی پیرودونکی د هغه مالک کیدای نشي مګر بایع مکلف دی چه مال وپیری او پیرودونکی ته یې ورتسلیم کړی او یا که زیانونه زیات پیښ شوی وی، هغه دی ورکړی.

**۶۳۱ ماده:**
که یو تاجر د بل چا منقوله مال خرڅ او تسلیم کړی؛ په دی صورت چه پیرودونکی د هغه په حقیقت علم ونلری، د مبیعی مالک بلل کیږي.

که دا ثابت شي چه مبیعه ورک شوي یا غلا شوی مالونه دی، د

## فصل سوم
## بیع تجارتی

### حصهٔ اول
### احکام عمومی

**مادهٔ ۶۲۹:**
رضای طرفین به نسبت مبیعه و قیمت انعقاد ، بیع دانسته میشود. اطلاع قیمت جاریه و ارسال کتلاک و یا عرضه فروش که بدون تعیین ماهیت و مقدار و قیمت اشیاء بعمل می آید ، ایجاب شمرده نمیشود.

**مادهٔ ۶۳۰:**
اگر بایع مال غیر را فروخته باشد ، مشتری مالک آن شده نمیتواند ؛ ولی بایع مکلف است که یا مال را خریداری و به مشتری تسلیم نماید و یا اگر خساراتی بیشتری وارد شده باشد ، آنرا جبران کند.

**مادهٔ ۶۳۱:**
اگر یک تاجر اموال منقوله شخص دیگری را فروش و تسلیم نماید ؛ در صورتیکه مشتری بر حقیقت آن علم نداشته باشد ، مالک مبیعه دانسته میشود.

اگر ثابت شود که مبیعه اموال مفقوده و یا مسروقه بوده باشد ، مالکیت

پــیرودونکی مـالکیت سلبیږی.

**۶۳۲ ماده:**

د هغـو تجارتـی مـالونـو بیـع چـه د عـقد پـه وخت کښې موجـود نـه وی او د تسـلیم پـه وخت کښې د تـدارک وړ وی، معـتبـر دی.

**۶۳۳ ماده:**

کـــه د عـقـد پـه وخـت کښــې د دواړو خـواوو نـه د مـال د اتـلاف احتمـال پـه نـظـر کښــې نـیـولـی شوی وی دهغـه بیع جائــزه ده د احتمـال د تحقیـق پـه صـــورت پیرودونکـــی د قیمـــت د استراداد حق نه لری.

**۶۳۴ ماده:**

ټـول هغــه مصــارف چـه د بیعـی پـه تسـلیم پـوری اړه لـری لکــه وزن او انـدازه پـلورونـکي پوري مربـوط دي او تسـلیم پوري مـربـوط مصارف لکه د تحویـل او حمـل او نقـل، پیرودونکی پوري اړه لری مګر داچه په مقاوله او یا تجارتی عرف او تعامل کښې د هغـه پـه خلاف قبول او معمول وی.

**۶۳۵ ماده:**

که پیرودونکـی تـه لـه بـل محـل څخـه د مبیعـــی لیـــږل لازم وی او د لیږلـــو د

مشتری سلب میگردد.

**مادهٔ ۶۳۲:**

بـــیع امـــوال تـجارتـــی کـــه در زمــان عــقــد مـــوجود نـــبوده و در وقــت تسلیم قـابـل تـــدارک بـــاشد، معتبر است.

**مادهٔ ۶۳۳:**

اگـــر در حیـــن عـــقـــد احــتـمـــال اتــلاف مــال از طـــرف جـــانبین در نـظر گـرفـتـه شـده بـاشـد، بـــیع آن جـایـــز اســت در صـــورت تـحقـــق احـتـمـــال مـشـتـــری حـــق استــــرداد قـــیمت را ندارد.

**مادهٔ ۶۳۴:**

تـــمام مصــارف متعلـق بـه تسـلیم مبیعــه مثـل وزن و انـدازه بـه بـایع مـــربوط و مصارف متعلق به تسلیم از قـــبیل مصـارف تحویـل و حمـل و نقـل بـــه مشـتـری عـایـد اسـت مگـر اینکه در مـــقاوله و یا عرف و تعامل تــجارتـــی بـــر خـــلاف آن قبـــول و مـعـمول بـاشد.

**مادهٔ ۶۳۵:**

اگـــر ارسال مبیعه از محل دیگری به مشـــتری لازم بــــاشد و راجــــع بـــه

صورت په باره کښې د پیرودونکی له خوا کوم شرط نه وی ایښودل شوی، پلورونکی به په دې حال کښې د مالونو د حمل او نقل د وسیلو په ټاکلو او د هغو په ساتنه کښې لکه پیرودونکی اقدام کوی.

صورت ارسال از طرف مشتری شرطی گذاشته نشده باشد، بایع درین حال در انتخاب وسایل حمل و نقل اموال و حفاظه آن مثل مشتری اقدام می نماید.

**۶۳۶ ماده:**

د پیرودونکی د استوګنې ځای ته او یا بل ځای ته د پلورونکی له خوا د مبیعی لیږل چه په مقاوله کښې تصریح شوی دی، د تسلیم په حکم کښې دی مګر که پلورونکی مبیعه د بل چاپه لاس لیږلی وي او هغه ته یې امر کړی وی چه که پیرودونکی د هغه لازمه قیمت او یا تأمینات ورنکړی نو مبیعه دی نه ورتسلیموی، نو یواځې د مبیعی لیږل تسلیم نه بلل کیږي.

**مادهٔ ۶۳۶:**

ارسال مبیعه از طرف بایع به اقامتگاه مشتری و یا ارسال آن در یک محل دیگریکه درمقاوله تصریح شده است، در حکم تسلیم است ولی اگر بایع مبیعه را توسط شخص فرستاده و به او امر نموده باشد که اگر مشتری قیمت آنرا و یا تأمینات لازمه را ندهد مبیعه را تسلیم نکند، صرف فرستادن مبیعه تسلیم دانسته نمیشود.

**۶۳۷ ماده:**

د مبیعی د کنسانمینت (محموله) لیږل او یا نظر د پلورونکی موافقی ته په مبیعه باندې د پیرودونکی د مارک لګول په دی صورت چه مال د وچی، بحر، سیند او کول له لاری د حمل او نقل په حال کښې وی، د تسلیم په حکم کښې دی.

**مادهٔ ۶۳۷:**

ارسال محموله (کنسانمینت) مبیعه و یا نظر به موافقه بائع وضع مارک مشتری بالای مبیعه در صورتیکه امتعه از طریق خشکه، بحر، دریا و کول در حال حمل و نقل باشد، در حکم تسلیم است.

**۶۳۸ ماده:**

که پیرودونکی مالونه چه د عمده

**مادهٔ ۶۳۸:**

اگر مشتری اموالی را که از حیث

فروشي لـه حيثـه د هغـو انـدازه تـاكلي وی، پيرودلـی وي د هغـو د يـوی برخـی په تسليم نشي مجبور كيدلای مگر كه پيرودونكی تدريجی تسليم قبول كړی وی نـو پلـورونكی د پـاتی برخـی پـه تسليم مجبورولی شي او د پاتی مـال د نه تسليميدو پواسطه عقد فسخ كړی او هغـه خسـاره چـه لـه دی لاری ورتـه اووښتی ده وغواړی.

## ۶۳۹ ماده:

پيرودونكی كولای شـي چـه د مبيعـی انـوايس او كه قيمت وركړی شوی وی په انوايس كښې د هغه درج وغواړی.

## ۶۴۰ ماده:

د عـقـد لـه تكميـل څـخه وروستـه كومه خساره چه مبيعی تـه پيښـېږی كـه څـه هـم اتفاقـاً وی پـه پيرودونكـی پوري اړه لري او كه خساره دپلـورونكی لـه تقصير او حيلی او يـا د مبيعـی لـه عيبونـو څخـه پيـدا شـوی وی نـو پـه پلورونكی پوري اړه لري.

## ۶۴۱ ماده:

د عقـد لـه تكميـل څخـه وروسـته پـه لاندينو احوالاتـو كښـې كومـه خسـاره چـه مبيعـی تـه ورسيـږی پـه پـلورونكـی پـوری اړه لـری:

عمده فروشی مقدار آن معين باشد، خريده باشد، به تسليم يک قسمت آن اجبار شده نميتواند ولی اگر مشتری تسليم تدريجی را قبول نموده باشد، بـايع را بـه تسـليم قسـم باقيمانـده مجبـور ميتوانـد و يـا بواسـطه عـدم تسليم باقيمانده مـال عقد را فسخ و خسارۀ را كه ازين حيث متحمل شده است، مطالبه نمايد.

## مادۀ ۶۳۹:

مشتری ميتواند كه انوايس مبيعه را و اگر قيمت تاديه شده باشد، درج آن را در انوايس تقاضا نمايد.

## مادۀ ۶۴۰:

بعـد از تـكميل عـقد خـسارۀ كـه بـه مـبيعه واقـع مـيشود، ولـو اتـفاقاً بـاشد، عـائد بـه مشتری است. اگـر خساره نـاشی از تـقصيـر و يـا حـيله بـايـع و يـا معايب مبيعـه باشـد، مـربوط بـه بـايع است.

## مادۀ ۶۴۱:

در احـوال ذيـل بعـد از تـكميـل عـقد خـسارۀ كـه بـه مـبيعه بـرسد، بـه بـايع مـربـوط است:

**اول:** که مبیعه مشخصه او ټاکلې نه وي او د هغې د ماهیت دپاره کومې داسې علامې چه له نورو همجنس شیانو څخه تفریق او بیلې شي، وضع شوې نه وي.

**دوهم:** هغه مبیعه چه د تسلیم دپاره د هغې تول شمیر او اندازه کول لازم دي پخوا له تول شمیر څخه تغییر او یا تلف شوې وي (مګر که پیرودونکی سره له اخطاره په تول شمیر او اندازه کولو کښې حاضر شوی نه وي او یا یې کوم شخص له خپلې خوا لیږلی نه وي، خساره په پیرودونکي پورې اړه لري).

**دریم:** که د مبیعې تسلیم په راتلونکې آینده پورې شرط شوې وي.

**څلورم:** د مبیعې د تسلیمولو دپاره د پیرودونکي د آماده ګۍ په حال کښې که پلورونکی سره له اخطاره مبیعه نه وي ور تسلیم کړې.

**۶۴۲ ماده:**

هغه خساره چه د نقلیه کمیسه کار یا د حمل او نقل ورکوونکي په ذریعه د مبیعې د حمل او نقل له لارې پیښېږي، هغو ته د پلورونکي له خوا د مبیعې د تسلیم نېټې له سره په پیرودونکي پورې اړه لري. که د مبیعې د حمل او

**اول:** اگر مبیعه مشخص و معین نبوده و برای اثبات ماهیت آن علائمی که از دیگر اشیای هم جنس تفریق و تمیز شود، وضع نشده باشد.

**دوم:** اگر مبیعۀ که برای تسلیم وزن، تعداد و اندازه نمودن آن لازم است قبل از وزن تعداد تغییر و یا تلف شده باشد (ولی اگر مشتری با وجود اخطار در وزن تعداد و اندازه نمودن حاضر نشده باشد و یا شخصی را از طرف خود نفرستاده باشد خساره عاید به مشتری است).

**سوم:** اگر تسلیم مبیعه به آینده شرط شده باشد.

**چهارم:** در حال آمادۀ بودن مشتری برای تسلیم گرفتن مبیعه، اگر بایع با وجود اخطار مبیعه را تسلیم نداده باشد.

**مادۀ ۶۴۲:**

خسارۀ که از رهگذر حمل و نقل مبیعه ذریعه کمیسه کار نقلیه یا حمل و نقل دهنده عاید میگردد، سر از تاریخ تسلیم مبیعه از طرف بایع به آنها مربوط به مشتری است. اگر راجع به طرز

نقل د طرز په خصوص کښې کوم شرط موجود وی، پلورونکی مکلف دی چه ددې شرط مراعات وکړی.

بې د معقول او مستند عذر څخه د تخلف په صورت کښې د هغه ضرر چه پیرودونکی ته رسیږی، مسئول دی.

که د مال د لیږلو محل نظر د طرفینو مقصد ته د تسلیم محل ګڼل شوی وی، په دی صورت کوم زیان چه د حمل او نقل په وخت کښې پېښیږی، په پلورونکی پوری اړه لری.

که پلورونکی یوائې د حمل او نقل مصارف په غاړه اخلی نو هغه محل چه مبیعه هلته وړله کیږي، د تسلیم محل نه ګڼل کیږي.

**۶۴۳ ماده:**

د قیمت معلوم والی یا د هغه د معلوملو صورت لازم دی په داسی حال کښې چه په دی صورت کښې بیعه نه وی ټاکلې شوی او مبیعه هم تسلیم شوی نه وی نو د عقد په محل او زمان کښې مروجه نرخ د قیمت په حیث اساس ګرځول کیږي. که د عقد په محل او زمان کښې مروجه نرخ متعدد وی، پیرودونکی مجبور دی چه اوسط نرخ تادیه کړی.

حمل و نقل مبیعه کدام شرط موجود باشد، بایع مکلف است این شرط را مراعات کند.

در صورت تخلف بدون عذر معقول و مستند از ضرریکه به مشتری میرسد، مسئول خواهد بود.

اگر محل ارسال امتعه نظر به مقصد طرفین؛ محل تسلیم شمرده شده باشد، در اینصورت خسارهٔ که در اثنای حمل و نقل وقوع می یابد، مربوط به بایع است.

اگر بایع محض مصارف حمل و نقل را به عهده میگیرد؛ محلیکه مبیعه به آنجا نقل داده میشود، محل تسلیم محسوب نمیشود.

**مادهٔ ۶۴۳:**

معیین بودن قیمت و یا صورت تعیین آن لازم است. در حالیکه قیمت به اینصورت تعیین نشده و مبیعه هم تسلیم نشده باشد، نرخ مروجه در محل و زمان عقد بحیث قیمت اساس قرار داده میشود. اگر نرخ مروجه در زمان و محل عقد متعدد باشد، مشتری مجبور است که اوسط نرخ را تادیه کند.

**۶۴۴ ماده:**

د مقاولې په ذريعه د قيمت د ټاکلو د حق سپارل دريم کس ته مجاز دی. او که دريم کس د کوم علت له مخې قيمت ونه ټاکه، پيرودونکی مجبور دی چه دپلورلو د ورځې مروج نرخ او که د هغې ورځې نرخ متعدد وی، منځنی نرخ ورکړی. که مروج نرخ وجود ونه لری نو قيمت د محکمی له خوا ټاکل کيږي.

**۶۴۵ ماده:**

پيرودونکی چه قيمت نه وی ورکړی او د عقد د نېټې او د تسليم په منځنی موده کښې افلاس وکړی، سره له دې چه پلورونکی مال په وعده ورکړی وی (مګر معتبر تأمينات يې نه وی اخيستی) حق لری چه مبيعه تسليم نکړی.

**۶۴۶ ماده:**

که د قيمت ټاکل د مبيعی په تول پورې مشروط وی (په دی صورت چه د هغه په خلاف مقاوله يا عرف او عادات موجود نه وی)، د ظرف تول له هغه وضع کيږي.

او دا چه د ظرف تول نسبت د مبيعی حقيقی تول ته او يا نظر يوی ټاکلی اندازی او مقياس ته تثبيت شي او يا

**مادهٔ ۶۴۴:**

تفويض حق تعيين قيمت ذريعه مقاوله به شخص ثالث مجاز است. اگر شخص ثالث نظر به علتی قيمت را تعيين ننمود، مشتری مجبور است که نرخ رايج روز فروش را و اگر نرخ همان روز متعدد باشد اوسط آن را بپردازد. اگر نرخ رايجه وجود نداشته باشد، قيمت از طرف محکمه تعيين ميشود.

**مادهٔ ۶۴۵:**

مشتری ايکه قيمت را تاديه ننموده و در ظرف مدت بين تاريخ عقد و تسليم ورشکست شود، با آنکه بايع تاديه وجه را تأجيل کرده باشد (ولی تأمينات معتبر نگرفته باشد) حق دارد مبيعه را تسليم ندهد.

**مادهٔ ۶۴۶:**

اگر تعيين قيمت نظر به وزن مبيعه مشروط باشد (درصورتيکه برخلاف آن مقاوله و يا عرف و عادات موجود نباشد)، وزن ظرف از آن وضع ميشود.

اينکه وزن ظرف نسبت به وزن حقيقی مبيعه و يا نظر به يک مقياس و مقدار معيين تثبيت شود و يا يک مقدار از

له مبيعى څخه يوه اندازه تول د ظرف د تول په حيث وضع شي او يا هغه مال چه تسليميږى د هغه خرابه او بيکاره برخه کمه شي، د قرارداد په اساس او که قرارداد نه وو نو د عرف له مخې چه د تسليم په محل کښې جارى دى تاکل کيږي.

وزن مبيعه بحيث وزن ظرف وضع و يا قيمت همان قسمت خراب شده و بيکاره امتعۀ که تسليم ميشود تنقيص گردد، به اساس قرارداد و درصورت عدم قرارداد، از روى عرفيکه در محل تسليم جارى است، تعيين ميشود.

۶۴۷ ماده:

د مال د ټول قيمت له ورکړى نه پخوا پيرودونکى ته د مبيعى د ملکيت د نه انتقال په خصوص کښې د قيد شرط معتبر دى.

د مبيعى خساره چه له دې شرط لاندې ورتسليميږى، د تسليم د نېټې له سره په پيرودونکى پورى اړه لرى.

مادۀ ۶۴۷:

قبل از اداى تمام قيمت مال قيد شرط دائر بر عدم انتقال ملکيت مبيعه به مشترى معتبر است.

خساره مبيعه که تحت اين شرط تسليم داده ميشود، سر از تاريخ تسليم به مشترى عايد است.

۶۴۸ ماده:

که د مبيعى قيمت نظر بورس يا د بازار نرخ ته مقيد شوى وى، په دى صورت چه د هغه په خلاف کوم قرارداد موجود نه وى، د تعهد د محل او زمان د بازار يا بورس منځنى متوسط نرخ اساس نيول کيږي او که ددى نرخ ټاکل ممکن نه وى، دمماثلو پلورنو منځنى متوسط نرخ چه د تعهد په محل او وخت کښې موجود وى، قبليږى.

مادۀ ۶۴۸:

اگر قيمت مبيعه نظر به نرخ بورس و يا بازار مقيد شده باشد، در صورتيکه خلاف آن قراردادى موجود نباشد، نرخ وسطى بورس و يا بازار محل و زمان اجراى تعهد اساس اتخاذ ميشود و اگر تعيين اين نرخ ممکن نباشد، نرخ وسطى فروشهاى مماثل که در محل و زمان اجراى تعهد موجود است، قبول ميشود.

**۶۴۹ ماده:**

د مبيعې دتسليم په صورت د زيان او ضرر په نامه د مبيعې د قيمت ټکټ پولې د تسليم له نېټې او که له تسليم اخيستلو څخه امتناع شوي وي د اطلاع له نېټې نه وروسته د غوښتنې وړده.

**مادۀ ۶۴۹:**

تکت پولی قيمت مبيعه بنام جبران ضرر و زيان درصورت تسليم مبيعه از تاريخ تسليم و اگر از تسليم گرفتن امتناع شده باشد، از تاريع اطلاع به بعد قابل مطالبه است.

**۶۵۰ ماده:**

نظر د قرارداد ماهيت يا د طرفينو مقصد او يا د مبيعې جنس ته که د تعهد اجراء په مختلفو ډولو د ويش وړ وي که يوه طرف يوه برخه تعهد نه وي اجراء کړې، کولای شي چه عقد فسخ کړي.

**مادۀ ۶۵۰:**

نظر به ماهيت قرارداد و يا مقصد طرفين و يا جنس مبيعه اگر اجرای تعهد به اقسام مختلفه قابل تقسيم باشد، اگر يکی از طرفين يک قسمت تعهد را اجراء نکرده باشد، ميتواند عقد را فسخ کند.

**۶۵۱ ماده:**

په هغو مبايعاتو کښې چه د نمونې له مخې کيږي، له نمونې سره د مبيعې د مطابقت اثبات په پلورونکي پورې اړه لري مګر که نمونه په هغه وخت کښې چه د پيرودونکي په لاس کښې وي خرابه يا تلف شي، په هغه وخت کښې له نمونې سره د مبيعې د نه مطابقت اثبات په پيرودونکي پورې اړه لري.

**مادۀ ۶۵۱:**

در مبايعاتيکه به اساس نمونه بعمل مي آيد، اثبات مطابقت مبيعه با نمونه متعلق بايع است. ولی اگر نمونه در اثنائيکه بدست مشتری بوده خراب و يا تلف شود، آنگاه اثبات عدم مطابقت مبيعه با نمونه تعلق به مشتری دارد.

**۶۵۲ ماده:**

که د پيرودونکي پيرودنه له کتنې او تجربې او خوښولو نه په وروسته پورې مقيده کړې وي، جائز دی.

**مادۀ ۶۵۲:**

اگر مشتری خريد را بعد از معاينه و تجربه و پسند مقيد ساخته باشد، جائز است.

**۶۵۳ ماده:**

کـه مبیعـه دکتنـی او تجربـی دپـاره پیرودونکـی تـه ورتسـلیم شـوی وی، پیرودونکی مجبور دی چه نظر قرارداد ته او که قرارداد نه وو، په هغه موده کښې چه عرفاً ټاکلی شوی ده خپله قبولی یا نه قبولی د مبیعی په باره کښې بیان کړی.

او که په قرارداد او عرف کښې موده ټاکلی نه وی نو پلورونکی مناسب مهلت ټاکې او پیرودونکی د مبیعی قبلولو یا ردولو ته غواړی.

که پیردونکی په دې موده کښې ځواب نه وی ورکړی، داسی ګڼل کیږي چه مبیعه یې قبوله کړی ده.

کـه پیرودونکـی د خپـل خیـار حـق صراحتاً ساتلی نه وی یا ټول یا یوه برخه قیمت یې ورکړی وی او یا یې مبیعه غیر له هغه صورت څخه چه د تجربی دپاره لازمیږی په بل شکل تصرف کړی وی، بیه تکمیلیږی.

**مادهٔ ۶۵۳:**

اگـر مبیعـه بـرای معاینـه و تـجربـه بـه مشـتری تسـلیم داده شـده باشـد، مـشتـری مجبـور اسـت نظـر بـه قـرارداد و در حـال عـدم قـرارداد، در مدتیکه عرفاً معیـن است، قبـولـی و یـا عـدم قبـولی خـود را راجـع بـه مبیعـه بیـان کند.

و اگر در قرارداد و عرف مدت معین نباشد، بائع مهلت مناسبی را تعیین و مشتری را بـه قبـول و یـا رد مبیعـه دعوت میکند.

اگر مشتری در مدت مذکور جواب نداده باشد، چنین محسوب میشود که مبیعه را قبول کرده است.

اگـر مشـتری حـق خیـار خـویش را صراحتاً محافظه ننموده باشد و تمام و یا یک قسمت قیمت را تادیه و یا مبیعه را غیر از صورتیکه برای تجربه لازم مـی آیـد بشـکل دیگـری تصـرف کرده باشد، بیع تکمیل میشود.

**۶۵۴ ماده:**

پـه هغې بیه کښې چه لـه (۶۵۲) مادی سـره سمه پیښیږی کـه پیرودونکـی د قـرارداد یا عـرف پـه ټاکلـی مـوده کـښې خـپله قبـولی یـا نـه قبـولی

**مادهٔ ۶۵۴:**

در بیعیکـه مطابق مـادهٔ (۶۵۲) واقـع میشود، اگر مشتری در ظـرف مـدت مـعیـن قـرارداد و یـا عـرف قـبولـی و یـا عـدم قبـولی خـود را

نه وی څرګند کړی، بیه منعقده نه بلله کیږي.

که په قرارداد یا عرف کښې کومه موده ټاکلې نه وی، پلورونکی مناسب مهلت ټاکي او پیرودونکی د خپل خیار د حق استعمال ته غواړی. که پیرودونکی په دی موده کښې سکوت کړی وی، بیه منعقده نه بلله کیږي.

**۶۵۵ ماده:**

که بیه د ذکر شوی قرارداد له اصولو سره موافقه وی، پیرودونکی مجبور دی په هغه موده کښې چه د قرارداد او یا عرف له مخې ټاکلی شوی ده مبیعه تسلیم کړی.

که پیرودونکی دا مکلفیت په ځای نکړی او قیمت یې ورکړی وی نو پیرودونکی ته د کیفیت له اخطار نه وروسته پلورونکی کولای شي چه له تجارتی محکمې څخه د مبیعې د ساتنې دپاره امین شخص وغواړی. ددې غوښتنې په اثر محکمه بې د پیرودونکی له جلبه سمدستی امین شخص ټاکي.

او که د امین له دریدو او د تسلیم له ځنډیدو څخه مصارف او خساره پیښه

اظهار نکرده باشد، بیع غیر منعقد محسوب میشود.

اگر در قرارداد و یا عرف کدام مدتی معین نباشد، بایع مهلت مناسب تعیین کرده مشتری را به استعمال حق خیارش دعوت میکند. اگر مشتری در این مدت سکوت کرده باشد، بیع غیر منعقد محسوب میشود.

**مادهٔ ۶۵۵:**

اگر بیع بشرائط متذکره قرارداد و قانون موافق باشد، مشتری مجبور است در ظرف مدتیکه به اساس قرارداد و یا عرف معین است، مبیعه را تسلیم بگیرد.

اگر مشتری این مکلفیت را ایفاء ننموده و قیمت را تادیه کرده باشد، بایع بعد از اخطار کیفیت به مشتری میتواند از محکمه تجارتی برای محافظه مبیعه شخص امین را مطالبه کند. در اثر این خواهش محکمه بدون جلب مشتری فوراً شخص امین را تعیین میکند.

و اگر نصب امین و یا تأخیر تسلیم، مصارف و خساره ایجاب نماید،

شي، د هغې جبران د پیرودونکی په غاړه دی. که د مبیعې ماهیت د سپارلو وړ نه وی یا ژر تر ژره خرابی پیدا کوی یا د هغې ساتنه نظر قیمت ته زیات مصرف غواړی یا د مځکې کرایې ورکولو ته اړتیا ولری نو پلورونکی وروسته له هغه چه پیرودونکی ته د امکان په صورت د موضوع اطلاع ورکړی، کولای شي د هغې اجازې له مخې چه له محکمی څخه یې په لاس راوړی بې د پیرودونکی له غوښتنې مبیعه په ښکاره مزایده سره وپلوری.

جبران آن به ذمت مشتری است. هرگاه ماهیت مبیعه مساعد به تودیع نبوده و یا سریع الفساد باشد یا محافظه آن نظر به قیمت به مصارف گزاف و یا تادیه به اجرت ارضیه محتاج باشد، بایع بعد ازینکه موضوع را به مشتری در صورت امکان اطلاع نماید، میتواند به اساس اجازۀ که از محکمه حاصل میکند، مبیعه را بدون دعوت مشتری بصورت مزایدۀ علنی به فروش برساند.

او که مبیعه په بورس یا بازار کښې مروج نرخ ولری، پلورونکی حق لری چه د محکمی په اجازه بې له ښکاره مزایدی (ډیرونې) په همغه نرخ وپلوری.

در صورتیکه مبیعه در بورس یا بازار نرخ مروج داشته باشد، بایع حق دارد به اجازه محکمه بدون مزایدۀ علنی به همان نرخ بفروشد.

مبیعه چه په دی صورت پلورله کیږي د پلورنی د مصارفو له وضع نه وروسته دې د پلورونکی له خوا د پیرودونکی په نامه بانک ته او که بانک نه وو نو د محکمی په اجازه دې په یو بل امین محل کښې وسپارله شي.

مبیعۀ که به این صورت به فروش میرسد، قیمت آن بعد از وضع مصارف فروش از جانب بایع بنام مشتری به بانک و در صورت عدم وجود بانک، به اجازه محکمه در یک محل امین دیگری تودیع شود.

وروسته له هغه چه مبیعه یوه امین شخص ته او یا د هغې قیمت یوه امین محل ته وسپارل شو نو ژرترژره دی قضیه د پلورونکی له خوا پیرودونکی

بعد از اینکه مبیعه به شخص امین و یا قیمت آن به یک محل امین تودیع گردید، فوراً قضیه از طرف بایع به اطلاع

ته د قضيي اطلاع ورکړي.

**۶۵۶ ماده:**

په دې صورت چه پیرودونکی قیمت د قرارداد یا د عرف په ټاکلي وخت کښې ورنکړي نو پلورونکی څرنګه چه د قیمت دعوی کولای شي، په هغه شان حق لري چه د اطلاعیي یا راجستري لیک په اساس مناسب مهلت وټاکې او پیرودونکی د تعهد په ځای کولو دپاره وغواړي که پیرودونکی ددې مهلت په موده کښې قیمت ورنکړي پلورونکی کولای شي چه له (۶۵۵) مادي سره سم مبیعه وپلوري او د هغې له بدل څخه قیمت استیفاء او د مبیعی د قیمت او د پلورنی د بدل ترمنځ تفاوت له پیرودونکی څخه وغواړي.

که مبیعه په بورس یا بازار کښې مروج نرخ ولري نو پلورونکی بې له دې چه د مبیعی په پلورنه مجبور وي، کولای شي چه د مبیعی د قیمت او نرخ ترمنځ تفاوت چه د مهلت په پای کښې په بورس یا بازار کښې موجود دی، له پیرودونکی څخه وغواړي.

**۶۵۷ ماده:**

که پلورونکی مبیعه د قرارداد یا عرف په ټاکلي موده کښې تسلیم نکړي نو پیرودونکی له اطلاعیي یا له

مشتری رسانیده شود.

**مادهٔ ۶۵۶:**

در صورتیکه مشتری قیمت را در زمان معین قرارداد و یا عرف تادیه نکند، بایع طوریکه دعوای قیمت را میتواند؛ همچنان حق دارد به اساس اطلاعیه و یا مکتوب راجستری مهلت مناسب تعیین و مشتری را به ایفای تعهد دعوت نماید اگر مشتری در ظرف این مهلت قیمت را تادیه نکند، بایع میتواند مطابق به مادهٔ (۶۵۵) مبیعه را فروخته و از بدل آن قیمت را استیفاء و تفاوت بین بدل فروش و قیمت مبیعه را از مشتری مطالبه نماید.

اگر مبیعه در بورس و یا بازار دارای نرخ مروجی باشد، بایع بدون اینکه مجبور به فروش مبیعه باشد میتواند تفاوت بین قیمت مبیعه و نرخی را که در خاتمه مهلت در بورس و یا بازار موجود است، از مشتری طلب کند.

**مادهٔ ۶۵۷:**

درصورتیکه بایع مبیعه را در زمان معینه قرارداد و یا عرف تسلیم نکند، مشتری با اطلاعیه و یا

راجستری لیک سره پلورونکی په یوه مناسبه موده کښې د مبیعی د تسلیم ورکولو دپاره وغواړی.

که ددې مهلت په تیریدو کښې پلورونکی مبیعه تسلیم نکړی نو پیرودونکی کولای شي چه محکمی ته مراجعه وکړی او د قرارداد فسخ سره له پیښې شوی خساری او هغې گټې چه له لاسه یې وتلی ده له پلورونکی څخه و غواړی. که پیرودونکی وغواړی کولای شي چه مخامخ یا د محکمی په واسطه مال له دریم شخص څخه وپیری او هغه بدل چه ورکړی یې دی که د مبیعی له قیمت څخه زیات وی، دا زیاتوالی له لمړی پلورونکی څخه وغواړی.

که مبیعه په بورس یا په بازار کښې مروجی نرخ ولری نو پیرودونکی له دریم شخص څخه بی د مبیعی له پیرودلو هم کولای شي چه د مروج نرخ تفاوت د مبیعی قیمت له پلورونکی څخه وغواړی.

هم په دی صورت او هم د مبایعی په حال کښې له دریم شخص څخه د هغې خساری غوښتنې حق چه پیرودونکی هغه په غاړه اخیستی ده د (۵۹۱) مادی په اساس ساتلی دی.

مکتوب راجستری بایع را در ظرف یک مدت مناسب به تسلیم دادن مبیعه دعوت میکند.

اگر در انقضاء این مهلت بایع مبیعه را تسلیم نکند، مشتری میتواند به محکمه مراجعه نموده فسخ قرارداد را با خسارهٔ وارده و فایدهٔ که از آن محروم مانده است، از بایع طلب کند. اگر مشتری بخواهد میتواند مستقیماً و یا توسط محکمه امتعه را از شخص ثالث بخرد و بدلی را که تادیه نموده است، اگر از قیمت مبیعه زیاده تر باشد، این زیادت را از بایع اول مطالبه کند.

در صورتیکه مبیعه در بورس و یا بازار نرخ مروجی داشته باشد، مشتری بدون اشتراء مبیعه از شخص ثالث نیز میتواند تفاوت بین نرخ مروج قیمت مبیعه را از بایع تقاضا کند.

هم درین صورت و هم در حال مبایعه از شخص ثالث، حق طلب خسارهٔ که مشتری آنرا متحمل شده است به اساس مادهٔ (۵۹۱) محفوظ میباشد.

**۶۵۸ ماده:**

که په بیع کښې نظر د قرارداد صراحت ته او یا نظر د مبیعی جنس او ماهیت او د پیرودنی مقصد ته پیرودونکی او پلورونکی مجبور دی چه خامخا په ټاکلی موده کښې تعهد په ځای کړی، په دې صورت چه ددې مودی په پای کښې تعهد په ځای نکړی، نو بل طرف د تعهد دنه په ځای کیدو له وجی بی له اطلاع نه کولای شي چه د (۶۵۶) او (۶۵۷) مادو له مخې عقد فسخ کړی او د خسارې تاوان وغواړی. مګر هغه طرف چه د عقد د فسخ صلاحیت لری که وغواړی چه تعهد کټ مټ په ځای شي مکلف دی چه د ټاکلی مودی په راتګ یا تیریدو کښې د تعهد په ځای کول وغواړی.

**مادهٔ ۶۵۸:**

اگر در بیع نظر به صراحت قرارداد و یا نظر به جنس و ماهیت مبیعه و مقصد اشتراء ، مشتری و بایع مجبور باشند که حتماً در ظرف میعاد معینی ایفای تعهد کنند ، در صورتیکه در ختم این مدت تعهد را ایفا نکرده باشند ، طرف دیگر از باعث عدم ایفای تعهد بدون اطلاعیه میتواند مطابق احکام مواد (۶۵۶ ) و (۶۵۷) عقد را فسخ و جبران خساره طلب کند. ولی طرفیکه صلاحیت فسخ عقد را دارد ، اگر بخواهد که تعهد عیناً ایفاء شود ، مکلف است که در حین حلول یا انقضاء مدت معین ایفای تعهد را تقاضا کند.

**۶۵۹ ماده:**

په تجارتی مبایعاتو کښې که د تسلیم په وخت کښې د مبیعی کوم عیب یا نقص یا د هغو د قرارداد د شرطونو یا نمونی یا قانون سره عدم توافق څرګند شي پیرودونکی مکلف دی چه د کیفیت څخه په څلورو ورځو کښې پلورونکی ته اطلاع ورکړی او که نه وروسته له هغه چه پیرودونکی مبیعه تسلیم کړه، مکلف دی چه هغه په موده د دوو هفتو کښې پخپله دی یا دده نماینده معاینه کړی.

**مادهٔ ۶۵۹:**

در مبایعات تجارتی اگر در حین تسلیم کدام عیب و نقص مبیعه و یا عدم توافق آن به شرایط قرارداد و یا نمونه یا قانون ظاهر شود ، مشتری مکلف است کیفیت را در ظرف چهار روز به بایع اطلاع دهد و الابعد از آنکه مشتری مبیعه را تسلیم شد ، مکلف است آنرا در ظرف دو هفته خودش یا نماینده اش معاینه بنماید.

که ددې معاینې په نتیجه کښې نقص ښکاره شي او یا د قانون او قرارداد په شرطونو یا نمونې سره د هغې نه موافقت څرګند شي نو پیرودونکی د خپلې رجوع د حق د ساتنې دپاره مؤظف دی چه کیفیت په دوو هفتو کښې او که پټ عیب څرګند شي، ژرترژره پلورونکی ته اطلاع ورکړي. او که نه داسې ښکاریږي چه مبیعه یې په موجوده حال قبوله کړې ده.

۶۶۰ ماده:

پیرودونکی حق لري چه پلورونکي باندې د مبیعې د نقص یا د قرارداد او یا قانون په ټاکلیو شرطونو او یا نمونې د نه توافق له کبله دعوی وکړي. دا حق د مبیعې دتسلیم له نېټې څخه تر شپږو میاشتو پورې اعتبار لري. ددې مودې لږول یا ډیرول په قرارداد کښې جائز دي.

۶۶۱ ماده:

که معلوم شي چه دقانون او یا قرارداد له ټاکلیو شرطونو یا له نمونې سره د مبیعې نه موافقت د پلورونکي د حیلې په اثر دی نو د (۶۵۹) او (۶۶۰) مادو احکام د هغو په باره کښې نه تطبیقیږي.

اگر درنتیجهٔ این معاینه نقصی ظاهر شود و یا عدم موافقت مبیعه به شرایط قانون و یا قرارداد و یا نمونه آشکار گردد، مشتری برای حفظ حق رجوع خود مؤظف است کیفیت را در ظرف دو هفته و اگر عیب مخفی کشف شود، بصورت فوری به بایع اطلاع دهد و الا چنان استنباط میشود که مبیعه را بحال موجوده قبول کرده است.

مادهٔ ۶۶۰:

مشتری حق دارد علیه بایع از رهگذر نقص در مبیعه و یا عدم توافق به قرارداد و یا شرایط معینه قانونی و یا نمونه دعوی کند. این حق از تاریخ تسلیم مبیعه تا شش ماه اعتبار دارد. تزئید یا تنقیص این مدت در قرارداد جائز است.

مادهٔ ۶۶۱:

اگر عدم موافقت مبیعه به شرایط معینه قانون و یا قرارداد و یا نمونه در اثر حیله بایع فهمیده شده بتواند، احکام مواد (۶۵۹) و (۶۶۰) دربارهٔ آن تطبیق نمیشود.

**۶۶۲ ماده:**

که پیرودونکی له (۶۵۹) مادې سره سم په مبیعه کښې عیب پیدا کړی او یا هغه د کوم علت په اثر د قرارداد یا د قانون د شرطونو یا له نمونی سره سم ونه مومی کولای شي چه لمړی پلورونکی ته مراجعه وکړی او یا هغه د معاینی دپاره وغواړی او که پلورونکی په مناسب وخت کښې حاضر نشي نو په دی وخت کښې تجارتی محلی محکمی ته مراجعه کوی او د پوهو کسانو په حضور معاینه کیږي. او محکمه د هغې له مخې لازم حکم صادر وی.

**۶۶۳ ماده:**

په دی صورت چه مبیعه پیرودونکی ته له بل محل څخه ورلیږلی شوی وی؛ که څه هم پیرودونکی له (۶۵۹) مادې سره سم پلورونکی ته مراجعه کړی وی؛ پیرودونکی مجبور دی چه مبیعه، د پلورونکی په مصرف وساتی او یایې له (۶۵۵) مادې سره سم امین شخص ته وسپاری.

که مبیعه د ماهیت له مخې د سپارنی وړ نه وی او یا ژر خرابي لري وي او یا د هغې د ساتنې مصرف نظر د هغې قیمت ته زیات وی او یا د ځای په باړه پوری اړه لری نو پیرودونکی

**مادۀ ۶۶۲:**

در صورتیکه مشتری مطابق مادۀ (۶۵۹) در مبیعه عیبی کشف کرده و یا آن را در اثر علتی مطابق شرایط معینۀ قرارداد یا قانون و یا نمونه دریافت نکند، میتواند اولاً به بایع رجوع و آن را برای معاینه دعوت نماید و اگر بایع به مدت مناسب حاضر نشود، درین حال به محکمه محلی تجارتی مراجعه و برای نصب اهل خبره تقاضا و معاینه میشود و محکمه به همان اساس قرار لازم را صادر مینماید.

**مادۀ ۶۶۳:**

درصورتیکه مبیعه برای مشتری از محل دیگری فرستاده شده باشد، ولو اینکه مشتری مطابق حکم مادۀ (۶۵۹) به بایع مراجعه هم کرده باشد، مشتری مجبور است مبیعه را به مصرف بایع محافظه و یا مطابق مادۀ (۶۵۵) به شخص امین بسپارد.

اگر مبیعه ماهیتاً قابل تودیع نبوده و یا سریع الفساد باشد و یا مصرف محافظه آن نظر به قیمت آن زیادتر و یا وابسته به تادیه اجرت ارضیه باشد، مشتری

کـولای شـي چـه لـه (**۶۵۵**) مـادې سره سم مبیعه وپلوری.

**۶۶۴ ماده:**
که مبیعه د قرارداد یا د قانون ټاکلي شرطونه ونه لري، پیردونکی اختیار لـري چـه عقـد فسـخ کـړي او یـا لـه محکمـی څخـه د قیمـت د تفـاوت او خسارې ورکړه وغواړي.

## دوه یمه برخه
## د تجارتی بیع ځینې خصوصی انواع

### د سیف پلورنه

**۶۶۵ ماده:**
که یوه بیه د بیړۍ د ټاکلو په اساس چه مبیعه په هغې کښې باربړۍ شوی وی، پـه دی صـورت د بیـع عقـد د مقصـود محـل تـه د هغـې بیـړۍ د رارسـیدو پـه شرط پورې معطله ده.

که پلورونکی د بیړۍ د حرکت موده چه مبیعـه پکښـې بـاربړۍ د مقـاولې پـه ذریعه او یا نظر تجارتی عرف ته ټاکلې نه وی پـیرودونکـی کـولای شـي چه د بیړۍ د مودې ټـاکل وغـواړي او یـا د عـقــد فســخ ســره د خســاري لـــه جـبرانه وغـواړي.

که د بیړۍ د مـودی د ټاکلو دپـاره پـه

میـتـوانـــد مـطابـــق مـــادهٔ (**۶۵۵**) مـبـیـعـه را بـه فـروش بـرسـانـد.

**مادهٔ ۶۶۴:**
در صـورتیکه مبیعـه شـرایط معـین قـرارداد و یـا قـانون را دارا نباشـد، مشتری مخیر است عقد را فسخ و یا حکم تادیه تفاوت قیمت و خساره را از محکمه مطالبه کند.

## حصهٔ دوم
## بعضی از انواع خصوصی بیع تجارتی

### فروش سیف

**مادهٔ ۶۶۵:**
اگـر یـک بیـع بـه اسـاس تعیـین کشـتی ایکـه مبیعـه بـه آن حمـل خواهـد شـد بعمل آمده باشد، در این صورت عقد بیع بشرط مواصلت کشتی مذکور به محل مقصد موکول میباشد.

اگـر بـایع مـدت حرکـت کشـتی را کـه مبیعـــه در آن حمـــل میشـــود ذریعـــه مقـاولـــه و یـا نظـر بـه عـرف تجـارتی تعیـــین نـــکـــرده باشـــد، مشـــتری میتوانـد تعیـــین مـــدت کشـتـــی را تقـاضـا و یـا فسخ عـقد را بـا جبـران خسـاره طلـب کنـد.

اگـر بـرای تعیـیـن مـدت کشـتـی در

مقاوله یا عرف کښې صراحت او سابقه موجوده نه وی، پیرودونکی کولای شي چه محکمی ته مراجعه وکړی او ددی مودی ټاکل وغواړی او محکمه دی ژر تر ژره اقدام وکړی. که د بیړۍ د حرکت د مودې دپاره چه دعقد د محل په وخت کښې یا وروسته له هغه ټاکل کیږی او یا د مقصود محل ته د هغې د رسیدلو دپاره موده ټاکلی شوی وی خو بیړۍ په ټاکلی وخت حرکت نه وی کړی او یا په ټاکلی موده کښې د مقصود محل ته نه وی رسیدلی، پیرودونکی کولای شي چه د عقد فسخ وغواړی او دعوی وکړی.

مقاوله و یا عرف صراحت و سابقه وجود نداشته باشد، مشتری میتواند به محکمه مراجعه و تعیین این مدت را طلب و محکمه مستعجلاً اقدام نماید. اگر برای مدت حرکت کشتی که در حین محل عقد و یا بعداً تعیین میشود و یا برای مواصلت آن به محل مقصود مدت معین شده و کشتی در وقت معینه حرکت ننموده و یا در ظرف مدت معین به محل مقصود واصل نشده باشد، مشتری میتواند فسخ عقد را مطالبه و دعوی کند.

پیرودونکی کولای شي چه د بیړۍ د رسیدلو موده یو یا څو کرته اوږده کړی.

مشتری میتواند مدت معینه مواصلت کشتی را یک و یا چند بار تمدید نماید.

**۶۶۶ ماده:**

که مبیعه د سفر په منځ کښې د ضرورت او علت له کبله له هغې بیړۍ څخه چه په ټاکلی ډول په هغې کښې بار شوی دی بلی بیړۍ ته نقل شوی وی، عقد نه فسخ کیږی او دوهمه بیړۍ د لومړۍ په ځای ګڼله کیږي.

**مادهٔ ۶۶۶:**

اگر مبیعه در اثنای سفر از باعث علل مجبره از کشتی ایکه بطور معین در آن حمل شده به کشتی دیگر نقل داده شده باشد، عقد فسخ نگردیده و کشتی دومی بجای اولی محسوب میشود.

**۶۶۷ ماده:**

په دی صورت چه عقد د مال په رسیدلو مشروط وی او مبیعه د سفر

**مادهٔ ۶۶۷:**

درصورتیکه عقد مشروط به مواصلت مال باشد و مبیعه در اثنای سفر

په منځ کښې داسی خساره وموجی چه په نظر کښې نیولی ګټه له منځه تللی وی، عقد فسخ کیږي. له دې صورت نه پرته پیرودونکی مجبور دی چه مبیعه درسیدلو په وخت کښې په موجوده حال قبوله کړی. او هغه خساره چه له دې لاری ورته اوړی دپوهو کسانو په تصدیق له قیمت څخه پوره کیږي.

طوری خساره مند گردد که منفعت منظور از بین رفته باشد، عقد فسخ میگردد. در غیر این صورت، مشتری مجبور است مبیعه را حین مواصلت به حال موجود قبول نماید و خسارهٔ که ازین درک متحمل میگردد، به تصدیق اهل خبره از قیمت جبران میشود.

**۶۶۸ ماده:**

هغه پلورنه چه برسېره د بیمې په اجرت او د نقلیې په مصرف په بیړۍ کښې د مال د تسلیم په شرط کیږی، د (سیف*) پلورنه بلله کیږي. د نقلیه مصرف عبارت د بندر جرثقیل ته تر تسلیمېدو پورې د مال د نقل له اجرت څخه دی.

د هغه مال خساره چه د (سیف) له مخې پلورل کیږی، په بیړۍ کښې د بارولو له نېټې څخه په پیرودونکي پورې اړه لري.

**مادهٔ ۶۶۸:**

فروشیکه به شرط تسلیم مال در کشتی برعلاوه اجرت بیمه و مصرف نقلیه بعمل می آید، فروش (سیف*) نامیده میشود. مصرف نقلیه عبارت از اجرت نقل مال الی تسلیم آن به جرثقیل بندر است.

خسارهٔ امتعهٔ که به اساس (سیف) فروخته میشود، از تاریخ حمل آن به کشتی به مشتری عاید است.

---

*** تبصره:**

سیف CIF مخففِ (COST قیمت) و (INSURANCE بیمه) و ( FREIGHT مصرف نقلیه) میباشد.

۶۶۹ ماده:
هغه مال چه د (سیف) په ډول پلورل کیږي، باید د پلورونکي لخوا د شرایطو په اساس او که هغه نه وه نو نظر محلي عرف او عاداتو ته په بیړۍ کښې بار ېږي. په دې صورت چه پلورونکي ته دا اختیار وي چه خپل تعهد برخه برخه اجراء کړي، د مال هره برخه چه بار شي، داسې ګڼله کیږي چه ځان ځان ته پلورلی شوي دي.

مادهٔ ۶۶۹:
امتعه که بصورت (سیف) فروخته میشود، باید از طرف بایع به اساس شرایط مقاوله و در صورت عدم آن، نظر به عرف و عادات جاری محلی به کشتی حمل میگردد. درصورتیکه بایع مجاز باشد تعهد خود را حصه حصه اجراء نماید، هر حصهٔ امتعه که حمل گردد، چنین محسوب میشود که علیحده فروخته شده است.

۶۷۰ ماده:
که پلورونکی هغه مال چه پلور لی یې دی (بې مجبره علتونو له استناد څخه) په ټاکلی وخت یا د محل له عرف سره سم یې نه وی بار کړی نو پیرودونکی کولای شي چه عقد فسخ کړي. په دې صورت پیرودونکی مکلف دی چه ژرترژره له خپل تصمیم څخه پلورونکی ته اطلاع ورکړي.

مادهٔ ۶۷۰:
اگر بایع امتعهٔ را که فروخته است (بدون استناد علل مجبره) در زمان معین یا مطابق عرف محل حمل نکرده باشد، مشتری میتواند عقد را فسخ نماید. درینصورت مشتری مکلف است فوراً از تصمیم خود به بایع اطلاع دهد.

۶۷۱ ماده:
پلورونکی د یوی بحری نقلیه بارنامی (کنسانمینت) له مخې چه د مال د هری برخی دپاره په دې عبارت (بار شوی دی) جوړیږي کولای شي چه د مال د هرې برخی د نقل اثبات وکړی چه له ټاکلیو شرطونو سره سم شوی دی.

مادهٔ ۶۷۱:
بایع به اساس یک بارنامه نقلیه بحری (کنسانمینت) که برای هر حصهٔ امتعه به این عباره (حمل شده است) تنظیم می یابد میتواند اثبات نقل هر حصهٔ مال را بنماید که مطابق شرایط معینه بعمل آمده.

که د نقلیه بارنامه (دباریدو دپاره

اگر بارنامه نقلیه دارای عباره (برای

تسـليم شـوی دی) عبـارت ولـری نـو پیرودونکی دا دعـوی کـولای شي چه د مال بارېدل د نقلیه بارنامی په نېټه نه دی شوی، مگر دا چه د بیړی کپتان په بیړی کښې د بارنـامی په نېټه د مـال بارېدل تصدیق کړی وی.

حمل تسلیم گرفتـه شده است) باشد، مشتری میتواند ادعا نماید که حمل امتعه در تاریخ بارنامهٔ نقلیـه صورت نگرفته است، مگر اینکه کپتان کشتی حمل مـال را در تـاریخ بارنامـه کشتی تصدیق نموده باشد.

**۶۷۲ ماده:**

کـه هغـه مـال چـه د (سیف) پـه صـورت پـلـورل کیـږي لـه یـوه داخلـی ښـار څخه او یـا لـه یـوه بندر څخـه لـه یـوې بـارنـامـی سره بـار شـوی وی نـو هغـه نېټـه چـه دا مـال د نـقلیـه د لومړنیـو وسـایلو پـه ذریعـه بـار شـوی وی د باریدو د نېټې په حیث قبلیږی.

**مادهٔ ۶۷۲:**

اگـر امتعـهٔ کـه بصـورت (سیـف) فروختـه میشـود از یـک شهـر داخلی و یا از یک بندر با بارنامه واحدی حمل شده باشد، تاریخی کـه امتعـهٔ مـذکور ذریعـه اولـین وسایل نقلیه حمل گردیده است بحیث تاریخ حمل قبول میگردد.

**۶۷۳ ماده:**

د نقلیه مقاولو د معتادو شرایطو درج (کنسـانمینت) پـه دی بـاره کښې چـه بیړی کولای شي په ځینو بندرونو کښې ودریږی یا لاره تبدیل کړی او یـا بـار بلی بیړی ته نقل کړی، د پیرودونکی په مقابل کښې هم د اعتبار وړ دی.

**مادهٔ ۶۷۳:**

درج شـرایط معتاده مقاوله های نقلیه کنسـانمینت دربـارهٔ اینکـه کشـتی میتواند در بعضی بنادر توقف و یـا تبدیل راه کند و یـا محمولـه را بـه کشـتی دیگـری منتقـل نمایـد، در مقابل مشتری نیز معتبر است.

نـو بنـا پـردي، پـه دی صـورت چـه دا تبـدلات د مـال د حمـل او نقـل لـه ایجاباتو څخه وی، هغه خساره چه د هغـو پـه اثـر مـال تـه رسـیدلی وی پـه پیرودونکـی پـوری اړه لـری. مگـر کـه خسـاره د پلـورونکی لـه تقصیر څخـه

بـنـابرایـن، در صـورتیکه تبـدیلات مـذکور از ایـجابـات حـمل و نقـل مال باشد، خسـارهٔ کـه در اثر آن بـه امتعـه وارد مـیشود، مـربوط بـه مشتری میباشد. ولـی اگـر خسـاره از تقصیـر بـایـع نـاشـی شـده

پيښنه شوی وی نو پيرودونکی کولای شي چه بيع فسخ کړی او پيښ شوی زيان او ضرر وغواړی.

که مال له (۶۷۲) مادی سره سم د کنسانمينت په ذريعه ليږلی شوی وی، بايد کنسانمينت داسی تنظيم شي چه د انتقالاتو مراحل پکښې شامل وی.

۶۷۴ ماده:

د (سيف) پلورونکی مکلف دی چه بار شوی مال (عادی شرطونو سره سم چه د هغو درج د بيمې په مقاولاتو کښې عادت دی) د بحری خطراتو په مقابل کښې بيمه کړی.

دبيمې قيمت بايد د هغې محلی تمام شد د نرخ په اندازه وی چه مال هلته ليږل کيږي. که مال برخه برخه بار شوی وی، بايد هره برخه يې ځانګړی بيمه شي. پلورونکی نشي کولای چه پخپله د پيرودونکی په مقابل کښې د بيمه کوونکی وظيفه اجراء کړی.

۶۷۵ ماده:

که د عادی بيمې تصديقنامه د بيمې مخصوص شرطونه ونه لری او د هغې شرطونه د بيمې له کومی پاليسی د نمونی سره سم تنظيم نشي، د بيمې د پاليسی قايم مقام کيدای نشي.

باشد، مشتری میتواند بیع را فسخ و ضرر و زیان وارده را مطالبه نماید.

هرگاه امتعه مطابق مادهٔ (۶۷۲) ذریعه کنسانمینت ارسال گردیده باشد، باید کنسانمینت طوری تنظیم شود که شامل مراحل انتقالات باشد.

مادهٔ ۶۷۴:

بایع (سیف) مکلف است امتعه معموله را (مطابق شرائط عادیه که درج آن در مقاولات بیمه معتاد است) در مقابل خطرات بحری بیمه نماید.

قیمت بیمه باید باندازه نرخ تمام شد محلی باشد که امتعه به آنجا فرستاده میشود اگر امتعه حصه حصه حمل شده باشد باید هر حصهٔ علیحده بیمه شود بایع نمیتواند بالذات در مقابل مشتری وظیفهٔ بیمه کننده را اجرا نماید.

مادهٔ ۶۷۵:

اگر تصدیق نامه بیمه عادی محتوی شرایط مخصوصه بیمه نباشد و شرایط آن طبق یکی از نمونه های پالیسی بیمه تنظیم نگردد، نمیتواند قائم مقام پالیسی بیمه واقع شود.

**۶۷۶ ماده:**

په دې صورت چه په مقاوله کښې دهغې په خلاف کوم صراحت موجود نه وی هغه خطرات چه دبیمې په ذریعه تأمین شي عادی خطرات دی اود جنګ خطرات له هغو نه جلادی دمعافیت په شرایطو اودبیمې دبدل دورکړی په طرز کښې دبار یدو د محل جاری عرف او عادات او دشیانو جنس او ماهیت په نظر کښې نیول کیږي.

که د (سیف) پلورونکی مبیعه په یوه معروف او معتبر شرکت کښې بیمه کړی وی او وروسته له هغه دبیمې مؤسسه دبیمې دبدل په ورکړه قدرت ونه مومی دپیرودونکی په مقابل کښې مسئولیت نه لری.

**۶۷۷ ماده:**

که د سیف په بیه کښې دواړه خواوی قرارداد وکړی چه پیرودونکی د مال وضعیت، تول او وصف چه بیړۍ کښې د باریدو په وخت کښې وګوری، د اعتبار وړ دی. دنقصان د موندلو په صورت کښې پیرودونکی کولای شي چه محکمې ته مراجعه وکړی او د پوهو کسانو ټاکل او تصدیق وغواړی.

**۶۷۸ ماده:**

وروسته له هغه چه مال بار شو

**مادهٔ ۶۷۶:**

در صورتیکه بر خلاف آن در مقاوله صراحتی موجود نباشد، خطراتیکه توسط بیمه تأمین شود، خطرات عادی بوده و خطر جنگ ماسوای آن است. در شرایط معافیت و طرز تادیه بدل بیمه عرف و عادات جاریه محل حمل و جنس و ماهیت اشیاء در نظر گرفته میشود.

اگر بایع (سیف) مبیعه را در شرکت معروف و معتبری بیمه کرده باشد و بعداً مؤسسه بیمه قادر به تادیه بدل بیمه نگردد، در مقابل مشتری مسئولیتی ندارد.

**مادهٔ ۶۷۷:**

اگر در بیع سیف جانبین قرارداد نمایند که مشتری وضعیت وزن و وصف امتعه را در حین حمل به کشتی معاینه کند، معتبر است. در صورت کشف نقصان، مشتری میتواند به محکمه مراجعه و تعیین و تصدیق اهل خبره را مطالبه کند.

**مادهٔ ۶۷۸:**

بعد از اینکه امتعه حمل گردید،

پلورونکی مکلف دی چه (کنسانمینت) ظهر نویسی کړی. د بیمې له مقاولی او اصل بیجک سره او د ایجاب په صورت د مال د وصف او تول په خصوص کښې تصدیقنامه ترتیب کړی او د حوالی (چک) په مل یې پیرودونکی ته ولیږی.

که د مال بار شوی بیړۍ ورسیږی او مربوطه پاڼې نه وی رسېدلی او یا په ناقص صورت رسیدلی وی نو که پیرودونکی پلورنکی ته مراجعه وکړی پلورونکی مجبور دی چه صحیح اسناد چه د پیرودونکی لخوا د مال د تسلیم د اعتبار وړ وګرزیدای شي تهیه کړی او هغه پیرودونکی ته ولیږی هغه مصارف چه ددی پاڼو د تسلیم له ځنډیدو څخه کیږي په پلورونکی پوری اړه لری.

۶۷۹ ماده:

پلورونکی مجبور دی هغه معلومات چه د مارکونو د مال دباریدو او دمال دبار شوی بیړۍ د نېټې په باره کښې په لاس راوړی، ژر تر ژره پیرودونکی ته اطلاع ورکړی.

۶۸۰ ماده:

هغه پاڼې چه پیرودونکی ته لیږلی کیږي باید مکملی او منظمی وی. که

بایع مکلف است که (کنسانمینت) را ظهر نویسی کرده با مقاوله بیمه و اصل بیجک و عند الایجاب تصدیق نامه راجع به وصف و وزن امتعه ترتیب و به انضمام حواله (چک) به مشتری ارسال نماید.

اگر کشتی حامل امتعه واصل شود و اوراق مربوطه هنوز نرسیده یا بصورت ناقص رسیده باشد، در صورتیکه مشتری به بایع مراجعه نماید، بایع مجبور است اسناد صحیحی که مدار اعتبار تسلیم امتعه از طرف مشتری شده بتواند، تهیه و آنرا به مشتری ارسال نماید. مصارفیکه از تأخیر تسلیم اوراق مذکور بعمل می آید، متعلق به بایع است.

مادهٔ ۶۷۹:

بایع مجبور است معلوماتی را که دربارهٔ تاریخ حمل امتعه، مارکها و کشتی حامل امتعه بدست می آرد، فوراً به مشتری اطلاع بدهد.

مادهٔ ۶۸۰:

اوراقیکه به مشتری ارسال میشود باید مکمل و منظم باشد. در

د پاڼو مندرجات د (سيف) د مقاولې له شرطونو سره مطابقت ونکړي، پيرودونکی کولای شي چی مقاوله فسخ کړي او زيان او ضرر وغواړي.

صورتيکه مندرجات اوراق به شرايط مقاوله (سيف) مطابقت نکنند، مشتری ميتواند مقاوله را فسخ و طلب ضرر و زيان نمايد.

**۶۸۱ ماده:**

پيرودونکی مجبور دی وروسته له هغه چه په (۶۸۰) ماده کښې ذکر شوی پاڼې ده ته تسليميږي، وروسته له کتنې په څلورو ورځو کښې د هغو کار قبول يا رد کړي.

**مادهٔ ۶۸۱:**

مشتری مجبور است بعد از اينکه اوراق متذکره در مادهٔ (۶۸۰) به او تسليم ميگردد، پس از ملاحظه در ظرف چهار روز کار آنرا قبول و يا رد نمايد.

د پاڼو د رد په حال کښې که ثابت شي چه رد بې موجبه دی، پيرودونکی مجبور دی چه د پلورونکی ضرر او زيان ورکړي.

در حال رد اوراق اگر ثابت گردد که رد بيموجب بوده است، مشتری مجبور است ضرر و زيان بايع را بپردازد.

ددی په عکس پيرودونکی حق لری چه عقد فسخ کړي او زيان او ضرر يې وغواړي.

بر عکس آن مشتری حق دارد عقد را فسخ و ضرر و زيان آنرا مطالبه نمايد.

که پيرودونکی پاڼې قبولی کړي وي، تر هغه وخته پوری چه د پلورونکی حيله اثبات نشي او يا د پاڼو له مندرجاتو سره د مال نه مطابقت څرګند نشي، پيرودونکی نشي کولای چه عقد فسخ کړي.

اگر مشتری اوراق را قبول کرده باشد، تا وقتيکه حيله بايع به اثبات نرسد و يا عدم مطابقت امتعه به مندرجات اوراق ظاهر نگردد، مشتری نميتواند عقد را فسخ کند.

که پيرودونکی پاڼې د ځينو تاکليو علتونو له ذکر سره ردی کړي او يا يې د اعتراض له قيد سره قبولی کړي وي

اگر مشتری اوراق را با ذکر بعضی علل معينه ترديد و يا با قيد اعتراض قبول نموده باشد، نميتواند

نشي، کولای چه پرته له تاکلو علتونو بل اعتراض وکړي.

**۶۸۲ ماده:**

د (سيف) پيرودونکی په (۶۷۲) ماده کښې د ذکر شويو پاڼو له تسليم او قبولی څخه وروسته (په دی صورت چه د هغه په خلاف په مقاوله کښې کوم صراحت موجود نه وی) مجبور دی د هغو اسنادو بدل چه د مبيعی د قيمت په خصوص کښې ده ته صادر شوی دی ژر تر ژره ورکړي.

**۶۸۳ ماده:**

د بيړی د رسيدو په وخت کښې نظر کنسانمينت او مقاولی ته او که په مقاوله کښې کوم صراحت موجود نه وی، د محلی عرف او عاداتو له مخې مال ايستل کيږي.

پيرودونکی مکلف دی چه له لمبر او مارک او کنتر مارک او په پاڼو کښې د بار بندی له شرايطو سره سم له بيړی څخه د صادر شوی مال مطابقت وگوری. که د پلورونکی د خطا په اثر د مال تعيين او تشخيص ممکن نه شي، پيرودونکی کولای شي چه عقد فسخ کړی.

به استثنای علل معينه، اعتراض ديگری بنمايد.

**مادۀ ۶۸۲:**

مشتری (سيف) پس از تسليم و قبولی اوراق متذکره مادۀ (۶۷۲) (در صورتيکه بر خلاف آن در مقاوله صراحتی موجود نباشد)، مجبور است بدل اسناد را که راجع به قيمت مبيعه به او صادر شده فوراً بپردازد.

**مادۀ ۶۸۳:**

در وقت مواصلت کشتی نظر به شرائط کنسانمينت و مقاوله و اگر در مقاوله صراحتی موجود نباشد، قرار عرف و عادات محلی امتعه خارج ميشود.

مشتری مکلف است مطابقت امتعه صادره از کشتی را با نمبر و مارک و کنتر مارک و شرايط باربندی مندرجه اوراق معاينه نمايد. اگر در اثر خطای بايع تعيين و تشخيص امتعه ممکن نگردد، مشتری ميتواند عقد را فسخ نمايد.

**۶۸۴ ماده:**

که د لیږلی مال او د مقاولی د موضوع د مال ترمنځ تفاوت د صفت له حیثه له معمولی اندازې څخه تیری ونکړی پیرودونکی مکلف دی چه مال قبول کړی مګر د پوهو کسانو د نظریې له مخې له قیمت څخه د یوی اندازی تنزیل غوښتنه وکړي. هغه اندازه چه له قیمت څخه تنزیل کیږی، که د هغه په خلاف کوم صراحت موجود نه وی، په بندر کښې د جاری عرف اوعاداتو له مخې تخلیه، تعیین او تقدیر کیږي.

**مادهٔ ۶۸۴:**

اگر تفاوت بین امتعه مرسوله و امتعه موضوع مقاوله از حیث صفت از اندازه معمول تجاوز نکند، مشتری مکلف است امتعه را قبول ولی میتواند به اساس نظریه اهل خبره تنزیل یک مقدار از قیمت را مطالبه نماید. مقداریکه از قیمت تنزیل میشود، هرگاه بر خلاف آن صراحتی موجود نباشد، نظر به عرف و عادات جاریه در بندر تخلیه، تعیین و تقدیر میشود.

**۶۸۵ ماده:**

په دې خصوص کښې د شرط قید چه د مال بدل د تخلیی په وخت کښې د تول له مخې د اعتبار وړ دی، ممکن دی په دی صورت کښې نظر د مقاولی مندرجاتو ته مؤقتي بیجک جوړیږي چه د مال له باریدونه وروسته پیرودونکی ته لیږل کیږي او د مبیعی قیمت په سلو کښې تر **۷۵** څخه تر (نوی) پوری په مربوطه اسنادو کښې چه پیرودونکی ته لیږل کیږي پیش بینی کیږي.

وروسته له هغه چه دداړو خواوو یا د هغو د نمایندګانو په حضور د مقصد په بندر کښې د مال تول تعیین شو، نو قطعی (حقیقي) بیجک جوړیږی.

**مادهٔ ۶۸۵:**

قید شرط مبنی بر اینکه بدل امتعه در حین تخلیه از روی وزن معتبر است ممکن میباشد. در این صورت نظر به مندرجات مقاوله بیجک مؤقتی تنظیم میگردد که بعد از حمل امتعه بمشتری ارسال میشود و قیمت مبیعه به اندازه فیصد هفتاد و پنج الی نود در اسناد مربوطه که به مشتری ارسال میشود پیش بینی میگردد.

بعد از اینکه در حضور طرفین و یا نمایندگان آنها وزن امتعه در بندر مقصد تعیین گردید، بیجک قطعی (حقیقی) تنظیم میشود.

ددوو بيجکونو ترمنځ تفاوت د مال د قبولي له نېټې څخه په اتو ورځو کښې د پيرودونکي له خوا ورکاوه يا د پلورونکي له خوا اعاده کيږي.

تفاوت در بين دو بيجک در ظرف هشت روز از تاريخ قبولي امتعه از طرف مشتري تاديه و يا از طرف بايع اعاده ميشود.

**۶۸۶ ماده:**

که په مقاوله کښې د (تخميناً) قيد موجود وي، په دی صورت چه مبيعه د بيړۍ په ټول بار شوی مال شامله وي، په سلوکښې لس او په دی حال کښې چه مبيعه د بيړۍ له بار شوی مال څخه يوه برخه وي نو په سلو کښې پنځه لږي يا زياتي له هغې اندازی څخه چه مقاوله شوی دی د تسليم وړ دی. د قطعي اندازی د تعيين په صورت پيرودونکی حق لري چه ټول هغه معين مقدار چه په مقاوله کښې ذکر شوی دی وغواړي مگر پلورونکی له طبيعي او بحری خساراتو څخه چه په سفر کښې مبيعي ته پيښيږي مسئول نه دی د لږوالي يا زياتوالي د اندازی قيمت چه په دواړو احوالو کښې څرگند شي، نظر د محل ورځنې رواج ته له بيړۍ څخه د مال ايستل تعيين او تسويه کيږي.

**مادهٔ ۶۸۶:**

اگر در مقاوله قيد (تخميناً) موجود باشد، در صورتيکه مبيعه شامل به تمام محمولهٔ کشتي باشد، ده فيصد و در حاليکه مبيعه جزئي از محمولهٔ کشتي باشد، پنج فيصد کمتر و يا زيادتر از مقداريکه مقاوله شده قابل تقسيم است. در صورت تعيين مقدار قطعي، مشتري حق دارد تمام مقدار معين را که در مقاوله ذکر شده طلب نمايد. ولی بايع از خسارات طبيعي و بحری که در اثناء سفر به مبيعه وارد ميشود، مسئول نميباشد. قيمت مقدار کمبودی و يا اضافي ايکه در هر دو حال ظاهر گردد نظر به رواج روز و محل اخراج امتعه از کشتي تعيين و تسويه ميشود.

که د مال د حقيقي تول تثبيت د هغه ديوې برخې په بحر کښې د لويدلو له حيثه او يا د لمديدلو په سبب ممکن نشي، مؤقتي بيجک اعتبار لري.

اگر تثبيت وزن حقيقي امتعه از حيث افتادن يک قسمت آن به بحر و يا از سبب تر شدن ممکن نشود، بيجک مؤقتي اعتبار دارد.

۶۸۷ ماده:
که په مقاوله کښې دا ډول شرطونه پیش بینی شي چه د مال باریدو څخه وروسته خساری یواځې په پلورونکی پوری اړه لری او یا د معاملی عقد د مقصد محل ته په سالم ډول د بېړی تر رسیدلو پوری معطله پاتی کړی او یا پیرودونکی د نمونی په خوښولو کښې چه د عقد په وخت کښې تسلیم شوی وی مختار وګڼې، په دی حال کښې د (سیف) د پلورنی د مقاولی ماهیت تغییر مومی او معامله د هغې بیع په شکل چه د تخلیی په محل کښې د مال په تسلیم پوری مشروطه وی تبدیلیږی.

ماده‌ٔ ۶۸۷:
اگـر در مـقاوله شـرایطی پـیش بـینی شـود که خـسارات بعد از حمـل مـال منحـصراً بـه بایـع مـربوط است و یـا عـقد معامله را ملتوی به وصول کشـتی بطور سالم بـه محـل مقصد قـرار دهـد و یا مشتری را به پسند و عـدم پـسند نمونـه که در حین عقـد تسلیم شده مختـار بشناسـد، دریـن حـال مـاهیت مـقاوله فـروش (سیف) تغییر خورده و معـامله بـه شـکل بیعی که مشروط بـه تسلیم مال به محل تخلیه است تبدیل مـیگردد.

## څلورم فصل
## تجارتی پورونه

## فصل چهارم
## قرض تجارتی

۶۸۸ ماده:
ددې دپاره چه پور تجارتی وګڼل شي، شرط دی چه تجارتی چارو کښې د صرفیدلو دپاره پور اخیستی شوی وی.

ماده‌ٔ ۶۸۸:
بـرای اینکـه قـرض تجارتـی محسوب شـود، شـرط است بـه مقصد صرف شدن در امور تجارتی استقراض شده باشد.

۶۸۹ ماده:
د جنس پور لکه د نقد غوندی د تجارتی پور په حیث جائز دی.

ماده‌ٔ ۶۸۹:
قرض جنس مانند نقد بحیث قرض تجارتی جائز است.

۶۹۰ ماده:
پورکوونکی مجبور دی کوم شي چه

ماده‌ٔ ۶۹۰:
قرض کننده مجبور است چیزی را که

پور اخلی، په ټاکلې وخت یې په همغه نوع او وصف بیرته ورکړي.

**۶۹۱ ماده:**

هغه شخص چه پرته له پوره په بل کوم سبب د پول یا جنس په ورکړه مجبور وی کولای شي چه پول یا جنس د تجارتی پور په شکل له پوروال سره فیصه کړي.

**۶۹۲ ماده:**

تجارتی پور تل د ټکټ پولۍ تابع دی مګر دا چه د هغه په خلاف د دواړو خواوو په منځ کښې فیصله شوی وی.

**۶۹۳ ماده:**

که د ټکټ پولی اندازه په قرارداد کښې ټاکلی شوی نه وی، داسی بلل کیږي چه دواړو خواوو د قانونی ټکټ پولۍ په ورکړه موافقت کړی دی.

**۶۹۴ ماده:**

که د پور موده له یوه کال څخه لږه وی، ټکټ پولی د پور د بیرته ورکولو په ورځ ورکوله کیږي او که موده له یوکال څخه زیاته وی، د ټکټ پولی ورکړه دکال په پای کښې لازمیږي مګر داچه دواړو خواوو د هغه په خلاف موافقه کړی وی.

قرض میگیرد، در وقت معین با همان نوع و وصف اعاده کند.

**مادهٔ ۶۹۱:**

شخصیکه غیر از قرض بنابر سبب دیگری به دادن پول و یا جنس مجبور باشد، میتواند پول و یا جنس را بشکل قرض تجارتی با دائن فیصله کند.

**مادهٔ ۶۹۲:**

قرض تجارتی همیشه تابع تکت پولی است مگر اینکه بر خلاف آن بین طرفین فیصله شده باشد.

**مادهٔ ۶۹۳:**

اگر مقدار تکت پولی در قرار داد تعیین نشده باشد، چنین معلوم میشود که طرفین به تادیه تکت پولی قانونی موافقت نموده اند.

**مادهٔ ۶۹۴:**

اگر مدت قرض کمتر از یک سال باشد، تکت پولی در روز اعاده قرض پرداخته میشود و اگر مدت از یک سال متجاوز باشد، تادیه تکت پولی در آخر سال لازم میاید مگر اینکه طرفین بر خلاف آن موافقه نموده باشند.

**۶۹۵ ماده:**
کــه ددوارو خــواوو پــه مــنځ کښــې د ورکړې موده ټاکلې شوې وي، پـوروال نشي کولای چه د وعدې له رسيدلونه پخوا پوروړی په ورکړه مجبور کړي.

**۶۹۶ ماده:**
د جنس اندازه او قيمت چه د تجـارتي چـارو دپـاره پـور کيـږي، ددې قـانون د (۶۰۹) مادې د ثبوتيه اسبابو په ذريعـه د اثبات وړ دي.

## پنځم فصل
## تجارتي رهن

**۶۹۷ ماده:**
ددې دپــاره چه تـجارتـي رهـن و ګڼـل شي لازم دی چه د تـجارت پـه مـقصـد شـوی وي.

**۶۹۸ ماده:**
عقد کوونکی کولای شي چه په اتفـاق سره قرار وکړي چه ګرو شوی مـال دې دريم شخص ته وسپارل شي.

**۶۹۹ ماده:**
د تجـارتي رهـن ثبـوت ددې اصـولنامې له (۶۲۴) مادې سره سم کيږي.

کـه د رهـن پـور لـه (پنځـو سـوو افغـانو) څخه زيات وي، بايد د تجارتي ثبت په

**مادۀ ۶۹۵:**
اگـــر در بيـــن طرفيـــن مــدت تأديــه تعـييـــن گرديـــده باشـــد، دائـــن نميتوانـد مـديون را قبـل از بـه سـر رسيدن وعده به تاديه اجبارنمايد.

**مادۀ ۶۹۶:**
مقـدار و قيـمت جنسـيكه بـراى امـور تجارتى قرض ميشـود، ذريعـه اسباب ثبوتيـه مـادۀ (۶۰۹) ايـن قـانون قابـل اثبات است.

## فصل پنجم
## رهن تجارتی

**مادۀ ۶۹۷:**
بـرای اينکـه رهـن تجـارتی محسـوب شـود لازم است کـه بـه مقصـد تجـارتی بعمل آمده باشد.

**مادۀ ۶۹۸:**
عــاقديـــن ميـتـواننــد بـالاتفـاق قـرار دهنـد کــه مــال مـرهــون بــه شخـص ثـالـث توديـع شـود.

**مادۀ ۶۹۹:**
ثبــوت رهــن تجــارتی مطــابق مــادۀ (۶۲۴) اين قانون بعمل می آيد.

اگـر ديـن رهـن متجـاوز از (پـنج صـد افغـانی) باشـد، بايـد بـه دائـره ثبـت

دائره کښې ثبت او تصديق شي.

**۷۰۰ ماده:**
د براتونو، حجتونو او نورو تجارتي اسنادو رهن جائز دی د نوم لرونکو اسنادو رهن د مربوطه شرکت په دفتر کښې ثبت او قيد کيږي.

**۷۰۱ ماده:**
پوروال له مرهون مال څخه دخپل حق په استيفا کښې نظر نورو پوروالانو ته ترجيحاً وړاندې دی.

په مرهون مال کښې د پوروال د ترجيح حق يواځې په دی صورت چه مرهون مال پخپله دپوروال په لاس کښې يا د طرفينو په اتفاق د دريم شخص په لاس کښې وی، معتبر دی.

په دی حال کښې چه گرو شوی مالونه د پوروال او کميشن کار په مغازه يا د گمرک په تحويلخانو کښې موجود وی، داسې گڼل کيږي چه د پوروال په تصرف کښې دی. همدا ډول که د گرو شويو مالونو له رسيدلو څخه پخوا په يوه بارنامه کښې چه پوروال ته ورکړی شوی ده او يا د حمل او نقل په يوه مقاوله نامه کښې چه قيد شوی وی چه (په مقابل کښې تضمين ورکړی شوی دی) نو گرو شوی مالونه د پوروال په

تجارتی ثبت و تصديق شود.

**مادهٔ ۷۰۰:**
رهن برات ها، حجت ها و ديگر اسناد تجارتی جايز است. رهن اسناد با نام در دفاتر شرکت مربوط ثبت و قيد ميشود.

**مادهٔ ۷۰۱:**
داين در استيفای حق خود از مال مرهون نظر به دائنين ديگر ترجيحاً مقدم است.

حق ترجيح دائن در مال مرهون تنها درصورتيکه مال مرهون در دست خود دائن و يا به اتفاق طرفين در دست شخص ثالث باشد، معتبر است.

در حاليکه اموال مرهونه در مغازه های دائن و کميشن کار و يا در تحويل خانه های گمرک موجود باشد، چنان محسوب ميشود که در تحت تصرف دائن است. همچنين اگر قبل از وصول اموال مرهونه به يک بارنامه که به داين داده شده است و يا در يک مقاوله نامه حمل و نقل قيد شده باشد که (در مقابل تضمين داده شده است)، اموال مرهونه در تصرف

تصرف کښې فرضيږي.

**۷۰۲ ماده:**
پوروال مجبور دی چه د گرو مال د ښې ساتنې دپاره لازم تدبيرونه ونيسي پوروال مکلف دی چه د خپل حق د استيفا دپاره د وعدې په راتگ کښې قانوني اقدامات وکړي.

پوروړی مکلف دی چه برسيره په خپل پور ټول هغه مصارف چه پوروال د گرو مال د ساتنې دپاره گاللي دي هم ورکړي.

همدا ډول بايد پوروال د هغو مصارفو حسابونه چه په دې مقصد يې کړي دي پوروړی ته ورکړي.

**۷۰۳ ماده:**
په دې صورت چه د هغه په خلاف کوم شرط مقرر شوی نه وي، پوروال مکلف دی چه دټولو هغو حقوقو چه پوروړې يې د اسهامو په شيانو او د مرهون پور په اسناد ولري حمايه وکړي.

**۷۰۴ ماده:**
که د مرهون پور د اسنادو او د اسهامو د شيانو قيمت په سلو کښې له لسو نه زيات تنزل وکړي، پوروال کولای شي چه د هغو پوره کول له پوروړی څخه وغواړي، مگر دا چه

دائن فرض میشود.

**مادۀ ۷۰۲:**
داین مجبور است برای حسن محافظه مال مرهون تدابیر لازمه را اتخاذ نماید. دائن مکلف است در حلول وعده برای استیفاء حق خود اقدامات قانونی را بعمل بیاورد.

مدیون مکلف است که علاوه از دین خود تمام مصارفی را که داین برای حفاظه مال مرهون متحمل شده نیز تادیه بدارد.

همچنان باید دائن حسابات مصارفی را که به این مقصد نموده؛ به مدیون بدهد.

**مادۀ ۷۰۳:**
در صورتیکه بر خلاف آن شرطی مقرر نشده باشد، دائن مکلف است تمام حقوقی را که مدیون بالای اشیاء اسهام و اسناد قرض مرهون داراست، حمایه کند.

**مادۀ ۷۰۴:**
اگر قیمت اشیاء سهام و اسناد قرض مرهونه زیاده از ده فیصد تنزل کند، دائن میتواند تکمیل آنرا از مدیون تقاضا نماید، مگر اینکه

د هغه په خلاف د دواړو خواوو په منځ کښې موافقه شوې وي.

په دې صورت چه پوروړی دا غوښتنه قبوله نکړي او یایې په قبول کښې ځنډ وکړي پوروال کولای شي مرهون مال له (۶۵۵) مادې سره سم وپلوري.

**۷۰۵ ماده:**
د مماثلو شیانو او یا د پور اسنادو او اسهامو د گرو په حال کښې که دهغو مثل ورکړ شي، په دې مورد کښې رهن هم جاري دی.

**۷۰۶ ماده:**
په دې صورت چه پوروړی د وعدې د پوره کیدو په وخت کښې تـول هغه پور چه د رهن په ذریعه یې په لاس راوړی دی ورنکړي، پوروال کولای شي د مرهون مال په پلورنه کښې اقدام وکړي.

ددې مقصد دپاره پوروال مربوطې تجارتی محکمې ته مراجعه کوي او د مرهون مال دپلورنې اجازه غواړي.

ددې غوښتنې په اثر کیفیت ژرترژره د محکمې په ذریعه پوروړي ته او که رهن د پوروړي په حساب د دریم شخص له خوا شوی وي دریم شخص ته هم تبلیغ کیږي

بر خلاف آن بین طرفین موافقه شده باشد.

در صورتیکه مدیون این خواهش را قبول نکند و یا در قبول آن تأخیر نماید، داین میتواند مال مرهون را مطابق مادهٔ (۶۵۵) به فروش برساند.

**مادهٔ ۷۰۵:**
در حال رهن اشیاء مماثل و یا اسهام و اسناد قرض اگر مثل آنها داده شود حکم رهن در این مورد نیز جاری است.

**مادهٔ ۷۰۶:**
در صورتیکه مدیون در مدت به سر رسیدن وعده تمام دین را که ذریعه رهن بدست آورده است تادیه نکند، داین میتواند در فروش مال مرهون اقدام ورزد.

برای این مقصد داین به محکمه تجارتی مربوط مراجعه و اجازه فروش مال مرهون را خواهش میدارد.

در اثر این خواهش کیفیت فوراً ذریعه محکمه به مدیون و اگر رهن بحساب مدیون از طرف شخص ثالث بعمل آمده باشد، به شخص ثالث نیز تبلیغ میشود که اگر

چه که کوم اعتراض ولری په دریو ورځو کښې اطلاع ورکړی.

وروسته له دریو ورځو تیرېدو څخه که د پوروړی له خوا او یا ددریم شخص له خوا کوم اعتراض ونکړي شي نو تجارتی محکمه د مرهون مال دپلورنی په خصوص کښې امر ورکوی. که د پلورنی په باره کښې په مقاوله نامه کښې کوم قید موجود وی، د هغه سره سم او که نه له (۶۵۵) مادې سره سم د مال په پلورنه کښې اقدام کیږي.

دا قرار تر هغه وخت پورې چه پوروړی یا هغه دریم شخص ته چه د پوروړی په حساب یې رهن ورکړی وی تبلیغ ونشي، اجراء کیدای نشي.

په تبلیغ کښې محل، ساعت او دپلورنی د اجراء ورځ (او داچه که د محکمې په قرار باندې د تبلیغ له نېټې څخه په دریو ورځو کښې دننه د پوروال له خوا په محکمه کښې کوم اعتراض پېښ نشي، قطعیت به ومومی) ذکر کیږي.

د اعتراض د وقوع په صورت د اعتراض نامې د رسیدو له نېټې څخه په اتو ورځو کښې محکمه مؤظفه ده چه په مسئله کښې غور وکړی او خپل

اعتراضی داشته باشند، در ظرف سه روز اطلاع دهند.

بعد از مرور سه روز اگر از طرف مدیون و یا شخص ثالث اعتراضی وارد نشود، محکمه تجارتی دربارهٔ فروش مال مرهون قراری اتخاذ میکند اگر دربارهٔ فروش دو مقاوله نامه قیدی موجود باشد، مطابق آن و الا مطابق مادهٔ (۶۵۵) در فروش مال اقدام میشود.

این قرار تا وقتیکه به مدیون ویا شخص ثالثیکه به حساب مدیون رهن داده باشد تبلیغ نگردد، اجراء شده نمیتواند.

در تبلیغ محل ساعت و روز اجرای فروش (و اینکه اگر بر علیه قرار محکمه از تاریخ تبلیغ در ظرف سه روز از طرف داین در محکمه اعتراضی واقع نشود، قطعیت پیدا خواهد کرد) ذکر میشود.

در صورت وقوع اعتراض از تاریخ وصول اعتراض نامه در ظرف هشت روز محکمه مؤظف است به مسئله رسیدگی و قرار خود

قرار صادر کړی.

**۷۰۷ ماده:**

په دې حال کښې چه پوروړی یا هغه شخص چه د پوروړی په حساب یې رهن ورکړی وی د محکمې په منطقه کښې د استوګنې ځای نه لری او یا ئې د استوګنې ځای نه وی تعیین کړی نو تبلیغ د محکمې د محل په جریده کښې خپریږی.

که د محکمې په محل کښې جریده نه وی نو تبلیغ د محکمې په مناسب ځای کښې ځړول کیږي. د (۷۰۶) مادی تاکلی موده د اعتراض په خصوص کښې د مسافی د لیرې والی په سبب زیاتیدای نشي.

**۷۰۸ ماده:**

هغه حقوق چه له پخوانیو موادو سره سم پوروال ته ورکړی شوی دی، د پورورړی یا د هغه شخص د وفات په صورت چه د پوروړی په حساب یې رهن ورکړی وی له منځ څخه نه ځی.

**۷۰۹ ماده:**

دداسې شرط تاکل چه پوروال له مرهون مال څخه د پور له استیفا څخه محروم او یا په پلورنه کښې د قانونی مراسمو له استفادی څخه منع کړی (د

را صادر کند.

**مادۀ ۷۰۷:**

درحالیکه مدیون و یا شخصیکه به حساب مدیون رهن داده باشد در داخل حوزه اقامتگاه نداشته و یا اقامتگاهی تعیین نکرده باشد، تبلیغ در جریدۀ محل محکمه نشر میشود.

اگر در محل محکمه جریده نباشد، تبلیغ در موضع مناسب محکمه تعلیق میگردد. مدت معینه مادۀ (۷۰۶) راجع به اعتراض را به سبب بعد مسافه نمیتوان تزئید کرد.

**مادۀ ۷۰۸:**

حقوقیکه مطابق مواد سابقه به داین داده شده است در صورت وفات و افلاس مدیون و یا شخصیکه به حساب مدیون رهن داده باشد از بین نمیرود.

**مادۀ ۷۰۹:**

تعیین چنان شرطیکه داین را از استیفای دین از مال مرهون محروم و یا در فروش از استفاده مراسم قانونی ممنوع سازد (در

پوروړی له خوا د پور د نه ورکړې په حال کښې) باطل دي.

۷۱۰ ماده:
د هغه مال د رهن معاملات چه مکازین (گدام) ته سپارل کیږي ددی اصولنامی د مخصوص فصل د احکامو تابع دی چه د عمومی مکازینونو په خصوص کښې بحث کوی.

## شپږم فصل
## د طلباتو حواله

۷۱۱ماده:
پوروال کولای شي چه بې د پوروړی له موافقی څخه د خپل طلب حواله بل چاته ورکړی، مګر داچه د معاملې د ماهیت او یا د مقاولې د شرطونو له مخې ممنوع وی.

هغه شخص چه طلب دده په حواله شوی دی د حوالی له نېټې څخه حقوقاً د حواله ورکوونکی شخص حیثیت مومی. که د سند په متن کښې د طلب د نه حواله کولو په خصوص کښې کوم قید موجود نه وی او دریم شخص حواله قبوله کړی نو حواله کوونکی دا ادعا نشي کولای چه ده له خپل لمړنی پوروال سره د طلب د نه حواله کولو په

حال عدم تادیه دین از طرف مدیون)، باطل است.

مادهٔ ۷۱۰:
معاملات رهن امتعهٔ که به مکازین عمومی (گدام) تودیع میشود، تابع احکام فصل مخصوص این قانون است که راجع به مکازین های عمومی بحث میکند.

## فصل ششم
## حوالهٔ طلبات

مادهٔ ۷۱۱:
داین میتواند بدون موافقه مدیون طلب خود را بدیگری حواله دهد، مگر اینکه نظر به ماهیت معامله و یا شرایط مقاوله ممنوع باشد.

شخصیکه طلب به او حواله شده، از تاریخ حواله حقوقاً حیثیت شخص حواله دهنده را دارا میشود. اگر در متن سند راجع به حواله نکردن طلب قیدی وجود نداشته باشد و شخص ثالث حواله را قبول نماید، در مقابل حواله گیرنده نمیتواند ادعا کند که او با داین اولی خود راجع به حواله نکردن طلب

خصوص کښې کوم شرط ایښې و.

شرطی گذاشته بود.

**۷۱۲ ماده:**
دهغه طلب حواله چه علت ئی فعلاً موجود وی مگر په راتلونکی وخت کښې تحقق کوی جائز دی.

**مادۀ ۷۱۲:**
حوالۀ طلبیکه علت آن فعلاً موجود ولی در آینده تحقق مینماید جایز است.

**۷۱۳ ماده:**
ترهغه وخته پوری چه دطلب حواله په لیکنه سره ونشي له اعتبار څخه ساقطه ده.

**مادۀ ۷۱۳:**
تا وقتیکه حوالۀ طلب تحریراً صورت نگیرد از اعتبار ساقط است.

**۷۱۴ ماده:**
پخوا له هغه چه دطلب دحوالی دپوروال له خوا پوروړی ته اطلاع ورکړه شي که پوروړی پورلومړنی پوروال ته ورکړی دهغه شخص په مقابل کښې چه پورهغه ته ور حواله شوی دی، بری دی.

**مادۀ ۷۱۴:**
قبل از آنکه حوالۀ طلب از طرف داین به مدیون اطلاع گردد اگر مدیون دین را به داین اولی تأدیه کند در مقابل شخصیکه طلب باو حواله داده شده است بری میباشد.

**۷۱۵ ماده:**
که په دې باره کښې چه پور په کوم شخص پورې اړه نیسی اختلاف پیدا شي، پوروړی کولای شي هغه مبلغ چه پور ورباندې دی حقیقی پوروال ته چه ثابت شي یا امین شخص ته د محکمی په ذریعه وسپاری.

**مادۀ ۷۱۵:**
اگر دربارۀ اینکه طلب به کدام شخص عاید است اختلافی موجود شود، مدیون میتواند مبلغی را که مقروض است به داین حقیقی که ثابت شود و یا شخص امین توسط محکمه تودیع نماید.

که چېرې پوروړی سره له دی چه لدی اختلافه خبر وی خپل پور پرته له هغه چا چه حقیقی خاوند دی بل ته ورکړی،

هرگاه مدیون با وجود معلومات از اختلاف مذکور دین خود را بغیر از شخصیکه صاحب حقیقی است تأدیه

د حواله ورکړی شوی شخص په مقابل کښې یې غاړه نشي خلاصیدای.

که د پور د اړی لرلو په خصوص کښې دعوی څرګنده شوی او موده تیره شوی وی، هر یو طرف کولای شي چه پوروړی دی ته اړ کړی چه د پور اندازه رسماً وسپاری.

**۷۱۶ ماده:**
که پوروړی له حوالی څخه خبر شي، کولای شي چه د هغه اعتراض حق چه د لمړنی پوروال په مقابل کښې یې لری کټ مټ د هغه چا په مقابل کښې چه پور هغه ته ورحواله شوی دی هم استعمال کړی.

که چېرې پوروړی په پوروال باندی داسی پور ولری چه وعده لا نه وی پوره شوی، کولای شي چه دا پور له هغه شخص سره چه پور هغه ته ورحواله شوی دی، حساب کړی.

**۷۱۷ ماده:**
د رجحان او نورو فرعی حقوقو حواله او طلب چه له پور څخه پیدا کیږي هم شامل دی مګر که دا حقوق خاص په پوروال پوری منحصر وی نو په حواله کښې ئې نشی راتلای.

پوروال مکلف دی د پور سند هغه

نماید، در مقابل شخص حواله داده شده بری شده نمیتواند.

اگر دربارۀ ارتباط دین دعوی بظهور رسیده و میعاد منقضی گردیده باشد، هر یک از طرفین میتواند مدیون را وادار سازد که مقدار دین را رسماً تودیع نماید.

**مادۀ ۷۱۶:**
درصورتیکه مدیون از حواله اطلاع حاصل نماید، میتواند حق اعتراضی را که در مقابل داین اولی دارا میباشد عیناً در مقابل کسیکه طلب به او حواله داده شده است نیز استعمال نماید.

هرگاه مدیون در مقابل داین دارای طلبی بوده باشد که هنوز میعاد آن به سر نرسیده، میتواند این طلب را در مقابل شخصیکه طلب به او حواله داده شده است محاسبه نماید.

**مادۀ ۷۱۷:**
حواله و طلب حق رجحان و سایر حقوق فرعی را که از طلب ناشی میشود نیز شامل میباشد، ولی اگر این حقوق منحصر شخص داین باشد، حواله نمیتواند آن را دربر بگیرد.

داین مکلف است سند طلب را به

چاته چه پور هغه ته حواله شوی او نور ثبوتیه مسایل تهیه او تسلیم کړی او ددې دپاره چه حواله اخیستونکی شخص وکولای شي له پوروړی څخه پور واخلی، لازمه معلومات هغه ته ورکړی.

کسیکه طلب به او حواله گردیده و سایر وسایل ثبوتیه را تهیه و تسلیم نماید و برای اینکه شخص حواله گیرنده بتواند از مدیون استیفاء دین نماید، معلومات لازمه را به او اعطاء کند.

هغه ټکټ پولی چه په حواله باندې مرتب کیږي، له اصل پور سره د ورکړی وړ دی.

تکت پولی هائیکه بر حواله مترتب میشود، به اصل طلب قابل تادیه است.

**۷۱۸ ماده:**

که د پور حواله د عوض په مقابل کښې اجرا شوی وی نو هغه څوک چه د پور حواله یې ورکړی ده باید د پور د موجودیت ضامن وی.

**مادهٔ ۷۱۸:**

اگر حواله طلب در مقابل عوض اجرا گردیده باشد، شخصیکه طلب را حواله داده است باید ضامن موجودیت طلب باشد.

مګر که حواله ورکوونکی صراحتاً تعهد نه وی کړی، د پوروړی د مالی عسرت مسئول نه دی.

ولی اگر حواله دهنده صراحتاً تعهد نکرده باشد، مسئول عسرت مالی مدیون نیست.

که یوه شخص خپل پور ته چه په بل چایې لری بې له عوضه انتقال ورکړی وی، د پور له نه وجود یا د طلب له حصول څخه نه مسئول کیږي.

اگر یک شخص طلب خود را که بالای دیگری دارد بلا عوض انتقال داده باشد، از عدم وجود و یا حصول طلب مسئول نمیشود.

**۷۱۹ ماده:**

که کوم شخص هغه پور چه په بل چا یې لری د پور د ادا کولو په غرض پوروال ته حواله کړی او هغه اندازه چه باید له پور څخه یې وضع شي تاکلی نه وی نو

**مادهٔ ۷۱۹:**

اگر شخص طلبی را که بالای شخص دیگری دارد بغرض ادای دین به دائن خود حواله داده و مقداری را که باید از دینش وضع

هغه څوک چه حواله ورکړی شوی ده مکلف دی چه هغه مبلغ چه حقیقتاً یې له پوروړی څخه اخیستی دی په خپل پور کښې محسوب کړی.

۷۲۰ ماده:

هغه څوک چه د پور حواله ورکوی که د حواله اخیستونکی په مقابل کښې ضامن وی، باید چه د پور د طلب بدل او ټکټ پولی چه د حوالی په مقابل کښې یې اخیستي دی سره د حوالی او ددعوی له مصارفو (که یې په پور وړی کړی وی او بی نتیجې پاتی شوی وی) بیرته ورکړی.

## اووم فصل
## جاری حساب

۷۲۱ ماده:

جاری حساب عبارت له هغې مقاولې څخه دی چه د هغې په اساس عاقدین طرفونه په متقابل ډول داسی قبلوی چه خپل هغه پورونه چه نقدو پولونو څخه یا له هغو مالونو څخه پیدا کیږي چه ملکیت یې د انتقال وړ وی، په انفرادی صورت یو له بله نه غواړی بلکه حساب قلم په قلم په دبت او کریدت کی معامله کوی او د حساب پاتی یوله بله غواړی.

شود تعیین نکرده باشد، کسیکه طلب به او حواله داده شده مکلف است مبلغی را که حقیقتاً از مدیون اخذ نموده به دین خود محسوب کند.

مادهٔ ۷۲۰:

شخصیکه طلب را حواله میدهد اگر در مقابل حواله گیرنده ضامن باشد، باید بدل طلب و تکت پولی را که در مقابل حواله گرفته با مصارف حواله و دعوی (اگر علیه مدیون اقامه نموده و بی نتیجه مانده باشد) اعاده کند.

## فصل هفتم
## حساب جاری

مادهٔ ۷۲۱:

حساب جاری عبارت از مقاوله ایست که به اساس آن طرفین عاقدین متقابلاً قبول میکنند که طلبات خود را از یکدیگر چه ناشی از پول نقد و چه متولد از اموالیکه ملکیت آن قابل انتقال باشد، بصورت انفرادی از همدیگر مطالبه نمی نمایند، بلکه حساب را قلم به قلم به دبت و کریدت معامله و بقیه حساب را از یکدیگر تقاضا میکنند.

**۷۲۲ ماده:**

د جاری حساب د مقاولی احکام په لاندې ډول دی:

۱- د هغو مالونو ملکیت چه دجاری حساب په ضمن کښې د ورکړی (دبت) په حساب قیدیږی اخیستونکی ته منتقل کیږي.

۲- په دې حال کښې چه ددواړو خواوو ترمنځ د جاری حساب د مقاولی له عقد څخه پخوا کومه معامله چه په جاری حساب قید شوی وی (ترهغه وخته پورې چه د هغه په خلاف شرط شوی نه وی) پخوانۍ معامله تجدید شوی ګڼله کیږي.

۳- تجارتی سند په جاری حساب په هغه وخت کښې اجرا کېدای شي چه ورکړه یې مسلمه وی.

۴- د کریدت او دبت پاتې حسابونه چه یو له بله وضع کیږي، د هغو ورکړه ضروری ده.

۵- هغه مبلغ چه دیوه تن دکریدت په ستون کښې قید شوی وی له همغې نېټې څخه د کریدت کوونکی په ګټه او د دبت په ضرر چه د ټکټ پولۍ تابع دی محسوبیږی.

**مادهٔ ۷۲۲:**

احکام مقاوله حساب جاری قرار ذیل است:

۱- ملکیت اموالیکه در ضمن حساب جاری به حساب داد (دبت) قید میگردد بطرف گیرنده منتقل میشود.

۲- در حالیکه قبل از عقد مقاوله حساب جاری در بین طرفین معامله به حساب جاری قید شده باشد (تا وقتیکه خلاف آن شرط نشده باشد) معاملهٔ سابقه تجدید شده محسوب میگردد.

۳- سند تجارتی به حساب جاری وقتی صورت گرفته میتواند که تأدیه آن مسلم باشد.

۴- بقیه حسابات کریدت و دبت که از هم وضع میگردد، واجب التأدیه میباشد.

۵- مبلغیکه در ستون کریدت یک نفر قید شده باشد، از همان تاریخ به مفاد کریدت کننده وبه ضرر دبت که تابع تکت پولی میباشد محسوب میگردد.

**۷۲۳ ماده:**
که د هغه تجارتی سند بدل چه د ۷۲۲ مادې په فقره کښې ذکر دی تحصیل نشي، مالک ته بیرته ورکول کیږي او قید یې حذفیږی.

**مادهٔ ۷۲۳:**
اگر بدل سند تجارتیکه در فقره سوم مادهٔ (۷۲۲) ذکرا ست تحصیل نشود بمالک اعاده وقید آن حذف میشود.

**۷۲۴ ماده:**
ددواړو خواوو په مخ کښې جاری حساب د کمیشن او د هغه د متفرعه مصارفو د غوښتنې نه مانع کیږي.

**مادهٔ ۷۲۴:**
موجودیت حساب جاری بین طرفین، مانع تقاضای کمیشن و مصارف متفرعه آن نمیگردد.

**۷۲۵ ماده:**
جاری حساب په هغې نیټې کښې چه د مقاولې یا عرف له مخې ټاکلی دی، تاړه کیږي او د دبت او کریدت ترمنځ توپیر تثبیتیږی.

که په دې باره کښې مقاوله یا تجارتی عرف موجود نه وی، د هر کال د حوت په پای کښې ددواړو خواوو دپاره د جاری حساب تړلو د نیټې په حیث اعتبار لری.

**مادهٔ ۷۲۵:**
حساب جاری در تاریخیکه به اساس مقاوله و یا عرف معین است، بسته شده و تفاوت بین دبت و کریدت تثبیت میشود.

اگر درین باره مقاوله و یا عرف تجارتی موجود نباشد، اخیر حوت هر سال برای جانبین بحیث تاریخ بسته شدن حساب جاری اعتبار دارد.

**۷۲۶ ماده:**
پاتی حساب چه د دبت او کریدت په نتیجه کښې تثبیت کیږي له همغې نیټې څخه د ټکټ پولۍ تابع دی.

**مادهٔ ۷۲۶:**
باقی حساب که در نتیجه دبت و کریدت تثبیت میشود، از همان تاریخ تابع تکت پولی میباشد.

**۷۲۷ ماده:**
دواړه خواوی کولای شي چه په پانګه باندې د ټکټ پولۍ په تبدیل او

**مادهٔ ۷۲۷:**
طرفین میتوانند در تبدیل تکت پولی به سرمایه و تعیین

د ټکټ پولي او د جاري حساب د وخت په ټاکلو او د کميشن په اندازه کښې مقاوله وکړي.

زمان ميزان حساب جاری و تکت پولی و اندازه کميشن مقاوله نمايند.

**۷۲۸ ماده:**

هغه روپۍ او مالونه چه د ټاکلی کار او ځانګړی کار کښې د مصرف په مقصد ورکول کيږي په جاری حساب کښې نه داخليږي.

**مادۀ ۷۲۸:**

نقود و امواليکه به مقصد صرف در کار معين و يا جداګانه تسليم داده ميشود داخل حساب جاری نميگردد.

**۷۲۹ ماده:**

د دبت او کريدت ټول قلمونه چه په جاری حساب کښې داخل دی، د تجزيې وړ نه دی.

د حساب له تړلونه پخوا هيڅ يو طرف پوروال او پوروړی نه ګڼل کيږي.

د دواړو خواوو حقوقی وضعيت يواځې د حساب قطع ټاکي.

**مادۀ ۷۲۹:**

تمام اقلام دبت و کريدت که در حساب جاری داخل است، قابل تجزيه نميباشد.

قبل از بسته شدن حساب هيچ يکی از طرفين داين و مديون شمرده نميشود.

وضعيت حقوقی طرفين را تنها قطع حساب تعيين می نمايد.

**۷۳۰ ماده:**

د هغو نقودو او مالونو حجر چه په جاری حساب کښې داخل وی هغه وخت اعتبار لری چه پاتی حساب د قطع کيدو په وخت کښې د محجور د حساب په ګټه ځرګند شوی وی.

**مادۀ ۷۳۰:**

حجر نقود و اموال داخل حساب جاری وقتی اعتبار دارد که بقيۀ حساب در وقت قطع شدن به نفع حساب محجور ظهور کرده باشد.

**۷۳۱ ماده:**

د جاری حساب مقاولی نظر لاندنيو علتو ته اصولاً فسخ بلل کيږي:

**مادۀ ۷۳۱:**

مقاولات حساب جاری نظر به علل ذيل قانوناً فسخ شمرده ميشود:

۱- د مقاولې د ټاکلې مودې ختم.

۱- ختم مدت معينه مقاوله.

۲- د دواړو خواوو په موافقه.

۲- به موافقه طرفين.

۳- د يوه طرف له خوا د مقاولې فسخ په دې صورت چه په مقاوله کښې نه وي منع شوي.

۳- فسخ مقاوله از جانب يکی از طرفين در صورتيکه در مقاوله منع نشده باشد.

۴- د يوه طرف افلاس.

۴- افلاس يکی از طرفين.

**۷۳۲ ماده:**

د يوه طرف د فوت يا محجوريت په صورت کښې بل طرف حق لري چه محکمې ته په مراجعې سره د جاري حساب د مقاولې فسخ وغواړي.

**مادۀ ۷۳۲:**

در صورت فوت و يا محجوريت يکی از طرفين، طرف ديگر حق دارد که با مراجعه به محکمه فسخ مقاوله حساب جاری را تقاضا نمايد.

**۷۳۳ ماده:**

د جاري حساب مقاوله يوائې له تجارتي اسنادو سره اثباتيداى شي.

**مادۀ ۷۳۳:**

مقاوله حساب جاری تنها با اسناد تجارتی اثبات شده ميتواند.

**۷۳۴ ماده:**

په جاري حساب کښې د دبت او کريدت قيد د هغه عقد حق چه دبت او کريدت پيدا کوي او يا هغه حقوق چه طرفين يې ددې معاملې د دعوى او مدافعې په متعلق لري نه ساقطوي.

که عقد يا معامله باطله کړه شي نوهغه قلم چه په هغې پورې اړه لري له حساب څخه وضع کيږي که په عقد کښې په خلاف ددې کوم شرط موجود

**مادۀ ۷۳۴:**

قيد دبت و کريدت در حساب جاری حق عقديکه دبت و کريدت را بوجود می آورد و يا حقوقی را که طرفين متعلق به دعوی و مدافعه اين معامله دارند، ساقط نميسازد.

اگر عقد و يا معامله ابطال شود قلم مربوط بآن از حساب وضع ميشود. اگر در عقد بر خلاف شرطی وجود داشته باشد مطابق آن

وی له هغه سره سم تگ کیږي.

**۷۳۵ ماده:**
د ټکټ پولی د پاتو او د جاری حساب د تصفیې چه ددواړو خواوو په رضا او یا د قانون په حکم ټاکلی کیږي او یا سهو او تکرار او د حقیقت په خلاف د قلمونو درجولو دعوی له پنځو کالو له تیریدونه وروسته ساقطیږی.

## اتم فصل
## عمومي گدامونو ته سپارنی

**۷۳۶ ماده:**
هغه محلونه چې د خلقو ذخیرې او مالونه د ودیعی یا رهن په صورت قبلوی او په مقابل کښې یې اصولي رسیدونه خپلو معامله لرونکو ته ورکوی عمومی گدامو نه بلل کیږي.

**۷۳۷ ماده:**
د عمومی گدامو نو احکام د هغو محلونو په باره کښې چې بی د سند، له ورکولو یواځې د مالونو د ودیعې د قبلولو د پاره افتتاح کیږي نه تطبیقیږي.

**۷۳۸ ماده:**
د قبض سند چې عمومی گدامونو ته د مودوعه ذخیرو او مالونو په مقابل کښې ورکول کیږي باید دا لاندې

رفتار میشود.

**مادهٔ ۷۳۵:**
دعاوی تصفیهٔ حساب جاری و بقایای تکت پولی که به رضای جانبین و یا حکم قانون تعیین میشود و یا سهو و تکرار و درج اقلام خلاف حقیقت بعد از مرور پنج سال ساقط میشود.

## فصل هشتم
## تودیعات به گدام های عمومی

**مادهٔ ۷۳۶:**
محل هائیکه ذخایر و امتعه مردم را بصورت ودیعه یا رهن قبول کرده ودر مقابل آن رسیدهای اصولی بمعامله داران خود میدهند گدام های عمومی نامیده میشوند.

**مادهٔ ۷۳۷:**
احکام گدام های عمومی دربارهٔ محل هائیکه بدون دادن سند تنها برای قبول ودیعه اموال افتتاح میگردد تطبیق نمیشود.

**مادهٔ ۷۳۸:**
سند قبض که در مقابل امتعه و ذخایر مودوعه به گدام های عمومی داده میشود باید دارای تشریحات

تشریحات ولری:

۱- د تودیع کوونکی نوم او کسب او د استوګنې ځای.

۲- د هغه ګدام نوم چې شیان ورته سپارلی شوی دی.

۳- د سپارل شویو شیانو د جنس د پیژندلو او اندازې او قیمت دپاره لازمه خصوصیات.

۴- د سپارل شویو شیانو د مالیو محصولات او د ګمرک د رسومو ورکول او یا نه ورکول او هغه توضیحات چې آیا مالونه بیمه شوی دی که نه، د بیمې په صورت د هغو د خصوصیاتو ذکر.

**۷۳۹ ماده:**
د رهن (ورانت) سند هم کټ مټ د (۷۳۸) مادې داخل تشریحات لری او د قبض له سند سره ضمیمه کیږي.

**۷۴۰ ماده:**
د معاملاتو د سندونو کاپی په اصولی صورت د عمومی ګدامونو د پاڼو په جمله کښې په مرتب ډول ساتلی کیږي.

**۷۴۱ ماده:**
د قبض او ورانت سند د تودیع

ذیل باشد:

۱- اسم و شغل و اقامتگاه تودیع کننده.

۲- اسم گدام که اشیا بآن تودیع شده است.

۳- خصوصیات لازمه برای فهمیدن جنس، مقدار و قیمت اشیاء مودوعه.

۴- تأدیه و یا عدم تأدیهٔ مالیات و محصولات و رسوم گمرک اشیاء مودوعه و توضیحاتیکه آیا اموال بیمه شده است یا نه، در صورت بیمه ذکر خصوصیات آن.

**مادهٔ ۷۳۹:**
سند رهن (ورانت) نیز عیناً دارای تشریحات مندرجهٔ مادهٔ (۷۳۸) بوده وبه سند قبض ضمیمه میشود.

**مادهٔ ۷۴۰:**
کاپی اسناد معاملات بصورت اصولی در جمله اوراق گدام های عمومی مرتب و حفظ می گردد.

**مادهٔ ۷۴۱:**
سند قبض و ورانت به نام تودیع

کوونکی یا دریم شخص په نامه چې د تودیع کوونکی له خوا ټاکل کیږي جوړیږي.

**۷۴۲ ماده:**
د قبض او ورانت د سند حامل کولای شي چې سپارلی شوی شیان د رسید په تفریق وغواړي او یا د هر جنس په تفریق خپل عمومی رسید وغواړي په دې صورت د اسنادو جوړولو مصارف د تقاضا کوونکی په غاړه دی او هغه عمومی رسید چې پخوا یې په لاس راوړی دی باطلیږي.

**۷۴۳ ماده:**
د قبض او (ورانت) سند ځانځانته او یا په ګډه سره د شالیکنې (ظهر نویسی) په صورت د انتقال وړدی. شالیکنه باید د هغې ورځې نېټه ولري چې اجراء شوی ده.

**۷۴۴ ماده:**
له شالیکنې څخه لاندېنی احکام پیدا کیږي:

۱- د قبض او (ورانت) د سند ګډه شالیکنه د مالونو ملکیت منتقل کوي.

۲- یواځې د ورانت په شالیکنه د مالونو د ګروی باعث هغه چاته کیږي

کننده و یا شخص ثالث که از طرف تودیع کننده تعیین میگردد تنظیم میشود.

**مادۀ ۷۴۲:**
حامل سند قبض و ورانت میتواند اشیاءمودوعه را به تفریق رسید مطالبه نماید و یا رسید عمومی خود را به تفریق هر جنس رسید تقاضا کند درین صورت مصارف تهیه اسناد بذمه تقاضا کننده است و رسید عمومی که قبلاً اخذ داشته است باطل میشود.

**مادۀ ۸۴۳:**
سند قبض و (ورانت) علیحده علیحده و یا مشترکاً بصورت ظهر نویسی قابل انتقال است ظهر نویسی باید دارای تاریخ همان روزی باشد که اجرأ شده است.

**مادۀ ۷۴۴:**
از ظهر نویسی احکام ذیل بوجود می آید:

۱- ظهر نویسی مشترک سند قبض و (ورانت) ملکیت اموال را منتقل میسازد.

۲- تنها ظهر نویسی ورانت باعث گروی اموال به شخصی میگردد که

چې ورانت ورته نقل شوی دی.

۳- یواځې د قبض د سند په شالیکنه (په دی شرط چې د ورانت د حامل حق محفوظ پاتی شي) د سپارل شویو مالونو او ذخیرو ملکیت انتقالوی.

۷۴۵ ماده:
د ورانت په شالیکنه باید د پور او د ټکټ پولۍ اندازه او د مودی د راتګ نېټه ولری.

۷۴۶ ماده:
د ورانت د په شالیکنی تشریحات کټ مټ د قبض په سند کښې هم داخل او په شالیکونکی یې لاس لیکوی.

۷۴۷ ماده:
ورانت او د قبض سند په ګډه سره د سپینی شالیکنی په صورت ظهر نویسی کیدای شي.

دا ډول په شالیکنه د په شالیکونکی حقوق حامل ته منتقل کوی.

۷۴۸ ماده:
په عمومي ګدامونو کښې د سپارل شویو ذخیرو او مالونو تر مراقبت لاندې نیول، توقیف یا رهن جائز نه دی. مګر د ورانت او د قبض د سند د ضیاع او یا د میراث

ورانت باو انتقال یافته است.

۳- تنها ظهر نویسی سند قبض (بشرطیکه حق حامل ورانت محفوظ بماند) ملکیت امتعه و ذخایر مودوعه را انتقال می دهد.

مادهٔ ۷۴۵:
ظهر نویسی ورانت باید محتوی مقدار دین و تکت پولی و تاریخ حلول موعد باشد.

مادهٔ ۷۴۶:
تشریحات ظهر نویسی ورانت عیناً در سند قبض نیز درج و ظهر نویس امضا می نماید.

مادهٔ ۷۴۷:
ورانت و سند قبض مشترکاً بصورت ظهر نویسی سفید میتواند ظهر نویسی شود.

اینگونه ظهر نویسی حقوق ظهر نویس را به حامل منتقل می سازد.

مادهٔ ۷۴۸:
تحت مراقبت گرفتن توقیف و یا رهن اموال و ذخائر مودوعه به گدام های عمومی جایز نمی باشد، مگر در صورت ضیاع ورانت و سند قبض و یا اختلاف از

او افـلاس لـه مخـې د اختـلاف پـه صـورت چـې پـه دی حـال کښـې د محکمی په امر او قرار رفتار کيږي.

**۷۴۹ ماده:**

د قبض د يوه سند حامل چې له ورانت څخه جلا شوی وی کولای شي هغه پور چې د ورانت په ذريعه تأمين شوی وی سره د هغو له ټکټ پوليو د مودی تر رسيدلو عمومی گدامونوته وسپاری او د وعدی له رسيد لونه پخوا شيان له گدامونو څخه وباسی.

هـغـه مبلغ چې سپارل کيږي د ورانت د اعـادې پـه مقابـل کښـې حامـل تـه ورکول کيږي.

**۷۵۰ ماده:**

د قبض هغه سند چې له ورانت څخه جلا شوی وی حامل يې کـه وغـواړي کولای شي عمومی گدام تـه د سپارل شويو مالونو او ذخيرو يوه برخه سره د يوی متناسبی اندازی پيسو له سپارنې هغو ټولو پورونو تـه چې د مـالونو لـه همغـی برخـی څخـه پـه لـومړی مرحلـه کښـې د گدامونو تر مسئوليت لاندې تأمين شوی دی بيرته واخلی.

**۷۵۱ ماده:**

د ورانت حامل په دی صورت چې د ده

رهگـذر ميـراث و افـلاس کـه درينـصورت بـه امـر و قـرارمحکمه رفتار ميشود.

**مادۀ ۷۴۹:**

حـامـل يـک سنـد قبض که از ورانت تفريق گرديده باشد مـی توانـد دينـی را کـه ذريـعـه ورانـت تـأميـن گرديده بـا تـکـت پـولـی هـای آن تـا حلـول موعد به گدام هـای عمومی توديـع و قبـل از حلـول وعـده اشـيا را از مکازين خارج نمايد.

مبلغيکـه توديـع ميشـود در مقابـل اعـاده ورانـت بـه حامـل آن داده ميشود.

**مادۀ ۷۵۰:**

سـند قبضـيکه از ورانـت تفـريق شـده حامـل آن اگـر بـخـواهـد ميـتوانـد يـک قسـمتی از امـوال و ذخاير مودوعـه بـه گـدام عـمومی را بـا تـوديـع يـک مقـدار پـول متناسـب بـه مجمـوع ديونـی کـه از همـان قسـمت امـوال در اول مرحلـه تحـت مسئوليت مـکازيـن تـأميـن شده است واپس بگيـرد.

**مادۀ ۷۵۱:**

حامـل ورانـت در صـورتيکه در بسـر

د طلب د مودی په پسر رسیدلو کښې تسویه نه وی شوی لکه د برات د حامل غوندی کولای شي گرومال د تجارتی رهن له احکامو سره سم له اعتراض څخه لس ورځې وروسته وپلوري.

رسیدن موعد طلب او تسویه نشده باشد مانند حامل برات میتواند مال مرهون را طبق احکام رهن تجارتی ده روز بعد از اعتراض بفروش برساند.

**۷۵۲ ماده:**

په (۷۴۸) ماده کښې داخل احوال د پلورنی مانع نه کیږي. مگر قیمت تر قطعی قرار پورې په گدام کښې د ودیعې په حیث پاتی کیږي.

**مادهٔ ۷۵۲:**

احوال مندرجه مادهٔ (۷۴۸) مانع فروش نمیشود اما قیمت الی قرار قطعی بحیث و دیعه در گدام می ماند.

**۷۵۳ ماده:**

د گدام اجوره او هغه مصارف چې د مالونو او ذخیرو د گمرکی او نورو محصولاتو د ورکړې د پاره د عمومی گدامونو له خوا کیږي له مرهون مال څخه په استیفا کښې د اولیت حق لری.

**مادهٔ ۷۵۳:**

اجوره گدام و مصارفیکه برای تأدیه محصولات گمرکی و یا سائر محصولات اموال و ذخایر از جانب گدام های عمومی میشود در استیفا از مال مرهون حق اولیت دارد.

**۷۵۴ ماده:**

هغه پول چې له مرهون مال څخه په لاس راځی وروسته د (۷۵۳) مادې د ذکر شویو مصارفو او اجوری له وضع نور د سند له حامل سره د معاملی د تسویې د پاره په گدام کښې پاتی کیږي.

**مادهٔ ۷۵۴:**

پولی که از مال مرهون بدست می آید بعد از وضع مصارف و اجوره متذکره مادهٔ (۷۵۳) بقیه برای تسویه معامله با حامل سند در گدام می ماند.

**۷۵۵ ماده:**

د ورانت حامل هغه وخت کولای شي پوروړی او یا د هغه په شالیکونکی ته

**مادهٔ ۷۵۵:**

حامل ورانت وقتی می تواند به مدیون و یا به ظهر نویس های آن

مراجعه وکړي چې د مرهون مـال پلورنـه
د هغه د پور بسه ونکړي.

**۷۵۶ ماده:**
د قبض او (ورانت) حامل د هغې زمانی
د تیریـدو تـابع دی چـې د بـرات پـه
خصــوص کښــې مقــرر شــویده پــه
شـالیکونکی تـه د مراجعـی د پـاره د
ذخیــرو او مـــالونو د پلــورنی ورځ د
زمانی د تیریدو مبدأ حسابیږي.

**۷۵۷ ماده:**
د هغـه ورانـت حامل چې اعتـراض يې
نـه دی کـړی او یـا یې پـه قـانونی مـوده
کښې د مرهونو مـالونو په پلورنـه اقـدام
نـه وی کـړی د شـالیکونکو پـه مقابـل
کښـې خپـل ټـول حقـوق لـه لاسه باسی
مګـر د پـوروړی پـه برابـر دده د دعـوی
حق پاتی کیږي.

**۷۵۸ ماده:**
هغه حامل چې د قبض سند یا ورانت
ضــایع کــوی د ملکیــت د اثبــات او
ضـمانت ورکولـو پـه شـرط کـولای شي
چې د تجارتی واک لرونکی محکمې له
اجـازې او پـه محلـی جریـدو کښـې لـه
اعـلان او لـه هغـې مـوده، تیریـدو نـه
وروستـه چـې د اعتـراض د پـاره ټـاکلی
شوی ده د هغو مثنی وغـواړی کـه د لـه
لاسه وتلي ورانت وعـده سرته رسیدلی

مراجعـه نمایـد کـه فـروش مـال مرهـون
طلب او را کفایت نکند.

**مادۀ ۷۵۶:**
اسنـــاد قبــض و (ورانـــت) تـابــع آن
مـــرور زمـــانی مـــی باشـــد کـــه در
خصـوص بـــرات مقـــرر شـــده اســت
بـــرای مراجعـه بـه ظهرنـویس ها مبدأ
مـــرور زمـــان روز فـــــروش امــــوال و
ذخایر حساب میشود.

**مادۀ ۷۵۷:**
حـــامــــــل ورانـتیکـــــه اعتـــراض
ننمــوده و یـــا در مـــدت قانــــــــونی
بفروش امـوال مـــرهون اقدام نـکـرده
بـاشـــد همـــه حقـــوق خـــود را در
مقـابـــل ظهـــر نــــــویس هـا ضـایع
میکنـد امـا در برابـــــر مـدیون حـق
دعوی او باقی می ماند.

**مادۀ ۷۵۸:**
حـــاملیکه سند قبض و یـا ورانت را
ضــــــایع میکنــــــد بشـــرط اثبـــات
مـــالکیت و دادن ضـمانت مـی توانـد
پـس از اجـازه محکمـه صـلاحیتدار
تجـارتی و بعـد از اعــلان بـه جرایـد
محلـــی و مـــرور مــــــدتیکه بـــرای
اعتــراض تعیـــین شـــــده مثنـی آنـرا
مطالبــــه نمایـد اگـر وعـده ورانـت
ضـایع شـــده بسـر رسیده باشد بـه

وی د حامـل د غوښـتنې پـه اسـاس محکمه کولای شي چې د پور د تسویې د پاره اجازه ورکړی. که اجازه په گدام اوورانت پورې اړه ولری نو کیفیت هم گـدام او هـم لمړنـی پـوروړی تـه ابلاغیـږي. د گـدام خاونـد او پـووړی کولای شي چې د محکمی د اجازې په مقابل کښې اعتراض وکړی.

په دی صورت محکمه د اعتراض په باره کښې فوراً حکم صادروی، که حکم د پور وا ل په گټه وی په مؤقت ډول تر اجرأ لاندې نیول کیږي مگر ترهغه وختـه پـوری چـې د محکمـی اعلان قطعیت مومی هغه مبلغ چې د مرهون مال له پلورنې څخه په لاس راځی د محکمې په امر په یوه مصئون محل کښې ایښودلی کیږي.

**۷۵۹ ماده:**

د عمومی گدامونو د تأسیس او د سپارنی وړمالو نو اصول او شرطونه د مخصوصو لایحو او هدایت په اساس ټاکل کیږي.

## نهم فصل
## تجارتي وکالت

**۷۶۰ ماده:**

د تجارتی وکالت موضوع د مؤکل په

اسـاس تقاضـای حامـل محکمـه میـتواند دربارۀ تسویه دین اجازه بدهد اگر اجازه متعلق به گدام و ورانت باشـد کیفیت هم بگدام وهـم بـه مدیـون اولـی ابلاغ میشود مالک گدام و مدیـون مـی تواننـد در مقابل اجازه محکمه اعتراض نمایند.

در ایـن صورت محکمه دربـارۀ اعتـراض فوراً حکم صادر میکند اگر حکـم بـه نفـع دائـن باشـد مـؤقتاً تحت اجرأ گرفته میشود ولی تـاوقتیکه اعلام محکمه کسب قطعیـت میکنـد مبلغیکـه از فـروش مـال مرهـون حاصـل میشود بامر محکمه به محل مصؤن تودیع میشود.

**مادۀ ۷۵۹:**

اصول و شرایط تأسیس گدام های عمومی و اموال قابل تودیع به اسـاس هدایـت یـا لایحـه هـای مخصوصه تعیین میشود.

## فصل نهم
## وکالت تجارتی

**مادۀ ۷۶۰:**

مـوضوع وکـالت تجـارتی اجـرای

نامــه او حســاب ســره د تجــارتی معـاملاتو اجرا ده تجارتی وکـالت بی اجرته اجرأ کیدای نشي.

۷۶۱ ماده:

تجـارتی وکـالت کـه څـه هـم عـمـومی الفـاظ او تعبیـرات ولـری ترهغـه وختـه چې مخصـوص صراحت موجـود نـه وی پـه غیـر تجـارتی مـعـاملاتو کښـې شاملېدای نشي.

کـه وکیـل د ځینـو مربوطـو کـارونو پـه باره کښې لـه خپـل مؤکـل څخـه پـه یوه کـار کښې هدایت اخیستی وی د هغـه کار په پاتی برخو کښې د هغـه وکـالت پخپل اعتبار پاتی دی.

وکـالت د یوه ټاکلی کـار دپاره ورکـول کـیږی ټول هغـه معـامـلات چـې د دې کـار د اجـرا د پـاره لازم دی بـی لـه ځـانګـړی یـادونی پـه دغـه وکـالت کښې شامل دی.

۷۶۲ ماده:

تاجر کولای شي هغـه وکـالت چې ده تـه سپارل کیږی قبـول یـا رد کـړی مګـر د تردید په حال کښې مجبور دی چې:

**اول:** بـی د وخت لـه فوتـه د کـیفیـت اطلاع ورکړی.

معـامــلات تجــارتی اســت بنــام و حسـاب مؤکـل وکـالت تـجارتـی بـلا اجرت اجراء شده نمیـتواند.

مادۀ ۷۶۱:

وکالــت تجارتــی ولــو اینــکه محتـوی الفاظ و تعبیـرات عـمومیـه باشـد تـا وقتیکـه صراحت مخصـوص موجـود نباشـد نمـی توانـد شـامل معاملات غیر تجارتی باشد.

اگـر وکیـل دربـارۀ بعضـی از امــور مـربوطـه بـه یـک کـار از مـؤکل خـود هــدایــت گرفتــه باشــد وکـــالت در قسمت هـای متبـاقیـه همـان کـار بر اعتبار خود بـاقـی است.

وکــالـــت بـــرای یـک کـار معـین داده مـیشـود هـمـه مـعـامـلاتــی را کــه بـــرای اجـرای ایـــن کـار لازم است بــــدون تـذکـر جـداگانــه در بـر میـگیـرد.

مادۀ ۷۶۲:

تاجر میتواند وکـالتی را که باو سپرده میشود قبـول و یـا تردید کند ولـی در حال تردید مجبور است:

**اول:** کـیفیــت را بــدون فــوت وقــت اطـلاع دهد.

**دوهم:** مؤکل ته د تردید د خبر تر رسیدلو پوری د مال د ساتنی او له خساري څخه د مؤکل د ګوښی دپاره لازم تدبیرونه ونیسی. د دې په عکس د پېښې شوی خساری په جبران مجبور دی.

**۷۶۳ ماده:**

که مؤکل د تردید د خبر رسیدلونه وروسته په یو زمان کښې چې متناسبه مسافه وی کوم بل شخص ونه ټاکې وکیل کولای شي چې له (**۶۵۵**) مادې سره سم محکمی ته مراجعه وکړی او د مالونو د ساتنی د پاره د یوه امین شخص ټاکل وغواړی برسیره په هغه تقاضا وکړی چې د مصارفو په اندازه له مربوطو مالونو څخه د پلورنی اجازه ورکړی.

**۷۶۴ ماده:**

که وکیل واضحی علامی ووینی چې په سفر کښې د مالونو په خساره دلالت کوی مکلف دی ترڅو د شیانو په نقل ورکونکی باندې د مؤکل د دعوی د تأمین د پاره خساری کشفی کړی او د مالونو د ساتنې د پاره تر وسی پوری لازم تدبیرونه ونیسی. د شیانو د کامله تلفیدو د خطر د وجود په صورت دې د محکمی په اجازه له (**۶۵۵**) مادی سره

**دوم:** الی وصول خبر تردید به مؤکل تدابیر لازمه را برای محافظه اموال و وقایه مؤکل از خساره اتخاذ نماید بر عکس آن مجبور به جبران خساره متولده است.

**مادۀ ۷۶۳:**

اگر مؤکل بعد از وصول خبر تردید در یک زمانیکه بمسافه متناسب باشد شخص دیگری را تعیین ننماید وکیل می تواند بر طبق مادۀ (**۶۵۵**) به محکمه مراجعه و تعیین شخص امین را برای محافظۀ اموال خواهش نماید و علاوتاً تقاضا کند که اندازه مصارف اجازه فروش را از اموال مربوطه اعطا کند.

**مادۀ ۷۶۴:**

اگر وکیل علائم واضحی مشاهده نماید که دال بر خساره اموال در اثنای سفر باشد مکلف است تا برای تأمین دعوی مؤکل علیه نقل دهنده اشیاء خسارات را کشف و تدابیر لازمه را حتی الامکان برای محافظه اموال اتخاذ نماید در صورت وجود خطر تلف شدن کامل اشیاء مطابق

سم هغه وپلورې او کيفيت دی بې له ځنډه مؤکل ته اطلاع ورکړي که نه وکيل د خپلې بې پروايي له کبله د پېښې شوی خسارې په ورکړه مجبور دی.

مـادهٔ (۶۵۵) به اجازه محکمه آنرا بفروش رسانيده و کيفيت را بلا معطلی به مؤکل اطلاع بدهد بر عکس وکيل به جبران خساره متولده از اهمال خود مسئول است.

**۷۶۵ ماده:**
که چېرې هغه مالونه چې د پلورنې په مقصد وکيل ته ورلېږل کېږي ژر فاسدېږي يا تغيير مومي چې د قيمت د ټيټوالي خطر ايجاب کړي او له مؤکل څخه د اجازې غوښتلو وخت مساعد نه وي او يا پخپله مؤکل په اجازه ورکولو کښې ځنډ وکړي وکيل د واک لرونکی محکمې په امر له (۶۵۵) مادې سره سم د مالونو په پلورنه کښې اقدام کوی.

**مادهٔ ۷۶۵:**
هرگاه امواليکه بمقصد فروش بوکيل فرستاده ميشود سريع الفساد و يا معروض به تغييراتی باشد که خطر تنزيل قيمت ايجاب کند و برای استيذان از مؤکل وقت مساعد موجود نباشد و يا خود مؤکل در دادن از آن معطلی کند وکيل باساس امر محکمه ذی صلاحيت مطابق مادهٔ (۶۵۵) در فروش اموال اقدام می نمايد.

**۷۶۶ ماده:**
وکيل مجبور دی د ټولو هغو احوالو څخه چې د وکالت د تعديل او يا رفع باعث شوی وی مؤکل ته اطلاع ورکړي.

**مادهٔ ۷۶۶:**
وکيل مجبور است تمام احوالی را که باعث تعديل و يا رفع وکالت شده باشد به مؤکل اطلاع دهد.

**۷۶۷ ماده:**
وکيل په هغو شيانو کښې له پېښو شويو خسارو څخه چې د مؤکل په حساب له ده سره وی په دې صورت مسئول دی چې پېښې شوی خسارې د فوق العاده احوالو

**مادهٔ ۷۶۷:**
وکيل از خسارهٔ وارده در اشيائيکه بحساب مؤکل در نزد او ميباشد در صورتی مسئول است که خسارات وارده در اثر احوال فوق العاده و يا

او یا د مجبره اسبابو او یا پخپله په شیانو کښې د موجوده نقصانو په اثر نه وي پیدا شوي.

**۷۶۸ ماده:**

وکیل مؤظف دی چې په مناسب او معقول وخت کښې د مؤکل روپۍ واخلي او ورویې لیږي او که دا وظیفه اجراء نکړي نو مجبور دی چې له همغې نیټې څخه ټکټ پولي ورکړي او د ایجاب له مخې پیښه شوي خساره جلا ورکړي.

**۷۶۹ ماده:**

وکیل نشي کولای چې د مؤکل له صریح او قطعي امرونوڅخه مخالفت وکړي او که نه په همغې خساري ورکولو باندې مجبوریږي چې له دې لارې پیدا کیږي مګر که د وکالت اجراء نظر د مؤکل امریې ته د مؤکل د پاره کلي خساره پیښوي د مؤکل په اجازه معامله ځنډولی شي.

**۷۷۰ ماده:**

په همغو معاملاتو کښې چې د مؤکل صریح هدایت موجود نه وي وکیل معامله د مؤکل تر هدایت پورې ځنډولی شي مګر که د کار فوریت د مؤکل تر استیذان پورې وخت ونه لري او یا وکیل اجازه ولري ترڅو د ګټورو

اسباب مجبره و یا نقائص موجوده در خود اشیاء بوجود نیامده باشد.

**مادهٔ ۷۶۸:**

وکیل مؤظف است در زمان معقول و مناسب پول مؤکل را تسلیم و ارسال نماید و اگر این وظیفه را ایفا نکند مجبور است از همان تاریخ تکت پولی تأدیه و عند الایجاب خساره وارده را جداگانه جبران نماید.

**مادهٔ ۷۶۹:**

وکیل نمیتواند به اوامر صریح و قطعی مؤکل مخالفت کند بر عکس مجبور به جبران خسارهٔ میشود که ازین حیث تولید میگردد ولی اگر اجرای وکالت نظر به امریه مؤکل خساره کلی را برای مؤکل محقق میگرداند به استیذان مؤکل معامله را تأخیر داده میتواند.

**مادهٔ ۷۷۰:**

در معاملاتیکه هدایت صریح مؤکل موجود نباشد وکیل معامله را تا هدایت مؤکل تأخیر داده میتواند ولی اگر فوریت کار برای استیذان مؤکل مساعد نباشد ویا وکیل اجازه داشته

شرایطو په دائره کښې حرکت وکوی په دی حال کښې کولای شي چې په ډیر فکر سره خپله معامله اجراء کړی.

**۷۷۱ ماده:**

وکیـل مجبـور دی چـې وروسـته د وکالت له اجراء کولونه بی لـه ځنډه مؤکـل تـه اطلاع ورکـړی کـه وکیـل د خپل وکالت له حدودو څخه تیری کړی وي نوکه مؤکل له معاملی څخه له اطلاع وروسته په لازم وخت کښې ځواب ورنکړی داسی ګڼل کیږي چې موافقه یې کړی ده.

**۷۷۲ ماده:**

که وکیل هغه مبلغ چې د مؤکل په حساب یې اخیستی دی د ټاکلی مقصد د پاره استعمال نکړی په هغه ډول چې د روپو د اخیستلو له نیټې نه د ټکټ پولي په ورکړی مجبور دی په همدې شان د وکالت د نه اجراء کولو د خساری له جبران څخه هم مسئول دی او که حیله او چل یې کړی وی تر جزائي تعقیباتو لاندې به هم راشي.

**۷۷۳ ماده:**

که دریم کسان چې له وکیل سره مقاوله ترلې ده وکالت نامه وغواړی وکیل مجبور دی چې هغه ورته ښکاره کړی

باشد تا در دائره شرایط مفیده حرکت کند درین حال میتواند با بصیرت معامله را اجراء نماید.

**مادهٔ ۷۷۱:**

وکیل مجبور است بعد از ایفای وکالت کیفیت را بلا تأخیر به مؤکل اطلاع دهد اگر وکیل از حدود وکالت خود تجاوز کرده باشد در صورتیکه مؤکل بعد از اطلاع از معامله در زمان لازمه جواب ندهد مثل این است که موافقه کرده است.

**مادهٔ ۷۷۲:**

اگر وکیل مبلغی را که بحساب مؤکل گرفته برای مقاصد معینه استعمال ننماید طوریکه از تاریخ گرفتن پول مجبور به پرداخت تکت پولی است همچنین مسئول جبران خساره عدم ایفای وکالت هم میباشد و اگر حیله و خدعه بکار برده باشد مورد تعقیبات جزائیه نیز قرار خواهد گرفت.

**مادهٔ ۷۷۳:**

اشخاص ثالث که با وکیل مقاوله عقد نموده اند وکالت نامه مطالبه نمایند وکیل مجبور است آنرا ارائه نماید و

او که نه دریم کسان کولای شي چې له عقد څخه رجوع وکړی که وکیل اثبات کړی چې دریم کسان د عقد په وخت کښې د مؤکل له هدایت څخه خبر وو نو له عقد څخه رجوع نشي کولای.

الاشخاص ثالث می توانند از عقد رجوع کنند اگر وکیل اثبات کند که اشـخاص ثالـث در حـین عقـد از هدایات مـؤکل بوکیل مطلع بوده اند از عقد رجوع نمی توانند.

**۷۷۴ ماده:**

که د هغه چا وکالت چې د یوه شخص د وکیل یا ممثل په حیث حرکت کوی حقیقت پیدا نکړی او یا هغه معامله چې له واک څخه د باندې یې اجراء کړی ده د مؤکل له خوا تصویب نشي پخپله دی د هغې معاملې مسئول دی.

**مادهٔ ۷۷۴:**

اگر وکالت کسیکه بحیث وکیل و یا ممثل یک شخص حرکت میکند حقیقت پیدا نکند و یا معامله را که خارج صلاحیت انجام نموده است از طرف مـؤکل تصویب نشود بالذات مسئول همان معامله است.

**۷۷۵ ماده:**

مؤکل مکلف دی چې وکیل د پاره د وکالت د اجراء لازم وسایل راغونډ کړی مګر دا چې په مقاوله کښې د هغه په خلاف قبول شوی وی.

**مادهٔ ۷۷۵:**

مـؤکل مکلف است و سائل لازمه اجرای وکالت را برای وکیل فراهم سازد مگر اینکه خلاف آن در مقاوله قبول شده باشد.

**۷۷۶ ماده:**

د وکالت اجرت په دی صورت چې مقاوله ترمنځ نه وی د محکمې له خوا نظر د وکالت عرف او احوالو او شرایطو ته ټاکل کیږي.

**مادهٔ ۷۷۶:**

اجـرت وکالـت در صـورت عـدم وجـود مقاولـه از طـرف محکمـه نظـر بـه عـرف و احـوال و شـرایط وکالت تعیین می شـود.

**۷۷۷ ماده:**

د وکالت د اجراء په ضمن کښې له مؤکل څخه د وکیل طلبات په دې صورت مرجح دی چې دا طلبات د

**مادهٔ ۷۷۷:**

طلبـات وکیل از مؤکل در ضمن اجـرای وکالت در صورتی مرجح است که این طلبات پول پیشکی

وکالت موضوع د مال او یا د وکالت د اجرت په مقابل کښې پیشکي روپۍ استقراض او برات صادر شوي وي او هغه روپۍ چې د وکالت د موضوع په خصوص کښې په نورو شکلونو پور اخیستل کیږي پیدا شوي وي. که د مؤکل شیان د وکیل له خواپلورل شوي وي کولای شي چې مربوط مصارف د شیانو له قیمت څخه مرجحاً تحصیل کړي.

استقراض و برات صادر شده در مقابل مال موضوع وکالت و یا اجرت وکالت و مبالغیکه به اشکال دیگر راجع بموضوع وکالت قرض گرفته میشود تولید شده باشد. اگر اشیای مؤکل از طرف وکیل فروخته شده باشد مصارف مربوط را میتواند از قیمت اشیا مرجحاً تحصیل نماید.

**۷۷۸ ماده:**

لپاره د دې چې په (۷۷۷) ماده کښې ذکر شوي ترجیح صورت ونیولی شي لازم دي ترڅو خپل طلبات چې په مؤکل یې لري د محکمې په ذریعه مؤکل ته تبلیغ کړي او په تبلیغ کښې زیات کړي چې که مؤکل په پنځو ورځو کښې خپل پور تسویه نکړي د هغو مالونو په پلور نه کښې چې د ترجیح حق لري اقدام کوي مؤکل حق لري چې په دې تبلیغ اعتراف وکړي او وکیل محکمې ته وغواړي، مؤکل مجبور دی له هغې نېټې څخه چې ده ته یې تبلیغ شوی دی دا اعتراض په موده د درې ورځو کښې د محکمې په ذریعه وکیل ته ورسوي.

**مادهٔ ۷۷۸:**

برای اینکه ترجیح متذکره مادهٔ (۷۷۷) صورت گرفته بتواند لازم است تا وکیل طلبات خود را که بالای مؤکل دارد ذریعه محکمه به مؤکل تبلیغ بدارد و در تبلیغ علاوه نماید که اگر در ظرف پنج روز مؤکل دین خود را تسویه ننماید بفروش اموالیکه حق ترجیح دارد اقدام می ورزد مؤکل حق دارد بااین تبلیغ اعتراض و وکیل را به محکمه دعوت نماید. مؤکل مجبور است این اعتراض را در ظرف سه روز از تاریخ تبلیغی که به او شده توسط محکمه به اطلاع وکیل برساند.

که مؤکل د وکیل د استوګنې په محل کښې استوګنځی ونه لري د اعتراض

اگر مؤکل در محل اقامتگاه وکیل کدام اقامتگاهی نداشته باشد مدت

موده په لاندې ډول اوږدیږي:

که د مؤکل د استوګنې ځای د محکمی په حوزه کښې وی د اعتراض موده شل ورځې او که مؤکل په کوم یوه ولایت کښې اوسیږي د اعتراض موده یې څلوېښت ورځې ده.

که مؤکل په د باندېنو ملکونو کښې استوګنه ولری د اعتراض موده یې عبارت له هغو مودو څخه ده چې د حقوقی محاکماتو په اصولو کښې مقرره شوی ده.

د مودې د تیریدو یا د اعتراضاتو د تردید په صورت وکیل کولای شي چې د څېړنې موضوع مالونه د (**۶۵۵**) مادی له احکامو سره سم وپلوری.

**۷۷۹ ماده:**

د یوه معیین کار د پاره د متعددو وکیلانو د ټاکلو په حال کښې که د هغو د عمل اشتراک د ټاکلو په حال کښې که د هغو د عمل اشتراک تصریح شوی نه وی نوهریود بل د نشتوالی په صورت د معاملی د اجرأ واک لری او که د وکیلانو د کار اشتراک تصریح شي او د هغو د ځینو له خوا وکالت قبول نشي.

هغه وکیلان چې اکثریت لری کولای

اعتراض قرار ذیل تمدید میشود:

هرگاه محل اقامت مؤکل در حوزۀ محکمه باشد مدت اعتراض بیست روز و اگر مؤکل در یکی از ولایات مقیم باشد مدت اعتراض چهل روز است.

اگر مؤکل در ممالک اجنبیه اقامت داشته باشد مدت اعتراض عبارت از مدت های است که در اصول محاکمات حقوقی مقرر شده است.

در صورت مرور مدت و یا تردید اعتراضات وکیل میتواند اموال موضوع بحث را بر طبق احکام مادۀ (**۶۵۵**) بفروش رساند.

**مادۀ ۷۷۹:**

در حال تعیین وکلای متعدد برای کار معیین هرگاه اشتراک عمل آنها تصریح نشده باشد هر کدام در صورت عدم وجود دیگری صلاحیت اجرای معامله را دارد اگر اشتراک عمل وکلاء تصریح شود و از طرف بعضی آنها وکالت قبول نگردد.

وکلائیکه اکثریت دارند میتوانند

شي چې وكالت قبول كړي او معامله پاى ته ورسوي.

وكالت را قبول و معامله را انجام دهند.

**۷۸۰ ماده:**
كه مؤكل بى له معقول سبب شخه وكيل عزل كړي او يا هغه كارچې د وكيل له خوا تعهد شوى دى د وكيل د ګوښه توب او استعفى په اثر تكميل نشي نو هغه طرف چې د دې امر باعث كيږي مكلف دى چې د مقابل طرف د خسارى تاوان وركړي.

**مادۀ ۷۸۰:**
در صورت عدم سبب معقول اگر مؤكل وكيل را عزل نموده و يا كاريكه از طرف وكيل تعهد گرديده است در اثر كناره گيرى و استعفاى وكيل تكميل نشود طرفيكه باعث اين امر ميشود مكلف است خساره طرف مقابل را جبران نمايد.

**۷۸۱ ماده:**
كه د وكيل او يا مؤكل د افلاس، وفات او يا تقصير په اثر وكالت خاتمه ومومى نو وكيل يا هغه چاته چې د هغه قايم مقام كيږي د كار د تكميل د اجرت په تناسب حق الزحمه وركوله كيږي.

**مادۀ ۷۸۱:**
اگر در اثر افلاس يا وفات و يا تقصير مؤكل و يا وكيل وكالت خاتمه يابد به وكيل و يا كسيكه قايم مقام آن ميشود به تناسب اجرت تكميل كار حق الزحمه داده ميشود.

## لسم فصل
## كميشن كارى

## فصل دهم
## كميشن كارى

**۷۸۲ ماده:**
هغه شوك چې تجارتى معاملات په خپل نامه او د معاملى د خاوند (آمر) په حساب د يو اجرت په مقابل كښې د عادتى كسب په حيث اجرا كوى (كميشن كار) او هغه مقاوله چې د معاملى د خاوند او د كميشن

**مادۀ ۷۸۲:**
شخصيكه معاملات تجارتى را بنام خود و بحساب صاحب معامله (آمر) در مقابل يك اجرت بحيث كسب معتاده اجرا ميكند (كميشن كار)و مقاوله كه در بين صاحب معامله و كميشن

کار ترمنځ تړله کیږي (د کمیشن مقاوله) بلله کیږي.

**۷۸۳ ماده:**

که د معاملې خاوند د هغې اجراء په خپل نامه صراحتاً شرط ایښی وی دا مقاوله د تجارتی وکالت د احکامو تابع ده.

**۷۸۴ ماده:**

که په دی فصل کښې د آمر او کمیشن کار د متقابله حقوقو او وجایبو په خصوص کښې مخصوص احکام موجود نه وی نود وکالت احکام تطبیق کیږي.

**۷۸۵ ماده:**

د کمیشن له معاملی څخه پیدا شوی حقوق او وجایب خاص په کمیشن کار پوری اړه لری نه په آمر او دریم شخص پوری.

**۷۸۶ ماده:**

کمیشن کار مکلف دی هغه کارونه چې صراحتاً یا ضمناً یې قبول کړی دی اجرأ او ترسره کړی.هغه کمیشن کار چې بی د (۷۸۹ او۷۹۰) مادو داخلو قانونیه اسبابو له استناده محول شوی چاری نه اجرأ کوی مجبوردی چې د آمر د

کار منعقد میگردد (مقاوله کمیشن) نامیده میشود.

**مادهٔ ۷۸۳:**

اگر صاحب معامله اجرای آنرا بنام خود صراحتاً شرط گذاشته باشد این مقاوله تابع احکام وکالت تجارتی است.

**مادهٔ ۷۸۴:**

هرگاه در این فصل احکام مخصوصه راجع به حقوق و وجائب متقابله آمر و کمیشن کار موجود نباشد احکام وکالت تطبیق میشود.

**مادهٔ ۷۸۵:**

حقوق و وجائب ناشی از معامله کمیشن منحصراً متعلق به کمیشن کار است نه آمر و اشخاص ثالث.

**مادهٔ ۷۸۶:**

کمیشن کار مکلف است اموری را که صراحتاً و یا ضمناً قبول کرده است اجرأ و اکمال نماید کمیشن کاریکه بدون استناد به اسباب قانونیه مندرجه مواد (۷۸۹ و ۷۹۰) امور محوله را اجرأ و انجام نمی کند مجبور است خسارات

خسارو تاوان ورکــړی.

**۷۸۷ ماده:**
د آمر فوت د کمیشن د مقاولی د فسخ باعث نگرځي حقوق او وجایب ورثی ته منتقل کیږي.

**۷۸۸ ماده:**
آمر نشي کولای د کمیشن له داسی مقاولی څخه چې د کمیشن کار له خوا قبوله شوی وی رجوع وکړی.

**۷۸۹ ماده:**
که محققه وی چې د کمیشن د موضوع اجرأ د بل چاپه ذریعه ممکن نه ده او یا د بل شخص په ذریعه د آمر د پاره مشکلات او خساره پیدا کړی نوکمیشن کار نشي کولای چې له خپلی مقاولی څخه رجوع وکړی.

**۷۹۰ ماده:**
په دی صورت چې د کمیشن د مقاولی د مقرراتو اجرأ په روپپوری تړلی وی او آمر په پوره اندازه نه وی لیږلی او یا دا چې بیان یې کړی وی چې مقتضی روپـۍ دی د کمیشن کار له خوا ورکړلی شي مگر د هغو د ورکړی کیفیت د کمیشن کار د آمر له خوا تصریح شوی نه وی کمیشن کار کولای شي چې تل د کمیشن له مقاولی

آمر را جبران کند.

**مادۀ ۷۸۷:**
فوت آمر باعث فسخ مقاوله کمیشن نمیگردد حقوق و وجایب به ورثه منتقل میشود.

**مادۀ ۷۸۸:**
آمر نمیتواند از چنان مقاوله کمیشن که از طرف کمیشن کار قبول شده رجوع نماید.

**مادۀ ۷۸۹:**
اگر محقق باشد که اجرای موضوع کمیشن بذریعه کسی دیگر ممکن نباشد و یا توسط شخص دیگر برای آمر مشکلات و خساره تولید کند کمیشن کار نمیتواند از مقاوله خود رجوع نماید.

**مادۀ ۷۹۰:**
در صورتیکه اجرای مقررات مقاوله کمیشن وابسته به پول بوده و آمر به اندازه کافی نفرستاده باشد و یا اینکه بیان نموده باشد که پول مقتضی از طرف کمیشن کار داده شود ولی چگونگی تأدیه آن از طرف آمر کمیشن کار تصریح نشده باشد کمیشن کار میتواند همیشه از مقاوله

څـخـه رجـوع وکـړي او يـا د مقـاولې اجرأ ټال کړي.

**۷۹۱ ماده:**
کـه د کميشـــن د مقـاولې د مـــالونو اټکلي قيمت پـه دومـره انـدازه لـږ وي چې د نقليـه وسـايلو بسـنه ونکـړي نـو کميشن کار مجبور دی چې بی لـه ټالـه آمـر تـه د دغـه کيفيـت اطـلاع ورکـړي برسېره پـه دې د دی مـالونو د تسـليمي د پاره کولای شي چې لـه (۶۵۵) مـادې سره سم لـه محکمې څخه د يـوه امـين شخص ټاکل وغواړي.

**۷۹۲ ماده:**
کميشـــن کـــار مکلـــف دی پـــه هغـــو معاملاتو چې د هغو د اجرأ تعهد کوي داسې دقت او بيداري پـه کـار واچوي چې لـه يـوه ښـه تـاجر څخـه پـه خپلـو شخصـي چـارو کښــې څرګنـد يږې د مؤکل د ګټو ساتنه، د امرونو پـه ځای کول مؤکل ته د تصميم نيولو د پاره پـه مناسب وخت او زمـان کښـې د معـاملې د مقتضـي مطـالبو اطـلاع او پـه تيـره بيـادکميشـــــن او پـــه اســـنادو او تسـليمي بانـدې د مسـتند حسـاب د ورکولـو پـه خصـوص کښـې اطلاع او د حاصلو ګټو بی لـه ټالـه ليږل د کميشـن کار د وظيفو جزء دی.

کـميشـن رجـوع و يـا اجرای مقاولـه را به تعويق انـــدازد.

**مادۀ ۷۹۱:**
اگـر قيمـت تخمينـی امـوال موضـوع مـــقاوله کميشـن بـه اندازه کم باشد کـه مصـارف نقليـه را تکـافو نکنـد کميشـن کـار مجبـور اسـت کيفيـت را بـدون معطلی بـه آمـر اطـلاع دهـد. بـر عـلاوه بـرای تسـليمی امـوال مـذکور ميـــتواند تعيـين شــــخص امـين را از محکمـه بـــر طبـق مـادۀ (۶۵۵) مطالبه نمايد.

**مادۀ ۷۹۲:**
کميشـــن کـــار مکلـــف اســـت در معـــاملاتيکه اجرای آن را تعهـد مـی نـــمايد دقـــت و بصـيرتی را بکـار بـبـرد کـه يـک تـاجر خـوب در امـور شخصـی خويــــش ابـراز مـی دارد حـفظ منـافع مـــؤکل، ايفـای اوامر اطلاع مطالب مقـتضـی مـعاملـه در وقـت و زمـان منـافع بـرای اتـــخاذ تـصميـم بـــه مؤکـل و بالخاصـه اطـــلاع راجـــع بـــه کميشــن و اعطـای حسـاب مســـتند بـه اسناد تسـليمی و يـا ارســال بـــلا معطلی منـافع حاصله جـــزء وظـايف کميشـن کار اســـت.

**۷۹۳ ماده:**
کــه کمیشـــن کــار ســره لــه دا ډول تـیری او د صلاحیت د بد استعـماله معامله پایته ورسوی چې د مؤکل په ضرر تمامه شي دا معامله په خپله د کمیشن کار په باره کښې اعـتـبـار لـری مګر هغه دې ته نشي اړ کولای چې د (۷۹۶ او ۷۹۷) مـادو د ذکـر شویو شرایطو په اساس معامله په خپل حساب قبوله کړی.

**مادهٔ ۷۹۳:**
اگـر کمیشـن کـار بـا تجـاوز و یـا سوء استعمال صلاحیـت مـعـامـلـه را انـجام دهد کـه بـه ضـرر مؤکل تمام شـود ایـن معاملـه در مـورد خـود کمیشـن کـار اعتبـار دارد ولـی آمـر را وادار ساختـه نمیتواند کـه باسـاس شـرایـط متـذکره مـواد (۷۹۶ و ۷۹۷) معاملـه را بحسـاب خود قبول کـنـد.

**۷۹۴ ماده:**
د مؤکل له امرونو او هدایاتو څخه د کمیشـن کـار د تخلف پـه اثـر د عقد د باطلو ادعا خاص په آمر پوری اړه لـری پـه کمیشـن کـار او دریمـو کسانو پوری تعلق نه لری.

**مادهٔ ۷۹۴:**
ادعـای بطـلان عقـد در اثـر تخلـف کمیشـن کـار از اوامـر و هدایـات مـؤکل منـحصر بـه آمر بـوده بـه کـمـیـشـن کـار و اشخـاص ثـالـث تعلق نـدارد.

**۷۹۵ ماده:**
تر هغه وخته پوری چې آمر امر نه وی ورکړی کمیشـن کار مجبور نه دی چـې د کمیشـن د مقـاولې د موضوع مالونه بیمه کړی.

**مادهٔ ۷۹۵:**
تـا وقـتیکـه آمـر امـری نـداده باشـد کمیشـن کـار مجبـور نیسـت امـوال مـوضـوع مقـاولـه کمیشـن را بیمه بنمایـد.

**۷۹۶ ماده:**
که کمیشن کار د هغو مالونو چې پیـرودل کیـږي د جـنس او تـاکلیو اوصافو پـه خصوص کښې د آمر لـه هدایاتو څخه تخلف وکړي آمر مجبور ندی چې هغه قبول کړی.

**مادهٔ ۷۹۶:**
اگـر کمیشن کار از هـدایـات آمـر در بـارهٔ جـنس و اوصـاف معینـه امـوالـیکـه خـریـداری میشـود تـخلف ورزد آمـر مـجبـور نیسـت آنـرا قبـول کنـد.

که د کمیشن کار له خوا له هغې اندازی څخه چې آمر ټاکلی ده په پیرودلو کښې زیات مخالفت وکړې مؤکل کولای شي چې هغه زیادت کمیشن کار ته پریږدی او ټاکلی اندازه قبوله کړی.

**۷۹۷ ماده:**

که کمیشن کار د مقاولی د موضوع مالونه له ټاکلی قیمت څخه ټیټ وپلوری اویا یې له ټاکلی قیمت څخه لوړ وپیری او آمر ونه غواړی چې دا معامله په خپل حساب کښې قبوله کړی پدی صورت کښې مکلف دی چې د خبر د رسید لو سره سم د خپلی قبولی یا نه قبولی څخه کمیشن کار ته اطلاع ورکړی او که داسې ونکړې داسی ګڼل کیږي چې معامله یې قبول کړی ده، سره له دې کمیشن کار د کار د اجرأ په ترڅ کښې ووایی چې د قیمت تفاوت جلاور کوی، آمر د اجرأ شوی معاملی په قبلولو مکلف دی.

که کمیشن کار د آمر له ټاکلی قیمت څخه مخالفت وکړې او آمر له دې لاری په خساره اخته شوي وی آمر کولای شي چې د خساری تاوان وغواړی.

**۷۹۸ ماده:**

که کمیشن کار نظر د آمر ټاکلیو

اگر تخلف در خریداری زیاد تر از آنچه آمر معیین کرده از طرف کمیشن کار بعمل آید مؤکل میتواند زیادتی را به کمیشن کار واگذاشته و مقدار معینه را قبول نماید.

**مادۀ ۷۹۷:**

اگر کمیشن کار اموال موضوع مقاوله را نازل تر از قیمت معینه فروش و یا بلندتر از قیمت معینه خریداری کند آمر نخواهد این معامله را بحساب خود قبول نماید در اینصورت مکلف است به مجرد وصول خبر قبول و یا عدم قبول خود را به کمیشن کار اطلاع دهد اگر چنین نکند طوری محسوب میشود که معامله را قبول کرده است، معذلک اگر کمیشن کار در ضمن اجرای عمل اظهار نماید که تفاوت قیمت را علیحده می پردازد آمر مکلف به قبول معامله اجراء شده است.

اگر کمیشن کار از قیمت معینه آمر مخالفت کرده آمر از این حیث دچار خساره شده باشد آمر میتواند جبران خساره را مطالبه نماید.

**مادۀ ۷۹۸:**

هرگاه کمیشن کار نظر بشرایط

شرایطو ته معامله په مساعدو شرایطو پای ته رسولی وی اضافه گټې په آمر پوری اړه لری.

**۷۹۹ ماده:**
هغه حسابو نه چې کمیشن کار یې ورکوی باید د دفترونو له مندرجاتو سره مطابقت ولری.هغه کمیشن کار چې خپل آمرته د حقیقت په خلاف د حساب پاڼه ورکوی او یا په دی پاڼه کښې د شیانو نرخ او د منعقده مقاولاتو شرایطوته د بدنیت له مخې تغییر ورکوی او غیر واقعی مصارف او یا له حقیقی اندازی څخه زیات مخارج قید وی د ده د اجرت غوښتنې حق ساقط او د اجرأ شویو معاملاتو له نتایجو څخه شخصا مسئولیږي.

**۸۰۰ ماده:**
هغه کمیشن کار چې بی د آمر له اجازی دریمو کسانوته پیشکی پیسی او یا اعتبار ورکوی داسی گڼل کیږي چې قبوله کړی یې ده چې گټه او ضرر د معاملی په ده پوری اړه لری.

که د معاملی د اجراء په محل کښې تجارتی عرف مقتضی وی چې د قیمت د ورکړې د پاره دی پیرودونکی ته مهلت ورکړشي په دی حال کښې چې د هغه په خلاف د آمر امرنه

معینه آمر معامله را با شرایط مساعد تری انجام داده باشد منافع اضافی متعلق به آمر است.

**مادۀ ۷۹۹:**
حساباتی را که کمیشن کار میدهد باید با مندرجات دفاتر مطابقت داشته باشد. کمیشن کاریکه به آمر خود بر خلاف حقیقت ورقه حساب داده و یا در این ورقه نرخ اشیا و شرایط مقاولات منعقده را با سوء نیت تغییر میدهد و مصارف غیر و یا مخارج اضافه از مقدار حقیقی را قید می نماید حق مطالبه اجرت او ساقط و از نتایج معاملات اجرأ شده شخصاً مسئول میشود.

**مادۀ ۸۰۰:**
کمیشن کاریکه بدون اجازه آمر به اشخاص ثالث پول پیشکی و یا اعتبار می دهد چنان محسوب میگردد که قبول کرده که نفع و ضرر معامله به او متعلق است.

اگر در محل اجرای معامله عرف تجارتی مقتضی باشد که برای تادیه قیمت بمشتری مهلت داده شود در حالیکه بر خلاف آن امر آمر نباشد کمیشن

وی کمیشن کار کولای شي چې پخپله مهلت ورکړی.

۸۰۱ ماده:
کمیشن کار که څه هم په پور ورکولو اجازه ولری نشي کولای په هغو کسانو چې په ناتوانی او بد معامله گی مشهور دی د آمر مال وپلوری.

۸۰۲ ماده:
هغه کمیشن کار چې د آمر په اجازه د هغه مالونه په پور سره پلور ی مکلف دی چې د معاملی له اجراء نه وروسته د پیرودونکو د نومونو څخه آمر ته اطلاع ورکړي او که داسی ونکړی نو دا پلورنه نقدی بلله کیږي.

۸۰۳ ماده:
هغه کمیشن کار چې د برات پیرودنه یې په غاړه اخیستی وی باید د برات د شالیکنې په وخت کبنې بی له کوم قید او شرط څخه هغه آمر ته منتقل کړی.

۸۰۴ ماده:
کمیشن کار له دریمو کسانو سره د مربوطو پور ونو له وجې چې د ده معامله ورسره ده د آمر په مقابل کبنې مسئول نه دی. مگر که د هغه په خلاف تجارتی عرف یا مقاوله

کار می تواند مهلت را بالذات اعطا نماید.

مادۀ ۸۰۱:
کمیشن کار اگر بفروش نسیه مجاز هم باشد نمی تواند به اشخاصیکه به عدم اقتدار مالی و بد معامله گی معروف اند مال آمر را به فروش برساند.

مادۀ ۸۰۲:
کمیشن کاریکه به اجازه آمر اموال او را به صورت نسیه می فروشد مکلف است به تعقیب اجرای معامله اسامی مشتریان را به آمر اطلاع نمایند و بر عکس فروش مذکور نقدی محسوب میشود.

مادۀ ۸۰۳:
کمیشن کاریکه خرید برات را بذمه گرفته باشد باید حین ظهر نویسی برات بدون کدام قید و شرط آنرا به آمر منتقل سازد.

مادۀ ۸۰۴:
کمیشن کار از لحاظ دیون مربوط به اشخاص ثالث که طرف معامله اش میباشد در مقابل آمر مسئول نیست ولی اگر بر خلاف آن مقاوله و یا عرف تجارتی موجود

موجوده وی نوکمیشن کار د دریمو کسانو په درجه مسئول دی په دی صورت کمیشن کار د دی مسئولیت په مقابل کښې د یوه ځانګړی اجرت د اخیستلو مستحق دی.

**۸۰۵ ماده:**

کمیشن کار وروسته د تعهد کړی معاملی له اکمال څخه د اجرت د غوښتنې حق لری په هغې معاملی کښې چې د کمیشن کار له خوا اداره شوی وی مګر په خپله په آمر پوری د مربوطو عواملو په اثر نتیجی ته نه رسیږي هم د اجرت د غوښتنې حق لری د هغو معاملاتو د پاره چې د نورو علتونو په نتیجه کښې بی اجرأ پاتی کیږي کمیشن کار کولای شي د هغه زیار په اندازه چې ایستلی یې دی نظر محلي عرف سره سم تاوان وغواړی.

**۸۰۶ ماده:**

کمیشن کار کولای شي چې پخوا د کمیشن کاری د وظیفی له اکمال نه پیشکی پیسی او مصارف سره د هغو له تکټ پولی وغواړی په دی صورت کښې دی مجبور دی چې په اسنادو مستند حساب آمر ته ورکړی.

د نقلیه او ګدام مصرف د کمیشن کار د مصارفو په جزء کښې د قلمداد وړ

باشد کمیشن کار بدرجه اشخاص ثالث مسئول میباشد در اینصورت کمیشن کار در برابر این مسئولیت باخذ یک اجرت علیحده مستحق میباشد.

**مادهٔ ۸۰۵:**

کمیشن کار بعد از اکمال معامله متعهده حق مطالبه اجرت را دارد در معامله ای که از طرف کمیشن کار اداره شده ولی در اثر عوامل مربوط به شخص آمر به نتیجه نمی رسد نیز حق طلب اجرت را دارا میباشد برای معاملاتیکه در نتیجه علل دیگری عقیم می ماند کمیشن کار می تواند باندازه زحمتی که متحمل شده نظر به عرف محلی تقاضای جبران نماید.

**مادهٔ ۸۰۶:**

کمیشن کار می تواند پول های پیشکی و مصارف را با تکت پولی آن قبل از اکمال وظیفهٔ کمیشن کاری مطالبه کند در این صورت مجبور است حسابی مستند به اسناد به آمر بدهد.

مصرف نقلیه و ګدام در جزء مصارف کمیشن کار قابل قلمداد است، ولی

دی، مګر د مستخدمينو (مامورينو) اجرت په هغه کښې شامليدای نشي.

**۸۰۷ ماده:**
هغه کميشن کار چې د بيه لرونکو پاڼو او يا د ټاکلی نرخ لرونکو مالونو پلورونه او پيرودنه يې په بورس يا بازار کښې په غاړه اخيستی وی په دی حال کښې چې د هغه په خلاف د آمر امر موجود نه وی کولای شي کوم شي چې پيری د پلورونکی په صفت له خپل مال څخه ورکړی او کوم شي چې پلوری د پيرودونکی په حيث يې ځانته واخلی په دی صورت کميشن کار مجبور دی چې د بورس يا بازار د ټاکلی نرخ له مخې حساب ورکړی په دی صورت آمر ته د کميشن کاری د وظيفی په ځای کولو د اطلاع نېټه د معاملی د اجراء نېټه بلله کيږي د نورو خصوصياتو په باره کښې د تجارتی بيعې احکام تطبيق کيږي.

د مقاولی په ذريعه د دې مادې حکم په آمر باندې تعديليدای نشي.

**۸۰۸ ماده:**
په دی صورت چې د کميشن کاری معامله د (۸۰۷) مادی په ترتيب اجرأ شي کميشن کار د کميشن او عادی مصارفو اخيستلو مستحق دی.

اجرت مستخدمين (مامورين) در آن شامل شده نميتواند.

**مادهٔ ۸۰۷:**
کميشن کار يکه بيع و شرای اوراق بهادار و يا امتعه دارای نرخ معين در بورس و يا بازار را متعهد شده باشد در حاليکه بر خلاف آن امر آمر موجود نباشد می تواند چيزی را که می خرد به صفت بايع از مال خود اعطاء و شی را که می فروشد به حيث مشتری برای خود اخذ نمايد درينصورت کميشن کار مجبور است که نظر به نرخ معينه بورس و يا بازار حساب بدهد تاريخ اطلاع ايفای وظيفهٔ کميشن کاری به اين صورت به آمر تاريخ اجرای معامله محسوب ميشود. دربارهٔ خصوصيات ديگر احکام بيع تجارتی تطبيق ميشود.

حکم اين ماده توسط مقاوله بر عليه آمر تعديل شده نميتواند.

**مادهٔ ۸۰۸:**
در صورتيکه معامله کميشن کاری به ترتيب مادهٔ (۸۰۷) اجرأ شود کميشن کار مستحق اخذ کميشن و مصارف عادی ميباشد.

**۸۰۹ ماده:**
کمیشن کار کولای شي چې خپل طلب د (۷۷۷) مادی له مخې له هغو پیسو څخه چې د معاملی د اجرا په نتیجه کښې یې د آمر په حساب په لاس راوړی دی (دده د آمر د پوروالاتو په مقابل کښې) ترجیحاً پوره کړی.

**مادهٔ ۸۰۹:**
کمیشن کار می تواند طلب خود را به اساس مادهٔ (۷۷۷) از مبالغیکه در نتیجه اجرای معامله به حساب آمر تحصیل می کند (در مقابل آمر و دائنین او) ترجیحاً استیفاء نماید.

**۸۱۰ ماده:**
که کمیشن کار د کمیشن معامله چې له (۸۰۷) مادې سره اجرأ کړی ده بی د هغه شخص له تصریح څخه چې معامله یې ورسره کړی ده آمر ته اطلاع ورکړی آمر حق لری چې دا د پلورنی او پیرودنی معامله د کمیشن کار په حساب اجرأ شوی وګڼی.

**مادهٔ ۸۱۰:**
اگر کمیشن کار معامله کمیشن را که بر طبق مادهٔ (۸۰۷) اجرأ نموده بدون تصریح شخص طرف معامله به آمر اطلاع نماید آمر حق دارد این معامله بیع و شراء را به حساب کمیشن کار اجراء شده تلقی کند.

**۸۱۱ ماده:**
ترهغه وخته پوری چې کمیشن کار ته صریحاً اجازه نه وی، نشي کولای چې د خپل آمر د مال مارک تبدیل کړی.

**مادهٔ ۸۱۱:**
تا وقتیکه کمیشن کار صریحاً مجاز نباشد نمی تواند مارک امتعه آمر خویشرا تبدیل کند.

**۸۱۲ ماده:**
که یوه معامله د متعددو آمرینو د مالونو په باره کښې اجرأ شي کمیشن کار مؤظف دی چې خپلو دفترونو کښې د مالونو مالک په صریح صورت قید کړی.

**مادهٔ ۸۱۲:**
اگر یک معامله دربارهٔ اموال آمرین متعدد اجراء گردد کمیشن کار مؤظف است در دفاتر خویش مالک اموال را بصورت صریح قید نماید.

## يوولسم فصل
## د نقلياتو كميشن كاري

**۸۱۳ ماده:**
هغه څوک چې په خپل نامه او د آمر په حساب يې د تجارت د مال د حمل او نقل کسب غوره کړی وی د نقلياتو کميشن کار بلل کيږي.

د نقلياتو په کميشن کاری کښې په هغو حالاتو کښې چې په دی فصل کښې تصريح شوی نه وی د کميشن په مقاوله پورې مربوط مقررات او خاص بيا د مالونو د قبض او ساتنی او بيمې په خصوص کښې احکام تطبيق کيږي.

**۸۱۴ ماده:**
د نقلياتو کميشن کار نشي کولای چې له هغه اجرت نه زيات چې له وړونکی سره يې قرارداد کړی دی د آمر په حساب قيد کړی.

**۸۱۵ ماده:**
د نقلياتو کميشن کار د اجرت د غوښتنې حق هغه وخت پيدا کوی چې مالونه يې نقل کوونکی ته تسليم کړی وی.

**۸۱۶ ماده:**
د نقلياتو د سند يا د هغه علم او خبر چې د نقلياتو د سند قايم مقام وی او

## فصل يازدهم
## کميشن کاری نقليات

**مادۀ ۸۱۳:**
شخصيکه بنام خود و حساب آمر حمل و نقل مال التجاره را بحيث پيشه اتخاذ کرده باشد کميشن کار نقليات ناميده ميشود.

در کميشن کاری نقليات در حالاتيکه درين فصل تصريح نشده باشد مقررات مربوط به مقاوله کميشن و بالخاصه احکام راجع به قبض و محافظه و بيمه اموال تطبيق ميگردد.

**مادۀ ۸۱۴:**
کميشن کار نقليات نيمتواند بيش از اجرتی را که با نقل دهنده قرارداد کرده به حساب آمر قيد کند.

**مادۀ ۸۱۵:**
کميشن کار نقليات وقتی حق مطالبه اجرت را پيدا ميکند که اموال را به نقل دهنده تسليم کرده باشد.

**مادۀ ۸۱۶:**
ارائه سند نقليات علم و خبری که قايم مقام سند نقليات باشد

دغــه رنګــه ګــدام او مکــازینو تــه د مــالونو د ســپارنی د قــبض درســید ښــکاره کــول د کمیشــن کــار پــه لاس کنبې د مالونو د اثبات وسیله ده دغـه مــالونه د نقلیــاتو د لګښــتونو او د کمیشن د اجرت او د پیشکی پیسو لـه حیثـه لـه کمیشـن کـار سره د ګروی په حیث ګڼل کیږي.

رسـید قـبض تودیـع امـوال بـه گدام و مکازیــن وسیلــه اثبـات امــوال بدسـت کمیشـن کـار اسـت از حیـث مصارف نقلیات و اجرت کمیشـن کـار است از حیث مصارف نقلیات و اجرت کمیشن و پولهـای پیشکی ایـن امـوال در نـزد کمیشــن کـار بحیـث گـروی دانسته میشود.

**۸۱۷ ماده:**

که متعددو کمیشن کارانو یوله بل نه وروسته د مالونو په نقل کنبې وساطت کـړی وی نـو هغـه کمیشـن کـاران چې وروستـــه یــې وساطـــت کــړی دی مجبـور دی چـې لـه دوی نـه د پخـوا کمیشــن کـارانو حقـوق او خـاص بیـاد هغوی د رهن حق په هغو مالونو باندې چې نقل ورکړی شوی دی تأمین کړی.

**مادۀ ۸۱۷:**

هــرگاه کـمیشــن کــاران مـتعــدد یــکی بعــد دیگــر در نقــل امــوال وســاطت نمــوده باشــند کمیشـــن کارانیکـه مؤخراً وساطت نمـوده انـد مجبورند حقـوق کـمیشن کـاران پیش تــر از خـود را مـخصوصـاً حـق رهــن آنـها را بر اموالیـکه نقـل داده شده تأمین نمایند.

که د یوه کمیشن کار طلب د وروستی کمیشن کار له خوا تأمین شي د لومړی کمیشــن کــار د رهــن حـق وروســتی کمیشن کار ته نقل کیږی.

اگـر طلـب یـک کمیشـن کـار از طـرف کمیــشن کار متعاقب تأمین شود حق رهــن کمیشـن کـار اولـی بـه کمیشـن کـار متعاقب انتـقال می یابد.

**۸۱۸ ماده:**

په دې صورت چې د نقلیـاتو کمیشـن کـار د نقـل ورکـوونکی اجـرت ورکـړی حقوق یې په خپله ده ته نقلیږي.

**مادۀ ۸۱۸:**

در صـورتیکه کمیشــن کـار نقلیــات اجرت نقل دهنده را تادیه نماید حقوق او بخودش انتـقال میکند.

**۸۱۹ ماده:**
په دې صورت چې د هغه په خلاف کومه مقاوله موجوده نه وي د نقلیاتو کمیشن کار کولای شي چې مالونه د خپلو وسایلو په ذریعه نقل کړي.

که د آمر د غوښتنې له امله د نقلیاتو کمیشن کار علم او خبر د هغه په نامه سره تنظیم او صادر کړي وي او یا د نقلیې اجرت او مصارف یې په یوه ټاکلې مبلغ په مقطوع صورت فیصله کړي وي په دی حال کښې د خپل آمر په مقابل کښې حقوقاً د نقل ورکوونکې حیثیت پیدا کوي.

**مادهٔ ۸۱۹:**
در صورتیکه بر خلاف آن مقاولهٔ موجود نباشد کمیشن کار نقلیات میتواند اموال را ذریعه وسایل خود نقل دهد.

هرگاه کمیشن کار نقلیات علم و خبر را نظر به تقاضای آمر بنام او تنظیم و صادر نموده باشد و یا اجرت نقلیه و مصارف را بیک مبلغ معیین بصورت مقطوع فیصله کرده باشد درین حال در مقابل آمر خود حقوقاً حیثیت نقل دهنده را پیدا میکند.

**۸۲۰ ماده:**
د نقلیاتو د کمیشن کار مسئولیت وروسته له هغې نېټې څخه چې مالونه د مرسل الیه له خوا اخیستل شوي وي له یوکال نه وروسته ساقطیږي.

که هغه ټول مالونه چې د نقل تعهد یې شوي وي ضایع شوي وي نود زماني تیریدل له هغې نېټې څخه شروع کیږي چې ما لونه سپارل کیده.

که مالونه د کمیشن کار دچم او حیلې په اثر ورک ښوول شوي وي او یا خراب او ناقص شي یا ناوخته ورسپارل شوي وي د کمیشن کار

**مادهٔ ۸۲۰:**
مسئولیت کمیشن کار نقلیات یک سال بعد از تاریخیکه اموال از طرف مرسل الیه تسلیم گرفته میشود ساقط میگردد.

اگر اموالیکه نقل آن تعهد شده کاملاً ضایع شده باشد مرور زمان از تاریخیکه اموال تسلیم داده میشد آغاز میگردد.

هرگاه اموال در اثر حیله کمیشن کار گم شده وانمود شده و یا ناقص و خراب گردد ویا ناوقت تر تسلیم داده شده باشد مسئولیت کمیشن

مسئولیت په پورتنیو تاکلیو مودو کښې نه ساقطیږي.

## دولسم فصل
## نقلیات

### لومړۍ برخه
### عمومي احکام

**۸۲۱ ماده:**
د نقل ورکوونکی له خوا د اجرت په مقابل کښې په وچه او دریاب او فضا کښې د مالونو او یا اشخاصو د حمل او نقل تعهد د نقلیاتو د مقاولې په نامه بلل کیږي.

**۸۲۲ ماده:**
د دې فصل مقررات په هغو کسانو چې د نقلیاتو معاملې یې خپل کسب نه وی ګرځولی او په عارضی صورت د مالونو او اشخاصو په نقلو لو کښې تعهدونه وکړې هم تطبیق کیږي.

**۸۲۳ ماده:**
ټولې هغه دعوې چې د نقل له مقاولې څخه پیدا کیږي د نقلیاتو د خلاف حقیقت اجرت د استرداد د دعوی په شمول د یوه کال له تیریدلو څخه وروسته ساقطیږي.

دا موده د مالونو په نقل کښې د سپار

کار در ظرف مدتهای معینه فوق ساقط نمیگردد.

## فصل دوازدهم
## نقلیات

### حصۀ اول
### احکام عمومیه

**مادۀ ۸۲۱:**
تعهد حمل و نقل اموال و یا اشخاص در خشکه و دریا و فضاء در مقابل اجرت از طرف نقل دهنده بنام مقاولۀ نقلیات خوانده میشود.

**مادۀ ۸۲۲:**
مقررات این فصل بر اشخاصیکه معاملات نقلیات را پیشه خود نساخته و بصورت عارضی در نقل اموال و اشخاص تعهداتی بنمایند نیز تطبیق میگردد.

**مادۀ ۸۲۳:**
تمام دعاوی ناشی از مقاولۀ نقل با شمول دعوی استرداد اجرت خلاف حقیقت نقلیات بعد از مرور یک سال ساقط میگردد.

این مدت در نقل اموال از روز

لوله ورځـــې او د اشخاصـو پـه نقـل کېږي د رسیدلوله نېټې څخه شروع کیږي.که مـالونه ټول ضـایع شـوي وي او يـا اشـخاص نـه وي رسـیدلي نودمـودې تېرېدل لـه هغـې نېټې څخه چې مـالونه تسلیمیدل او اشخاص رسیدل حسابیږي.

کـه ثابـت شـي چـې مـالونه د نقـل ورکـوونکي د چـم او د حيلـې لـه مخـې ضايع شوي دي يايې نقص كړې دي يا ناوختـه سـپارل شـوي دي نـو د نقـل د ورکوونکې مسئولیت په پورتنیـو مودو کېنې نه ساقطیږي.

**دوه یمه برخه**

**دمـالونو نقل**

**۸۲۴ ماده:**

پـه دې صـورت چـې نقـل ورکـوونکي تقاضـا کـړې وي لیږونکـي مکلـف دی چې د نقلیې سند پـه دوو نسخو کېنې ورکړي ممکن دي چې د نقلیې مقاوله د دواړو خواوو په موافقه بې د نقلیې له سنده نقل ورکـوونکي تـه د مـالونو پـه تسلیمی سره وشي.

**۸۲۵ ماده:**

د نقلیاتـو سـند بایـد دا لانـدې شرايط ولري:

تسلیم و در نقـل اشخـاص از تـاریــخ مــواصــلت شـــروع میــــشود اگــر امـوال تمامـاً ضـایــع گردیـــده و یـا اشـخاص مواصـلت ننمـوده باشـنـد مـــدت مـرور زمـــان از تـاریـخـیکـه امـوال تسلیم و اشخاص مواصلت مـی نمود حساب می گردد.

اگر ثـابت شـود کـه امـوال از رهگذر حيـــــله نقل دهنده ضايـع شـده يـا نقـص نـــموده و يـــا نـــاوقـــت تـــر تـــسلـــيــم شـــده مســـــــئوليت نقـــل دهنـــده در ظـــرف مـــدتهای فـــــوق ساقط نمیشود.

**حصهٔ دوم**

**نقل اموال**

**مادهٔ ۸۲۴:**

در صـــورتیکه نــقــل دهـنــده تـقـاضـا کـرده بــاشـــد مـــرسل مکلف بدادن ســـــند نقلیـــــه در دو نـســخــــــه مـیباشـــد ممکـن است مـــــقاولهٔ نقلیـه بـموافقه طرفیـن بـدون سنـد نـقـلیـه بـا تـسـلیـمـی امـوال بـه نـقـل دهنده بعمل آید.

**مادهٔ ۸۲۵:**

ســنــد نـقـلـیـــات بـایـــد مـحتـــوی شرایـط ذیـل باشد:

۱- د مرسل اليه آدرس د مالونو د لېږنې ځای، د مال د تحویلی په خصوص کښې شرح مبنی په (امر) او یا د اقتضا له مخې (حامل ته).

۱- آدرس مرسل اليه محل ارسال اموال شرحی دایر بر تحویلی مال مبنی بر (امر) و یا عند الاقتضاء به (حامل).

۲- د ظرفیت د تول قید او د مالونو شمیر او که مالونه د پاکټ په صورت وی د پاکټ لمبرونه سره د باربندۍ له علامو او وصف.

۲- قید وزن ظرفیت، و عدد اموال، و اگر اموال بصورت پاکت باشد نمبرهای پاکت با علامات و وصف باربندی.

۳- د مرسل هویت او د استوګنې ځای.

۳- هویت و اقامتگاه مرسل.

۴- د نقل ورکوونکی هویت او د استوګنې ځای.

۴- هویت و اقامتگاه نقل دهنده.

۵- د نقلیاتو د اجرت اندازه او که اجرت یې ورکړی وی د هغه توضیح.

۵- مقدار اجرت نقلیات و اگر اجرت پرداخته شده باشد توضیح آن.

۶- د نقل ورکولو د اجراء موده.

۶- مدت اجرای نقل دادن.

۷- نورهغه خصوصیات چې د طرفینو په منځ کښې ټاکل شوی وی.

۷- خصوصیات دیگریکه در بین طرفین قرارداده شده باشد.

۸- هغه ضرر او مسئولیت چې د دې شرایطو د کوم یوه له نه درجېدو څخه پیښ شي او یاله دې پاس موادو څخه یو سهواً درج نشي او یا له حقیقت څخه مخالف قید شي په لیږونکی پوری اړه لری.

۸- ضرر و مسئولیتی که از رهگذر عدم درج یکی از ین شرایط وارد شود و یا یکی از مواد فوق سهواً درج نشود و یا مخالف حقیقت قید شود عاید به مرسل است.

که هغه مالونه چې نقل کول کیږي لکه

اگر اموالیکه نقل داده میشود

بـــاروت او نـــور چاودیـــدونکی مـــواد خطرنـاک وی نـو هغـه لیږونکی چې د کیفیـت اطـلاع نـه ورکـوی د هغـې خساری په تاوان ورکولو باندې مجبور دی چې ددې له امله پېښیږي.

**۸۲۶ ماده:**

لیږونکی مجبور دی چې گمرکی پاڼې او نـور اسناد چې د مـالو نـو د نقل د پـاره پـه کـار کیـږي نقـل کـوونکی تـه وسپاری کـه چېـری دا پـاڼې او اسـناد منظم او له حقیقت سره سم تکمیـل نـه وی نو لیږونکی یې مسئول دی.

**۸۲۷ ماده:**

کـه د نقلیـاتو سـند تنظیم شـوی نـه وی نقل ورکوونکی د لیږونکی د غوښتنې پـه صورت کې مکلف دی هغـه علم او خبر چې په هغه کښې د نقلیـاتو د سند خصوصیات درج وی ترتیب اولاس لیک کړی او لیږونکی ته یې وروسپاری .

**۸۲۸ ماده:**

د نقلیاتو د سند یوه نسخه د لیږونکی تـرلاسلیک وروستـه نقـل ورکـوونکـی تـه سپارل کیـږي او لـه مـالونو سره یو ځای لیږل کیږي بلـه نسخه یې د نقـل ورکـوونکـی پـه لاس لیـک سـره لیږونکی ته اعاده کیږي.

خطرنـاک از قبیـل بـاروت و مـواد انـقلاقیـه باشـد مرسلیکـه ایـن کیـفیـت را بـه اطـلاع نمـی رسـاند مجبور به جبران خساره است کـه ازین رهگذر وارد میشود.

**مادۀ ۸۲۶:**

مرسـل مجبـور است اوراق گمرکـی و اسـناد دیگریـرا کـه بـرای نقـل امـوال بکار می آید به نقل دهنده تودیع کند هرگاه این اوراق و اسناد منتظم و به حقیقت موافق و تکمیـل نباشد مرسل از آن مسئول است.

**مادۀ ۸۲۷:**

اگـــر سـند نقلیـات تنظیم نگردیـده باشـــد نقـــل دهنـــده در صـــورت درخـــواست مـــرسل مکلف است علم وخبری که در آن خصوصیات سند نقلیات درج باشد ترتیب و امضـــاء نمـوده بمرسل تسلیم نـــمایـد.

**مادۀ ۸۲۸:**

یـک نـــسخه سـند نقلیـات بعـد از امضـاء از طـرف مـــرسل بـه نقـل دهنـده تودیـع و بـا امـوال یکجـا فـرسـتـاده میـشـود نـســخه دیگـر بامضـای نـقـل دهنـده بـه مـرســل اعاده میگردد.

که د نقلیاتو سند په امر او یا حامل لیکلی شوی وی د هغه په شالیکنه او یا تسلیمی د مالونو د ملکیت د نقل حکم لری.

اگر سند نقلیات محرر به امر و یا حامل باشد ظهر نویسی و یا تسلیمی آن حکم نقل ملکیت اموال را دارد.

په شا د لیکنی شکل او نتیجی د هغو احکامو تابع دی چې د تجارتی اسنادو په باره کښې وضع شوی دی.

شکل و نتایج ظهر نویسی تابع همان احکامی است که دربارهٔ اسناد تجارتی وضع شده است.

**۸۲۹ ماده:**
که نقل کوونکی د مالونو د وضعیت او د شیانو د اخیستلو په باره کښې د نقلیاتو په سند او یا په بیله پاڼه کښې چې د هغو له مخې یې شیان قبول کړی وی کومه شرح نه وی قید کړی داسی ګڼل کیږي چې د مالونو د ظاهری نقص نشتوالی یې تصدیق کړی دی.

**مادهٔ ۸۲۹:**
اگر نقل دهنده دربارهٔ وضعیت اموال و اخذ اشیاء در سند نقلیات و یا در ورقه علیحده که بموجب اشیاء را قبول کرده شرحی قید نکرده باشد چنین محسوب می شود که عدم وجود نقص ظاهری اموال را تصدیق کرده است.

سره له دی که نقل کوونکی مالونه بی له اعتراضه هم قبول کړی وی کولای شي چې دا دعوی او اثبات وکړي چې پټ او نه لیدونکی نقصانونه په هغو کښې موجود دی.

معذالک اگر نقل دهندهٔ اموال را بدون اعتراض هم قبول کرده باشد میتواند ادعا و اثبات کند که نقایص غیر ظاهر و غیر قابل ادراک در آن وجود داشته باشد.

**۸۳۰ ماده:**
نقل ورکوونکی مجبور دی له هغه امر سره سم چې د مالونو د لیږنی په باره کښې ده ته ورکړی شوی دی تګ وکړي پرته له فوق العاده او مجبره احوالو چې پخپله دی د احوالو په اقتضا سره

**مادهٔ ۸۳۰:**
نقل دهنده مجبور است مطابق امری که در بارهٔ ارسالی اموال باو داده شده است رفتار نماید باستثنای احوال فوق العاده و مجبره که خودش باقتضای احوال

اقدام کولای شي.

**۸۳۱ ماده:**
که چیرې د شیانو نقل د هغه فوق العاده حالت او مجبره سبب په اثر چې په دوارو خواوو پوری اړه نلری امکان ونه لری او یا وځنډیږی نو نقل ورکوونکی ته اطلاع ورکړی.

پدی صورت کی لیږونکی کولای شي چې د نقلیاتو د سند نسخه چې نقل ورکوونکی لاس لیک کړیدی اعاده کړی او هغه تسویه چې په (۸۳۴) ماده کښې پیش بینی شوی ده معموله کړی او مقاوله فسخ کړی.

**۸۳۲ ماده:**
لیږونکی لکه چې له (۸۳۴) او (۸۳۵) مادی سره سم حق لری (د تاوان ورکولو سره) نقلیات ټال او شیان مسترد کړی همدا ډول واک لری چې بې له مرسل الیه څخه شیان بل ته تسلیم کړی او یا په بل ډول په هغو کښې تصرف وکړې. مګر نقل ورکوونکی له هغې نېټې څخه چې شیان مطلوبه محل ته رسیدلی او مرسل الیه د هغو د تسلیمی تقاضا کړي وی او یا له هغې ورځې څخه چې مرسل الیه د نقلیاتو سند تسلیم کړی او یا نقل ورکوونکی

اقدام میتواند.

**مادۀ ۸۳۱:**
هرگاه نقل اشیاء باثر حالت فوق العاده و سبب مجبره که بطرفین ارتباط نداشته باشد ممکن نگردد و یا بتأخیر افتد نقل دهنده مجبور است کیفیت را فوراً بمرسل اطلاع دهد.

در این صورت مرسل میتواند نسخه سند نقلیات را که نقل دهنده امضاء کرده است اعاده کند و تسویه را که در مادۀ (۸۳۴) پیش بینی شده معمول داشته و مقاوله را فسخ نماید.

**مادۀ ۸۳۲:**
مرسل چنانچه (مطابق مواد- ۸۳۴ و ۸۳۵) حق دارد با پرداخت غرامت نقلیات را معطل و اشیاء را استرداد کند همچنان صلاحیت دارد بدون از مرسل الیه اشیاء را بدیگری تسلیم و یا طور دیگری در آن تصرف نماید ولی نقل دهنده از تاریخیکه اشیاء به محل مطلوبه واصل شده و مرسل الیه تقاضای تسلیمی آن را کرده باشد یا از روزیکه مرسل الیه سند نقلیات را تسلیم شده و یا نقل دهنده

مرسل اليه خبر کړي وي نو نقل ورکوونکی د ليږونکی د امرونو په اجرا مکلف نه دی.

مرسل اليه را مطلع نموده باشد نقل دهنده مکلف باجرای اوامر مرسل نميباشد.

که د نقلياتو سند د حامل په وجه يا محرر په امر وی نو نقل ورکوونکی يواځې د هغه شخص د امرونو په اجرأ مکلف دی چې د نقلياتو لاس ليک شوی سند د نقل ورکوونکی له خوا ښکاره او تسليم کړی.

اگر سند نقليات در وجه حامل و يا محرر بامر باشد نقل دهنده تنها مکلف به اجرای اوامر شخصی است که سند نقليات امضا شده از طرف نقل دهنده را ارائه و تسليم نمايد.

**۸۳۳ ماده:**

که د مرسل يا مرسل اليه د نويو هداياتو له مخې هغه مسافه چې وهله کيږي او يا د نقل موده زياته شي نقل ورکوونکی حق لری چې د مسافې او مودی د زياتو الي په تناسب هغه کرايه او مصارف وغواړی چې په دې لاره کښې يې ګاللی وی.

**مادۀ ۸۳۳:**

اگر نظر به هدايات جديد مرسل و يا مرسل اليه مسافۀ که طی ميشود و يا مدت نقل زياد شود نقل دهنده حق دارد به تناسب زيادت مسافه و مدت اجرت کرايه و مصارفی را که در اين راه متحمل شده است تقاضا نمايد.

**۸۳۴ ماده:**

که سفر د فوق العاده احوالو او مجبره اسبابو له مخې چې په دې دواړو طرفو باندې اړه نه لری قطع شي نو نقل ورکوونکی د مسافی د قطع د باړی د هغو مصارفو لاس ته راوړلو په نسبت چې ګاللی يې دی د غوښتنې حق لری.

**مادۀ ۸۳۴:**

اگر سفر نظر به احوال فوق العاده و اسباب مجبره که به هيچ يکی از طرفين مربوط نباشد قطع گردد نقل دهنده حق طلب کرايه را نسبت به قطع مسافه و استيفاء مصارفی را که متحمل گشته دارا می باشد.

که د فوق العاده احوالو او مجبره اسبابو له امله په وړلو سره پيل نه وی

اگر در اثراحوال فوق العاده و اسباب مجبره به نقل شروع نشده باشد نقل

شوی نو وړونکی د اجرت حق نلری لیکن حق لری چې د وړلو، تشونو او نورو هغو ضروری لګښتونو غوښتنه وکړې چې ګاللی یې دی.

دهنده مستحق اجرت نمیگردد ولی حق دارد مصارف حمل و نقل و غیره مصارف ضروریه را که متحمل شده مطالبه نماید.

**۸۳۵ ماده:**
که باریدل د مرسل الیه په تقاضا قطع شوی وی لاندنی مواد اجرأ کیږي:

**مادۀ ۸۳۵:**
اگر حمل به تقاضای مرسل الیه قطع شده باشد مواد ذیل اجرأ میشود:

۱- که د نقلیې وسیله پخوا له حرکت څخه توقیف شي مرسل د مقرره اجوری نیمایي او د باریدو او خالی کولو مصارف سره له هغو نورو ضروری مصارفو چې د نقل ورکوونکی له خوا شوی وی متحمل کیږي.

۱- اگر وسیلۀ نقلیه قبل از حرکت توقیف شود مرسل نصف اجورۀ مقرره و مصارف حمل و تخلیه را با مصارف ضروری دیگریکه از طرف نقل دهنده بعمل آمده باشد متحمل میشود.

۲- که نقلیه وسیله وروسته له حرکته تهال شوی وی مرسل مکلف دی چې د نقلیه ټول اجرت او د تخلیې مصارف سره له هغو مصارفو چې د مال په اعاده کښې له ده نه شوی وی په غاړه واخلی.

۲- اگر وسیلۀ نقلیه بعد از حرکت معطل شده باشد مرسل مکلف است تمام اجرت نقلیه و مصارف تخلیه را با مصارفیکه در اعاده اموال بوی بعمل آمده تحمل کند.

**۸۳۶ ماده:**
نقل ورکوونکی مکلف دی چې مالونه د مقاولی د مقرری مودی یا تجارتی عرف له مخې او که داسی نه وی په یوه معقوله موده کښې نقل کړی.

**مادۀ ۸۳۶:**
نقل دهنده مکلف است اموال را نظر بمدت مقرره مقاوله و یا عرف تجارتی و در صورت عدم آن در ظرف یک مدت معقول نقل بدهد.

**۸۳۷ ماده:**
که مالونه وروسته له ټاکلی مودې

**مادۀ ۸۳۷:**
اگر اموال بعد از مدت معیین

ورسيږي د معاملې مربوط طرف کولای شــي چــې د تـأخيــر د مــودې پــه تنـاسـب د نـقـلـيـې پـه اجـرت کـښـې د تنزيل ادعا وکړي.

واصـــل گـــــردد طـرف مــربوط معامله مـيتــواند به تـناسب مـدت تـأخـير ادعـاى تـنـزيـــل را در اجـرت نقليه بنــمايد.

کـه د تـأخير مـوده د مقـاولې لـه ټـاکلې مودې څخه يو په دوه تيـرې وکړي نـو د نقليـاتو د اجرت ټـول حق سـاقطيږي او نقـل ورکـوونکی لـه هغـو خسـارو څخـه چـې لـه دې سـببه پـه اثبـات ورسـيږي مسـئول دی. هغـه مقررات چې د نقـل ورکوونکی د نه مسئوليت په خصوص کښې په مقاوله کښې درج شي کـان لـم يکن ګڼل کيږي کـه د نقـل ورکـوونکی اثبات کړی چې د معطلي سبب مرسـل او مرسـل اليــه او يــا مجبـره او فــوق العاده سبب دی د مـالونو د رسيدو لـه تأخير څخه مسئول نه دی.

هــرگاه مـــدت تــأخـيــر از دو چـنـد مــدت معـينـۀ مقـاولـه تجـاوز نمـايد حـق اجـرت نقليــات تمامــاً ســاقط مـيشـود و نقـل دهنـده از خسـاراتيکه از ين سـبب بـاثبـات برسـد مسـئـول اســت مـقـــرراتيکه راجـــع بعـــدم مسـئوليت نقـل دهـنـده در مــــقاوله درج گـردد کان لـم يـکـن است. اگـر نـقـل دهـنده اثبـات کـنـد کـه سـبــب مـعـطلـى مرســل و مـرسـل الـيــه و يـــا ســبــب مـجـبـره فـوق الــعاده بــوده اســت از تـأخير وصول امــوال مسئول نميشود.

د تـأخيــر د پــاره د نـقـليــه وسـايطـو ورکـه يـانــه کـفـاف ښـودل عـــذر نــه بـلـل کـيـږي.

وانـمـود فقـدان و يـا عـدم کفـاف وسـايــط نـقـليـه بـراى تـأخـيـر عـذر شـمـرده نـميشـود.

**۸۳۸ ماده:**

نقل ورکـوونکی د مـالونو د تسليم لـه نېټې څخه مرسل اليه ته د ورتسليمولو تـر نېټـې پـورې د هـرډول پـيښ شـويو ضايعاتو او خساراتو مسئول دی.

**مادۀ ۸۳۸:**

نـقـل دهـنـده از تـاريخ تسـليم امــوال الــى تـاريخ تــسـليــم آن بـــه مرســـل الـيـه از هر نـوع ضـايعات و خسـارات وارده مسئول است.

مګر کـه نقل ورکـوونکی د هغـو ضـايع

ولى اگر نقل دهنده ضياع و خساره را

کیدل او خساری په لاندنیو دلایلو ثابت کړی له مسئولیت څخه وزی:

۱- فوق العاده احوال او مجبره سبب.

۲- په مالونو کښې ذاتی عیبونه او نقصانونه او یا د هغو باربندی.

۳- د هغې ضیاع- خساری ثبوت چې د مرسل او یا مرسل الیه له اعمالو او هدایاتو څخه وی یواځې د دریمې فقری په ضیاع او خساره کښې که مال ټول ضایع شوی هم وی نقل ورکوونکی په پوره ډول د اجوری مستحق دی، په (۱) او (۲) موادو کښې که د مالونو یوه برخه تلف شوی وی نقل ورکوونکی د پاتې برخې د اجوری اخیستلو مستحق دی.

۸۳۹ ماده:
د نقل ورکوونکی مسئولیت د مالونو په نقل کښې له هغې نېټې څخه شروع کیږي چې په دی مقصد یې د مالونو په بارولو پیل کړی وی.

۸۴۰ ماده:
په هغو شیانو کښې چې حجم او تول یې کمیږی نقل ورکوونکی کولای شي چې د هغو تناقض فیصدی اندازه د مخه وټاکي او معامله کوونکی موافقه په لیکنه سره لاس ته راولی.

به دلایل ذیل ثابت کند از مسئولیت بری میگردد:

۱- احوال فوق العاده و سبب مجبره.

۲- ثبوت معایب و نقایص ذاتی در اموال و یا باربندی آن.

۳- ثبوت ضیاع خسارهٔ که ناشی از اعمال و هدایات مرسل و یا مرسل الیه بوده باشد. تنها در ضیاع و خساره فقرهٔ سوم اگر مال تماماً ضایع هم شود نقل دهنده بصورت پوره مستحق اجوره میباشد در موارد (۱) و (۲) اگر قسمتی از اموال تلف شده باشد نقل دهنده مستحق اخذ اجوره قسمت متباقی می باشد.

مادهٔ ۸۳۹:
مسئولیت نقل دهنده در نقل اموال از تاریخیکه اموال را بدان مقصد تسلیم میشود آغاز مییابد.

مادهٔ ۸۴۰:
در اشیائیکه در اثنای نقل حجم و وزن آن کم میشود نقل دهنده میتواند مقدار فیصدی تناقص آنرا قبلاً معیین و موافقه طرف معامله را کتباً حاصل کند.

په دې صورت چې مالونه په اندېو کښې تقسيم شوی وی دا مسئوليت دوی هر يوه ته ځانګړی تحديد پدای شي.

درصورتيکه اموال در بسته ها تقسيم شده باشد اين مسئوليت برای هر کدام آنها جداګانه تحديد شده باشد.

که مرسل يا مرسل اليه اثبات کړی چې لږوالی د شيانو د ماهيت څخه نه دی پيدا شوی بلکه د بل علت په اثر پيدا شوی دی او يا لږوالی له هغې اندازې څخه کم دی چې ټاکلی شوی ده. پدی وخت کښې د مسئوليت د تحديد موضوع بی تأثيره پاتی کيږي.

اگر مرسل و يا مرسل اليه اثبات کند که کمبودی از ماهيت اشياء نشئت نکرده بلکه در اثر علت ديگری بوجود آمده و يا کمبود کمتر از آن مقداری است که معيين شده، آنگاه موضوع تحديد مسئوليت بی تأثير می ماند.

۸۴۱ ماده:

نقل ورکوونکی د نورو ټولو هغو نقل ورکوونکو سره د ده قايم مقام کيږي او هغو کسانو سره چې له ده سره مرسته کوی او يا هغو کسانو سره چې د مالونو نقل يې هغوته سپارلی دی مرسل اليه ته د شيانو تر تسليمی پوری مسئول دی.

مادهٔ ۸۴۱:

نقل دهنده از افعال و خطا های تمام نقل دهندگان ديگر که قايم مقام او ميشود و آنهائيکه با وی معاونت می کنند و يا کسانيکه نقل اموال را به آنها سپرده است الی تسليمی اشياء بمرسل اليه مسئول ميباشد.

۸۴۲ ماده:

د شيانو د ضياع خساره نظر د نقلياتو د سند مندرجه قيمت ته او که د نقلياتو په سند کښې قيمت نه وی ذکر شوی نظر د مال جاری قيمت ته د تسليم په محل کښې ټاکل کيږي.

مادهٔ ۸۴۲:

خساره ضياع اشياء نظر به قيمت مندرجه سند نقليات و اگر در سند نقليات قيمت ذکر نشده باشد نظر بقيمت جاری مال در محل تسليم تعيين ميگردد.

د شيانو د خساری ضرر نظر د

ضرر خساره اشياء نظر به

هغه لومړنی قیمت توپیرته چې د مال له تسلیمی څخه پخوایې د تسلیم په محل کښې وجود درلود او هغه قیمت چې د مالونو له خساری څخه وروسته د تسلیم په محل کښې مروج دی تثبیتیږی.

**۸۴۳ ماده:**

د شیانو د ضیاع او زیانمنیدو په صورت نقل کوونکی د هغو قیمتونو چې منلی یې دی تضمین کوی د مسافرینو د مالونو ضرر چې بی د ماهیت او قیمت له اظهاره نقل ورکوونکی ته سپاری نظر د هری پیښې او شخص خصوصی احوالوته تعیین او تثبیتیږی.

نقل ورکوونکی د قیمت لرونکو شیانو له ضیاع او ضرر څخه لکه نقدی، حجت، سهمونه د پور سندونه او نوری هغه پاڼې او سندونه چې د سپارنی په وخت کښې د هغې اطلاع نه ورکوله کیږي مسئول نه دی.

سره له دی په دی صورت چې په ضیاع او ضرر کښې د نقل ورکوونکی حیله او یا فاحش تقصیر ثابت شي د هغو تولو په ورکړه مکلف دی.

تفاوت قیمت اولی که قبل از تسلیمی مال در محل تسلیم وجود داشت وقتیکه بعد از خسارهٔ اموال در محل تسلیم مروج است تثبیت میگردد.

**مادهٔ ۸۴۳:**

در صورت ضیاع و یا خساره مند شدن اشیاء نقل دهنده قیمت های را که قبول کرده تضمین میکند ضرر اموال مسافرین که بدون اظهار ماهیت و قیمت به نقل دهنده تودیع میکند نظر به احوال خصوصیه هر واقعه و شخص تعیین و تثبیت می شود.

نقل دهنده از ضرر و ضیاع اشیاء ذیقیمت نقود، حجت، سهام، سندات قرض و دیگر اوراق و اسنادیکه در حین تودیع باو اطلاع داده نمیشود مسئول نمیباشد.

معذلک در صورتیکه حیله و یا تقصیر فاحش نقل دهنده در ضیاع و ضرر به ثبوت رسد مکلف بتادیه تمام آن می باشد.

**۸۴۴ ماده:**

هغه نقل ورکوونکی چې له لومړی نقل ورکوونکی څخه وروسته د شیانو نقل ته ملاتړی په ټولو هغو پورونو کښې چې د منقولو مالونو او د نقلیی د سند له تسلیم څخه وروسته پیدا کیږي د لومړی نقل ورکوونکی قایم مقام دی او کولای شي چې د نقلیی په سند او یا په یوه بله پاڼه کښې د هغو شیانو د وضع کیفیت چې په تسلیم ورکړ شوی دی درج او قید کړی که یې رعایت ونکړی نود (۸۲۹) مادی حکم وربانديې تطبیق کیږي.

**مادۀ ۸۴۴:**

نقل دهندگانیکه بعد از نقل دهندۀ اول به نقل اشیاء مبادرت می ورزند در تمام دیونیکه پس از تسلیم اموال منقول و سند نقلیه بوجود می آید قایم مقام نقل دهندۀ اول میباشند و می توانند در سند نقلیه و یا یکورقه دیگر چگونگی وضع اشیائیرا که تسلیم داده شده است درج و قید نمایند در عدم رعایت حکم مادۀ (۸۲۹) تطبیق میشود.

**۸۴۵ ماده:**

نقل ورکوونکی مجبور دی د هغو شیانو له رسیدو څخه چې نقل ورکاوه کیږي مرسل ته اطلاع ورکړي.

**مادۀ ۸۴۵:**

نقل دهنده مجبور است از وصول اشیائیکه نقل داده می شود به مرسل اطلاع دهد.

**۸۴۶ ماده:**

نقل ورکوونکی مجبور دی هغه هدایات چې د شیانو له رسیدو څخه پخوا د شیانو د ساتنی په خصوص کښې د مرسل الیه له خواده ته ورکړی شوی دی اجراء کړي.

**مادۀ ۸۴۶:**

نقل دهنده مجبور است هدایاتی را که قبل از وصول اشیاء از طرف مرسل الیه راجع به محافظت اشیاء به اوداده میشود اجراء نماید.

مرسل الیه کولای شي چې د شیانو له رسیدو نه وروسته او یا په هغه صورت چې د نقلیه سند او یا دا ډول علم او خبر حامل وی چې هغه د سند قایم

مرسل الیه میتواند بعد از وصول اشیاء و یا در صورتیکه حامل سند نقلیه و یا علم و خبری باشد که قایم مقام سند واقع گردد

مقام واقع شي وروسته د مالونو د رسیدود نېټې له تیریدود هغو ټولو حقوق سره د خساری او تاوانه که د ده د پاره وی او که د دریمو کسانو د پاره له نقل کوونکی څخه وغواړی.

د نقلیه د یوه سند حامل محرر په حامل او یا محرر په امر د مرسل الیه په حیث ګڼل کیږي.

**۸۴۷ ماده:**

په دی صورت چې په خلاف یې مقاوله موجوده نه وی د نقلیه اجرت سره له نورو مصارفو په ټاکل شوی حساب کښې د شیانو له تسلیمی نه وروسته د نقلیاتو د سند له مخې د مرسل الیه له خوا ورکول کیږي.

**۸۴۸ ماده:**

هغه څوک چې د نقل شویو شیانو د تسلیمی د پاره رجوع کوی په دې صورت چې ونشي کولای خپله اجوره ورکړی نقل ورکوونکی په تسلیم مجبور نه دی که د اجوری په اندازه کښې اختلاف پیښ شي نو مرسل الیه هغه اندازه چې د پورته ډول یې په ځان قبوله کړی ده تسویه کوی او د پاتی اجرت په خصوص کښې که هغه یوه معتبر بانک ته او یا امین شخص ته وسپاری

بعد از مرور تاریخ وصول اموال تمام حقوق آنرا بشمول دعوای جبران خساره که خواه بر له او و یا بر له اشخاص ثالث باشد از نقل دهنده مطالبه نماید.

حامل یک سند نقلیه محرر بحامل و یا محرر بامر بحیث مرسل الیه تلقی میشود.

**مادهٔ ۸۴۷:**

در صورتیکه خلاف آن مقاوله موجود نباشد اجرت نقلیه با مصارف دیگر بعد از تسلیمی اشیاء در محل مقصود نظر به سند نقلیات از جانب مرسل الیه تادیه میشود.

**مادهٔ ۸۴۸:**

شخصیکه برای تسلیمی اشیاء نقل شده رجوع می کند در صورتیکه نتواند بدهی خود را تادیه بدارد نقل دهنده مجبور به تسلیم اشیاء نمی باشد اگر در مقدار بدهی اختلافی واقع شود مرسل الیه مقداری را که بحیث قرض بذمه خود قبول دارد تسویه می نماید و راجع به اجرت باقیمانده اگر آنرا به یک بانک معتبر و یا شخص امنیتی تودیع

په دی حال کښې نقل ورکوونکی د شیانو په تسلیم مجبوریږی.

نقل ورکوونکی مجبور نه دی چې د نقلیاتو د سند د دوهمی نسخی له اعادی څخه پخوا که په نوم لیکل شوی وی او که د حامل په وجه او که په امر لیکلی وی شیان تسلیم کړی.

**۸۴۹ ماده:**

نقل ورکوونکی کولای شي چې د هغو ټولو طلباتو د په لاس راوړلو دپاره چې د نقلیه له مقاولی څخه پیدا کیږي مالونه وساتی که نقل ورکوونکی متعدد دوی نووروستنی نقل ورکوونکی د لومړنیو نقل ورکوونکو حقوق ساتی هغه مبلغ چې د (۸۴۸) مادی له مخې د مرسل الیه له خوا امانت سپارلی کیږي نظر د نقل ورکوونکی د ساتنی حق ته د شیانو حکم لری.

**۸۵۰ ماده:**

که وروستنی نقل ورکوونکی شیان بی د (امانت ته د طلباتو د سپارنی له تقاضا) څخه او بی د خپل او د پخوا نیو نقل ورکوونکو او د مرسل د حق له په لاس راوړلو څخه تسلیم کړی نودلګیدلو پیسو او د لومړنیو نقل ورکوونکو او یا د مرسل د پورونو

نماید در اینحال نقل دهنده مجبور بتسلیم اشیاء میگردد.

نقل دهنده مجبور نیست قبل از اعاده نسخه ثانی سند نقلیات که خواه محرر به نام و خواه در وجه حامل و یا محرر به امر بوده و دارای امضاء وی باشد اشیاء را تسلیم نماید.

**مادهٔ ۸۴۹:**

نقل دهنده میتواند برای حصول تمام طلباتیکه از مقاوله نقلیه نشئت می نماید اموال را نگاه دارد. اگر نقل دهنده گان متعدد باشند نقل دهنده آخرین حقوق نقل دهنده گان اولی را صیانت می کند مبلغی که نظر بمادهٔ (۸۴۸) از جانب مرسل الیه به امانت تودیع می گردد از نقطه نظر حق نگهداری نقل دهنده کم اشیاء را دارد.

**مادهٔ ۸۵۰:**

اگر نقل دهنده آخرین اشیاء را بدون (تقاضای تودیع طلبات به امانت) واستیفاء حق خودش و نقل دهنده گان ماقبل و یا مرسل را تسلیم نماید. از مبالغ صرف شده و یا دیون مرسل و یا نقل دهندگان اولی

مسئول ګڼل کیږي.

مګر په مرسل الیه باندې پخپله د ده د رجوع حق به ساتلی پاتی شي.

**۸۵۱ ماده:**
که د شیانو د تسلیم په وخت کښې هغه خارجی علامی چې په خساره دلالت وکوی موجودی هم نه وی مرسل الیه حق لری چې د هغو اوضاع او اوصاف د نقل ورکوونکی په حضور او یا د تجارتی محکمی په ذریعه د تسلیم په ځای کښې معاینه کړی دا حق نقل ورکوونکی هم لری.

ددې ډول معاینی مصارف په هغه طرف پوری اړه لری چې د معاینی غوښتنه کوی مګر که هغه مصارف چې د مرسل الیه له خوا تسویه کیږي اصلا په نقل ورکوونکی پوری اړه ولری او د نقلیه له ضیاع او خساری څخه پیدا شوی وی له نقل ورکوونکی څخه اخیستل کېدای شي.

**۸۵۲ ماده:**
د تاوان دعوی چې په نقل ورکوونکی باندې اقامه کیږي ممکن دی چې په لومړنیو او یا وروستنیو نقل ورکوونکو باندې هم وشي که ثابت شي چې ضیاع او خساره په هغه وخت

مسئول شمرده میشود.

ولی حق رجوع خود او به مرسل الیه محفوظ خواهد ماند.

**مادهٔ ۸۵۱:**
اگر در حین تسلیم اشیاء علامات خارجی که دلالت بر خساره کند موجود هم نباشد مرسل الیه حق دارد اوضاع و اوصاف آن را در حضور نقل دهنده و یا ذریعه محکمه تجارتی محل تسلیم معاینه کند این حق را نقل دهنده نیز دارا میباشد.

مصارف اینطور معاینه مربوط به طرفی است که تقاضای معاینه را می نماید ولی اگر مصارفی که از طرف مرسل الیه تسویه میشود اصلا متعلق به نقل دهنده بوده و از ضیاع و خساره نقلیه ناشی باشد از نقل د هنده گرفته شده میتواند.

**مادهٔ ۸۵۲:**
دعاوی غرامت که علیه نقل دهنده اقامه می شود ممکن است که علیه نقل دهنده گان اولی و یا آخری هم به عمل آید اگر ثابت شود که خساره و ضیاع در مدتی

کبنــي پيبنــه شــويده چــې بــل نقــل وركـوونكى مـال تسـليم كـړى وو نـو د مـالو نو د انتـقال په لړ كبنـې بـه دعـوى ده ته متوجه شي.

كه كوم نقل وركوونكى د هغو چارو پـه سبب چې پـه هغـو سره مسـئول نـه بلـل كيږي د يـوى خسـارى تـاوان ګـاللى وى لـه دى جهتـه د دعـوى تقاضـا وربانـدې شـوى وى نـو پـه لومړنيـو نقـل وركوونـو چې پـه دى لـړ كبنـې مسـئوليت لـرى د رجوع حق ساتلى دى.

كه هغـه نقـل وركـوونكـى چـې بـايـد لــه خسـارى او ضيــاع څـخه مسـئول وى معلوم نكړى شي پيبنى شــوې زيـان د ټولـــو نقـــل وركوونكــو پــه منځ كبنـې د دوى د اجرت د برخى په تناسب ويشل كيږي.

سره لـه دى كـه نقـل وركـوونكى ثابـت كـړى چې پيبنـه شوى خسـاره د نقـل د هغـې مـودى پـه وخـت كبنـې چـې پـه ده پـورى يې اړه درلوده نه ده پيبنه شوى د خسـارى پـه تـاوان كبنـې لـه ګډون څخه معاف دى.

**۸۵۳ ماده:**

پـه دى صـورت چـې نقـل وركـوونكى مرسل اليه پيدا نكړى او يا مرسل اليه

صورت گرفته كه نقل دهنـــده ديگرى مــال را تسـليم شـده بـود در سلسـله انتــقال امــوال دعـــــوى عليــه او متوجه خواهد شـــد.

اگر نقل دهنده بـه سبب اعمـاليكه بـه آن مسئول شمرده نمى شود خسـاره را جبـران كـرده باشـد يـا از ايـن جهـت مورت تقاضا و دعوى واقع شده باشد حق رجوع او به نقل دهندهٔ ما قبل و يا نقـل دهندگان ديگر كـه بدين سلسـله مسئوليت دارنده محفوظ مى باشد.

اگــــر نـــــقل دهــــنده كــه بايــد از خســاره و ضيـاع مســــئول باشــد تعيــين شــده نـتوانـد ضـــرر وارده در بــين همـــه نقــل دهندگــــــان متناســب بـــه حصـــهٔ أجــرت ايشـــان تقســـيم ميشود.

معــــذلــــك اگـر نقــــل دهـــنده ثــابــت كــند كــه خســــارهٔ وارده در مــــدت نــــقل مـــــربــــوط او بــوقــــوع نــــه پيــــوســـــته از اشــتراك در جـــــبران خـــــساره معاف اســــت.

**مادهٔ ۸۵۳:**

در صــــورتيكـــه نـقـــل دهنـــده مرســـل اليــه را پيــدا نكنـد و يـا

د شيانو لـه قبولى څخـه منع راوړى او يـا د مال په قبولى کښې ځنډ وکړې يا يوبـل دا ډول سبب چې د تسليم مـانع شي پيښ شي نقل ورکوونکى مکلف دى چې ژرترژره کيفيت مرسل اليـه تـه ابـلاغ کـړى او ځـواب تـه يـې انتظـار وباسى که مرسل اليه ته د ابلاغ امکان نه وى او يا مرسل اليه په ځواب کښې معطلـى وکـړې او يـا داسـى هـدايت ورکړى چې د هغـه اجرأ ممکنـه نـه وى نقل ورکوونکى کولاى شي چې محلى تجـارتى محکمـى تـه مراجعـه وکړې او شـيان د محکمـى پـه تشـخيص امـين شخص ته تسليم کړى هغه خطر او ضرر چې دا ډول شيان ورسره مخـامخ کيږي پـه مرسـل پـورى اړه لـرى شـيان ژر فـا سـديدونکى وى او د اطـلاع پـه مـوده کښې د ضرر پيښېدل په مرسل پورى مضـمروى نـو نقـل ورکـوونکى بـه لـه (۶۵۵) مـادى سره سم تـګ کـوى او د نقليـاتو اجوره او واقعى مصارف بـه د هغو له ما حصول څخه پوره کوى نقل ورکوونکى مؤظف دى چې په ډيره لنډه موده کښې د موضوع لـه کيفيت څخه مرسل او مرسل اليـه تـه اطلاع ورکړى او کـه داسـى ونکړى نـو د ضـرر تـاوان ورځنې غوښتل کيداى شي.

مـرســـل اليـــه از قبـولـــى اشيـــاء امـتـنــاع ورزد و يـــا در قبــولى مــال معـطلـــى کنـــد و يـــا يــک ســبب ديگريکه مـانـع تسـليـم شود بوقـوع آيـد نقـل دهنـده مکلـف است فـوراً کيفيت را بـــمرسل ابــلاغ و بجواب او انتظـار بکشـد اگـر امـکان اطلاع بمرسل موجود نباشد و يا مرسل در جواب معطلى کند و يا هدايتى دهد کـه اجـراى آن غيـر ممکـن باشد نقـل دهنده مـى توانـد بـه محکمـه تجارتى محلى مراجعـه و اشياءرا بـه تشخيص محکمه بـه شخص امين تسليم دهد. خطر و ضـــرريکه ايـن گونـه اشياء بـه آن مواجـه مـى باشد متعلق بـه مرسل اســـت. اشـــيـاء ســريــع الفســاد بـــوده و در مـــدت اطـــلاع وقـــوع ضـرر بـه مـرسـل مضـمـر بـــاشـــد نقل دهنده بـر طبق حکم مادۀ (۶۵۵) رفـتـار و اجوره نـقـليـات و مصـارف واقـعـى را از مـاحـصـل آن استيفـاء مـــى کـنـد نـقل دهـنـده مـؤظـــف اســـت تـــا در کوتـاه تـرين مـدت از کيفيت مـوضـوع بـه مـرسل و مـرسـل الـيــه اطـلاع دهـــد در غـيـــر ايـــن صـورت مـورد تـقاضـاى جبـران ضـرر واقع شده مـى تـــوانـــد.

**۸۵۴ ماده:**

د (**۸۵۳**) مـادى د اوضـاع د وجـود پـه

**مادۀ ۸۵۴:**

در صـــورت وجـــود اوضـــاع مـــادۀ

صورت نقل ورکوونکی مجبور دی چې د شیانو په نقل او د مالک د ګټو په ساتنه کښې له چالاکۍ او بیدارۍ څخه کار واخلی او که داسی نشي نو د هغې خسارې په تاوان ورکولو چې له همدې لارې مالک ته رسیږي مکلف دی.

**۸۵۵ ماده:**

د نقلیاتو د اجورې تسویه او د شیانو بلا شرطه قبولی په نقل ورکوونکی د دعوی حق ساقطوی.

سره له دې که د شیانو خساره له قبولی څخه پخوا د هغو کارپوهانو په ذریعه چې محکمې ټاکلی وی تثبیت شوی وی په نقل ورکوونکی باندې د مرسل الیه د دعوی حق نه ساقطیږي. که د شیانو د قبولۍ په وخت کښې د هغو د ضیاع او یا نقص پیژندلو امکان نه وی د نقلیاتو د اجورې ترتسویې او قبولۍ وروسته هم نظر لاندې موادوته په نقل ورکوونکی باندې د دعوی حق ساتلی پاتې کیږي:

۱- که دا اثبات شي چې دغه ضیاع او خساره د هغې مودې په منځ کښې چې شیان نقل ورکوونکی اخیستی او مرسل الیه ته یې تسلیم کړی پیښه شوی ده.

(۸۵۳) نقل دهنده مجبور است در نقل اشیاء و حفاظه منافع مالک از سرعت و بصیرت کار بگیرد در غیر آن به جبران خسارۀ که از این حیث به مالک می رسد مکلف می باشد.

**مادۀ ۸۵۵:**

تسویه اجوره نقلیات و قبولی بلا شرط اشیاء حق دعوی را علیه نقل دهنده ساقط میگرداند.

معذلک اگر خساره اشیاء قبل از قبولی توسط اهل خبره ایکه محکمه تعیین کرده تثبیت شده باشد حق دعوای مرسل الیه علیه نقل دهنده ساقط نمیشود اگر حین قبولی اشیاء امکان فهمیدن ضیاع و یا نقص آن موجود نباشد بعد از قبولی و تسویه اجوره نقلیات نیز نظر به مواد آتی حق دعوی علیه نقل دهنده محفوظ می ماند:

۱- اگر اثبات شود که ضیاع و خساره در بین مدتی که اشیاء را نقل دهنده اخذ و به مرسل الیه تسلیم کرده واقع شده.

۲- که د شیانو معاینه او تدقیق د هغو په ضرر باندې له پوهیدلو او قبولۍ څخه اته ورځې وروسته د پوهو کسانو په ذریعه شوی وی په دی صورت چې ضرر او خساره د نقل ورکوونکی له حیلی او فاحش تقصیر څخه پیدا شوی وی نوموړی نشي کولای چې د دعوی د حق د سقوط ادعا وکوی.

۲- اگر معاینه و تدقیق اشیاء هشت روز بعد از فهمیدن ضرر و قبول اشیاء توسط اهل خبره شده باشد. در صورتیکه خساره و ضرر ناشی از حیله و یا تقصیر فاحش نقل دهنده باشد نامبرده نمیتواند ادعای سقوط حق دعوی را بنماید.

## دریيمه برخه
## د اشخاصو ترانسپورت

## حصهٔ سوم
## ترانسپورت اشخاص

**۸۵۶ ماده:**
مسافرین مکلف دی هغه اصول چې نقل ورکوونکی یې د نقلیه خدمتونو د تنظیم د پاره وضع کوی رعایت کړی.

**مادهٔ ۸۵۶:**
مسافرین مکلف اند اصولیرا که نقل دهنده برای تنظیم خدمات نقلیه وضع میکند رعایت نمایند.

**۸۵۷ ماده:**
که سفر وروسته له عقد او پخوا له حرکت څخه معطل شي لاندنی احکام تطبیق کیږي:

۱- که مسافر په ټاکلی وخت د حرکت ځای ته ونشي رسید لای نوداحق لری چې په نورو هغو نقلیه وسائلو کښې چې وروسته ځي حرکت وکړي.

۲- که مسافر له تګ څخه منصرف شي د کرایې د بیرته اخیستلو حق نلری.

**مادهٔ ۸۵۷:**
اگر سفر بعد از عقد و قبل از حرکت معطل گردد احکام ذیل تطبیق میشود:

۱- اگر مسافر در وقت معینه در محل حرکت حاضر شده نتواند حق دارد به وسایل نقل دهنده متعاقب حرکت نماید.

۲- اگر مسافر از عزیمت انصراف کند مستحق استرداد کرایه شمرده نمیشود.

۳- كه سفر د فوت يا مريض او يا مجبره علتونو له مخې معطل شي د كرايي مقاوله مسترد يږي.

۳- اگر سفر از رهگذر فوت يا مريضى و يا علل مجبره معطل شود مقاوله كرايه مسترد ميگردد.

۴- كه سفر نظر مجبره علتو ته په نقليه لوازمو پورې اړه ولرى او يا بى د دواړو خواوو له تقصيره اجرأ نشي نو عقد (بى له دى چې دواړه خواوى د تاوان په وركولو مجبورى شي) فسخ كيږي مگر كه نقل وركوونكى لا له پخوا څخه كرايه اخيستى وى په دى حال كښې په بيرته وركولو باندې مجبوردى.

۴- اگر سفر نظر به علل مجبره متعلق به لوازم نقليه و يا بدون تقصير طرفين اجرأ شده نتواند عقد (بدون اينكه طرفين مجبور به پرداخت جبران باشند) فسخ ميگردد ولى اگر نقل دهنده كرايه را قبلاً اخذ كرده باشد در اين حال مجبور به اعاده است.

۵- كه سفر د نقل وركوونكى د عمل او تقصير په اثر معطل شوى وى مسافر كولاى شي چې وركړى شوى كرايه بيرته واخلى او د خسارې تاوان وغواړي.

۵- اگر سفر در اثر عمل و تقصير نقل دهنده معطل گرديده باشد مسافر مى تواند كرايه پرداخته شده را استرداد و طلب جبران خساره نمايد.

**۸۵۸ ماده:**

كه سفر وروسته له عقد او حركت څخه له انقطاع سره مخامخ شي (په دى شرط چې د هغه په خلاف كومه مقاوله نه وى شوى) لاندې احكام تطبيق كيږي:

**مادهٔ ۸۵۸:**

اگر سفر بعد از عقد و حركت دچار انقطاع گردد (بشرطيكه مقاوله اى بر خلاف آن نشده باشد) احكام ذيل تطبيق ميشود.

۱- كه مسافر په ليار كښې په خپله خوښه له حركت څخه منصرف شي نو د ټولى كرايى په وركړه مجبور دى.

۱- اگر مسافر در ضمن راه به خواهش خود از حركت منصرف شود مجبور به تاديه تمام كرايه است.

۲- كه نقل وركوونكى د سفر له دوام

۲- اگر نقل دهنده از دوام سفر

ثخه منصرف شي او يا مسافر د نقل ورکوونکی د تقصير په اثر په نيمه لاره کښې په توقف مجبور شي په کرايه ورکولو مجبور نه دی.

او که مسافر ټوله کرايه لاله پخوا ثخه ورکړې وي کولای شي چې هغه ټوله بېرته واخلي او د خسارې تاوان وغواړي.

۳- که سفر د شخصي سبب له مخې چې په مسافر پورې اړه ولري اويا د مجبره علتونو له لارې وی چې په نقليه وسايلو پورې اړه ولري دانقطاع سره مخامخ شي د وهلی شوی مسافی په تناسب کرايه ورکوله کيږي. په دې صورت کښې يووبل ته د خسارې د تاوان په ورکولو هيڅ يو طرف نه مجبوريږي.

**۸۵۹ ماده:**

که نقل ورکوونکی د سفر په وخت کښې په داسې محل کښې چې د ده په تعرفه کښې نه وی توقف وکړې او يا تاکلی لاره پريږدی په بله داسې لاره روان شي او يا په بل صورت چې د مقصود محل ته رسيدلی وځنډيږی

منصرف و يا مسافر در اثر تقصير نقل دهنده مجبور به توقف در نيمه راه شود مجبور به تاديه کرايه نميباشد.

و اگر مسافر کرايه را قبلاً پرداخته باشد ميتواند تمام آنرا استرداد و طالب جبران خساره شود.

۳- اگر سفر از رهگذر سبب شخصی که مربوط به مسافر باشد و يا علل مجبره که متعلق به وسايل نقليه باشد دچار انقطاع گردد کرايه متناسب به مسافه قطع شده پرداخته ميشود. دراين صورت هيچ يکی از طرفين مجبور بجبران خساره بديگری نيست.

**مادۀ ۸۵۹:**

اگر نقل دهنده در اثنای سفر در محليکه در تعرفه آن نباشد توقف نمايد و يا از راه معينه انحراف و راه ديگری را تعقيب کند يا به صورت ديگری مواصلت راه بمحل مقصود به تأخير بياندازد

مسافر حق لری چې مقاوله فسخ کړی او د خساری تاوان وغواړی.

مسـافر حـق دارد مقاولـه را فسـخ و طلب جبران خساره نماید.

که نقل ورکوونکی برسیره په مسافرینو نورشیان او مـالونه هم نقلوی کیدای شي هغه موده چې د ما لونواو شیا نو د تخلیه کولو دپاره پکار ده معطل شي د دې مـادی حکـم پـه دې صـورت د تطبیـق وړدی چې د هغـه پـه خــلاف کوم قرارداد موجود نه وی.

اگـر نقـل دهنـده بـر عـلاوه مسـافرین اشـیاء و امتعـه دیگـری را نیـز نقـل میـــدهد میتواننـــد مـــدتی را کـــه مقتضـی تخلیـه امتعـه و اشـیاء است معطـل شـــود. حکـم ایـن مـاده در صورتی قابل تطبیق است که بر خلاف آن قراردادی وجود نداشته باشد.

۸۶۰ ماده:

که سفر د حکومت دامر او یا د نقلیه وسایلو د ضروری ترمیم او یا د هغو خطراتو لـه مخې چې د حرکت د دوام مانع شي وځنډیږي (په دې صورت چې د دواړو خواوو په منځ کښې خصوصی عقـد موجـود نـه وی) لانـدنی احکـام تطبیق کیږي:

مادۀ ۸۶۰:

اگــر سفر نظر به امـر حکـومـت یا تـرمیـــم ضروریـه وسایـل نقلیـه و یـا خـطر آتی که مانع دوام حـرکـت گـردد بتـأخیر افتد (در صورتیکـه در بـیـن طـرفین عـــقد خصوصـی موجـود نبـــاشد) احکـــــام ذیـل تطبیق میگردد:

۱- که مسافر ونه غواړی چې د مانع تر رفع کیدو او د تر میم تر ختم پوری انتظار وباسی نوکولای شي چې د قطع شوی مسافی په تناسب د نقلیه باړې له ورکولونه وروسته مقاوله فسخ کړی.

۱- اگر مسـافر نخواهـد انتظـار رفـع مـــانع و خـــتم تـــرمیم را بکشـــد میـــتوانـــد بعـد از پـرداختن کرایـه نقلیـــه متناسب بمسـافه قطع شـده مقاوله را فسخ کنـــد.

۲- کـــه مسـافـــر وغـــواړی چــــې انـتظـار وبـاسـی نـو همغـه تـاکلـی

۲- اگـر مسـافـر بخـواهـد انـتظـار بکشـد همـان کرایـه معینـه را

باړه بـه ورکړی مګر کـه د نقلـیـه پـه باړه کښې خورا کـه هم شامله وی مسـافر د توقـف پـه مـودو کښـې د خوراکی مصرف له ځانه کوی.

خواهـد پرداخت ولـی اګـردر کرایـه نقلیه خوراکه هم شامل باشد مسافر در مدت توقف مصرف خوراک خود را شخصاً تحمل میکند.

**۸۶۱ ماده:**

مسـافـر د خپلـو بـګاژ او شخصـي شـیانو د پـاره (کـه د هغـه پـه خـلاف مقاوله موجوده نه وی) په ځانګړی باړه ورکولو مجبور نه دی.

**مادهٔ ۸۶۱:**

مسافـر بـرای باګاژ و اشیاء شخصی خـویـش (اګـر بـر خـلاف آن مقاولـه موجـود نـباشـد) مـجبـور بـه پرداخت کرایه جداګانه نیست.

نقل ورکوونکی د مسافرینو شیانو تـه لـه خساری او ضـیاع پیښیـدو څخـه د (۸۳۸ ) او (۸۴۳) مـادو داحکـامو لـه مخې مسئول دی.

نـقـل دهنـده از خسـاره و ضیـاع وارده بـه اشیـاء مسـافرین نظـر بـه احکـام متـذکره مـواد (۸۳۸- ۸۴۳) مسئول میباشد.

نقل ورکوونکی د هغو شیانو لـه ضیاع څخه چې پخپله لـه مسافرینو سره وی مسئول نه دی.

نـقـل دهـنـده از ضـیـاع اشیـائیـکـه نـزد خـود مسـافرین است مسئول نیست.

**۸۶۲ ماده:**

نـقـل ورکوونـکـی حـق لـری چـې د خپلی باړی او د مسـافر د خوراکـی د مصارفـو د پوره کـولـو دپاره د ده بګاژ تـوقـیـف کړی.

**مادهٔ ۸۶۲:**

نـقـل دهنـده حـق دارد بـرای استـیفـاء کرایـه و مصـارف خوراکـهٔ مـسافـر باګـاژوی را توقیف نـماید.

**۸۶۳ ماده:**

نقل ورکوونکی د سفر په وخت کښې له هغـو پیښـو څخـه چـې مسـافرینوته

**مادهٔ ۸۶۳:**

نقـل دهنـده در اثنـای سـفر از حوادثـیکـه بمسافـریـن واقـع

رسيږي (په دی شرط) چې ثابت نشي چې پيښه د نقل ورکوونکی له عمل او تقصير او يا هغو اشخاصو څخه چې مستقيماً په ده پوری اړه لری صادره شوی ده) مسئول نه دی.

**۸۶۴ ماده:**
که مسافر د سفر په منځ کښې مړ شي نقل ورکوونکی د ورثې د منافعو بګاژ او متعلقه شيانو د ساتنې دپاره صالحه اشخاصوته د هغو تر تسليم پورې مؤظف دی.

که د مړی له مربوطينو څخه کوم يوهلته موجود وی د دې معاملې د اجراء د مراقبت د پاره مداخله کولای شي او د مړی د مال د موجودی، په خصوص کښې له نقل کوونکی څخه اظهار نامه غوښتی شي.

**۸۶۵ ماده:**
په نقليه وسيله کښې دننه انتظام د نقل ورکوونکی وظيفه ده د نقل ورکوونکی دا وظيفه ده ترڅو مراقبت وکړې چې مسافرين هغه شيان چې مسافر ينوته زحمت او خساره پيښوی له ځان سره بارنکړی د دې په عکس که له دی رويی څخه مسافرينو ته خساره ورسيږي نقل ورکوونکی په تاوان ورکولو مجبوردی.

ميشود (بشرطيکه ثابت نشود که واقع از عمل و تقصير نقل دهنده و يا اشخاصيکه مستقيماً بوی مربوط اند صادر شده) مسئول نمی باشد.

**مادۀ ۸۶۴:**
اگر مسافر در اثنای سفر وفات کند نقل دهنده برای صيانت منافع ورثه باګاژ و اشيای متعلقه او الی زمان تسليم آن به اشخاص صالحه مؤظف ميباشد.

اگر يکی از مربوطين متوفی در آنجا وجود داشته باشد برای مراتبه اجرای اين معامله ميتواند مداخله و از نقل دهنده راجع بموجودی ما ترک متوفی اظهارنامه ای تقاضا کند.

**مادۀ ۸۶۵:**
انتظام داخل وسيله نقليه وظيفه نقل دهنده است نقل دهنده مؤظف است تا مراقبت کند که اشخاص چيزهائيرا که باعث توليد زحمت و خساره به مسافرين ميشود با خود حمل ندارند. بر عکس اگر ازين رويه به مسافرين خساره برسد نقل دهنده مجبور بجبران است.

## دیارلسم فصل
## بیمه

### لومړۍ برخه
### د بیمې عمومي احکام

**۸۶۶ ماده:**
بیمه یو عقد دی چې د بیمې مؤسسه یې د اجرت په مقابل کښې د افرادو د خسارو او ضایعاتو تاوان چې د مجبره اسبابو او تاکلیو پیښو نه پیدا شوي وی (په یوه اندازه پیسو ورکولو تعهد کوی).

**۸۶۷ ماده:**
د بیمې داختلافاتو په خصوص کښې د دی اصولنامې احکام (په دې صورت چې د بیمې په مقاوله کښې د هغو په خلاف کوم صراحت نه وی) . تطبیق کیږي.

### دوه یمه برخه

### دمالونو بیمه

**۸۶۸ ماده:**
مالونه د مالک، د مالک د پوروال، د مرتهن، مستاجر او ټولو هغو کسانو له خوا چې په ساتنه کښې یې واقعاً ذینفع وی او یا د دوی د وکیل او نماینده له خوا بیمه کیدای شي.

## فصل سیزدهم
## بیمه

### حصهٔ اول
### احکام عمومی بیمه

**مادهٔ ۸۶۶:**
بیمه عقدی است که مؤسسه بیمه در مقابل اجرت جبران خسارات و ضایعات افراد را که ناشی از وقوع حوادث معینه و اسباب مجبره باشد (باعطای یک مقدار پول) تعهد میکند.

**مادهٔ ۸۶۷:**
در مورد اختلافات بیمه احکام این قانون (در صورتیکه بر خلاف آن در مقاوله بیمه صراحتی نباشد) تطبیق میگردد.

### حصهٔ دوم

### بیمهٔ اموال

**مادهٔ ۸۶۸:**
اموال از طرف مالک داین، مالک مرتهن، مستاجر و تمام کسانیکه در محافظه آن واقعاً ذینفع باشند و یا وکیل و نماینده آنها بیمه شده میتواند.

**۸۶۹ ماده:**

یو شخص کولای شي چی د بل شخص په نامه او حساب د بیمې مقاوله وکړې مگر که داشخص دا واک ونه لری چې د هغه چاله خوا چې د هغه په نامه او حساب یې عمل کړی دی نمایندگي وکړې نو د بیمې د (برینیوم) له اجرت څخه شخصا مسئول دی.

هغه شخص چې د ده په نامه او حساب د بیمې مقاوله تړله کیږي نوکه د خطر له پیښیدو نه پخوا یا وروسته یې بیمه قبوله کړی وی له بیمې نه استفاده کولای شي.

**۸۷۰ ماده:**

هغه بیمه چې په وکالت سره منعقده کیږي که د مؤکل لخوا قبوله شي داسی گڼله کیږي چې وکیل د وکالت له شرطونو سره سم تگ کړی دی.

که مؤکل د بیمې د شرطونو په خصوص کښې کوم هدایت نه وی ورکړی وکیل مؤظف دی چې د بیمې مقاوله، له هغو شرایطو سره سمه چې د بیمې د مقاولې د اجراء په ځای کښې عرف او رواج ولری وتړی.که د بیمې له شرایطو څخه ونشي پوهیدای چې مقاوله د بل شخص په نامه او حساب تړلی شوی ده داسی گڼله کیږي چې

**مادۀ ۸۶۹:**

یک شخص می تواند بنام و حساب شخص دیگری مقاوله بیمه را عقد نماید ولی اگر آن شخص صلاحیت نداشته باشد از کسیکه بنام وحساب او عمل کرده است نمایندگی نماید از اجرت (برینیوم) بیمه شخصاً مسئول میباشد.

شخصیکه بنام و حساب او مقاوله بیمه عقد میشود اگر قبل و یا بعد از وقوع خطر بیمه را قبول کرده باشد از بیمه استفاده میتواند.

**مادۀ ۸۷۰:**

بیمه ایکه بالوکاله منعقد میگردد اگر از طرف مؤکل قبول شود چنین محسوب میگردد که وکیل بر وفق شرایط وکالت رفتار نموده است.

اگر مؤکل راجع به شرایط بیمه هدایتی نداده باشد وکیل مؤظف است مقاولۀ بیمه را بر طبق شرائطیکه عرفاً در محل اجرای مقاوله بیمه مروج است منعقد نماید. اگر از شرایط مقاوله بیمه استفهام شده نتواند که مقاوله بنام و حساب شخص دیگری منعقد گردیده است چنین محسوب میشود که

مقاولــه د عاقــد شــخص پــه نامــه او حساب منعقده شوی ده.

**۸۷۱ ماده:**
پــوروال کـولای شي چې خپـل پـور لـه ورکــړی څخــه د پــوروړی د عجــز د احتمال په مقابل کښې بيمه کړی.

پـدې صـورت (کـه پـه خـلاف يـې کومـه مقاوله موجوده نه وی) د بيمې مؤسسـه داغوښـتنه او مطالبـه کـولای شـي چې پـوروال پـه لـومړی سرکښـې د پوروړی مال ته مراجعه وکړې او يا د هغه د مال له پلورنې څخه خپل پور لاس ته راوړی.

**۸۷۲ ماده:**
هغـه پــوروال چې د پـوروړی منقـول او غير منقول مـالونه يې تر مراقبت لاندې نيولی يا په گرو اخيستی وی او يـا دی مـالونو تـه پـه مراجعـه کښـې د امتيـاز حق ولری کـه دا مـالونه بيمـه شوی وی هغـه تـاوان چې د خسـاری پېښـيدلو پـه صـورت ورکـاوه کيـږی د بيمـه شـويو مــالونو عــوض چــې د پــوروالانو پــه طلباتو پورې اړه لری محسوبيږي.

**۸۷۳ ماده:**
که هغه امتياز چې پور والان يې په بيمه شوی مال لری متفاوت وی نوکـه دهغـه پوروال د پـور د اداء د پاره چې امتيـاز

مقاولـه بنـام و حسـاب شـخص عاقـد منعقد شده است.

**مادۀ۸۷۱:**
دايـــن ميتوانـــد ديـــن خـــود را در مقـابــل احتمـــال عـجــز مديـــون از تـاديـه بيـمـه نـمـايد.

درانيصــورت (هـــرگاه بــر خـــلاف آن مقـاوله ای موجود نباشد) مــــؤسسـه بيمه مـيـتـواند مـطـالبه نـمـايد کــه دايـــن در وهلـــۀ اول بـــه امـــوال مـــديون مراجعـــه و بـــا فـــروش آن استيفای دين خويش را بنمايد.

**مادۀ ۸۷۲:**
داينيکــه امـــوال منقـــول وغيرمنقـــول مـديون راتحـت مراقبـه ويـا بـه گـرو گرفتـه ويـا در مراجعـه بـه ايـن امـوال دارای حـق امتيـازی باشـد اگـر ايـن امـوال بيمه شـــده باشد غرامتـی کـه در صـــورت وقـــوع خـــساره تاديـــه ميگـــردد عوض امـوال بيمه شده کـه بـــه طلبـــات دائنـــين متعلـــق اســـت محسوب ميشود.

**مادۀ ۸۷۳:**
اگــر امتيــازيکــه دائنيـــن بـــه مـــال بيمه شده دارنـد متفاوت باشـد در صـــورت عـــدم کـفاف قيـمـت مـــال

يې وروستی دی د مال قيمت کفاف ونکړی نشي کولای چې د هغه مال بيمې ته اقدام وکړي.

برای ادای طلبات دائنيکه امتياز او مؤخر است نمی تواند به بيمه آن مال اقدام نمايد.

**۸۷۴ ماده:**

هغه خساري چې له قانون څخه د مخالفو چارو او يا له ښو آدابو او عمومي اخلاقو د مخالفت څخه پيدا شوي وي بيمه کيدي نشي.

**مادهٔ ۸۷۴:**

خسارات ناشی از اعمال خلاف قانون و يا مغاير آداب حسنه و اخلاق عمومی بيمه شده نميتواند.

**۸۷۵ ماده:**

د بيمه کيد ونکو د بيمې په مقاوله کښې او يا هغه شخص چې په مشروط ډول له بيمې څخه ګټه اخلی که د تهلکې له پيښې نه خبر وي او يا د بيمې مؤسسه د تهلکی د پيښې له نه امکان څخه مطلع وی نود بيمې مقاوله باطله ګڼله کيږي. په لومړنی صورت کښې د بيمې مؤسسه کولای شي چې د بيمې اجوره وغواړی.

**مادهٔ ۸۷۵:**

در عقد مقاولهٔ بيمه شونده و يا شخصيکه بطور مشروط از بيمه منتفع ميگردد اگر از وقوع تهلکه واقف بوده باشد و يا مؤسسه بيمه از عدم امکان وقوع تهلکه مطلع باشد مقاولهٔ بيمه باطل محسوب ميگردد. در صورت اول الذکر مؤسسهٔ بيمه ميتواند اجورهٔ بيمه را مطالبه نمايد.

**۸۷۶ ماده:**

د بيمې مؤسسه فقط د هغه ضرر په تاوان چې په رښتيا سره بيمه کيدونکی ته رسيدلی وی مکلفه ده نوکه د بيمې بدل د مال له قيمت څخه تيری وکړي بيمه کيدونکی له زيات قيمت څخه استفاده نشي کولای.

**مادهٔ ۸۷۶:**

مؤسسهٔ بيمه فقط به جبران ضرريکه حقيقتاً به بيمه شونده رسيده مکلف ميباشد بنابران اگر بدل بيمه از قيمت مال تجاوز نمايد بيمه شونده از قيمت اضافی استفاده نميتواند.

که د بيمې بدل د دې قاعدې له مخې

اگر بدل بيمه نظر باين

نظر د مال قیمت ته لږ شي د بیمې اجوره هم ټیټیږی او د اجوری زیاته تحصیل شوی برخه بیرته ورکوله کیږي. مګر که د بیمې قیمت د کارپوهو کسانو له خوا (چه د دواړو خواوو په اتفاق ټاکلی شوی وی) لاله پخوا څخه اندازه شوی او دواړو خواوو هغه قبول کړی وی د بیمې مؤسسه نشي کولای چې د دې قیمت په نسبت اعتراض وکړي.

**۸۷۷ ماده:**

د بیمې مؤسسه هر وخت که وغواړی کولای شي چې د قیمت د تحقیق دپاره بیمه شوی مال معاینه کړی.

**۸۷۸ ماده:**

هغه مال چې ټول قیمت یې د یوې مؤسسې له خوا بیمه شوی وی د همغې مؤسسې له خوا د عین خطراتو په مقابل کښې بیا بیمه کیدای نشي که د بیمه شوی مال ټول قیمت په پخوانی مقاوله کښې ونشي ټاکلی د پاتې مال د قیمت د پاره یو یاڅو ځلې بیمه جائزه ده پدې صورت د بیمې مؤسسې چې وروسته له هغه یې مال بیمه کړی وی له پاتې قیمت څخه د مقاولی د نېټې په اعتبار مسئولی دی.

هغه مقاولې چې په عین یوه ورځ کښې

قاعده نسبت بقیمت مال کمتر گردد اجوره بیمه نیز تنزیل و قسمت تحصیل شده اضافی اجوره اعاده میگردد اما اگر قیمت بیمه از جانب اهل خبره (که به اتفاق طرفین انتخاب شده) بدواً تقدیر و طرفین آنرا قبول کرده باشند مؤسسه بیمه نمی تواند نسبت به این قیمت اعتراض نماید.

**مادۀ ۸۷۷:**

مؤسسۀ بیمه هر وقتیکه خواسته باشد می تواند برای تحقیق قیمت مال بیمه شده را معاینه نماید.

**مادۀ ۸۷۸:**

مالیکه تمام قیمت آن از جانب یک مؤسسه بیمه شده باشد از طرف همان مؤسسه در برابر عین خطرات دوباره بیمه شده نمیتواند اگر تمام قیمت مال بیمه شده در مقاوله قبلی معیین شده نتواند برای قیمت بقیه مال یک و یا چند مرتبه جائز است. به این صورت مؤسسات بیمه که بعداً مال را بیمه کرده باشند از قیمت باقی مانده باعتبار تاریخ مقاوله مسئول میگردند.

مقاولاتیکه در عین یک روز بعمل

شوی وی داسی ګڼلی کیږي چې په یوه زمان کښې منعقدې شوی دی.

**۸۷۹ ماده:**
که یومال د متعددو مؤسسو له خوا اوپه عین زمان کښې د عین خطراتو د پاره بیمه شوی وی منعقدی شوی مقاولی د بیمه شوی مال د قیمت په اندازه اعتبار لری پدې صورت د بیمې هره یوه مؤسسه نظر مجموعی قیمت ته د مال د بدل په تناسب مسئوله بلله کیږي.

**۸۸۰ ماده:**
که یو مال د خپل قیمت یواځې د یوی برخې د پاره بیمه شوی وی د قسمی خساری د پیښې په حال کښې (پدی شرط چې د هغه په خلاف مقاوله نه وی شوی)، د بیمې مؤسسه د مال د هماغی برخې د قیمت د تاوان مسئوله ده چې بیمه شوی ده.

**۸۸۱ ماده:**
هغه مال چې ټول قیمت یې بیمه شوی وی په لاندنیو احوالو کښې د عین خطراتو د پاره د هغه بیمه جائزه ده:

۱- پدی صورت چې د مربوطه بیمې د مؤسساتو رضایت حاصل شوی وی پدې حال کښې د بیمې ټولې

آمده باشند چنین محسوب میشوند که در یک زمان منعقد شده اند.

**مادهٔ ۸۷۹:**
اگر یک مال از جانب مؤسسات متعدد و در عین زمان برای عین خطرات بیمه شده باشد مقاولات منعقده به اندازهٔ قیمت مال بیمه شده اعتبار دارد. باین صورت هر یکی از مؤسسات بیمه نظر به قیمت مجموعی بتناسب بدل مال مسئول شمرده میشوند.

**مادهٔ ۸۸۰:**
اگر یک مال تنها برای یک قسمت قیمت خود بیمه شده باشد در حال وقوع خساره قسمی (بشرطیکه خلاف آن مقاوله نشده باشد) مؤسسهٔ بیمه مسئول جبران قیمت همان قسمت مال است که بیمه گردیده.

**مادهٔ ۸۸۱:**
مالیکه تمام قیمت آن بیمه شده باشد در احوال ذیل برای عین خطرات بیمه آن جائز است.

۱- در صورتیکه رضایت مؤسسات بیمه مربوط حاصل شده باشد در این صورت همه

مقاولې داسې فرضيږي چې په يوه زمان کښې عقد شوی دي. او د خسارې د پيښېدو په صورت د هغې تاوان په هغه نسبت چې په (۸۷۹) ماده کښې ذکر شوی دې د بيمې د مؤسساتو له خوا ورکول کيږي.

۲- که بيمه کوونکی د بيمې د لومړنۍ مؤسسې حقوق د بيمې وروستۍ مؤسسې ته انتقال کړي وي اويا يې له هغو نه ابراء کړي وي بايد د دې انتقال صورت د وروستۍ بيمې په مقاوله کښې تصريح شي او که داسې نشي نودغه مقاوله بې اثره بلله کيږي.

۳- که شرط شوی وي چې د وروستنۍ بيمې مؤسسه د هغه تاوان مسئوله ده چې د پخوانۍ بيمې مؤسسې هغه نه دی ورکړی، نو پدې صورت کښې بايد کيفيت په وروستۍ مقاوله کښې لکه د لومړی مقاولې په شان تصريح او ښکاره شي.

۸۸۲ ماده:

بيمه کيدونکی د بيمې د مقاولی د عقد په وخت کښې مجبور دی چې د ټولو هغو خصوصياتو څخه چې د بيمې د اجرت له زياتوالی او مقاولی څخه د برائت موجب وګرځې د بيمې مؤسسې ته اطلاع ورکړی د بيمه کيدونکی

مقاولات بيمه چنان فرض ميشود که در يک زمان عقد شده و در صورت وقوع خساره جبران آن به نسبتيکه در مادۀ (۸۷۹) ذکر شده از طرف مؤسسات بيمه تاديه ميگردد.

۲- اگر بيمه كننده حقوق مؤسسۀ بيمه مقدم را به مؤسسۀ بيمه مؤخر انتقال داده و يا از آن ابراء نموده باشد بايد صورت اين انتقال در مقاوله بيمه مؤخر تصريح شود بر عكس آن مقاوله بی اثر تلقی ميگردد.

۳- اگر شرط شده باشد كه مؤسسۀ بيمه مؤخر مسئول جبرانيست كه مؤسسۀ بيمه مقدم آنرا تاديه نكرده است، در اين صورت نيز بايد كيفيت در مقاوله نامه مؤخر بر طبق مقاوله مقدم تصريح گردد.

مادۀ ۸۸۲:

بيمه شونده در زمان عقد مقاوله بيمه مجبور است تمام خصوصياتی را كه موجب برائت از مقاوله و يا تزئيد اجرت بيمه گردد بمؤسسۀ بيمه اطلاع دهد سكوت و يا جواب ناقص و خلاف

سکوت او ناقص او له حقیقت نه خلاف ځواب د بیمې د مؤسسې نه خبرول د مقاولې د فسخ باعث ګرځي. مګر که په حقیقت باندې د خبریدو له نېټې څخه په دریو میاشتو کښې د بیمې مؤسسه د خپلې فسخ حق استعمال نکړي دا حق یې ساقطیږي د بیمه کیدونکې له خوا د بد نیت د ثبوت په صورت د بیمې مؤسسه د اجرت اخیستلو حق لري.

حقیقت بیمه شونده علی الرغم سوال مؤسسهٔ بیمه و عدم وقوف مؤسسهٔ بیمه از حقیقت باعث فسخ مقاوله میگردد. ولی اگر در ظرف سه ماه از تاریخ اطلاع به حقیقت مؤسسهٔ بیمه حق فسخ خود را استعمال نکند این حق ساقط میشود در صورت ثبوت سوء نیت از طرف بیمه شونده مؤسسهٔ بیمه در اخذ اجرت مستحق میباشد.

پرته له هغو مواردو چې د بیمه کیدونکې له خوا د بیمې د پوښتنو په مقابل کښې د بیمې د مقاولې په مربوطه لست کښې خانه پری شوی ځواب او تعهد ورکول کیږي نور هیڅ ډول مسئولیت بیمه کیدونکې ته نه متوجه کیږي.

باستثنای مواردیکه در لست مربوط مقاوله بیمه در مقاوله سئوالات مؤسسهٔ بیمه از طرف بیمه شونده خانه پری شده جواب و تعهد داده میشود دیگر هیچگونه مسئولیتی به بیمه شونده متوجه نمیگردد.

۸۸۳ ماده:

که د خطر د وقوع امکان د بیمې د مؤسسې د مسئولیت له ښکاره کیدونه پخوا او بې د بیمه کیدونکې او یا هغه چا له د خل او تأثیر څخه چې د هغه ګټه اخیستل له بیمې څخه مشروط دی له منځه ولاړ شي د بیمې مؤسسه د اجرت حق نه لري.

مادهٔ ۸۸۳:

اگر امکان وقوع خطر قبل از ظهور مسئولیت مؤسسهٔ بیمه و بدون از دخل و تأثیر بیمه شونده و یا کسیکه انتفاع او از بیمه مشروط است از بین برود، مؤسسهٔ بیمه مستحق اجرت نمیشود.

۸۸۴ ماده:

بیمه کیدونکی کولای شي د بیمې د

مادهٔ ۸۸۴:

بیمه شونده می تواند قبل از

مؤسسې د مسئولیت له وقوع څخه پخوا ټوله مقاوله یا د مقاولی یوه برخه فسخ کړی په دی صورت د بیمې مؤسسه د نیم اجرت مستحقه کیږي.

وقوع مسئولیت مؤسسهٔ بیمه مقاوله را تماماً و یا قسماً فسخ کند، در این صورت مؤسسهٔ بیمه مستحق نصف اجرت میشود.

**۸۸۵ ماده:**

په داسی صورت کښې چې په خلاف یې کوم شرط موجود نه وی د بیمې مؤسسه د هغو خسارو د تاوان ضامنه ده چې د بیمه کېدونکی یا هغه چا د غیر ارادی اعمالو څخه چې په مشروط صورت له بیمې څخه ګټه وړی یا د هغو کسانو د غیر ارادی اعمالو څخه چې د بیمې مؤسسه د دوی داعمالو حقوقاً مسئوله ده پیدا کیږي.

**مادهٔ ۸۸۵:**

در صورتیکه بر خلاف آن شرطی موجود نباشد مؤسسهٔ بیمه ضامن جبران خساراتیست که از اعمال غیر ارادی بیمه شونده یا کسیکه بصورت مشروط از بیمه نفع میبرد یا آنهائیکه مؤسسهٔ بیمه حقوقاً مسئول اعمال شان میباشد بوجود می آید.

مګر په هیڅ صورت د بیمې مؤسسه مجبوره نه ده چې د هغو خسارو تاوان ورکړی چې د بیمه کېدو نکی یا هغه چاله حیلی څخه پیدا شوی وی چې په مشروط ډول له بیمې څخه ګټه وړی.

ولی به هیچ صورت مؤسسهٔ بیمه مجبور نیست خساراتیرا جبران کند که از حیله بیمه شونده و یا کسیکه بصورت مشروط از بیمه نفع میبرد نشئت نموده باشد.

همداډول په دې صورت چې په خلاف یې په مقاوله کښې تصریح نه وی شوی د بیمې مؤسسه په هغه عیب کښې چې په بیمه شوی مال کښې پیښیږی په تاوان ورکو لو مجبوره نه ده.

همچنین در صورتیکه خلاف آن در مقاوله تصریح نشده باشد مؤسسهٔ بیمه در عیب که در مال بیمه شده بوقوع می آید مجبور بجبران نمی باشد.

**۸۸۶ ماده:**

بیمه کېدونکی مجبور دی چې د هغه

**مادهٔ ۸۸۶:**

بیمه شونده مجبور است در ظرف

خطر د خبرېدو له نېټې څخه چې بيمه په هغه پوري اړه لري په پنځو ورځو كښې د بيمې مؤسسه خبره كړي. برسيره په هغه بيمه كيدونكى مكلف دى چې د خسارى د پېښيدو د مخ نيوى او يا تنقيص او تخفيف په خصوص كښې لازم تدبيرونه ونيسى.

هغه شرطونه چې له دى اساس نه مخالف د بيمه كيدونكى په پلو په مقاوله نامه كښې داخليږي داسى دى لكه چې هيڅ نه وى. كه د نيول شويو تدبيرونه مصارف بى تاثيره پاتى شوى هم وى د بيمې مؤسسه د هغو په وركړه مكلفه ده مګر كه بيمه د مال په ټول قيمت اړه ونلرى نومصارف د بيمې د بدل په تناسب، د مال له مجموع قيمت سره وركول كيږي.

**۸۸۷ ماده:**

كه بيمه كيدونكى سره له تثبيته په ډير سخت تقصير او حيله د (۸۸۶) مادى د مكلفيتونو رعايت ونكړى د خپلى بيمې حقوق له لاسه وركوي.

**۸۸۸ ماده:**

كه يومال له (۸۷۹) مادى سره سم د بيمې د متعددو مؤسسو له خوا بيمه شوى وى د خسارى د پيښيدو په حال كښې بيمه كوونكى مجبور دى چې په

پنج روز از تاريخ وقوف به خطريكه بيمه به آن تعلق دارد مؤسسهٔ بيمه را مطلع سازد. علاوه بر آن بيمه شونده مكلف است راجع به جلوگيرى از وقوع خساره و يا تنقيص و تخفيف آن تدابير لازمه را اتخاذ نمايد.

شروطيكه مخالف اين اساس برله بيمه شونده در مقاوله نامه درج ميشود كان لم يكن است اگر مصارف تدابير متاخذه بى تاثير هم مانده باشد مؤسسه بيمه مكلف به تاديه آن است ولى اگر بيمه به مجموع قيمت مال تعلق نداشته باشد مصارف به تناسب بدل بيمه با مجموع قيمت مال پرداخته ميشود.

**مادهٔ ۸۸۷:**

اگر بيمه شونده با تثبيت به حيله و يا تقصير سنگين رعايت مكلفيتهاى مادهٔ (۸۸۶) را نكند حقوق بيمه خود را از دست ميدهد.

**مادهٔ ۸۸۸:**

اگر يک مال مطابق مادهٔ (۸۷۹) از طرف مؤسسات متعدد بيمه، بيمه شده باشد در حال وقوع خساره بيمه كننده مجبور است

(۸۸۶) ماده کښې په ټاکلې موده کښې د بيمې هرې يوې مؤسسې ته د خسارې او هغو مقاولاتو د کيفيت څخه چې د همدې مال په باره کښې يې عقد کړې دې اطلاع ورکړي.

در ظرف مدت معينه مادهٔ (۸۸۶) بهر يک از مؤسسات بيمه کيفيت خساره و مقاولاتی را که دربارهٔ همين مال عقد نموده اطلاع نمايد.

**۸۸۹ ماده:**

په دې صورت چې د هغه په خلاف مشروط شوې نه وې د بيمې هره مؤسسه د هغو خسارو مسئوله ده چې د تلفېدو او تغيير په لحاظ د بيمې د موضوع شيانوته رسيدلې وې پرته د جنګ او عصيان له حالته.

**مادهٔ ۸۸۹:**

در صورتيکه خلاف آن مشروط نشده باشد هر مؤسسهٔ بيمه مسئول خساراتی است که از لحاظ تلف و تغيير بر اشياء موضوع بيمه وارد شده باشد باستثناء حالت جنگ و عصيان.

**۸۹۰ ماده:**

که کوم يو له هغو خطراتو نه چې له (۸۸۹) مادې سره سم د بيمې مؤسسه د هغو مسئوله ده له مقاولې څخه استثنا شوې وې او کومه خساره چې له دغو خطراتو څخه پيښه شي د دې اثبات چې پيښه شوې خساره له استثنايي خطراتو څخه پيدا شوې ده د بيمې په مؤسسه پورې اړه لري.

**مادهٔ ۸۹۰:**

هرگاه يکی از خطراتی که مطابق مادهٔ (۸۸۹) مؤسسهٔ بيمه مسئول آن است از مقاوله استثناء شده باشد و خساره ای از آنجهت وارد شود اثبات اينکه خساره واقعه از خطرات استثنائيه بوجود آمده مربوط به مؤسسهٔ بيمه می باشد.

**۸۹۱ ماده:**

په دې صورت چې د هغو په خلاف مشروط نه وې د بيمې مؤسسه له هغو خطراتو څخه چې د عقد د وقوع له نېټې نه پيدا کيږي مسئوله ده. که د دې مسئوليت د دوام موده په

**مادهٔ ۸۹۱:**

در صورتيکه بر خلاف آن مشروط نباشد مؤسسهٔ بيمه از خطراتيکه از تاريخ وقوع عقد بعمل می آيد مسئول است اگر مدت دوام اين مسئوليت در

مقاوله کښې تصریح شوی نه وی نود محلی عرف له مخې د محکمې له خوا ټاکله کیږي.

مقاوله تصریح نشده باشد باساس عرف محلی از طرف محکمه تعیین میشود.

**۸۹۲ ماده:**

د بیمې مؤسسه له هغې نېټې څخه چې د بیمې مسئولیت شروع کیږي د اجرت مستحقه ده.

**مادۀ ۸۹۲:**

مؤسسۀ بیمه از تاریخیکه مسئولیت بیمه شروع میشود مستحق اجرت می باشد.

**۸۹۳ ماده:**

د بیمې اجرت ممکن دی په نقدو پیسو په هغه جنس چې نقداً د تقدیر وړدی په نقد ډول او یا په میاشتنیو او کالنیو قسطو ورکړشي. مګر که د هغه په خلاف موافقه نه وی شوی د بیمې اجرت په هغه وخت کښې چې د بیمې مسئولیت شروع کیږي نقداً د ورکړې وړ دی.

**مادۀ ۸۹۳:**

اجرت بیمه ممکن است به پول نقد به جنسیکه نقداً قابل تقدیر باشد نقداً و یا به اقساط ماهانه و سالانه تأدیه شود ولی اگر بر خلاف آن موافقه نشده باشد اجرت بیمه در وقتیکه مسئولیت بیمه شروع میشود نقداً قابل پرداخت است.

**۸۹۴ ماده:**

که د بیمې اجرت او د هغې د ورکړې صورت فیصله شوی نه وی نو د محلی عرف او مقتضیاتو له مخې د محکمې له خوا ټاکل کیږي.

**مادۀ ۸۹۴:**

اگر اجرت بیمه و طرز تادیه آن فیصله نشده باشد نظر به عرف و مشخصات محلی از طرف محکمه تعیین میشود.

**۸۹۵ ماده:**

د بیمې بدل نظر د بیمه شوی مال قیمت ته تثبیت کیږي. که د مال قیمت د بیمې له بدل څخه زیات وی نو بدل په دی صورت کاوه کیږي چې بیمه

**مادۀ ۸۹۵:**

بدل بیمه نظر به قیمت مال بیمه شده تثبیت میشود. اگر قیمت مال از بیمه اضافه باشد بدل در صورتی پرداخته میشود که مال

شوی مال ټول تلف شوی وی د تاوان اندازه د مال یوی برخې د اتلاف په صورت (که په خلاف یې مقاوله نه وی شوی) د بیمې بدل د مال د ټول قیمت په تناسب ټاکل کیږي.

**۸۹۶ ماده:**
که د هغه مال قیمت چې بیمه شوی دی په مقاوله نامه کښې نه وی قید شوی بیمه کوونکی مجبور دی چې د مال قیمت د خطر د وقوع په حال کښې اثبات کړی په دی صورت چې محکمه یې لاژم وبولی د خپل قناعت د پاره کولای شي چې بیمه کوونکی ته قسم ورکړی که بیمه کوونکی ادعا وکړي چې د بیمه شوی مال قیمت په مقاوله کښې د لیکلی شوی قیمت نه لږدی مجبور دی چې خپله ادعا اثبات کړی.

مګر که د بیمه شوی مال قیمت پخوا د خطر له وقوع څخه د کارپوهو کسانو په ذریعه (چه د دواړو خواوو په انتخاب ټاکل کیږي) اټکل شوی او د بیمه کوونکی حیله په هغه خصوص کښې په اثبات ونه رسیږي د بیمې مؤسسه نشي کولای چې د دې قیمت په خصوص کښې اعتراض وکړي.

**۸۹۷ ماده:**
وروسته له هغه چې د بیمې مؤسسه د

بیمه شده تماماً تلف شده باشد مقدار جبران در صورت اتلاف قسمی مال (اگر بر خلاف آن مقاوله نشده باشد) بدل بیمه به تناسب مجموع قیمت مال تعیین میشود.

**مادهٔ ۸۹۶:**
اگر قیمت مالیکه بیمه شده در مقاوله نامه قید نشده باشد بیمه کننده مجبور است قیمت مال را در حال وقوع خطر اثبات نماید در صورتیکه محکمه لاژم داند برای قناعت خود میتواند بیمه کننده را قسم بدهد اگر بیمه کننده ادعا نماید که قیمت مال بیمه شده کمتر از قیمت نوشته شده در مقاوله میباشد مجبور است ادعای خود را اثبات نماید.

ولی اگر قیمت مال بیمه شده قبل از وقوع خطر ذریعهٔ اهل خبره (که بانتخاب جانبین معیین میشود) تخمین شده و حیله بیمه کننده در آن خصوص باثبات نرسد مؤسسهٔ بیمه نمی تواند راجع به این قیمت اعتراض نماید.

**مادهٔ ۸۹۷:**
بعد از آنکه مؤسسه بیمه بدل

بيمې بدل ورکړې حقوقاً د بيمه کوونکی قايم مقام ګرځي. نو په دې اساس که بيمه کوونکی د دريمو کسانو په مقابل کښې د خسارې د دعوی حق ولری دا حق د ځينو روېو په تناسب چې د بيمې مؤسسه يې د ورکړې تعهد کوی د بيمې مؤسسې ته انتقال مومی.

بيمه را تاديه نمايد حقوقاً قايم مقام بيمه کننده ميګردد. بنابراين اګر بيمه کننده در مقابل اشخاص ثالث حق دعوی خساره را داشته باشد اين حق به تناسب و جهيکه مؤسسهٔ بيمه تعهد تاديه ميکند به مؤسسهٔ بيمه انتقال مى يابد.

که بيمه کوونکی خپل حقوق چې له پاس لومړۍ فقرې سره سم د بيمې مؤسسې ته منتقل کيږي اخلال کړی او يا د هغو د اخلال موجبات راغونډ کړی د بيمې د مؤسسې په مقابل کښې مسئول دی.

اګر بيمه کننده حقوق خود را که مطابق فقرهٔ اول فوق به مؤسسهٔ بيمه منتقل ميګردد اخلال کند و يا موجبات اخلال آنرا فراهم نمايد در مقابل مؤسسهٔ بيمه مسئول ميباشد.

**۸۹۸ ماده:**

د بيمې مقاوله د بيمې د (پاليسی) په اساس او يا د هغې ليکنی په اساس چې د مقاولی قايم مقام وی اثباتيږي. مقاوله په دوو نسخو کښې تنظيميږي او برسيره په هغه لاندنيو موادو کښې د دواړو خواوو لاسليک او د نېټې قيد داخل وی:

**مادهٔ ۸۹۸:**

مقاولهٔ بيمه باساس (پاليسی بيمه) و يا تحريريکه قايم مقام مقاوله باشد اثبات ميشود مقاوله بدو نسخه تنظيم ميګردد و برعلاوه قيد تاريخ و امضاء طرفين محتوی مواد آتی ميباشد:

۱- د بيمې د مؤسسې او د بيمه کيدونکی نوم او د رسيدلو ځای.

۲- د بيمې موضوع.

۱- اسم و اقامتګاه مؤسسهٔ بيمه و بيمه شونده.

۲- موضوع بيمه.

۳- د هغو خطراتو تاوان چې د بيمې مؤسسې يې تعهد کړی وی. سره د هغو د شروع او د ختم له نېټې.

۳- جبران خطراتيکه مؤسسهٔ بيمه تعهد نموده با تاريخ ابتداء و ختم آن.

۴- د بيمې بدل.

۴- بدل بيمه.

۵- د بيمې د اجرت د ورکړی اندازه وخت او محل.

۵- مقدار و زمان و محل تاديهٔ اجرت بيمه.

۶- ټول هغه احوال او عوامل چې د بيمې د مؤسسې د متعهده خطراتو ماهيت وټاکلی شي.

۶- تمام احوال و عواملیکه ماهيت خطرات متعهدهٔ مؤسسهٔ بيمه را تعيين بتواند.

تبصره:
د بيمې مقاوله د بيمه کوونکی په نامه يا امر او يا د هغې په حامل تنظيم کيدای شي.

تبصره:
مقاوله بيمه باسم يا امر بيمه كننده و يا به حامل آن تنظيم شده می تواند.

**۸۹۹ ماده:**
په دې صورت چې په خلاف يې مشروط نه وی د بيمې مؤسسه مجبوره ده چې د بيمې مقاوله په مستقيم ډول د بيمه کوونکی او يا د ده د وکيل او د بيمې د مؤسسې ترمنځ منعقده شوی د عقد له نېټې څخه په ۲۴ ساعتو کښې او که مقاوله د دلال په ذريعه عقد شوی وی د عقد له نېټې څخه منتهی په لسو ورځو کښې بيمه کوونکی ته وسپاری د دې په عکس بيمه کوونکی کولای شي چې د بيمې له مؤسسې او هغه دلال څخه چې

**مادهٔ ۸۹۹:**
در صورتیکه خلاف آن مشروط نباشد مؤسسهٔ بيمه مجبور است مقاولهٔ بيمه را مستقيماً بين بيمه كننده و يا وكيل او و مؤسسهٔ بيمه منعقد گرديده در ظرف بيست و چهار ساعت از تاريخ عقد و اگر مقاوله توسط دلال عقد شده باشد منتها در ظرف ده روز از تاريخ عقد به بيمه كننده تفويض نمايد. بر عكس آن بيمه كننده ميتواند از مؤسسهٔ بيمه و دلاليكه وساطت

منځګړيتوب يې کړې دی خپل پېښ شوی زيان او ضرر وغواړی.

**۹۰۰ ماده:**

د بيمې مؤسسه کولای شي هغه مال چې بيمه کوی يې تر هر شرط لاندې چې وغواړی سر له سره بيمه کړی همداډول بيمه کوونکی هم د بيمې اجرت بيمه کولای شي.

**۹۰۱ ماده:**

د بيمې اجرت د بيمه کوونکی په استوګنځي کښې ورکول کيږي مګر که د بيمې د مؤسسې او يا د هغې د نماينده په استوګنځي کښې د بيمې د اجرت د ورکړې په خصوص کښې کوم شرط په مقاوله کښې موجود وی معتبر دی.

مګر د دی شرط په خلاف که د بيمې اجرت بالفعل د بيمه کوونکی په استوګنځي کښې ورکړی شوی وی د بيمې د مؤسسې په استوګنځي کښې د بيمې د اجرت د ورکړې شرط بی اثره دی.

**۹۰۲ ماده:**

په دې صورت چې بيمه کوونکی د بيمې اجرت د مقاولې په وخت کښې نه وی ورکړی او اجرت

نموده ضرر و زيان وارده خود را مطالبه نمايد.

**مادۀ ۹۰۰:**

مؤسسۀ بيمه ميتواند مالی را که بيمه می نمايد تحت هر شرطيکه بخواهد مجدداً بيمه نمايد، هم چنان بيمه کننده نيز اجرت بيمه را بيمه ميتواند.

**مادۀ ۹۰۱:**

اجرت بيمه در اقامتگاه بيمه کننده تاديه ميشود ولی اگر در مقاوله شرطی دائر بر تأديۀ اجرت بيمه در اقامتگاه مؤسسۀ بيمه و يا نمايندۀ آن موجود باشد معتبر است.

ولی علی الرغم اين شرط اگر اجرت بيمه بالفعل در اقامتگاه بيمه کننده تأديه شده باشد شرط تأديه اجرت بيمه در اقامتگاه مؤسسۀ بيمه بی اثر است.

**مادۀ ۹۰۲:**

در صورتيکه بيمه کننده اجرت بيمه را در حين مقاوله نداده باشد و يا اجرت ملتوی و يا

ملتوی او یا د اقساطو تابع شوی وی نوکه بیمه کوونکی دغه اجرت او یا د هغه قسط د مودې د تېرېدونه وروسته نه وی ورکړی نو د بیمې مؤسسه یو رسمی اخطار د راجستری لیک په مل هغه ته ورلیږي د اجرت یا اقساطو د نه ورکړی په صورت د یوی میاشتې په مودی کښې د بیمې مقاوله فسخ ګڼله کیږي.

تابع به اقساط گردیده باشد اگر بیمه کننده این اجرت و یا قسط آن را در انقضاء مدت تادیه نکرده باشد مؤسسۀ بیمه یک اخطار رسمی ذریعه مکتوب راجستری باو ارسال می کند در صورت عدم تادیۀ اجرت و یا اقساط در ظرف یک ماه مقاوله بیمه فسخ شمرده میشود.

هغه شرط چې د دې حکم په خلاف پر بیمه کوونکی باندې په مقاوله کښې درج شي باطل دی.

شرطیکه بر خلاف این حکم علیه بیمه کننده در مقاوله درج گردد باطل است.

۹۰۳ ماده:

د بیمې په مقاولاتو کښې چې د ډیرو کلو د پاره منعقده کیږي که د بیمې د اجرت د اندازی په ټاکلو کښې داسی مخصوص عوامل چې د خطر وخامت زیاتوی په نظر کښې نیولی شوی وی په دی حال کښې چې دا عوامل وروسته له منځه ووزی بیمه کوونکی کولای شي چې د مربوطو کلو د پاره د اجرت تخفیف وغواړی.

مادۀ ۹۰۳:

در مقاولات بیمه که برای سنوات متعدده منعقد میگردد اگر در تعیین مقدار اجرت بیمه عوامل مخصوصه که وخامت خطر را تزئید میکند در نظر گرفته شده باشد در صورتیکه این عوامل بعداً از بین برود بیمه کننده میتواند تخفیف اجرت را برای سالهای مربوط مطالبه نماید.

۹۰۴ ماده:

که د هغو خطراتو له ختم نه پخوا چې بیمه په هغو پوری اړه لری د بیمې مؤسسه او په دی صورت چې د بیمې

مادۀ ۹۰۴:

اگر قبل از ختم خطراتیکه بیمه بآن تعلق دارد مؤسسۀ بیمه و یا در صورتیکه اجرت

اجرت لاته وی ورکړی شوی بیمه کوونکی افلاس وکړي او یا په بل صورت له ورکړی څخه عاجز راشي مقابل طرف کولای شي چې د ده ټولی دارايې ته مراجعه وکړي او د تعهد په اجرا کښې تأمینات وغواړی، که د تقاضا د وقوع له نېټې څخه په دری ورځو کښې تأمینات ورنکړل شي نو هغه طرف چې د مقابلې خوايې ټولی دارایې ته مراجعه کړی ده کولای شي چې مقاوله فسخ کړی.

**۹۰۵ ماده:**

که د مقاولی د مودې په منځ کښې هغه څوک چې مال يې بیمه شوی دی د کوم علت په اثر تبدیل شوی وی په دی صورت چې د هغه په خلاف په مقاوله کښې مشروط نه وی ټول هغه حقوق او وجایب چې له بیمې څخه پیدا شوی وی له هغې نېټې څخه چې مال په ده پوری اړه لری نوی خاوند ته انتقال مومی مګر د بیمې مؤسسه کولای شي چې د بیمې د اجرت د پاره د مال لومړی مالک ته مراجعه وکړي.

**۹۰۶ ماده:**

که بیمه کوونکی بې د بیمې د مؤسسې له موافقی نه د خطراتو محل او یا د بیمه شوی مال وضعیت چې د

بیمه هنوز تأدیه نشده باشد بیمه کننده افلاس کند و یا به نحو دیگری از تأدیه عاجز آید طرف مقابل میتواند به مجموع دارائی او مراجعه و در اجرای تعهد تأمینات بخواهد اگر در ظرف سه روز از تاریخ وقوع تقاضا تأمینات داده نشود طرفیکه به مجموع دارائی طرف مقابل مراجعه کرده است میتواند مقاوله را فسخ نماید.

**مادهٔ ۹۰۵:**

اگر در اثناء مدت مقاوله کسیکه مال او بیمه شده در اثر علتی تبدیل شده باشد در صورتیکه بر خلاف آن در مقاوله مشروط نباشد تمام حقوق و وجایب ناشی از بیمه از تاریخیکه مال باو تعلق دارد به صاحب جدید انتقال می یابد. ولی مؤسسهٔ بیمه می تواند برای اجرت بیمه بمالک اول مال مراجعه نماید.

**مادهٔ ۹۰۶:**

اگر بیمه کننده بدون موافقهٔ مؤسسهٔ بیمه محل خطرات و یا وضعیت مال بیمه شده را که در زمان مقاوله

مقاولې په وخت کښې يې درلود تبديل کړی او يا دا تبدلات داسې ماهيت ولري چې د هغه د وجود په صورت د مقاولې په وخت کښې د اجرأ مانع او يا د بيمې له خوا تر درندو شرايطو لاندې د مقاولې د اجراء باعث شي د بيمې مؤسسه کولای شي چې مقاوله فسخ کړي نوهغه څوک چې دا تبدلات پيدا کوی که په اتو ورځو کښې کيفيت د بيمې اداری ته ابلاغ کړي او د بيمې مؤسسه په همغو اتوو ورځو کښې د خپلې فسخ حق استعمال نکړي بيمه دوام کوی.

**۹۰۷ ماده:**

که د بيمې داجرت مبلغ تردوو کالو پوری ورکړی شوی نه وی له بيمه شوی مال نه ترجيحاً اخيستل کيږي. په دې باره کښې د ترجيح حق نسبت نورو مرجحه پورونو ته لومړی دی.

**دريمه برخه**

**د سوځېدلو بيمه**

**۹۰۸ ماده:**

د بيمې مؤسسه د هغو ټولو خسارو د تاوان ضامنه ده چې بيمه شوی منقولو او غير منقولو مالونوته د سوځېدلو له لاری پيښ شي.

داشت تبديل نمايد و اين تبدلات دارای ماهيتی باشد که در صورت وجود آن در حين مقاوله مانع اجرأ و يا تحت شرايط سنگين تری باعث اجرای مقاوله از طرف بيمه شود مؤسسهٔ بيمه ميتواند مقاوله را فسخ نمايد کسيکه اين تبدلات را بوجود مي آورد اگر در ظرف هشت روز کيفيت را به ادارهٔ بيمه ابلاغ کند در صورتيکه مؤسسهٔ بيمه در ظرف همان هشت روز حق فسخ خود را استعمال ننمايد بيمه دوام ميکند.

**مادهٔ ۹۰۷:**

مبلغ اجرت بيمه اگر تا دو سال تاديه نشده باشد از مال بيمه شده ترجيحاً استيفا ميشود حق ترجيح درين باره نسبت به ديون مرجحهٔ ديگر مقدم تر است.

**حصهٔ سوم**

**بيمهٔ حريق**

**مادهٔ ۹۰۸:**

مؤسسهٔ بيمه ضامن جبيرهٔ تمام خساراتی است که از رهگذر حريق به اموال منقول و غير منقول بيمه شده عايد شود.

د بیمې مؤسسه د قصدي سوځولو د خسارې د تاوان چې بیمه کوونکی پکښې اصلاً یا فرعاً د خل لري ضامنه کېدای نشي.

مؤسسهٔ بیمه ضامن جبیره خسارهٔ حریق قصدی که بیمه کننده اصلاً و یا فرعاً در آن ذیدخل باشد شده نمیتواند.

**۹۰۹ ماده:**

دا لاندې خسارې په دې صورت چې د هغو په خلاف مقاوله موجوده نه وي د هغو خسارو حکم لري چې له اور اخیستو څخه پیدا کیږي:

**مادهٔ ۹۰۹:**

خسارات آتی در صورتیکه بر خلاف آن مقاوله موجود نباشد حکم خساراتی را دارد که از حادثهٔ حریق نشئت میکند:

۱- له هر هغه ډول وسائلو نه پیدا شوي مصارف چې د اور مړ کولو په غرض استعمالیږي لکه د تاو، لوګي او بخار د مخنیوي مصارف یا د نجات د پاره نور تدبیرونه لکه د بیمه شوي شیانو نقل له یوه ځای څخه بل ځای ته یاد بیمه شوي کوټو د ټول یالږ نړېدل چې د لزوم په صورت داور د خپرېدو د مخنیوي په مقصد مصرف کیږي.

۱- مصارف ناشی از هر نوع وسائلیکه بغرض انطفای حریق استعمال می شود مثل مصرف جلوگیری از حرارت، دود، بخار یا تدابیر دیگر برای نجات مثل نقل اشیاء بیمه شده از یک محل به محل دیگر یا انهدام کلی و یا قسمی عمارت بیمه شده که در صورت لزوم به مقصد جلوگیری از توسعه حریق صورت میگیرد.

۲- هغه خسارې چې له اور، تکې، چاودنې او ددې په شان نورو پیښونه پیدا شوي وي که څه هم داور باعث نه وي شوي.

۲- خسارات ناشی از آتش، صاعقه، انفلاق، حوادث مشابهٔ آن ولو اینکه باعث حریق هم نشده باشد.

**۹۱۰ ماده:**

هغه مقاوله چې د حریق په مقابل کښې د منقولو او غیر منقولو مالونو په

**مادهٔ ۹۱۰:**

مقاولهٔ که در خصوص بیمهٔ اموال منقول و غیر منقول در مقابل

خصـوص کښـې ترلـه کيـږي برسيره د (۸۹۸) مـادی پـه خصوصـياتو بايـد دا لاندنی معلومات ولري:

۱- د هـغــې ودانـــی ځـــای او د جوړښت ډول او داستعمال طريقه چې بيمه کيږي.

۲- په دې صورت چې د بيمې موضوع شيان وی نـو د هغې ودانۍ محل چې داشـيان پکښـې موجـود وی د هغـه د ودانۍ د طرز او استعمـاله سره.

**۹۱۱ ماده:**

قسـمی خسـاره چـې يـوی بيمـه شـوی ودانۍ ته داور له پېښې څخه رسيږي د سوځېدو لـه پېښې نـه پخوا د ودانـۍ د قيمتونـو او پـس لـه هغـه د مقايسـی پـه اساس تثبيت کيږي.

هغـه خسـاره چـې د يـوې بيمـه شـوی ودانۍ له اور اخيستلو څخه پيدا کيږي په هغه ترتيب چې بدل يې ورکړی شي جبـران کيـږي کـه د يـوی ټـولی ودانـۍ جوړول يا يې ترميمول چې کامله يا يوه برخـه يـې سـوځيدلی وی د مقـاولی پـه اسـاس ټـاکلی شـوی وی پـه يـوه مـوده کښـې چـې د دواړو خـواوو اتفـاق وربانـدې حاصـل شـي کيـږي او کـه د دواړو خـواوو اتفـاق وربانـدې رانشـي

حريـق منعقـد ميگـردد بـر عـلاوه خصوصيات مادۀ (۸۹۸) بايد محتوی معلومات ذيل باشد:

۱- محـــل و نـــوع تـعـميـــر و طـــرز استـعمـــال عـمارتيكـــه بيـمه ميشـود.

۲- در صــورتيكه موضـوع بيمـه اشـياء بـاشـد محـل عمارتيكـه ايـن اشياء در آن مـوجـود ميباشد با طرز تعمير و استعمال آن.

**مادۀ ۹۱۱:**

خسـارۀ قسـمـی كـه بيـک عـمارت بيمه شده از حادثۀ حريق عايد ميشود باساس مقايسـه قيمت هـای عمـارت پـيش از حادثـه حريـق و بعـد از آن تثبيت ميگردد.

خـــسارۀ نـاشـــی از حريـــق يـك عـــمارت بيـــمه شــده بـه ترتيبی كـه بـدل آن تـــاديـــه گـردد جبـران مـيشـود. اگـر تعميـر و يـا تـرميـم يـک عمـارتيـكه كـاملاً و يـا قسمـاً حـريـق گـرديـده بـه اسـاس مـقاولـه تـعـييـن شـده بـاشـد در ظـرف يـک مـدتيـكه اتفـاق طرفيـن حاصـل شـود بعمـل مـی آيـد. در صـــورت عـدم اتفـاق طرفيـن مـدت از طـرف

نوموده د محکمې له خوا ټاکله کيږي که چيرې مصارف د بيمې د مؤسسې له خوا ورکړل شي بيمه کوونکي يې په جوړولو او ترميمو لو مکلف دی. او د بيمې مؤسسه حق لري د هغو مصارفو د طرز چې په ورکړه يې مجبوره ده مراقبت وکړي.

محکمه تعيين ميگردد. هرگاه مصارف از طرف مؤسسهٔ بيمه داده شود بيمه کننده مکلف به ترميم و تعمير است. و مؤسسهٔ بيمه حق دارد طرز مصارف را که مجبور به تاديهٔ آن ميباشد مراقبه نمايد.

**۹۱۲ ماده:**

هغه څوک چې د بل شخص په حساب د يوه مال په خصوص کښې د تصرف حق ولري کولای شي چې د حريق د خطراتو په مقابل کښې ټول يا يوه برخه بيمه کړي. دغه راز هغه څوک چې په هر صفت مال په لاس کښې ولري کولای شي چې د سوځيدولو د خطراتو په مقابل کښې چې د ده له شخصي قصور څخه پيدا شوي او د بل شخص په مقابل کښې د ده د حقوقي مسئوليت موجب وي بيمه کړي.

**مادهٔ ۹۱۲:**

کسيکه بحساب شخص ديگری حق تصرف را راجع بمالی واجد است ميتواند آن را در مقابل خطرات حريق کلی يا قسمی بيمه نمايد هم چنين کسيکه به هر صفتی ذو اليد مالی باشد ميتواند در مقابل خطرات سوختن که در نتيجهٔ قصور شخصی او نشئت کرده و موجب مسئوليت حقوقی او در مقابل شخص ديگری باشد بيمه کند.

**۹۱۳ ماده:**

د (۹۱۲) مادې د تحقق په صورت د بيمې له هغه جبران څخه چې د بيمې مؤسسه د بيمه کوونکي په مقابل کښې د هغه په ورکړه مجبوره ده د استيفا صلاحيت خاص په هغو کسانو پورې اړه لري چې بيمه کوونکی د هغو په مقابل کښې مسئول دی د بيمه کوونکي پوروالان نشي کولای چې د

**مادهٔ ۹۱۳:**

در صورت تحقق مادهٔ (۹۱۲) صلاحيت استيفاء از جبران بيمه مؤسسهٔ بيمه مجبور به پرداخت آن در مقابل بيمه کننده منحصر باشخاص است که بيمه کننده در مقابل آن مسئول ميباشد دائنين بيمه کننده نمی توانند از اين جبران بيمه

بیمې لدې جبران څخه استفاده وکړې.

**۹۱۴ ماده:**
پـدې صـورت چـې پـه خـلاف یـې کومـه مقاولـه موجـوده نـه وی بیمـه کـوونکی حـق لـری هغـه شـیان چـې زیـانمن شـوی دی د بیمې مؤسسې تـه پریږدی او بدل یې وغواړی.

## څلورمه برخه
## د ترانسپورت بیمه

**۹۱۵ ماده:**
د هغو شیانو په بیمه کښې چې په وچه او یا غیـر لـه بحر څخه پـه اوبو کښـې چلنـد کـوی کـه پـه خـلاف یـې مقاولـه موجوده نه وی د بیمې مؤسسه له هغې نېټې څخه چې شیان نقـل ورکـوونکی ته ورتسلیمیږي بیا ترهغـه وختـه پوری چې د نقـل ورکـوونکی لـه خـوا مرسـل الیـه تـه ورتسـلیمیږی لـه هغـو خسـارو څخه چې د هر علت پـه اثر پېښـې شي مسئول دی.

**۹۱۶ ماده:**
د بیمې بدل برسیره د بیمه شوی مال په محلـی قیمـت نقـل ورکـوونکی تـه د تسـلیم پـه وخت کښـې د نقلیـاتو اجرت اونور هغـه مصارف دی چې د مقصـود ځای ته د مال د رسیدو د پاره لازمیږي.

استـفـاده نـمـایند.

**مادۀ ۹۱۴:**
در صورتـیـکـه بـر خـلاف آن مـقـاولـۀ مـوجـود نـباشـد بـیـمـه کـنـنـده حـق دارد اشـیـائـی را کـه خسـاره مـنـد شده بـه مؤسسـۀ بـیـمـه تـرک و بـدل آن را مطالبـه نـمـایـد.

## حصۀ چهارم
## بیمۀ ترانسپورت

**مادۀ ۹۱۵:**
در بیمـه اشیـائیکـه در خشکـه و یـا در آبهـای غیـر از بحـر نقـل داده میشـود هـرگـاه بـر خـلاف آن مـقـاولـه مـوجـود نـبـاشـد مؤسسـۀ بیمـه از تـاریخیـکه اشیـاء بـه نـقـل دهـنـده تسـلیم داده مـیشود الـی زمانیکـه از طـرف نقـل دهـنـده بـه مرسـل الیـه تسـلیم میگـردد از خسـاراتیکه در اثـر هـر علتـی معروض شود مسئول است.

**مادۀ ۹۱۶:**
بـدل بیمه بر علاوه قیمت محلی مال بیـمه شده در زمـان تسـلیم بـه نقـل دهـنـده شـامل اجـرت نقلیـات و دیگـر مصـارفاتی است که برای وصول مـال به محل مقصود لازم میگردد.

منصفانه او لـه عـرف سره سم مفـاد مقصود ځای ته د مال د رسيدو په حال کښې پدې شرط چې د بيمې په مقاولـه کښې جلا درج شي، کولای شي د بيمې په بدل کښې داخلی شي.

**۹۱۷ ماده:**

د نقليـاتو د بيمـې مقاولـه برسيره د (۸۹۸) مادې په ټاکليو خصوصياتو دا لاندنی مواد هم لري:

۱- هغه وسيلې چې د هغـو په ذريعه مـال نقليږي او هغه لار چې د نقـل پـه وخت کښې تعقيبولی شي.

۲- د نقـل ورکوونکـی نـوم او تجارتی عنوان.

۳- کـه چيرې د مرسـل اليـه او نقـل ورکوونکی لـه خوا د نقل د پاره کومه موده ټاکلی شوی وی ددې مودې قيد.

۴- نقـل ورکوونکـی تـه د شيانـو د تـحويـلی ځـای او مرسـل اليـه تـه د تسليم ځای.

**۹۱۸ ماده:**

د بيمې مؤسسه د هغـو خسارو د تـاوان ضـامنه ده چـې د نقليـاتو د اجـراء د مؤظفو مـامورينو لـه حيلې او تقصير څخه پيښې شي.

مفـاد منصفانـه و مطابـق بعـرف را در حـال وصـول مـال بـه محـل مقصـود بشـرطيکه عليحـده در مقاولـۀ بيمه درج گردد ميتـوان داخل بدل بيمه نمود.

**مادۀ ۹۱۷:**

مقاولـۀ بيمـه نقليـات بـر عـلاوه خصوصـيات معينـه مـادۀ (۸۹۸) محتوی مواد آتی نيز ميباشد:

۱- وسـائليکه مـال ذريعـه آن نـقـل ميشـود و راهيکـه در اثنـای نقل تـعقيب ميگردد.

۲- اسـم و عـنـوان تـجارتـی نـقل دهنده.

۳- هـرگـاه از طرف مرسل اليـه و نقـل دهنده برای نقل مدتی معين شـده باشد قيد اين مدت.

۴- محـل تـحويـلی اشيـاء بـه نقل دهـنـده و مـحـل تـسليـم بـه مـرسـل اليـه.

**مادۀ ۹۱۸:**

مـؤسسـۀ بيمـه ضـامن جبـران خسـاراتی ميـباشد کـه از حيلـه و تقصيـر مـامورين مؤظـف اجـرای نقليـات بوقـوع مـی آيد.

۹۱۹ ماده:
که نقلیات مؤقتاً قطع شي او یالار او د نقلیـاتو وسـیله تبدیلـه شـي د بیمـې مقاوله نه فسخ کیږي.

## پنځمه برخه
## د حیات بیمه

۹۲۰ ماده:
د یـوه شخص حیات یاد ده لـه خـوا او یـا د دریم شخص لـه خـوا بیمـه کیـدای شـي، مګـر د بیمـې د عقـد د صـحت د پـاره شـرط دی چـې دریـم شخص د بیمـه شـوی سړی د ژونـد پـه اوږدیدو کښې ګټه ولري، د محجور او یـا لیـونی د صـحی حیـات د بیمـې مقاولـه جائزه ده مګر د دوی پـه مړینـی پوری مشروط او مقیده بیمه تړل باطل دی پـه دواړو صـورتو کښـې کـه چیـری فـوت واقـع شـي نـو د بیمـې د اجـرت نیمایې چې د مړینې لـه نېټې څخه لـه بیمه کوونکی څخـه اخیسـتی شـوی دی بیرته ورکاوه کیږي.

۹۲۱ ماده:
د بیـمې مؤسسه کولای شي چې د یـو شـخص د فـوت احتمـال پـه یـوه ټـاکلی موده او یا د مقـاولې پـه ټـاکلیو احـوالو او شـرایطو کښـې دده د ټـاکلی مـودې زیاتو الی بیمه کړي.

مادۀ ۹۱۹:
اگر نقلیات مؤقتـاً قطـع گـردد و یـا راه و وسـیلۀ نقلیـات تبـدیل شـود مقاولـۀ بیمه فسخ نمیشود.

## حصۀ پنجم
## بیمۀ حیات

مادۀ ۹۲۰:
حـــیات یـک شـخص یـا از طـرف خـــودش و یـا از جانـب یـک شـخص ثـالـث بیمــه شــده میتوانـد، ولـی بـرای صـحت عقـد بیمـه شرط اسـت کــه شخـص ثـالـث در دوام حیـات بـیمــه شــــونده ذینفـع بـاشـــد مـقاولـــۀ بـیمــه حـیــات صـحی محجـور و یـا مجنـون جایــز اســت ولـــی انعـــقاد بیمــه مشـــروط و مقید بـه فـوت آنها به باطل مـــیباشد در هر دو صورت هـــرگاه فـوت واقـع شود مناصفه اجرت بیمـه کـه تـا تـاریخ وفات ازبیمه کننده گرفته شده است مسترد میگـــردد.

مادۀ ۹۲۱:
مــؤســـسۀ بیمـه میتوانـد احتمـال فــوق یـک شـــخص را در یـک مـدت معـیـیــن و یـا در احـوال و شـرایط معینۀ مقاولـه مـا زاد مـدت معینـه او را بیمه نماید.

**۹۲۲ ماده:**
د حیات د بیمې په مقاوله کښې بر سیره د (۸۹۸) مادې په داخلو خصوصیاتو د هغه چا چې د حیات بیمه کیږي نوم، سن کسب او د روغتیا درجه دې داخله شي، دامقاوله ممکنه ده په نوم او یا امر لیکل شوی وی مګر د حامل په وجه کیدای نشي.

**مادۀ ۹۲۲:**
در مقاولۀ بیمه حیات علاوه بر خصوصیات مندرجه مادۀ (۸۹۸) اسم، سن پیشه و درجه صحتمندی کسیکه بیمۀ حیات میشود درج گردد این مقاوله ممکن است محرر باسم و یا امر باشد ولی در وجه حامل شده نمی تواند.

**۹۲۳ ماده:**
هغه څوک چې د ده حیات بیمه شوی دی که چېرې د مقاولې په وخت کښې مړشي بیمه اعتبار نلری.

**مادۀ ۹۲۳:**
شخصیکه حیات او بیمه شده هرگاه در حین مقاوله وفات نماید بیمه اعتبار ندارد.

**۹۲۴ ماده:**
د بیمې د اجرت د نه ورکړی په صورت د (۹۰۲) مادې حکم معتبر دی او د بیمې مؤسسه اړه نه ده چې لدې حیثه دعوی وکړي.

که بیمه کېدونکی د دریو کالو د پوره کیدو څخه د مخه له بیمې څخه رجوع وکړي ترڅو چې خپل تعهد اجرأ کړی نشي کولای هغه اجرت یا بدل چې ورکړی یې دی د بیمې له مؤسسې نه وغواړی.

که چیرې بیمه کیدونکی وروسته له هغه چې له درې کاله اجرت نه زیات یې ورکړی وی او له بیمې نه رجوع

**مادۀ ۹۲۴:**
در صورت عدم تادیه اجرت بیمه حکم مادۀ (۹۰۲) معتبر بوده و مؤسسۀ بیمه احتیاج ندارد از این حیث اقامۀ دعوی کند.

اگر بیمه شونده قبل از ختم سه سال از بیمه رجوع کند تا تعهد خود را اجرأ نماید نمیتواند اجرت و یا بدلی را که داده است از مؤسسۀ بیمه مطالبه نماید.

هرگاه بیمه شونده بعد از اینکه زیادتر از سه سال اجرت را تادیه کرده از بیمه رجوع نماید می تواند بعد از

وکړې کولای شي چې د مصرف له تخفیف نه وروسته د پاتې ۲ پر ۳ ټول اجرت په سلو کښې یو معادل وغواړي.

**۹۲۵ ماده:**

د هغه چې انتحار چې د وفات د خطر په مقابل کښې خپل حیات بیمه کوي د بیمې مؤسسې ته د ورکړې موجب نه ګرځي. مګر که دغه انتحار ترهغو احوالو لاندې وي چې ارادې اوادراک سلبوو نکی وي نود بیمې اعتبار ته کوم خلل نه پیښیږي.

هغه څوک چې ګټه یې له بیمې څخه په مشروط صورت وي که د بیمه کیدونکی شخص په قتل کښې اصلاً یا فرعاً ذی دخل وي محکوم شوی وي له بیمې څخه استفاده نشي کولای او په محکوم پورې مربوطه وجه د مقتول په ورثه پورې تعلق نیسي.

**۹۲۶ ماده:**

یو شخص لکه څرنګه چې کولای شي خپل حیات په هغه مبلغ سره چې زړه یې وي بیمه کړي د بیمې د متعددو مؤسسو په ذریعه بې لدې چې ځان د بیمې د بدل په مقدار مقید کړي بیمه کولی شي.

تخفیف مصرف معادل به فیصد یک مجموع اجرت ۲ بر ۳ متباقی را مطالبه نماید.

**مادهٔ ۹۲۵:**

انتحار کسی که حیات خود را در مقابل خطر وفات بیمه میکند موجب تادیه ای برای مؤسسهٔ بیمه نمی گردد. ولی اگر انتحار تحت احوالیکه سالب اراده و ادراک است بوقوع آمده باشد باعتبار بیمه خللی وارد نمیشود.

کسی که انتفاع او از بیمه بصورت مشروط باشد اگر در قتل شخص بیمه شونده اصلاً و یا فرعاً ذیدخل بوده محکوم شده باشد از بیمه استفاده نمیتواند و وجه مربوط به محکوم به ورثه مقتول تعلق میگیرد.

**مادهٔ ۹۲۶:**

یک شخص طوریکه میتواند حیات خود را با مبلغی که خواسته باشد بیمه نماید توسط مؤسسات متعدد بیمه نیز بدون مقید بودن به مقدار بدل بیمه میتواند.

**۹۲۷ ماده:**

د بیمې لـه مؤسسې څخـه د حیات د بیمې له مقاولې نه د پیدا شوی ګټو او له حقوقو څخه د استیفا او د غوښتنې صلاحیت چې د دریم شخص په ګټه عقد کیږي مستقیماً په همغه شخص پوری اړه لری.

کـه دبیمې پـه مقاولـه کښې د دریم شخص د وراثت پـه نسبت تصریح هم شوی وی لـه لمړی فقرې سره سم دا شخص د بیمې د مؤسسې پـه مقابـل کښې د حقوقـو او ګټـو لرونکـی دی. میړه او ماندینـه کـولای شـي د عـین مقاولی له مخې یو د بل په حیات دوه متقابلې بیمې عقد کړی.

**۹۲۸ ماده:**

بیمه کیدونکی لکه څنګه چې کولای شي لـه بیمې څخـه د ګټې اخیستلو د حق لرونکـی د مقـاولې پـه وخـت کـی وټاکې د مقاولې له تړلونـه وروسته یې هم ټاکلی شي.

بیمه کیدونکی کولای شي وروسته د هغه شخص له ټاکلو چې ګټه اخیستل یې لـه بیمې څخـه مشروط وی هغـه تبدیل کړی مګر کـه بیمه کیدونکی د بیمې په مقاولـه کښې تعهد کړی وی چې د تبدیل حق نـه لری او مقاولـه یې

**مادهٔ ۹۲۷:**

صلاحیت مطالبـه و استیفـاء حقوق و منـافـع نـاشی از مقاولهٔ بیمه حیات از مؤسسهٔ بیمه که به نفـع یـک شخـص ثالـث عقـد میشـود مستقیماً مربوط بـه همان شخص است.

اگـر در مقاولهٔ بیمـه نسبت وراثت شخص ثالث تصریح هـم شـده باشـد مطـابق فقـره اول مستقیماً شخـص مذکور در مقابـل مؤسسهٔ بیمـه دارای حقـوق و منـافع میباشـد. زوج و زوجه می توانند بـه اساس عین مقاولـه بـر حیـات یـک دیگـر دو بیمـه متقابل عقد نمایند.

**مادهٔ ۹۲۸:**

بیـمه شونـده طـوریـکه میتواند شـخص دارای حـق انتفـاع از بیمـه را در حین مـقاوله تعیین نماید. بعد از انعقاد مـقاوله نیز تعیین میتواند.

بیـمه شونـده مـیتواند بعـد از تعیین شخصیکه انتفـاع او از بیمـه مشروط میباشـد وی راتبدیل بکند ولی اگر بیمه شـونده در مقـاولـهٔ بیـمه تعهـد کـرده باشـد کـه حق تبدیل را نـدارد و

هغه شخص ته چې ګټه اخيستل يې له بيمې څخه مشروط دی ورتسليم کړی وی نونشي کولای چې هغه شخص تبديل کړی.

**۹۲۹ ماده:**

د بيمې د مؤسسې د معاملاتو د تصفيې او يا افلاس په حال کښې د هغو کسانو د غوښتنې حق چې تر اوسه د بيمې د معتبرو مقاولو په اساس د نفع خاوند دی بيله ټکټ پولۍ څخه داجرت په اعاده منحصر دی چې د هرې مقاولې د پاره د تصفيې او يا دافلاس د حکم د صدور تر ورځې پورې ورکړی شوی دی.

**۹۳۰ ماده:**

بيمه کيدونکی بی د بيمې د مؤسسې له اطلاع نه کولای شي په افغانستان او د دنيا په نورو خواوو کښې په هوا، بحر او وچه کښې مسافرت وکړې.

د حيات د بيمې مقاوله د صلح په وخت کښې او د هغو سفربريو په ترڅ کښې چې مسلح سوقيات پکښې وی او يا د داخلی جګړو، اغتشاش او عصيان او ملکی بحرانونو په وخت کښې معتبره ده يواځې له يوه پردی دولت سره د جنګ پيښيدو په وخت کښې (پدې صورت چې په خلاف يې کوم شرط نه

مقاوله را به شخصيکه انتفاع او از بيمه مشروط است تسليم داده باشد نمی تواند آن شخص را تبديل کند.

**مادهٔ ۹۲۹:**

در حال افلاس و يا تصفيه معاملات مؤسسهٔ بيمه حق مطالبه آنهائيکه هنوز به اساس مقاولات معتبر بيمه ذينفع ميباشد منحصر به اعادهٔ اجرت بدون تکت پولی است که الی روز صدور حکم افلاس و يا تصفيه برای هر مقاوله تاديه شده است.

**مادهٔ ۹۳۰:**

بيمه شونده بدون اطلاع مؤسسه بيمه می تواند در افغانستان و در هر طرف دنيا در هوا، بحر و خشکه مسافرت نمايد.

مقاولهٔ بيمه حيات در وقت صلح و در اثنای سفر بری هائيکه شامل سوقيات مسلح باشد و يا در حين وقوع عصيان، اغتشاش، محاربات داخلی و بحرانات ملکی معتبر ميباشد تنها درحين وقوع محاربه با يک دولت اجنبی (در صورتيکه بر خلاف آن شرطی

وي) مقاوله منقطع کيږي پدی حال کښې هغه اجرت چې د وفات دپيښېدو په پيش بيني کښې تحصيل شوی وی بی له ټکټ پولۍ څخه اعاده کيږي.

**۹۳۱ ماده:**

د بيمې عقد د تونتين (Tontine) يعنی د شريکانو له خوا په معينو اقساطو سره دې د پاره تاديه کول چې د هغو اشخاصو په منځ کښې چې ژوندی دی په ټاکلی نېټه وويشلی شي.

## شپږمه برخه
## د پېښو بيمه

**۹۳۲ ماده:**

د پېښې په مقابل کښې بيمه عبارت له هغې مقاولې څخه ده چې د هغې له مخې د بيمې مؤسسه تعهد کوی چې د يوه ټاکلی اجرت د ورکړې په مقابل کښې د يوې حادثې د پيښېدو په حال کښې لکه مريضي يا د مادي ګټو او کار او عمل مخله عارضه او يا د هغه تصادف په اثر چې ماهيت او نوعيت يې تعريف شوی وی د بيمه کيدونکی وفات او يا د بيمه کيدونکی د کار له قدرت او امکان څخه مؤقتی يا دائمی محروميت ټاکلی پانګه يا عايد ورکوی دا ورکړه دې يا بيمه شوی ته وشي يا دی هغو وارثينو او متعددو

نباشد) مقاوله منقطع ميگردد در اين حال اجرتيکه در پيش بينی وقوع وفات تحصيل شده باشد بدون تکت پولی اعاده ميشود.

**مادۀ ۹۳۱:**

عقد بيمه باساس تونتين (Tontine) يعنی تاديه باقساط معين از طرف شرکأ باين مقصد که آنهائيکه حيات دارند در تاريخ معينی تقسيم شود).

## حصۀ ششم
## بيمۀ حوادث

**مادۀ ۹۳۲:**

بيمه در مقابل حادثه عبارت از مقاوله ايست که باساس آن مؤسسۀ بيمه تعهد ميکند که در مقابل تاديه يک اجرت معين در حال وقوع يک حادثه مثل مريضی يا عارضه مخل منافع مادی و کار و عمل و يا وفات بيمه شونده در اثر تصادفيکه ماهيت و نوعيت آن تعريف شده باشد و يا محروميت مؤقتی يا دائمی بيمه شونده از قدرت و امکان کار سرمايه معيين يا عايدی تاديه ميدارد اين تاديه يا به بيمه شونده بعمل آيد يا به وارثين و اشخاص معيين و

تاکليو اشخاصو ته وشي چې حقوقاً د ده قايم مقام گرزيدلی وی.

پېښه دې لکه څنگه چې ممکنه ده په مستقيم ډول د بيمه کېدونکی له خوا منعقده شي همداډول دريم شخص کولای شي چې د يوه شخص او يا د متعددو اشخاصو په گټه عقد وتړی د يوه هيئت او جمعيت په خصوص کښې د حادثې د بيمې مقاوله هم ممکنه ده په دی خصوص کښې د هغو کسانو د نومونو چې د حادثې په مقابل کښې بيمه کيږي تصريح ضرور نه ده يوائې د کسب او يا ماموريت ذکر کافي دی.

**۹۳۳ ماده:**

د حوادثو بيمې څنگه چې ممکنه ده د هغو ضررونو د تاوان په باره کښې وی چې بيمه کېدونکی د حادثې په نتيجه کښې د هغو سره مخامخ کيږي عقد شي د هغو تاوانو د تلافی په مقصد چې بيمه کېدونکی د حادثې په اثر بل ته د تاوان په ورکو لو مجبور دی هم ممکن دی.

**۹۳۴ ماده:**

د حوادثو په بيمو کښې د بيمې مؤسسه مجبوره ده چې لاندنی حادثې د کال د وقوع په وخت کښې په مقاوله کښې مندرجه تاوان په

متعددی که حقوقاً قايم مقام او گرديده باشند.

حادثه طوريکه ممکن است مستقيماً از طرف بيمه شونده منعقد شود همچنين شخص ثالثی ميتواند بر له يک شخص و يا اشخاص متعدد به عقد آن بپردازد. مقاوله بيمۀ حادثه راجع بيک هيئت و جمعيت نيز ممکن است. در اين صورت ضرور نيست اسامی اشخاصيکه در مقابل حادثه بيمه ميشوند تصريح گردد فقط ذکر پيشه و يا ماموريت کافی است.

**مادۀ ۹۳۳:**

بيمه های حوادث طوريکه ممکن است دربارۀ جبران ضررهائيکه بيمه شونده در نتيجۀ حادثه معروض آن ميگردد عقد شود بمقصد تلافی غراماتيکه بيمه شونده در اثر حادثه مجبور تسويه آن بديگری ميباشد نيز ممکن است.

**مادۀ ۹۳۴:**

در بيمه های حوادث مؤسسه مجبور است در حين وقوع سنه حادثه ذيل غرامت مندرجه در مقاوله را قرار

لاندې ډول ورکړي:

۱- په دی صورت چې حادثه د مرگ باعث شي که مرگ ژر وی او که په موده د یوکال کښې د حادثې د وقوع له نېټې څخه پېښ شوی وی.

۲- په دی حال کښې چې حادثه د دایمی معلولیت موجب شوی وی.

۳- په دی صورت چې حادثه د کار له قدرت څخه د مؤقتی محرومیت سبب شوی وی بیمه کیدونکی ته به په ورځنی حساب د محرومیت د مودی تر دوام پوری تاوان ورکاوه کیږي.

**۹۳۵ ماده:**
په دی صورت چې په خلاف یې شرط شوی نه وی د بیمې مؤسسه مجبوره ده برسیره د مقاولې په مندرجه تاوان د تداوی اجرت چې بیمه کېدونکی په رښتیا سره صرف کړی وی هم ورکړي.

**۹۳۶ ماده:**
د بیمې له مؤسسې څخه د بیمه کېدونکی د تضميناتو اخیستل د دریم شخص د خطا په نتیجه کښې په دریم شخص باندې د بیمه کېدونکی د مراجعې حق نه ساقطوی. دریم شخص مجبور دی چې بې د بیمې په نظر

آتی بپردازد:

۱- در صورتیکه حادثه باعث موت گردد خواه فوت آنی باشد خواه در ظرف یکسال از تاریخ وقوع حادثه بعمل آمده باشد.

۲- در حالیکه حادثه موجب معلولیت دایمی شده باشد.

۳- در صورتیکه حادثه سبب محرومیت مؤقتی از قدرت کار شده باشد به بیمه شونده به حساب روزانه الی دوام مدت محرومیت جبران داده میشود.

**مادۀ ۹۳۵:**
در صورتیکه بر خلاف آن شرط نشده باشد مؤسسۀ بیمه مجبور است بر علاوه غرامت مندرجه در مقاوله اجرت تداوی را که بیمه شونده حقیقتا صرف کرده است نیز تادیه نماید.

**مادۀ ۹۳۶:**
اخذ تضمینات بیمه شونده از مؤسسۀ بیمه در نتیجه خطای شخص ثالث حق مراجعه بیمه شونده را به شخص ثالث ساقط نمی سازد شخص ثالث مجبور است بدون در نظر گرفتن بیمه

کښې نیولو په حادثه اخته شوی شخص ته د ضرر تاوان ورکړي.

ضـرر شخص معروض بـه حادثـه را جبران کند.

د حـادثـو د بیمې په نورو مسایلـو کـښـې د حـیات د بیمـې راغلـی احکام تطبیق کیږي.

در مـسایل دیگـر بیمـه حـوادث احـکام وارد بـیمـه حـیات تطبیق میشود.

## اوومه برخه
## زراعتی بیمه

## حصۀ هفتم
## بیمۀ زراعتی

**۹۳۷ ماده:**
هـر ډول رېبـل شـوی او یـا ولاړ محصول د کال په هر وخـت کښې بیمه کېدای شي.

**مادۀ ۹۳۷:**
هـر نـوع مـحصـول درو شـده و یـا درو نشده در هـر وقـت سـال بـیمـه شده میتواند.

**۹۳۸ ماده:**
زراعـتی بیمې د هغې زمانی د پاره چې عقـد کیـږی اعتبـار لـری چې د خسارو د تـاوان لـه ورکولـو نه وروسته هـم بیمـه د یـوې دوهمـې خسـاری پـه مقابل کښې دوام کوی.

**مادۀ ۹۳۸:**
بـیـمه های زراعتی برای زمانیکـه عقـد میشـود اعتبـار دارد کـه بـعـد از جبـران خسـارا ت نیـز بیـمـه در مـقابل یک خسارۀ ثانی دوام میکند.

خسـاری د ممیـز پـه ذریعـه چې لـه دواړو خـواوو نـه ټـاکل کیـږی انـدازه او تـثبیت کیږی.

خسـارات ذریعـه ممیـز کـه از جانـب طرفیـن گماشتـه میشـود تقدیر و تـثبیت میگردد.

**۹۳۹ ماده:**
د زراعتـی بیمې پـه شـرکتو کښـې د بـیـمې د دوام مـوده چې د متقابلـه اعتمـاد پـه اسـاس دایـری کیـږی د شـرکت د دوام مـوده ده مګـر هـم

**مادۀ ۹۳۹:**
مـدت دوام بیمـه در شرکـت هـای بیـمه زراعتـی کـه باسـاس اعتمـاد متـقابـلـه دایـر میگـردد مدت دوام شرکت است ولی هم شـرکـت و هـم

شرکت او هم سهم لرونکی کولای شي چې د هر کال په پای کښې مقاوله فسخ کړی هغه شرایط چې د دی حکم په خلاف وضع کیږي اعتبار نه لری.

سهمداران می توانند در ختم هر سال مقاوله را فسخ نمایند شرائطیکه بر خلاف این حکم وضع میشود کان لم یکن است.

**۹۴۰ ماده:**
د ټولو زراعتی او اهلی حیواناتو بیمه د هر ډول پوری کیدونکی ناروغی او حادثې په مقابل کښې جائزه ده.

**مادهٔ ۹۴۰:**
بیمه تمام حیوانات زراعتی و اهلی در مقابل هر نوع مرض ساری و حادثه جائز است.

**اتمه برخه**
**د غلا بیمه**

**حصهٔ هشتم**
**بیمهٔ سرقت**

**۹۴۱ ماده:**
له غلا څخه د اشخاصو د ساتنی په منظور او یا هغه اشخاص چې د غلا په اثر په خساره او مالی مسئولیت اخته کیږی ممکنه ده چې په غلا باندې د بیمې مقاوله وتړی.

**مادهٔ ۹۴۱:**
به منظور حمایه اشخاص از سرقت و یا اشخاصیکه در اثر سرقت معروض خساره و مسئولیت مالی قرار میگیرند ممکن است علیه سرقت مقاولهٔ بیمه عقد نمود.

**نهمه برخه**
**د زمانی تیریدل**

**حصهٔ نهم**
**مرور زمان**

**۹۴۲ ماده:**
هر ډول دعوې چې د بیمې له مقاولی څخه پیداکیږی د اختلاف د پیښیدو له نیټې نه وروسته له دوو کالو څخه ساقطیږي.

**مادهٔ ۹۴۲:**
هر نوع دعوائیکه از مقاوله بیمه بوجود می آید بعد از دو سال از تاریخ وقوع اختلاف ساقط میشود.

**۹۴۳ ماده:**
وروسته د دې اصولنامی له خپریدو

**مادهٔ ۹۴۳:**
بعد از نشر این اصولنامه، اصولنامه

ثخه لاندې نورى اصولنامى لغوه او دا اصولنامه د هغو په ځاى د اجرأ وړده:

۱- د تجارتى د فترونو اصولنامه.

۲- د دلالى اصولنامه.

۳- تجارتى اصولنامه.

۴- د تجارت د ثبت اصولنامه.

**۹۴۴ ماده:**
دا اصولنامه د خپرېدو لـه نېټې ثخه دوې مياشتې وروسته داعتبار وړده.

**۹۴۵ ماده:**
د دې اصـولنامى پـه اجـراء او تطبيـق د ملى اقتصاد وزارت مؤظف دي.

دنورو مملكتى اصولو په جمله كښـې د دې اصـولنامى د اجراء او انفـاذ امـر او اراده كوو د **۱۳۳۴** لمريز كـال د قـوس ۲۱ نېټـه د **۱۳۷۵** قمـرى كـال د ربيـع الثانى د مياشتې له **۲۹** سره سم.

های ذيل ملغـى و ايـن قـانون جانشـين آنها ميباشد.

۱- اصولنامه دفاتر تجارتى.

۲- اصول نامه دلالى.

۳- اصول نامه تجارتى.

۴- اصول نامه ثبت تجارتى.

**مادۀ ۹۴۴:**
ايــن قـانــون دو مـاه بـعـد از تـاريــخ نـشـر مـعـتـبـر مـيـبـاشـد.

**مادۀ ۹۴۵:**
بـه اجـرأ و تطبيـق ايـن قـانون وزارت اقتصاد ملى مؤظف است.

انفـاذ و اجـراى اصـولنامۀ هـذا را در جملـه سـائر اصـولات مملكتـى امـر و اراده ميـنمائيم. مؤرخه ۲۱ برج قـوس **۱۳۳۴** شمسـى مطـابق ۲۰ مـاه ربيـع الثانى **۱۳۷۵** قمرى.



# تعدیلات
# قانون تجارت

# د تجارت د اصولنامی
# تعدیلونه

**د افغانستان جمهوريت دجمهور رئيس**
**فرمان**

**گڼه : ۴۰۰**

**نېټه : ۱۳۶۷/۴/۸**

**د تجارت د قانون په ۲۷۷ او ۴۵۸ مادو کې دزياتوالی او تعديل د توشېح په هکله**

د افغانستان دجمهوريت داساسي قانون د (۷۵) مادې د (۲) فقرې د حکم سره سم د تجارت د قانون په ۲۷۷ او ۴۵۸ مادو کې کوم زياتوالی او تعديل چې د ۱۳۶۷ د غبرگولی د ۶ نېټې په فوق العاده غونډه کې د انقلابي شورا له خوا د (۱۱) گڼې مصوبې په ترڅ کې په دوو مادوکې تصويب شويدی توشېح کوم.

دا فرمان په نوموړی قانون کې دزياتوالی او تعديل په باب د افغانستان د جمهوريت د انقلابي شورا له مصوبي سره يوځاي په رسمي جريده کې دخپريدو لپاره د افغانستان جمهوريت د عدليې وزارت ته دې واستول شي.

**دکتور نجيب الله**
**د افغانستان جمهور رئيس**

**فرمان**
**رئيس جمهور جمهوريت افغانستان**

**شماره: ۴۰۰**

**مؤرخ: ۱۳۶۷/۴/۸**

**در بارهٔ توشيح درمورد ايزاد وتعديل مواد ۲۷۷ و۴۵۸ قانون تجارت**

مطابق به حکم فقرهٔ (۲) مادهٔ (۷۵) قانون اساسی جمهوری افغانستان، ايزاد و تعديل مواد ۲۷۷ و ۴۵۸ قانون تجارت را که بتاريخ ۶جوزای ۱۳۶۷ درجلسه فوق العاده از طرف شورای انقلابی طی مصوبهٔ شماره (۱۱) بداخل دو ماده به تصويب رسيده، توشيح ميدارم.

اين فرمان همراه با مصوبهٔ شورای انقلابی جمهوری افغانستان در بارهٔ ايزاد و تعديل قانون متذکره جهت نشر در جريدهٔ رسمی بوزارت عدليهٔ جمهوری افغانستان گسيل گردد.

**دکتور نجيب الله**
**رئيس جمهور افغانستان**

## د افغانستان دجمهوريت دانقلابي شورا مصوبه

**ګڼه: (۱۱)**

**نېټه: ۱۳۶۷/۳/۶**

**د تجارت د قانون په (۲۷۷ او ۴۵۸) مادوکې د زیاتوالی او تعدیل په هکله**

د افغانستان جمهوریت انقلابی شورا د افغانستان جمهوریت د اساسی قانون د (۱۴۶) مادی د حکم پر بنسټ تصویبوی:

**لومړی ماده:**
د (۲۷۷ او ۴۵۸) مادو په پای کی لاندی متن ور زیات شی:

۱- تولیدی او خدماتی خصوصی تشبثات چی د کورنی او بهرنی خصوصی پانګه اچونی د قانون پر اساس د افغانستان په جمهوریت کی تاسیس او ثبت کیږی د دغه قانون د حکمونو تابع نه دی.

۲- د لمتد تجارتی شرکت د سوداګری د وزارت په اجازه جوړیږي د اجازی په غوښتنلیک کی لازمه ده چی د ټولو شریکانو او یا د هغوی د تصدیق شویو وکیلانو لاسلیک درج شی.

## مصوبهٔ شورای انقلابی جمهوری افغانستان

**شماره: (۱۱)**

**تاریخ: ۱۳۶۷/۳/۶**

**در مورد ایزاد و تعدیل مواد (۲۷۷ و ۴۵۸) قانون تجارت**

شورای انقلابی جمهوری افغانستان به تأسی از حکم مادهٔ (۱۴۶) قانون اساسی جمهوری افغانستان تصویب میدارد:

**مادهٔ اول:**
متن ذیل در اخیر مواد (۲۷۷ و ۴۵۸) ایزاد گردد:

۱- تشبثات خصوصی تولیدی و خدماتی که به اساس قانون سرمایه گذاری خصوصی داخلی و خارجی در جمهوری افغانستان تأسیس و ثبت میگردد تابع احکام این قانون نمی باشد.

۲- شرکت لمتد تجارتی به اجازه وزارت تجارت تشکیل می یابد، در درخواست اجازه لازم است که امضاء تمام شرکاء و یا وکیل های مصدق شان درج گردد.

د لمتد د تجارتی شرکت ټوله پانګه باید په غاړه واخیستله شی او لږ تر لږه نیمایی یی ورکړی شی.

تولیدی او خدماتی خصوصی تشبثات د افغانستان د جمهوریت د کورنی او بهرنی خصوصی پانګه اچونی د قانون سره سم د کورنۍ او بهرنۍ خصوصي پانګه اچوني په چارو کی د وزیرانو شورا د اجرائیوی کمیټی د دایمی کمیسیون له منظوری نه وروسته را منځته کیدای شی.

**دوه یمه ماده:**

دغه مصوبه د افغانستان د جمهوریت د اساسی قانون د (۸۱) مادی د (۱) فقری د حکم پر بنسټ جمهور رئیس ته دی وړاندی شی او له توشیح نه وروسته نافذه او په رسمی جریده کی دی خپره شی.

**(د تجارت د اصولنامی پورتنی زیاتوالی او تعدیل د ۱۳۶۷ هـ.ش کال دتلی د میاشتی په ۲۹ نیټه درسمی جریدی په (۶۷۶) ګڼه کې خپور شوی دی.)**

---

تمام سرمایه شرکت لمتد تجارتی باید تعهد و اقلاً نصف آن تادیه شده باشد.

تشبثات خصوصی تولیدی و خدماتی بر طبق قانون سرمایه گذاری خصوصی داخلی و خارجی جمهوری افغانستان بعد از منظوری کمیسیون دایمی کمیته اجرائیوی شورای وزیران در امور سرمایه گذاری خصوصی داخلی و خارجی تشکیل شده میتواند.

**مادهٔ دوم:**

این مصوبه متکی بحکم فقرهٔ (۱) مادهٔ (۸۱) قانون اساسی جمهوری افغانستان به رئیس جمهوری ارائه و بعد از توشیح نافذ و در جریدهٔ رسمی نشر گردد.

**(تعدیل و ایزاد فوق اصولنامه تجارت در جریدهٔ رسمی شماره (۶۷۶) مؤرخ ۱۳۶۷/۷/۲۹ نشر گردیده است.)**

---